دویم چاپ

# عامه اقتصاد

# Public Economics

لیکوال: پوهندوی دوکتور سید محمد تېینگار
ژباړن: پوهنیار رحمت الله منګل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب ځانگړنې

**د کتاب نوم: عامه اقتصاد**

**لیکوال: پوهاند دوکتور عبدالقیوم عارف**

**ژباړن: پوهنیار رحمت الله منگل**

**خپرندوی: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه**

**چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**

**چاپ وار: دویم**

**چاپ کال: ۱۴۰۰ لمریز**

**قیمت: ۲۲۰ افغانی**

نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

مخامخ لومړی ادرس: کوټه سنگي–دسیلو د څلورم اوپنځم سړک ترمنځ د شاداب ظفر بلاکونوته

دویم ادرس: د دهمزنگ لومړی سړک (مرکز عمومي کتابفروشي). ۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰

دریيم ادرس: جوي شیر دخپرندویه ټولنو او کتاب پلورنځینو عمومي مرکز ۰۷۸۱۸۹٤۰٦٤

اړیکې: ۰۷۸۷۱۸۰۷۵۳/۰۷۷۸۸۷۰۳۰۵/۰۷۸٦٦۳۰۷۳۱

د چاپ حقوق له ژباړن سره خوندي دي

بریښنا لیک: moustaqble2018@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالۍ!**

ربښتینو علمأو، مجاهدینو، غازیانو، هېوادپالو او هغو ته، چې د هېواد اوبه مدیریت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

عامه اقتصاد د هغه مضمون سرليک دی، چې د ډيپارټمنټ د شديدې اړتيا او د عصر و زمان د ايجاباتو په پام کې نيولو سره د مالي بانکي څانګې د وړانديز، د اقتصاد پوهنځي د علمي شورا په تصويب او د کابل پوهنتون د مشرتابه په منظورۍ په ١٣٨٦ لمريز کال د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي په درسي کريکولم کې شامل او د دغه پوهنځي د دريم ټولګي د محصلانو لپاره عجالتاً په مالي او بانکي څانګه کې د هغه تدريس په يو سمستر کې پيل شوی دی.

د مالي او بانکي چارو د څانګې په چوکاټ کې د عامه اقتصاد تر سرليک لاندې د مضمون موجوديت په دې برخه کې د درسي او يا مرستندوی درسي کتاب نه شتون او د هغه درسي موادو ته د محصلانو اړتيا د هغو عواملو له جملې څخه وو، چې ياد ډيپارټمنټ يې د عامه اقتصاد تر سرليک لاندې د درسي کتاب تأليف ته وهڅاوه. که څه هم د هغه په واقعي مفهوم سره د درسي کتاب ليکنه په سختو شرايطو کې د مناسبو منابعو، مأخذونو نه موجوديت، نه لاسرسی او په هېواد کې ګڼ شمېر نور مشکلات، ډېر ستونزمن او د ليکوال د امکاناتو له سطحې لوړ کار دی. سره له هغه په اوسنيو شرايطو کې له پراخو محدوديتونو سره سره مواقدام وکړ.

اړينه بولم ترڅو د دغه درسي کتاب په تأليف کې د هېواد له ښاغلو پوهانو ښاغلي پوهاند دوکتور نذير احمد شهيدي، ښاغلي پوهاند عبدالله حقايقي او ښاغلي پوهاند محمد اشرف يادګاري له همکارۍ او مشورو څخه مننه او قدرداني وکړم. ددغه کتاب تأليف زما قدرمنې مېرمنې له هر اړخيزو همکاريو پرته ناممکن و، چې د زړه له کومې ترې مننه کوم.

د کتاب د موادو او ارقامو تنظيم او ددغه کتاب د ځينو برخو اصلاح او ټايپ د ډيپارټمنټ د ځوانو استادانو هريو پوهيالي احسان الله نظري او آغلې پوهيالۍ ظريفه جلالي په هڅو ترسره شوی، چې واقعاً د قدر او مننې وړ دي. همداراز خپله دنده ګڼم د اقتصاد پوهنځي له ګرانو محصلينو هريو ښاغلي عبدالرحمن برحق او ښاغلي حبيب الله ملکپور څخه چې د کتاب د ټايپ په ځينو برخو کې يې ونډه اخيستې، مننه وکړم.

دغه کتاب له شک پرته په خپل شکل او محتواء کې تېروتنې او نواقص لري. له درنو پوهانو، ګرانو محصلانو او نورو مينه والو او لوستونکو څخه غوښتنه کېږي ترڅو په خپلو عالمانه بزرګۍ سره زما معذرت ومني او ددغه أثر د محتوياتو په اصلاح او تکميل کې لارښوونه او همکاري وکړي.

**پوهاند دوکتور عبدالقيوم عارف**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړن خبرې

د دې کتاب د ژباړلو لپاره د انګېزې راپیداکېدو دلیل د خلکو اړتیا او هغوی ته یې اهمیت دی چې اړ یې کړم ترڅو دغه کتاب وژباړم. واضح خبره ده چې دولتي فعالیتونه او د هغه په اړه د پوهې ترلاسه کول د هرچا لپاره خورا مهم دي، ځکه د نړۍ هر اړخیز بدلون او پرمختګ څرګندوي چې نننی نسل دولتي فعالیتونو ته څومره اړتیا لري؟ که چېرې په یوه هېواد کې دولت قوي وي نو ټولنه به هم نېکمرغه او پرمختللې وي او هرڅومره چې یو دولت کمزوری وي نو د هغه دولت افراد به هم وروسته پاتې او غربت ځپلي وي. مثلاً د امریکا دولت پیاوړی دی، نو خلک یې هم سوکاله ژوند لري او برعکس د سومالیا هېواد دولت تر ټولو کمزوری دی نو خلک یې هم له اجتماعي او اقتصادي لحاظه د ژوند له آسانتیاوو بې برخې دي. دا او دې ته ورته ډېر څه شته چې د عامه اقتصاد اهمیت څرګندوي.

له پوهاند صیب څخه مننه کوم چې ماته یې ددې کتاب د ژباړلو اجازه راکړه، ویې هڅولم او ډاډ یې راکړ ترڅو دغه پرځای کار ترسره کړم. په دې برخه کې د شیخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځي له رئیس پوهندوی رحیم جان دردمل څخه هم نړۍ مننه چې لازمې لارښوونې یې راته وکړې.

له تکړه ژباړوونکي ښاغلي استاد شېر خان حساس څخه چې زما د پوهنتون د دورې ټولګیوال هم و زیات منندوی یم چې ددې کتاب د ایډېټ په چارو کې یې راسره پوره همکاري وکړه او د کتاب تر چاپ پورې ټولې چارې یې په خپله غاړه واخیستې. محترم استاد په ریښتیا هم یو زیارکښ انسان دی چې تراوسه پورې یې په ډېر کم عمر کې تقریباً ۳۸ کتابونه په مختلفو برخو کې ژباړلي، چې مشورې یې زما لپاره خورا ارزښتناکې وې اوهمداراز له ټولو هغو دوستانو څخه مننه کوم چې له ما سره یې په دې برخه کې همکاري کړې.

د قرآني آیت د مفهوم مطابق چې فرمایلي یې دي چې «انسان کمزوری پیدا شوی» نو د انسان هره کړنه له نیمګړتیاوو خالي نه وي او هغه څه چې د لومړي ځل لپاره ترسره کېږي خامخا به تېروتنې او نیمګړتیاوې ولري، ځکه د یوه علمي أثر ژباړل ډېر آسانه کار نه دی. نو له ګرانو لوستونکو څخه هیله کوم چې هغه نیمګړتیاوې چې په دې کتاب کې موجودې دي راپه ګوته دې یې کړي، چې په بل چاپ کې یې اصلاح کړم. الله دې وکړي چې ددغه علمي أثر ژباړه زمونږ درنو استادانو، محصلینو او د اقتصاد عام مینه والو ته ګټوره تمامه شي.

د یوه داسې افغانستان په هیله چې د هر وګړي د سوکالۍ او آرامۍ هیلې یې پوره وي

**پوهنیار رحمت الله منګل**

د شېخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقریظ

محترم پوهنیار رحمت الله منګل، چې د اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانګې استاد دی په زړه پورې علمي کار تر سره کړی، چې په واقعیت کې هم یوه ډېره مهمه او پرځای علمي هڅه ده.
هغه څه، چې فعلا افغانان ورسره مخ دي، دخلکو د غوښتنو مطابق کارونه نه کول دي، د دې تر څنګه په مارکېټونو کې، ټولنیز ژوند کې ګډوډي ده، نو دایوه ستره ستونزه ده او خلک سخت شکایت ترې لري، دغه ستونزه یوازې د دولت په شتون کې حل کېدی شي. موږ چې څومره هېوادونه مشاهده کړو نو ترې څرګندیږي، هغه هېوادونه، چې پیاوړي حکومتونه لري په هر اړخ کې پیاوړي دي، که اقتصاد اړخ دی او که سیاسي اړخ او هغه نېوادونه، چې یو کمزوری حکومت لري په هر لحاظ ډېر کمزوري دي، د دې اصلي علت همدا د حکومت نه شتون دی. مهمه ده، تر څو خلک د دولتي کارونو په اهمیت پوه شي، که موږ و ګورو افغانستان کې هر څوک له مالیاتو تېښته کوي، وجه دا ده، چې خلک د مالیاتو د ورکړې په اهمیت نه پوهیږي، هغوی په دې نه پوهیږي، چې د مالیاتو نه ورکړه د دولت کمزوري کول دي او د خلکو کمزورتیا دولتي کمزورتیا پورې مستقیمه اړه لري نو ښه ده، چې د دولتي فعالیتونو فعالیت څخه خلک خبر شي. نو دغه اهمیت او اړتیا ته په کتو د دغه کتاب ژباړه اړینه بولم. نو ځکه د استاد دغه ژباړه یو مهم ګام دی او نوموړي استاد یو ګټور کتاب ژباړلی، چې د افغانستان د اقتصاد پوهنځیو دریمو ټولګیو کې تدریسیږي او همدارنګه بل اهمیت یې دا دی، چې دغه کتاب د اقتصاد پوهنځی کریکولم د مفرداتو مطابق دی. نو ځکه ویلی شو، چې د استادانو او زده کړیالانو هغه ستونزې چې په دې برخه کې یې لرلې تر ډېره حده به یې حل کړي او د استاد دغه ګام پرځای بولم او ستایم یې.

نومړی کتاب، چې د دري ژبې څخه پښتو ته ژباړل شوی کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانګې استاد پوهاند عبد القیوم عارف لخوا لیکل شوی او چاپ شوی دی او همدا شان د محترم استاد لخوا استاد رحمت الله ته اجازه ورکړ شوې وه تر څو یې و ژباړي، محترم استاد دغه کتاب په داسې شکل ژباړلی چې د ژباړې ټول اصول یې په پام کې نیولي دي.

زه محترم استاد ته په راتلونکو علمي فعالیتونو کې د نورو زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم.

په درنښت

استاد پوهنوال ډاکټر رحیم جان دردمل

د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال تقریظ

دایو حقیقت دی چې د یوه کار پیل او په معقوله توګه یې تر سره کول زیات ستونزمن وي ولې ستونزو ته حل لاره نه پیدا کول تر هغه ستره ستونزه ده. د ژوند هر پړاو له ستونزو ډک وي که ستونزې تر یوه حده رفع هم شي بیا هم نیمګړتیا په همغه کار کې کیدای شي په پشپړ ډول له منځ لاړې نه شي ځکه چې انسان نیمګړی دی.

په دې کتاب کې هغه څه راټول شوي، چې په درسي کریکولو کې ورته زیاته اړتیا لیدل کیږي، محصلینو او لوستونکو ته دا ښیي، چې دولتي کړنې تر کومه مهمې دي، تر کومه حده مؤثرې، د دې تر څنګه دا را ښیې، چې دولتي فعالیتونه د خصوصي سکتور لپاره هغه بنسټیز کارونه کوي، چې هیڅ خصوصي سکتور یې نه شي تر سره کول او د دغو کارونو او پروژو څخه پرته خصوصي سکتور هم په سمه توګه پر مخ نه شي تللی. عامه اقتصاد کې دا ذکر شوي، چې دولتي کارونه څومره اساسي دې تر څو خلک ترې ملاتړ وکړي او لوستونکو ته ښیې، چې اصلا له دولتي اقتصادي فعالیتونو پرته خصوصي سکتور څومره نیمګړی دی، اړینه ده، چې په دغه موضوعاتو پوه شو.

نو پدې هیله چې دغه کتاب تر یوه حده د عامه اقتصاد په برخه کې د اقتصاد پوهنځی محصلینو او استادانو د درسي مواد د نه شتون ستونزه راکمه کړي. نو محترم استاد رحمت الله منګل، چې د شېخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانګې استاد دی یوه داسې هڅه تر سره کړې چې ورته اړتیا لیدل کېده، او د محترم استاد دغه چاره په ریښتیا هم یو ځانګړی اهمیت لري.

نوموړي استاد د عامه اقتصاد تر عنوان لاندې دغه کتاب، چې ژباړلی او ما پوهاند عبد القیوم عارف لیکلی دی یوه ځانګړتیا، چې دغه کتاب یې له ځانه سره لري او د دې کتاب اهمیت څرګندوي هغه دا دی چې دغه کتاب د افغانستان د پوهنتونو نو د اقتصاد په پوهنځیو کې په دوه سمسترونو کې تدریسیږي او بل اهمیت یې دا دی چې هغه موضوعات چې په دغه کتاب کې شامل دي هغه د اقتصاد پوهنځی د عامه اقتصاد مضمون د کریکولم مفرداتو مطابق کټ مټ پدې کتاب کې راخستل شوي. او همدا شان هیله لرم چې دغه کتاب به د محصلینو او استادانو سره د مرستې لامل وګرځي نو په همدې اساس د استاد دغه ژباړه چې تر سره کړې یې ده ستایم. محترم استاد د دې کتاب په ژباړلو کې د ژباړې هغه اصول، چې باید په پام کې و نیول شي، په پام کې نیولي او په اصولي ډول یې کتاب ژباړلی.

زه محترم استاد منګل صاحب ته په راتلونکې کې د نورو بریاؤ دُعا کوم.

پوهاند دوکتور عبد القیوم عارف د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن لنډه پېژندنه

ښاغلی استاد پوهنیار رحمت الله منګل د خوست ولایت، موسی خیلو ولسوالۍ د زاړه کوټ په ستر کلي کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي، د ښاغلی استاد منګل کوچنیتوب دهجرت په لمن کې تېر شوی دی لمړنۍ زده کړې یې په پیښور کې حضرت قیس بن سعد لیسه کې تر سره کړي کله چې هیواد ته له هجرته بیرته راستون شو نو اتم او نهم ټولګي یې په خپل کلي زاړه کوټ کې د ازادۍ لیسه کې لوستي او د مکتب پاتې برخه یې کابل کې د خوشحال خان خټک بابا په لیسه کې بشپړه کړې او له نوموړې لیسې څخه فارغ شوی، تر فاراغت وروسته یې کانکور له لارې دننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته لاره وموندە په ۱۳۹۲ کې یې پوهنتون د لسانس دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسوله. ښاغلی منګل، چې کله له پوهنتون څخه فارغ شو نو خوست شېخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی کې په ۱۳۹۳ کال کې د علمي کادر په توګه مقرر شو او د استادۍ مقدسه دنده یې پیل کړه ، د استادۍ په جریان کې د ماسټرۍ زده کړو لپاره په ۲۰۱۷ کال کې د ملیشیا هیواد ته سفر درلود اوهلته یې تر ۲۰۱۹ م پورې خپلې د ماسټرۍ زده کړې د ملېشیا نړیوال اسلامي پوهنتون IIUMکې د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې بشپړې کړې. ښاغلي منګل یو بل کتاب (عامه بودیجې تیوري) په نوم هم ژباړلی او د دې تر څنګ یې د پیسو اقتصاد په نوم یو کتاب لیکلی او په نړیوالو ژورنالونو کې یې په انګلیسي ژبه مقالې هم خپرې کړي. د استاد د هڅو په پایله کې دغه دی یو بل اغېزمن اثر چې دپوهنتون تدریسي کتاب دی چاپیږي زه ورته د دې کتاب مبارکي وایم او په راتلونکې کې یې دغه ډول نورو اغېزمنو پنځونو ته سترګې په لار یم.

قلم یې تاند او ژوند یې نېکمرغه

پوهنیار خالد شاکر د اقتصاد پوهنځی استاد

پکتیا پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مطالبو لړلیک


د ژباړن خبرې ........ 1
تقریظ ........ 2
د لیکوال تقریظ ........ 3
د ژباړن لنډه پېژندنه ........ 4
سریزه ........ 7
**لومړی څپرکی ........ 10**
**د عامه اقتصاد بنسټونه ........ 10**
۱- د عامه اقتصاد پیدایښت: ........ 10
۲- د عامه اقتصاد د بحث موضوع او ماهیت: ........ 11
۳- دولت او د هغه د دندو بدلون: ........ 14
د بازار اقتصاد، عامه اقتصاد او مختلط اقتصاد ........ 20
لنډیز: ........ 26
**پوښتنې:** ........ 28
مأخذونه: ........ 29
**دوهم څپرکی ........ 30**
**د عامه سکتور وده ........ 30**
د بازار پاتې راتګ او د عامه اقتصاد اړتیا ........ 30
الف- د مارکېټ د ضعف موارد: ........ 31
ب- د بازار نیمګړتیاوې: ........ 33
ج- د مؤثریت پر اساس د ټولنې د اړتیاؤ په تأمین کې د بازار مېکانېزم: ........ 34
د- د دولت کړنلاره: ........ 35
۲- په اقتصاد کې د دولت د مداخلې د حدودو د ټاکنې په اړه په نظر یاتو کې بدلون: ........ 35
۳- په بېلابېلو موډلونو کې د عامه سکتور وده: ........ 38
۴- د دولتونو د لویوالي شاخصونه: ........ 41
۵- د دولتونو اقتصادي رول او موخې: ........ 42
لنډیز: ........ 45
پوښتنې: ........ 46
مأخذونه: ........ 46

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریيم څپرکی ........................................................ 48**
**د دولت کړنې او عامه مخارج ........................................ 48**
۱- عامه مخارج د هغه د اقتصادي تأثیراتو له نظره: ............................ 48
۲- عامه کالي یا اجناس: ................................................ 52
۳- د عامه کالیو د انتخاب امکانات: ...................................... 54
۴- عامه تصدیګانې: ................................................... 56
۵- د اجتماعي سیاست تأمین: ............................................ 58
٦- سبسایډي ګانې: .................................................... 60
۷- دولتي معاونتونه: .................................................. 62
لنډیز: ........................................................... 65
پوښتنې: .......................................................... 67
مأخذونه: ......................................................... 67
**څلورم څپرکی ........................................................ 69**
**بودجه او د دولت د منابعو او مخارجو جوړښت................................ 69**
۱- د بودجې مفهوم، دندې او اهمیت:........................................ 69
۲- بودجه، مدیریت او همغږي:............................................. 73
۳- په بودجه کې د تصنیف ماهیت او اهداف: ................................. 74
۴- د دولت په بودجه کې د مخارجو تصنیف: .................................. 76
الف: د مخارجو د تصنیف اهداف:............................................ 76
ب- د مخارجو د تصنیف ډولونه او بڼې: ...................................... 77
د عملیاتي تصنیف اصول: ................................................ 79
۴- اقتصادي تصنیف: .................................................... 80
د اقتصادي تصنیف اصول ................................................. 80
د افغانستان د دولتي مخارجو بودجوي تصنیف ................................ 81
۵- د دولت په بودجه کې د عایداتي منابعو تصنیف: ............................ 82
د افغانستان په بودجه کې د عوایدو تصنیف:.................................. 83
د دولت د عوایدو کوډونه:................................................. 84
لنډیز: ........................................................... 86
پوښتنې: .......................................................... 88
مأخذونه: ......................................................... 88

**پنځم څپرکی ........................................................ 90**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دولت او د عوایدو وېش ........ 90**
۱- د عوایدو منابع: ........ 91
۲- د عاید غیر عادلانه وېش د اندازګیرۍ وسایل: ........ 92
۳- د عوایدو په نابرابره وېش کې مؤثره عوامل: ........ 95
۴- د عاید د عادلانه وېش په اړه نظریات: ........ 96
لنډیز: ........ 107
پوښتنې: ........ 108
مأخذونه: ........ 108
**شپږم څپرکی ........ 110**
**مالي او مالیاتي سیستمونه ........ 110**
۱- د دولت د مالي سیستم مفهوم او ماهیت: ........ 110
د دولت مالي سیستم: ........ 110
۲- د مالي سیستم جوړښت: ........ 111
۳ - مالي مدیریت: ........ 112
B ) د تصدي اقتصاد مالي رهبري په غیر مستقیم میتود: ........ 114
۴- د مالیاتي سیستم ځانګړتیاوې: ........ 114
۵- د اسلامې مالیاتي سیستم ځانګړتیاوې: ........ 116
لنډیز: ........ 121
پوښتنې: ........ 122
مأخذونه: ........ 122
**اووم څپرکی ........ 123**
**مالیات ........ 123**
۱- د مالیاتو مفهوم او ماهیت: ........ 123
د مالیاتو عام تعریف: ........ 124
۲- د مالیاتو اصول: ........ 124
ج- د مالیاتو د ورکړې د وس معیارونه یا د مناسبو مالیاتي پایو مالیات: ........ 126
۳- د مالیاتي سیستم قواعد: ........ 127
۴- د مالیاتو انتقال: ........ 130
ب- د مالیاتو د انتقال مؤثر عوامل: ........ 131
الف- د مالیاتي تعلق ډولونه: ........ 134
٦- د مالیاتو نرخونه ........ 137
لنډیز: ........ 142

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنې: ........ 143
مأخذونه: ........ 143
**اتم څپرکی ........ 145**
**د افغانستان مالياتي سيستم ........ 145**
الف: د ماليې د حصول د تخنيک له نقطه نظره: ........ 145
ب: د ماليې د موضوع له نقطه نظره: ........ 145
ج: پرقېمتونو د مالياتو د انتقال د قابليت له نقطه نظره: ........ 145
۱- د مستقيمو مالياتو مفهوم او ماهيت: ........ 146
د مستقيمو مالياتو ښېګڼې: ........ 146
۲- په افغانستان کې د مستقيمو مالياتو ډولونه: ........ 146
۴. پر عوايدو ماليات: ........ 148
ج- د ماليې تابع عوايد: ........ 148
۵. پر ګټې ماليه: ........ 149
٦. د کرايې سهم: ........ 149
۷. د ګټو سهم: ........ 149
۸. موضوعي ماليات: ........ 150
۹. ثابت ماليات: ........ 150
د ثابتو مالياتو ډولونه: ........ 150
۲. د صادراتي اموالو ثابته ماليه: ........ 151
۳. د عراده جاتو ثابته ماليه: ........ 152
۴. قراردادي ثابته ماليه: ........ 152
۵. د نمايشاتو ثابته ماليه: ........ 153
٦. د ژرندو، پايکوبونو، د تېل کشۍ او حلاجي ماشينونو ثابته ماليه: ........ 153
۷. د کار او فعاليت د ځای (د اصنافو ثابته ماليه): ........ 154
۸. په ډاکترانو ثابته ماليه: ........ 154
۹. د کار له سيمې او فعاليت پرته اشخاصو ثابته ماليه: ........ 155
۱۰. د کمېشن کارانو او د لالانو ثابته ماليه: ........ 155
۳- د غير مستقيمو مالياتو مفهوم او ماهيت: ........ 157
د غير مستقيمو مالياتو ښېګڼې: ........ 158
د غير مستقيمو مالياتو نواقص: ........ 158
۴- د غير مستقيمو مالياتو ډولونه: ........ 158
۱- د ګمرکي محصول ډولونه ........ 159

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج- د محصولاتو له ټاکلو او ارزیابۍ سره سم: 160
۲- د ګمرکونو اهداف: 160
۳- د ګمرکي محصولاتو اغېزې 161
دوهم- استهلاکي شیان: 161
د اسیکوډا د سیستم ښېګنې: 164
د اسیکوډا د سیستم ګټور خصوصیات: 165
ب- پر خرڅلاو، انتفاعي او خدماتي معاملاتو مالیه: 165
۱. د خرڅلاو په دوران د مالیاتو ډولونه: 166
ج- په اضافي ارزښت مالیات: 169
۵- په افغانستان کې د مالیاتي سیستم اصلاح ته ضرورت: 170
لنډیز: 174
پوښتنې: 175
مأخذونه: 175
**نهم څپرکی 177**
**غیرې مالیاتي عواید او د دولت پورونه 177**
۱. دولتي تشبثاتي عواید او د دغې برخې خصوصي کول: 177
۳. دولتي پورونه د دولت د مخارجو د تمویل د یوې منبع په توګه: 181
د ګرېفېن بولز نظریه (KERTH GRIFFIN): 184
ج- د پورونو او نورو طریقو له مخې د دولت د مصارفو پوره کول: 185
**د- د ملي پورونو دندې او له هغوی څخه د استفادې اهداف: 186**
په اساسي ډول پورونه د تمویل په موخه کولای شي لاندې دندې ترسره کړي. 186
**ج: په۱۳۸۱- ۱۳۸۸لمریز کلونو کې په اصلي بودجه کې د بهرنیو مرستو ونډه: 191**
لنډیز: 193
پوښتنې: 194
ماخذونه: 194

**لسم څپرکی 196**
**د دولت مخارج 196**
۱. په تاریخي لحاظ دولتي مخارجو ته کتنه: 196
۲. د دولت د مخارجو ماهیت او مشخصات: 197
۳. د عامه مخارجو جوړښت: 200
۴. د عامه مخارجو د طبقه بندۍ ډولونه: 201

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. د دولت د مخارجو انکشاف: ........ 204
٦. د دولتونو د مخارجو د پراختيا علتونه: ........ 208
۷- د دولتي مخارجو د مناسبې اندازې د ټاکلو په اړه نظرونه: ........ 210
۸- د دولت د مخارجو ډولونه: ........ 215
لنډيز: ........ 224
پوښتنې: ........ 225
مأخذونه: ........ 225
د مفاهميو او اصطلاحاتو تشريح ........ 227
د مالياتو اصطلاحات: ........ 239

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

د عامه اقتصاد په اړه د اقتصادي مکتبونو او حاکمو نظامونو په فلسفه کې متفاوت نظرونه وجود لري او هېڅ یو اقتصادي مکتب په مطلق ډول د عامه اقتصاد موجودیت نه دی رد کړی. دلته د بحث موضوع په اقتصاد کې د دولت د مداخلې اندازه او طریقه ده، چې په کومه اندازه او څه ډول باید په اقتصاد کې مداخله وکړي. حتی کلاسیکان چې په اقتصادي چارو کې د دولت د مداخلې مخالف دي بیا هم په محدودو او مشخصو چارو لکه زېربنائي چارو کې د دولت د مداخلې طرفداري کوي.

په اوسنۍ معاصره نړۍ کې د متحده ایالاتو په ګډون به هېڅ داسې هېواد پیدا نه شي، چې په بشپړ ډول د آزاد بازار لرونکی وي، بلکې هر هېواد په زیاته او یا لږه اندازه په اقتصادي چارو کې مداخله کوي او د ګډ نظام لرونکي دي. نو په دې اساس د هېوادونو اقتصادونه په مختلفو اندازو سره د بازار له اقتصاد او عامه اقتصاد څخه جوړ شوي. د مختلفو دلایلو له مخې د نړۍ په هېوادونو کې د عامه اقتصاد برخه په عمومي اقتصاد کې مخ په زیاتېدو ده. په دې کتاب کې عامه اقتصاد ته ډېر پام شوی. لکه څرنګه، چې په دې کتاب کې له مختلفو مثالونو او مختلفو فیصدیو سره د عامه اقتصاد اندازه ښودل شوې ده. سره له دې چې د افغانستان په اساسي قانون کې له آزاد بازار څخه ملا تړ شوی، خو بیا هم له عامه اقتصاد څخه انکار نه دی شوی او عملاً د اقتصاد دغه څانګه په اقتصاد کې موجوده ده او یو لوی ضرورت ګڼل کېږي.

په معمول ډول په عامه اقتصاد کې د مالي او پولي وسایلو په تهیه کولو او ددغو وسایلو په اداره او په کار اچولو بحث کېږي.

د دولت د اقتصادي فعالیتونو تحلیل او تشرېح او په اقتصاد باندې د مصرف کوونکواو تولیدوونکو د رفاه په کچه باندې د عامه مخارجو او مالیاتو د مختلفو ډولونو د اغېزو بررسي او مطالعه د عامه اقتصاد موضوع تشکیلوي.

د دولت کړنې او اجراآت، د ټولنې د هر فرد په ورځنیو کارونو باندې أثر کوي. د دولت قوانین او مقررات، اداري او قضائي تصامیم او اقتصادي او ټولنیز سیاستونه د افرادو د رویې د بدلون سبب ګرځي. د دولتي سیاستونو ترسره کول لکه د منابعو تخصیص، اقتصادي ثبات او د عوایدو او شتمنیو وېش په مختلفو ګروپونو د خلکو د مالیاتو او همدارنګه د نورو عایداتي منابعو ترلاسه کول، د ارزښت لرونکو اسنادو نشرول، دولتي مخارج او نور مسایل په افرادو باندې د پام وړ تأثیر کولی شي.

مالي سیاستونه د عایداتي منابعو او دولتي مخارجو په عرصه کې د عامه اقتصاد د وسایلو له جملې څخه دي چې د اقتصادي پرمختګ او د رفاه د کچې په لوړولو کې ترې زیاته استفاده کېږي.

دغه کتاب په لسو څپرکو کې تألیف او راټول شوی دی، چې په لومړي څپرکي کې یې د عامه اقتصاد پر اساساتو بحث شوی او د دې څپرکي په اوږدو کې د عامه اقتصاد پیدایښت، د عامه اقتصاد موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ماهیت تر بحث لاندې نیول شوي. دولت او د هغه د دندو بدلون ته کتنه، د بازار اقتصاد، مختلط اقتصاد او عامه اقتصاد په لنډ ډول بیان شوي دي.

په دوهم څپرکي کې د عامه سکتور وده بیان شوې، چې په هغه کې د بازار پاتې راتګ او د عامه اقتصاد اړتیا تشریح شوی او همدارنګه په اقتصادي چارو کې د دولت د مداخلې په اړه مختلف نظریات راخیستل شوي او په بېلابېلو ماډلونو کې د عامه اقتصاد وده او د دولت د لوی والي په شاخصونو بحث شوی او په پای کې په اقتصاد کې د دولت رول او اهدافو ته په لنډ ډول اشاره شوې.

په درېیم څپرکي کې د دولت کړنې او عامه مخارج څېړل شوي او په هغه کې په اقتصاد باندې د عامه مخارجو تأثیرات ارزیابي شوي. عامه کالیو او خدماتو ته اشاره شوې، د عامه کالیو د ټاکلو امکانات هم پکې معلوم شوي. د عامه تصدیو په اړه ټولنیز سیاستونه، د دولتي سبسایډیو او دولتي مرستو په اړه توضېحات وړاندې شوي دي. په څلورم څپرکي کې بودجه او د دولتي منابعو او مخارجو جوړښت پېژندل شوي او همدارنګه په دې څپرکي کې د بودجې دندې اهمیت او مفهوم، د بودجې مدیریت او همغږي، په بودجه کې د ډلبندۍ ماهیت او اهداف، په بودجه کې د دولتي مخارجو تصنیف او د دولت په بودجه کې د عوایدو یا عایداتي منابعو تصنیف تر بحث لاندې نیول شوي.

په پنځم څپرکي کې دولت او د عوایدو د وېش موضوع یاده شوې او په هغه کې د عوایدو منابع ښودل شوي، په عوایدو کې د نابرابرۍ د اندازه ګیرۍ امکانات، په عوایدو کې د نابرابرۍ مؤثر عوامل، د عاید د عادلانه وېش په اړه نظریات، د عاید په وېش کې د نابرابرۍ تعدیل امکانات بررسي شوي.

په شپږم څپرکي کې مالي او مالیاتي سیستم څرګند شوی. لکه څرنګه، چې په دغه څپرکي کې د دولتونو د مالي سیستم مفهوم او ماهیت، د مالي سیستم جوړښت، مالي مدیریت، مالیاتي سیستم، د مالیاتي سیستم ځانګړتیاوې او د اسلامي مالیاتي سیستم ځانګړتیاوې، تاریخي مالیاتي سیستم، معقول مالیاتي سیستم او د مرکزي پلان اقتصادي مالیاتي سیستم تر بحث لاندې نیول شوی.

په اووم څپرکي کې مالیات تر څېړنې لاندې نیول شوي. په دې څپرکي کې د مالیاتو مفهوم او اهمیت، د مالیاتو اصول، د مالیاتي سیستم قواعد، د مالیاتو انتقال، مالیاتي تعلق او د مالیاتو نرخونه واضح شوي دي.

په اتم څپرکي کې د افغانستان مالیاتي سیستم بیان شوی. ددې څپرکي په لومړي سر کې د مستقیمو مالیاتو ماهیت او مفهوم او همدارنګه په افغانستان کې د مستقیمو مالیاتو ډولونه ارزیابي شوي او په ۱۳۸۲ - ۱۳۸۷ کلونو کې ټول مجموعي مستقیم مالیات په اعدادو ښودل شوي او وروسته د غیر مستقیمو مالیاتو ماهیت او مفهوم، د غیرې مستقیمو مالیاتو ډولونه او غیرې مستقیم مالیات ټول تر بحث لاندې نیول شوي او هم د افغانستان د مالیاتي سیستم اصلاح څېړل شوې ده.

په نهم څپرکي کې غیرې مالیاتي عواید او د دولت پور یاد شوی او همدارنګه په دې څپرکي کې له دولتي تشبثاتو څخه عواید او د دغې برخې خصوصي کو،ل همدارنګه د دولتي پورونو د طبیعي شتمنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پانګه ییزو شتمنیو له خرڅلاو څخه عواید د دولتي مخارجو د تمویل د یوې منبع په توګه یادونه شوې او همدارنګه په دې څپرکي کې په ۱۳۸۲ -۱۳۸۷ کلونو کې د افغانستان له خارجي او داخلي منابعو څخه په ترلاسه شویو عوایدو کې د بدلون څرنګوالی په مستندو اعدادو او ارقامو سره مشخص او ښودل شوی.

په لسم څپرکي کې د دولت مخارج تر بحث لاندې نیول شوي دي. په دغه څپرکي کې د دولتي مصارفو تاریخي څرګندونه شوې، د دولتي مخارجو ماهیت او ځانګړتیاوې، د عامه مخارجو جوړښت، د عامه مخارجو د ډلبندۍ ډولونه، د دولتي مخارجو زیاتوالی، د دولتي مصارفو زیاتوالي لاملونه، د دولتي مخارجو د تر ټولو د وړ او مساعدې اندازې ټاکلو په اړه نظریات، د دولتي مصارفو ډولونه او په ۱۳۸۲-۱۳۸۸ کلونو کې د افغانستان د دولت د مخارجو د زیاتوالي څرنګوالی. همدارنګه د دې کتاب په پای کې د مهمو او اړینو اصطلاحاتو توضیح ته هم پام شوی چې ډېر مهم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## د عامه اقتصاد بنسټونه

په ملي اقتصاد کې د عامه اقتصاد یا د دولت د اقتصاد تاریخچې په ټولنو کې د جالبو ټکو په لړلو سره د اقتصاد د علم د نورو څانګو په پرتله یوه مهمه برخه ده، چې له یوې خوا د اقتصادي تحلیلونو د پرمختګ نښه او په هغه پورې د اړوندو سیاستونو د وسایلو د تکامل مجموعه ده، چې کېدای شي د اقتصادي سیستم د ستونزو او مسائلو د حل په برخه کې ترې کار واخیستل شي او له بلې خوا د دولت په اقتصادي نظریاتو کې دغه بدلون په اقتصاد کې د ټولنیزو او اقتصادي تغییراتو له کبله رامنځ ته شوی دی. (۱:۱)

کله چې که دولت یو وخت خپله دنده یوازې د سرحداتو ساتنه، د داخلي أمنیت تأمینول او د لومړنیو اقتصادي زمینو برابرول ګڼل، خو د وخت په تېرېدو سره د بازار په نه رسېدنې سره د مؤثریت، عدالت او نورو اقتصادي ارزښتونو په تأمین کې د بازار له پاتې راتلو سره د دولتونو رول په تدریج سره زیات شو، په ځانګړي ډول له خلکو سره د دولت د عوایدو د زیاتوالي له کبله نو په همدې اساس کولی شو، چې د اقتصادي نظریاتو د پراخوالي عمده دلیل په ملي اقتصاد کې د دولت د دندو او مسئولیتونو لړۍ او ورځ تر بلې د هغه د ونډې زیاتوالی وګڼو. په بل څپرکي کې  لومړی د عامه اقتصاد پیدایښت او تاریخچې بررسي کېږي. وروسته بیا د عامه اقتصاد مفهوم او ماهیت او د هغه د بحث موضوع څېړل کېږي. همدارنګه د تاریخ په اوږدو کې د دولت  او د هغه د دندو د بدلون لړۍ تر بحث لاندې نیول کېږي. د بازار اقتصاد، عامه اقتصاد او د مختلط اقتصاد مفاهیم توضېح کېږي او په وروستۍ برخه کې د څپرکي لنډیز، نتیجه ګیري او د محصلانو د زده کړې لپاره پوښتنې په پام کې نیول شوي دي. همداراز د هر څپرکي په پای کې اړوند مأخذونه هم ورکړل شوي دي.

**۱- د عامه اقتصاد پیدایښت:**

نوی عامه اقتصاد د ملي اقتصاد هغه برخه ده، چې په هغه کې د دولت اقتصادي موخې او فعالیتونه تر مطالعې لاندې نیول کېږي. دا چې په پرمختللو هېوادونو کې له ۳۰ څخه تر ٪۶۰ پورې (GNP) (ناخالص ملي محصول) د دولت له اقتصادي فعالیتونو سره تړاو لري. نو د دغې مهمې اقتصادي برخې د مطالعې اهمیت ورڅخه څرګندېږي. (۲:۴) د عمومي اقتصاد څانګه چې عامه برخه یې د دولتي سکتور او خصوصي برخه یې د خصوصي سکتور د تشخیص او فاصل حد ټاکي او د دولت د جوړښت موقعیت په پېژندلو، تجزیه او تحلیل کې هڅه کوي او همدارنګه نور وړاندیزونه په دې برخه کې ارایه کوي.

د دولت  اقتصادي بحثونه د ۱۹ پېړۍ په لومړیو کې منځ ته راغلي دي او د دغې پېړۍ په اوږدو کې یې د مطالعاتو په تعقیب یې ورو او په پرله پسې ډول پرمختګ دوام پیدا کړ. عامه اقتصاد په ۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسیزه کې له لوی اقتصاد څخه بېل او په مستقل ډول راڅرګند شو او په دې لسیزه کې د اقتصاد د عمومي برخې په نوم مطرح شو. په دولت پورې د اقتصاد اړوندو مسایلو دغه پراخوالی کولی شو د پخواني عمومي اقتصاد او یا د عمومي مالیې په نامه یاد کړو. د۲۰ پېړۍ په ۸۰ لسیزه کې دغه علم په نوي ډول پراختیا وکړه او هغه نظریې، چې په هغه وخت کې یې زیاتوالی پیدا کړ کولی شو د اقتصاد د عمومي برخې یا د عامه اقتصاد په نامه ونوموو. لومړی په فرانسه کې د اقتصاد د عمومي برخې یا عامه اقتصاد نوم وکارول شو. په فرانسه کې د (Koubert) کوبرت لخوا په ۱۹۲۴ ز کال کې د اقتصاد د عمومي برخې په نامه خپور شو او د لومړي ځل لپاره په کار یووړل شوه. له هغه وروسته د لیف جوهان سن (Lef Johanson) لخوا په ۱۹٦۵ ز کال کې له دغه نوم څخه استفاده و شوه. مګر د اقتصاد د عمومي برخې جوړښت او اساس به بېرته هغه وخت ته ونه ګرځي.

جمشید پژویان (۵) په ۱۹۵۹ ز کال کې د ریچارد ماسګریو (Richard Masgrave) د مطالعاتو پر اساس په هغه کتاب کې چې په کې د عمومي مالیې له نظریاتو څخه یادونه شوې ده د اقتصاد د عمومي برخې بحث مطرح کړی دی. نوموړی کتاب د اقتصاد د علم ددغې څانګې له اصلي منابعو څخه دی. له ۱۹٦٦ زکال څخه وروسته د اقتصاد عمومي برخه یا عامه اقتصاد یوځای کارول شوی دي او د اقتصاد د عمومي برخې تر نامه لاندې زیات سیمینارونه او علمي کنفرانسونه په لاره اچول شوي او مجلې یې هم په همدې نامه خپرې شوي دي. ( ۲: ۵)

همدارنګه د اقتصاد په عمومي برخه کې عقیدوي مسائلو او دستوري بحثونو خپل ځانته ډېر مهم ځای خپل کړی دی او ددغو مسائلو له ځای څخه په تصمیم نیونه او جوړښت کې انکار نه شي کېدای.

**۲- د عامه اقتصاد د بحث موضوع او ماهیت:**

**عامه اقتصاد هغه اقتصاد دی چې د اداري تهیې او د دولت د مالي او پولي وسایلو له په کار اچولو څخه بحث کوي. یا عامه اقتصاد د اقتصاد هغه برخه ده چې د هغه په چوکاټ کې د دولت فعالیتونه او د هغه مخارج او تمویلي منابع مطالعه کېږي. عامه اقتصاد د اقتصاد د علم هغه برخه ده چې په اقتصاد کې د دولت رول او څرنګوالی ارزیابي کوي. (۱۷:۵)**

هر اقتصادي فعالیت مطمئن بستر او د ټولنې (وفاق) جوړښت ته ضرورت لري چې دا د یو مشروع او مقتدر دولت د نشتوالي په صورت کې امکان نه لري. نو پردې اساس په اقتصاد کې د دولت رول یو اصلي ضرورت ګڼل کېږي، خو د هرې ټولنې په اقتصادي چارو کې د دولت مداخله یوازې تر دې پورې نه ده محدوده چې اقتصادي فعالیتونو ته زمینه مساعده کړي، بلکې داسې ده چې دولتونه له یو شمېر زیاتو اقتصادي او سیاسي دلایلو سره په ملي اقتصاد کې زیاته ونډه په غاړه لري او د دولت مداخلې او هغه تأثیرات چې په دې برخه کې هر اقدام کوي د عامه اقتصاد د بحث موضوع تشکیلوي. د بازار د ناکامۍ د جبران او د هغو دندو د سرته رسولو لپاره چې بازار یې په غاړه لري، هغه وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت مداخله له کامیابۍ سره یوځای وي چې سیاستوال او دولتي کار کوونکي یوازې په خپلو مادي ګټو پسې نه وي او که چېرې داسې نه وي (هغوی په خپلو شخصي ګټو پسې وي) نو دولت هم ناکامېږي. په حقیقت کې هغه نه لیدونکی لاس چې اقتصادي او انساني توازن او د اقتصاد د هغې برخې حاصل چې ټولنې ته رفاه او آرامي ورپه برخه کوي له منځه وړي، چې همدا د شخصي او مادي ګټو پالل دي. د بازار په اقتصادي نظام کې د عمل د آزادۍ ستونزه نه جوړوي چې ګواکې د دولت مداخله او د انتخاب محدودول به وکولای شي چې ستونزه حل کړي، بلکې له لوړو انساني اخلاقو څخه لرېوالی او د ځان غوښتنې پر اساس آزادي ده چې بازار او دولت دواړه له ماتې سره مخ کوي. عامه اقتصاد چې په هغه کې د دولت د عوایدو او مخارجو (د دولت د بودجې) تأثیرات تحلیل او تجزیه کېږي. (۵۰:۱۸)

د اقتصاد د علم یو له مهمو ساحو څخه بلل کېږي چې په سرعت سره د پاملرنې وړ دی. په ځانګړي ډول په دې وروستیو کلونو کې یې زیاتوالی موندلی، خو اوس هم د نړۍ په زیاترو پوهنتونونو کې د عامه اقتصاد د عامه مالیې یا عمومي مالیې په نوم تدریسېږي. په داسې حال کې چې دغه دوه کلمې له تاریخي او لغوي اړخه له یو بل سره توپیر لري. په عمومي مالیه کې یوازې د دولت عوایدو ته پام کېږي، خو په عامه اقتصاد کې د دولت پر عوایدو سربېره د دولت د مخارجو تأثیرات (دولت د بودجې د دواړو لورو تأثیرات) هم په اقتصاد کې څېړل کېږي. (۳:۱۰)

عامه اقتصاد یا د دولت مالي اقتصاد په حقیقت کې معقولو او اقتصادي ډول ټولنې ته د منلو وړ حدودو کې د بازار د پاتې راتلو د جبران لپاره ددې امکان برابروي ترڅو د دولت رول په اقتصاد او د هغه په قلمرو کې مطالعه کړي. ضروري او معقول مناسبات د عمومي او خصوصي برخو ترمنځ د ټولنې په ګټه برقرار کړي او د قوانینو او مقرراتو اقتصادي او مالي سیاستونو په وضع کولو سره د هر یوه لپاره مناسب سرحد تعین او د اقتصادي پراختیا، ټولنیز عدالت او نورو اهدافو لپاره زمینې مساعدې کړي. بناء د بشري ټولنو په اوسنیو شرایطو کې هېڅ دولت نه شي کولای دا څرګنده کړي چې په هغه کې د دولتونو په اقتصادي چارو کې په مختلفو درجو سره مداخله نه وې کړې او د هېواد د چارو انتظام نه لیدونکي لاس ته پرېښودل شوی وي.

عامه اقتصاد له مختلفو اړخونو څخه په اقتصادي مسائلو باندې تأثیر غورځوي. که هغه د لوی اقتصاد په سطحه وي او که د کوچني اقتصاد په سطحه. د مثال په توګه عواید، مخارج او د بودجې کسر په حقیقت کې د لوی اقتصاد په سطحه اقتصادي ثبات ته د رسېدو له وسایلو څخه شمېرل کېږي. د دولت له دغو وسایلو څخه مرسته کېدای شي چې د انفلاسیون د اندازې په تعین کې د ورکړو په توازن، د ملي پورونو په وده، د عاید او شتمنۍ په وېش او د اقتصادي فعالیتونو په سطح باندې د پام وړ رول ولري. پردې سربېره عامه اقتصاد د مصرف، سپما او پانګونې د تغییر له لارې کولای شي چې د اقتصادي پراختیا او ودې مسیر تر تأثیر لاندې راولي. له بلې خوا کېدای شي چې د کوچني اقتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سطح هم ماليات، سبسايډي ګاني او د دولت پېرارۍ د ځينو شيانو د توليد او مصرف د زياتوالي سبب شي او يا هم برعکس د ځينو شيانو د توليد او مصرف د کموالي سبب هم شي. (۱:۹) يا په بله وينا د منابعو په تخصيص، د شتمنۍ او عايد په وېش کې د دولت رول د کوچني اقتصاد په تحليل، د قېمتونو، استخدام او اقتصادي ثبات په برخه کې د دولت د رول په څېړلو کې له لوی اقتصادی څخه استفاده کېږي.

دولت بايد څه وکړي؟ دا هغه پوښتنه ده چې د عامه اقتصاد عمده بحثونه ورته ځواب وايي. د دولت عوايد او مصارف، ماليات، دولتي مقررات، دولتي توليد، دولتي قېمتونه، د دولت پورونه او اسعاري سياستونه د اقتصاد د علم ددغې برخې د بحثونو يوه بله موضوع ده. که څه هم عامه اقتصاد غواړي چې دې ډول پوښتنو ته چې (دولت څه وکړي؟ او څه ډول يې وکړي؟) ځواب ورکړي. مګر دغو پوښتنو ته ځواب ويل د دولت د اهدافو له تعين څخه پرته ناممکن دی. البته د دولت د تعريف او اهدافو د مشخص والي په صورت کې عامه اقتصاد دنده لري ترڅو څرګنده کړي چې دولت په کوم ځای کې مداخله وکړي او چېرته يې ونه کړي ترڅو د ټولنې لپاره په اعظمي اندازه اقتصادي مؤثريت ورسېږي او د عايد او شتمنۍ وېش د ټولنې لپاره په مطلوبه توګه نږدې او يا هم د ټولنې نور اهداف تحقق ومومي. عامه اقتصاد چې د بازار د نيمګړتياوو د جبران لپاره يې وده کړې، د عمومي او خصوصي برخو ترمنځ د متقابلو روابطو د بيان لپاره يوه هڅه او کوښښ دی يا په بله وينا عامه اقتصاد د دولت رول او جوړښت په ملي اقتصاد او ټولنه کې توضيح کوي. (۷:۵)

د دولت د مؤثرې کړنلارې د څرنګوالي په اړوند تحقيق او څېړنه وروستی جدي ګام دی. که څه هم دولت په اقتصاد کې په عمومي توګه د بازار د پاتې راتلو په صورت کې مداخله کوي. مګر آيا همدغه د دولت مداخله په مختلفو برخو کې د نويو ناکاميو سبب نه کېږي؟ آيا د کار کوونکو او سياستوالو مطلوبيت په هغه کې مؤثر نه دی؟ عامه اقتصاد د غير بازاري تصميم نيونو د محدوديتونو او امکاناتو د چوکاټ په بحث او په ځانګړي ډول د سياسي او اداري انتخابونو سره تکميل کېږي. د دولتونو د فعاليتونو څرنګوالی د هغه د قدرت د دوام په خاطر د هغه د انتخاب د طريقې تړاو او د دولتي انتخاب په بڼه غوره کولو کې د خلکو د رايې رول د عامه اقتصاد د بحث وړ موضوعاتو له جملې څخه دی. په دغه کتاب کې د عامه اقتصاد په اړوند مطرح شويو پوښتنو ته د قناعت وړ منطقي او معياري ځواب نه شي وړاندې کېدلای. ځکه د اقتصاد په علم کې د فزيک يا نورو علومو په څېر د عالم د څېړنې وړ موضوع هغه پديده چې په خپله له ده څخه د باندې ځای لري. په داسې حال کې چې فزيکي څېړنه ممکنه ده چې يوازې د عالم له خوا په منل شويو ارزښتونو کې ترسره شي. مګر په اجتماعي علومو کې له هغې جملې څخه د اقتصاد علم په خپله له هغې څېړل شوې پديدې څخه دی چې که وغواړې او که ونه غواړې د علمي ټولنې د ارزښتونو تر تأثير لاندې راځي (۱۰:۵) يا په بله وينا د طبيعي علومو (فزيک او کېميا) او انساني يا ټولنيزو علومو ترمنځ ښکاره توپير شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ ډله علوم د بېځانه يا هم غير ارادي شيانو ترمنځ تړاو تر مطالعې لاندې نيسي. په داسې حال کې چې دوهمه ډله علوم د انسان د رفتار، حالاتو او کړنو په باره کې د نړۍ او انسان مناسبات او خپله د انسانانو ترمنځ مناسبات څېړي او تر بحث لاندې يې نيسي. عامه اقتصاد په اقتصادي او سياسي ډول تړاو ورکوي او په ځانګړي ډول د اقتصاد او قدرت ترمنځ له متقابلو مناسباتو څخه بحث کوي. نو بناء په هغه باندې پوهه د سياستوالو لپاره ضروري بلل کېږي. نو څرنګه چې  د دولت د منځته راتللو سقوط او د هغه د اقتدار په اړوند اقتصادي مسائل رول لوبوي او هر سياسي ليد لوری او فلسفه په ځانګړي ډول د دولت د اقتصادي کړنلارې  درک کولای شي. نو څه ډول به وکولای شو چې د عامه اقتصاد له پېژندلو پرته د قدرت مناسبات تحليل کړو؟ څرنګه چې د دولتونو حقوقي کړنلارې د پام وړ برخې له اقتصادي مسائلو سره تړاو پيدا کړي. نو حقوق پوهان د تقنيني هڅو له څرنګوالي څخه د اقتصادي مناسباتو تر حقوقي آثارو پورې او له مالياتي حقوقو څخه تر اقتصادي جرايمو پورې د مشاور، مفسر، قاضي او وکيل په توګه په عامه اقتصاد باندې پوهېدلو ته اړ وي ترڅو وکولای شي چې په اقتصادي مسائلو کې د فرد او دولت د حقوقو په تړاو د حقايقو په تشخيص باندې بريالي شي او که چېري دولتي  يا خصوصي مديران هم له عامه اقتصاد سره آشنايي ولري نو د سازمان د اهدافو په تعقيب کې نور هم بريالیتوب ترلاسه کولای شي. په عامه اقتصاد باندې  پوهه د سياستوالو دغه برخې د پوهانو، حقوق پوهانو او مديرانو لپاره لازمه او ضروري بلل شوي دي. (۱۹:٦)

**۳- دولت او د هغه د دندو بدلون:**

**په محدودو امکاناتو سره د انسانانو د نامحدودو غوښتنو د رفع کولو لپاره د مناسبو لارو چارو لټول او مطالعه کول او ددغو کميابو منابعو د استفادې په اړه د پلټنې طريقه ترڅو د خلکو او انسانانو نا محدوده غوښتنو ته ځواب ووايي. دغه ټول د اقتصاد تر عنوان لاندې څېړل کېږي  .هغه مسائل او ستونزې چې په دې برخه کې د څېړنې وړ دی ډېرې زياتې دي د مثال په ډول د توليدي او اقتصادي عواملو د ترکيب څرنګوالی او يو له بل سره د هغه د مناسباتو او روابطو تعين، په ټولنه کې د شيانو او خدماتو جريان،د اقتصادي او توليدي عاملينو ترمنځ د امکاناتو وېشنه،د وسايلو او عواملو لکه پيسو د ماهيت بيان او په اقتصاد کې د هغه رول او لنډيز هر هغه څه چې د بشري ژوند په مادي او معنوي چارو کې تأثير لرونکی وي. البته هغه وخت چې خبره د افرادو له غوښتنو څخه پورته ځي او د هېوادونو او ملتونو د غوښتنو، ستونزو او ضرورتونو بحث رامنځ ته کېږي نو موضوع پراخه او پېچلې کېږي. نو په نتيجه کې هغه علم چې دوی ته ځواب وايي هغه هم ژور پېچلی او زيات دقت او پراخوالي ته اړتيا پيدا کوي او په دې برخه کې د دولت د رامنځ ته کېدو موضوع مطرح کېږي.**

د بازار، دولت او عامه مالي چارې د ټولنې د کلي سيستم له هغو اجزاوو څخه دي، چې دولت د بشري ټولنو د تاريخي انکشاف په نتيجه کې منځ ته راغلی. د يو پېچلي سيستم د مرکز په توګه او د ټولنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړينې رهبرۍ او لارښوونې لپاره يې بڼه غوره کړې او انکشاف يې موندلی. (۱۴:۱٦).

د دولت مهمه دنده د ثبات تأمين، له خارجي د ښمنانو څخه دفاع او په ټولنه کې د نظم او قانون برقرارول دي1. دولت هغه قوانين رامنځ ته کوي چې د هغه اصلي شرط اقتصادي انکشاف پېژندل شوی او له هغه پرته د بازار او عامه اقتصاد انکشاف امکان نه لري. دولت د ټولنې ګټې تشخيصوي او د هغه د لاسته راوړلو لپاره فعاليت کوي. څرنګه چې د ټولنې انکشاف له يو ډيناميک او متحول سيستم څخه جوړ شوی، نو دولت بايد د هغه ساتونکی واوسي ترڅو د هغه انکشاف د ټولنې ضروري او مطلوب لوري ته ترسره شي. د ټولنې اقتصادي او اجتماعي بريالی انکشاف اساساً د ټولنې د اقتصادي بنسټ په توګه د بازار د مناسباتو د انکشاف په وضعيت پورې تړل دی.

دولت د خپلو دندو او فعاليتونو د اجراء کولو لپاره مالي وسايلو ته اړتيا لري او دغه مالي وسايل په عمده ډول په اجباري توګه د خپلو ښاريانو له عوايدو او شتمنيو څخه لاسته راوړي. د دولت د مالي چارو د واقعي شکل ايجاد هغه وخت ممکن ګرځي چې د دولت عوايد او مخارج ترجيحاً د پيسو شکل ځانته ولري او پولي مناسبات يوازې د يو پرمختللي بازار د موجوديت په صورت کې مهم رول لوبولی شي. بناء دولت، بازار او پيسې د خپل تاريخي انکشاف په مشخصه مرحله کې د يو ځانګړي کمپلکس د پيدا کېدو سبب ګرځي چې د مالي چارو په نامه يادېږي. نو د دولت مالي چارې د هغه پيچلی اقتصادي او اجتماعي جوړښت دی چې د ټولنې او دولت د ګټو په خدمت کې وي.

د دولت په اړوند زيات تعريفونه شتون لري چې دلته د ځينو په ذکر کولو باندې بسنه کېږي. دولت د بشري ټولنو د تکامل نتيجه او د سياسي توافقاتو حاصل بلل کېږي. هغه توافقات چې د مختلفو احتياجاتو د رفع کولو لپاره منځته راځي او د هغه په سر کې نظم او أمنيت ځای لري يا په بله وينا دولت يو نهاد او تشکيلات دي چې په هغه کې ادارات او پرسونل شتون ولري او له څلورو عناصرو څخه تشکيل شوی دی.

(۱) خلک (۲) قلمرو (سرحدات) (۳) ملي حاکميت (۴) حکومت يا په بله وينا دولت له خلکو او خارجي نړۍ سره د يو لړ پراخو حقوقي روابطو څخه مشتکل دی. (۱۳:۱۵) دولت د رهبري مقام د درې ګونو قواوو او يو هېواد د اداره کوونکې دستګاه له مجموعې څخه جوړ شوی دی. (۱٦:۳)

دولت غالباً د مستقلو سياسي نهادونو مجموعه ده چې د عمومې ګټو تر نامه لاندې د يو ټاکلي قلمرو دننه موقعيت لري او ځينې محدود يې بيا په ځانګړې توګه د يو سازمان يا قدرت له تشکيلاتو سره سروکار لري. د دولت په اړه دقيق او منل شوی تعريف ماکس ويبر وړاندې کړی دی. هغه په خپل تعريف کې د مډرن دولت په درېيو اصلي اړخونوباندې ټينګار کړی دی چې هغ قلمرو، اجرائيه قوه (حکومت) او مشروعيت (سايت جاويدان (۱۳۸۷) د هيګل په ليد کې د مډرن دولت د مفهوم

[1]- آدم سمېت او د ملتونو ثروت؛ ژباړن: استاد شېر خان حساس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژندنه)

د دولتونو دندې او رول د تاریخ په مختلفو دورو کې د اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو په اړوند یو ډول نه و او له ځینو بدلونونو سره چې د تاریخ په اوږدو کې منځ ته راغلی د دولت د دندو حدودو تغییر کړی دی. د دولت د دندو او حدودو او په اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو کې د هغه د رول مسئله په دې ډېر اهمیت لري چې په هره اندازه چې دولت د ټولنې په اړوند زیاتې دندې په غاړه واخلي او په ځانګړي ډول په اقتصادي مسائلو کې زیاته مداخله وکړي په هماغه تناسب سره عامه اقتصاد هم زیات اهمیت پیدا کوي او د مالي قوانینو لمنه پراخېږي. اوس د دولتونو د دندو بدلون د تاریخ په اوږدو کې په لنډ ډول تر څېړنې لاندې نیسو.

که چېرې د حکومت لپاره د تاریخ په اوږدو کې او مخکې له هغه چې دولت د ځان لپاره نوی حقوقي مفهوم او شکل غوره کړي وګورو یوې دندې ته قایلېږي دغه دنده د داخلي او خارجي أمنیت تأمین او د هرې منطقي له احوالو او وضعې سره متناسب محدودو قضائي او اداري خدماتو پورې محدوده ده. د دولتونو دغه د نولسمې پېړۍ تر وروستیو پورې قوت درلود. همدارنګه وروسته چې حکومتي مخارج چې د حاکمانو د مخارجو، ساحتماني مخارج، د لښکرو مخارج، په داخلي نظم او أمنیت او دفاعي چارو مخارج چې د اداري او قضائیي چارو په خدماتو کې خلاصه کېدل. دغه ډول مخارج عموماً د خراج، مالیاتو او جنګي غنیمتونو په واسطه تأمینېدل، چې د وخت په تېرېدو سره د نویو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو مفکورو په څرګندېدلو او پراخېدو او د ټولنو په بدلون او ودې سره وضع او حالات بدل شول، چې له هغې جملې نه په اروپائي هېوادونو کې د کلاسیکو اقتصادپوهانو مفکورې د پاملرنې وړ وګرځېدلې. په داسې ډول چې په هغو هېوادونو کې د دولت د مناسباتو د اقتصادي، تولیدي او سوداګریز چارو سره ددغې ډلې د پوهانو له نظریاتو سره متناسب شکل غوره کړ.

دغه اقتصادپوهان په اقتصادي او سوداګریز چارو کې د دولت له مداخلې سره موافق نه وو. د هغوی له نظره د سوداګریز اقتصادي او تولیدي فعالیتونو آزادي د هرې ټولنې او هر هېواد د اقتصادي پرمختګ له مهمو شرطونو څخه یو شرط دی. هغه څه چې د (بازار او آزاد اقتصاد) نوم یې واخیست په همدې مفکوره استوار دی او له همدغه لیدلوري څخه سرچینه اخلي. د هغوی په نظر د دولت وظیفه یوازې د داسې زمیني او وضعیت ایجادول دي، چې په هغه کې د اقتصادي فعالیت او رقابت آزادې شتون ولري او حاکمه طبقه باید یوازې ددغې برخې د أمنیت او حاکمیت دنده په غاړه واخلي. نو پردې بناء د اقتصاد په ساحه کې د دولت دنده یوازې حمایت او أمنیت ساتل دي. خو په نورو اقتصادي برخو کې د مداخلې حق یې نه درلود د لومړۍ نړیوالې جګړې او دوام ددغې نظریې د رد سبب شول. په ځانګړي ډول د جګړې پر مهال دولتونه په اقتصادي چارو کې مداخلې ته اړ شول چې له هغې جملې نه دولتونو د یو شمېر هغو شیانو اداره، کنترول، تولید او وېش په غاړه واخیست چې د جګړې په نتایجو باندې یې تأثیر درلود. د ځینو شیانو تولید یې دفاعي او جنګي کالیو د برابرولو په خاطر کم کړ او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوندو منابعو څخه په ګټې اخيستنې سره يې د نظامي صنايعو پراختيا ته دوام ورکړ. د جګړې پر مهال د ټولنيزې وضع حساسيت ته په کتو سره د اقتصادي نوساناتو کنترول او د عامه اړتياوو رفع کول د دولت له کارونو څخه وشمېرل شول. په اقتصادي چارو کې د دا ډول مداخلو او اقداماتو دوام دولت ته نوی شخصيت او ځانګړتياوې ورکړې او له دولت څخه د خلکو هيلو هم زياتوالی وکړ. نو په نتيجه کې د دولت مناسبات له ټولنې سره په کلي ډول بدل شول او د دولتونو د دندو او مسؤليتونو حدودو بې ساری زياتوالی پيدا کړ. (۱۱:۱۹)

د جګړې په پای ته رسېدو سره نه يوازې دا چې د دولت مداخله په اقتصادي چارو کې ونه درېدله، بلکې مداخلې او فعاليتونه يې ورځ تر بلې زيات شول. د جګړې له امله د ورانيو زيانونو او تلفاتو جبران او د هېوادنو بيارغونه د دولت له شتون او اقداماتو څخه پرته ناممکنه وه. يو په بل پسې اقتصادي بحرانونو او په ځانګړي ډول د دېرشمې ميلادي لسيزې لوی بحران او اقتصادي ثبات د رامنځته کولو لپاره د لازمو اصلاحاتو لپاره د دولت له مداخلې څخه پرته بله لاره نه وه پاتې. پر دې سربېره د ټولنيز عدالت غوښتونکو مفکورو د راڅرګندېدلو او د ټولنو د ودې او بدلون په سبب د دولت دندې او مسئوليتونه زيات شول. (۷:۲۲)

کېنز په دې باور و چې د امريکا په متحده ايالاتو کې د ۱۹۳۰ ز کال اقتصادي بحران تجربه او د هغه لېږدېدل د اروپا لويې وچې ته دا څرګندوي چې پانګوال نظام (کپيټالېزم) ناروغ دی او د مؤثرې تقاضا کموالی او د هغه په نتيجه کې د توليد کموالی او د اپېر د قوې ضعيفوالی، وزګارتيا او بې مورده مصرف د پانګوال نظام د ناروغۍ نښې نښانې دي. خو کېنز ددغې ناروغۍ علاج د مارکس په څېر د انقلاب او نظام د منحل کولو له لارې نه ګڼي، بلکې کېنز عقيده لري چې د مالي او پولي سياستونو په مټ کولای شو چې له انفلاسيون څخه پرته د کامل استخدام شرايط په اقتصاد کې منځ ته راوړو. کېنز په دې باور و چې د پانګوال رقابتي اقتصاد بايد د مختلط اقتصاد په مټ عوض شي او په هغه کې بايد د کامل استخدام تعادل په منځته راوړلو کې دولتي او بانکي برخې له خصوصي برخې سره مرسته وکړي. د پولي سياست موخه داده چې په ټاکلي قوت سره د توليد د سطحې د رکود په وخت کې د مخارجو د زياتوالي له لارې د تعادل د منځته راوړلو په خاطر کامل استخدام لوړ کړی شي او د انفلاسيون په وخت کې د مخارجو اندازه کمه شي. د پولي سياست په وسايلو کې د کېنز له نظره لاندې موارد شاملېږي. ( ۳۸۹:۶)

**۱- په آزاد بازار کې عمليات:** ددغې وسيلې په مټ کولای شو چې په خصوصي برخه کې د خلکو د پېرودنې قدرت تنظيم کړو. که چېرې فرض کړو چې اقتصاد د وزګارتيا او اقتصادي رکود په حال کې دی. نو د هغه د له منځه وړلو لپاره بايد له پولي انبساطي سياست څخه استفاده وکړو. د نوموړي سياست موخه داده چې اعتباري امکانات لوړ کړی شي ترڅو خلک وکولای شي له سوداګريزو بانکونو څخه پيسې پور او خپل مخارج لوړ کړي. دغه موخه د عملياتو له لارې هغه وخت ترسره کېدای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سوداګریز بانکونه په آزاد بازار کې د پور هغه پاڼې چې خلک یې په لاس کې لري په زیات قېمت سره واخلي. په دې کار سره د مصرف کوونکو د پېرودنې قوه او همدارنګه پانګونه لوړېږي او په نتیجه کې د تولید او استخدام حجم زیاتېږي. که چېرې اقتصاد په انفلاسیوني شرایطو کې وي د هغه د مخنیوي او له انفلاسیون څخه پرته د کامل استخدام د تعادل لپاره د پولي انقباظي سیاست کارول اړین دي ترڅو د اعتباراتو د سطحې په محدودولو سره مجموعي مخارج راکم شي او د قېمتونو له زیاتېدو څخه مخنیوی وشي. دغه موخه هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې سوداګریز بانکونه په آزاد بازار کې هغه پور پاڼې چې دوی یې په لاس کې لري په ټیټ قېمت سره په خلکو وپلوري چې په دې ترتیب سره د مصرف کوونکو او پانګوالو د پېرودنې قدرت کمېږي او په کامل استخدام کې د مجموعي تقاضا سطحه د تولید د مجموعي عرضې لوري ته حرکت کوي.

**۲- د قانوني ذخایرو په نرخ کې تغییر:** سوداګریز بانکونه چې باید د مرکزي بانک غړي وي باید یو ټاکلی مبلغ د قانوني ذخیرې په توګه له مرکزي بانک سره وساتي. البته نوموړې فیصدي د مختلفو اقتصادي شرایطو په صورت کې کمه او زیاتېدلی شي ترڅو په جریان کې د پیسو د زیاتولو او یا هم کمولو زمینه برابره شي او د هغه په وسیله د پانګه اچونو د هڅونې او یا هم د انفلاسیون د کموالي اسباب رامنځ ته شي.

**۳- د تنزیل په نرخ کې تغییر:** د تنزیل نرخ هغه نرخ دی چې سوداګریز بانکونه یې باید مرکزي بانکونو ته د اعتبار د ترلاسه کولو لپاره ورکړي. څرنګه چې مرکزي بانک د رکود په حالت کې د تنزیل نرخ راکموي ترڅو سوداګریز بانکونه دېته وهڅول شي چې له مرکزي بانک څخه د خپلو اعتباراتو حجم زیات کړي، چې په نتیجه کې خلکو ته د هغوی د کریډېټ ورکولو قدرت زیاتېږي او د ربح نرخ کموالی کوي او د پانګې اچونې د زیاتوالي سبب ګرځي او د تولید حجم د کامل استخدام لوري ته نږدې کېږي. کېنز د کلاسیکانو او نیو کلاسیکانو هغه نظریه چې (اقتصادي فعالیتونه په طبیعي توګه د کامل استخدام خوا ته راګرځي) تر نیوکې لاندې ونیوله او په دې باور دي چې د ملي تولید سطحې، ملي عاید او استخدام د تنظیم لپاره د دولت مداخله او د خصوصي برخې په اقتصادي چارو کې د دولت ګډون ضروري دی. دېته په پام سره فرضاً که چېرې اقتصاد په رکودي شرایطو کې وي د مالي انبساطي سیاست موخه له انفلاسیون څخه پرته د کامل استخدام را منځته کول دي. د تولید او استخدام سطحې زیاتوالی په دوه طریقو سره کېدای شي:

**الف- د بودجې د توازن سیاست:** په هغه حالت کې چې اقتصاد د کامل استخدام په حال کې نه وي دغه لاره او طریقه مؤثره نه ده. ځکه د رکود په وخت کې پر عوایدو مالیات T له پرمختللي نظام سره سم مالیات کموالی کوي او که چېرې د دولت مخارج G ثابت وي د دولتي بودجې کسر [G>T] منځته راځي. د دولت د بودجې د توازن لپاره باید پر عوایدو باندې مالیات لوړ شي او یا هم باید دولتي مخارج کم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دواړو حالاتو کې نوموړی سیاست یو انقباظي سیاست دی او رکود نور هم زیاتېږي په داسې حال کې چې د اقتصادي رکود د له منځه وړلو لپاره د مالي انبساطي سیاست پلي کول ضروري ګڼل کېږي.

**ب- د بودجې د عدم توازن سیاست:** کېنز په دې باور دی چې د کامل استخدام د تعادل د منځته راوړلو لپاره غوره او مناسبه لاره د بودجې د کسر سیاست او د عمومي پورونو زیاتوالی دی. د دولت اساسي او بنسټیز هدف په واقعیت کې له انفلاسیون څخه پرته د کامل استخدام رامنځته کول دي او که چېرې ددغې موخې د لاسته راوړلو لپاره دولت د بودجې له کسر سره مخ شي نو د پام وړ هدف د لاسته راوړلو په لاره کې کومه ستونزه نه رامنځ ته کوي. له هغه ځایه چې د رکود په وخت کې د کامل استخدام له سطحې څخه ټیټ د ملي عاید تعادل ددې سبب ګرځي ترڅو له ټولو هغو تولیدي منابعو څخه چې د خصوصي برخې د تولیدي منابعو په اختیار کې نه دي، بلکې برعکس د عمومي مخارجو او پور د نشر عاطلې منابع په کار اچوي او د هغه اغېزې د تولید او عاید د سطحې د زیاتوالي او د خصوصي برخې د پیاوړتیا په شکل راڅرګندېږي. کله چې اقتصاد په انفلاسیوني شرایطو کې وي اړینه ده له مالي انقباظي سیاست څخه استفاده وشي ترڅو د مجموعي مصارفو اندازه کمه شي او د کامل استخدام حد ته ورسېږي. په دې حالت کې به د بودجې د توازن سیاست ګټور نه وي ځکه له پرمختللي مالیاتي سیستم سره سم له انفلاسیون سره یوځای د رونق په دوره کې د مصرف وړ عاید په زیاتوالي سره پر عوایدو مالیات T هم زیاتېږي. فرضاً هر کله چې دولتي مخارج G ثابت وي، د بودجې مازاد [T>G] رامنځ ته کېږي. د دولت د بودجې د توازن لپاره باید مالیات راکم شي او یا عمومي مصارف زیات شي. په دغو حالاتو کې نوموړی سیاست یو انبساطي سیاست دی او په اقتصاد کې د انفلاسیون فشار زیاتوي. د عمومي پورونو ورکړه د انفلاسیون په حالت کې له خصوصي برخې څخه د تولید د منابعو د خارجېدو او دولتي برخې ته د هغه انتقال معنا لري. نو دېته په پام سره د بودجې د کسر سیاست غوره کول ډېری د قیمتونو د خطر له زیاتوالي سره یوځای وي. اړینه ده چې په انفلاسیوني شرایطو کې د دولت مخارج او انتقالي ورکړې باید کم شي او یا دولت باید د غیر مستقیمو یا مستقیمو مالیاتو لکه په خرڅلاو او شتمنۍ د مالیاتو د زیاتولو په برخه کې خپل تصامیم ونیسي ترڅو د خلکو د پېرودنې قدرت په غیر مستقیم ډول کم شي.

په دې ترتیب سره د کېنز مالي او پولي سیاستونه هغه ځانګړي تدابیر دي چې د هغه په پلي کولو سره په ترتیب سره په جریان کې د پیسو عرضه او د دولت د مخارجو او مالیاتو حجم د کلي اقتصادي اهدافو په موخه لکه کامل استخدام او له انفلاسیون څخه مخنیوی کنترولېږي. پولي سیاست د زیاتو اهدافو د تأمین په خاطر د پیسو د عرضې په کنترول پورې اړوند یوه کړنلاره ده. د پولي سیاست تر ټولو وسایل په دې ډول دي:

۱: په T آزاد بازار کې عملیات

۲: د قانوني ذخایرو په نرخ کې تغییر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: د تنزیل په نرخ کې تغییر

**د مالي سیاست تر ټولو مهم وسایل**

۱: عمومي مصارف

۲: مالیات

۳: انتقالي ورکړې

د سیاسي ټولنیزو او اقتصادي مفکورو لړۍ، ملي او نړیوالې پېښې، د اقتصادي او صنعتي قدرتونو پیدا کېدل، د لویو څو ملیتي شرکتونو بنسټ ایښودنه او د دولت نظارت او د هغوی ترمنځ د روابطو د تنظیمولو ضرورت او اقتصادي، ټولنیزې او سیاسي اغېزې یې، د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو څرګندېدل او د هغوی ترمنځ رقابت، د ختیځ او لوېدیځ بلاک رامنځ ته کېدل، د سوړ جنګ لړۍ او له یو بل سره د زبر ځواکونو مخ کېدو او په سلګونو داسې نورو پېښو دولتونو ته یوه نوې بڼه ورکړه او په بېلابېلو ټولنیزو او اقتصادي چارو کې یې د هغه د مداخلې او نفوذ لمنه په بې سابقې ډول پراخه کړه. په داسې ډول چې اوس دولتونه په بېلابېلو چارو لکه په اقتصادي برخه کې مؤثر او څرګند عامل ګڼل کېږي.

په اوسنیو ټولنیزو او د ملیتونو ترمنځ په شرایطو کې پراخه دندې او لوی مسئولیتونه د هر دولت په غاړه دي لکه د قېمتونو تثبیتول، د ملي پیسو د ارزښت ساتل، اقتصادي پراختیا او بدلونونه، د ودې لپاره مناسبو او وړ سیاستونو پلي کول، د حد اقل مزدونو ټاکل، د ټولنیزو او روغتیایي بیمو د ډولونو رامنځته کول او د هغه زیاتوالی، د خلکو خاصتاً د کم عاید لرونکو خلکو د اقتصادي حالت د ښه والي لپاره هڅه کول، په ټولنه کې د کار او استخدام د سطحې لوړول او د هغه ساتنه، د ژوند چاپېریال او عامې روغتیا ساتنه، د داخلي او خارجي أمنیت د رامنځته کولو او ساتنې لپاره د اړینو قوانینو تصویب او اجراء کول، د فنونو او علومو له انکشاف، پراختیا او فرهنګي پرمختګ سره مرسته کول، له نورو هېوادونو او دولتونو سره د اقتصادي سیاسي او فرهنګي مناسباتو رامنځته کول او تنظیم. په دې ترتیب سره د دولت د دندو په پراختیا او د مسئولیتونو په زیاتوالي سره د هغوی مخارجو هم بې سابقې زیاتوالی وموند. په داسې ډول چې لویه برخه او په ځینو مواردو کې د ملي عوایدو، منابعو، مخارجو زیاته برخه د دولت تر کنترول لاندې راغله.

**د بازار اقتصاد، عامه اقتصاد او مختلط اقتصاد**

**الف- د بازار اقتصاد:** د بازار اقتصاد هغه اقتصاد دی چې په هغه کې د ټولنې د اړتیا وړ خدماتو او شیانو یا کالیو تبادله په آزاد ډول د بازارونو له قېمتونو سره سم د پیسو په مقابل کې ترسره کېږي. د بازار اقتصاد هڅه کوي چې د مصرف کوونکو (تقاضا کوونکو) او تولیدوونکو (عرضه کوونکو) رفتار بیان کړي. په دې نظام کې مصرف کوونکي هڅه کوي چې د خپل محدود عاید یوه برخه په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول تنظیم کړي چې د اجناسو د مجموعې د غوره کولو لپاره ډېر وړ او مناسب وي او د هغه لپاره زیات ګټورتوب ولري او د هغه لاربنود د شیانو او خدماتو قېمت دی. هغوی تر هغه وخته پورې خپلې تقاضا ته ادامه ورکوي چې د وروستي تقاضا شوي شیز له ارزښت څخه نهائي افاده (نهائي مطلوبیت) ولري. تولیدوونکي هم محدودې تولیدي منابع په لاس کې لري او دغه محدودې منابع د هغو شیانو او خدماتو تولید ته ځانګړې کوي چې د هغه په خرڅلاو سره زیاته اندازه ګټه ممکنه وي او یا هم لاس ته راځي. تولیدوونکي هم تر هغه ځایه پورې هڅه کوي چې د لاسته راغلي محصول اضافي ارزښت (نهائي تولید) له هغه قېمت څخه ډېر وي چې د هغه د تولید لپاره یې ورکوي. بازار چې مصرف کوونکي او پلورونکي یې اصلي لوبغاړي دي که څه هم د هغه تعریف سخت هم دی چې ځانګړي خصوصیات لري چې له دغو ځانګړتیاوو څخه تر ټولو مهم یې دا دي؛ چې هر فرد باید په خپل ملکیت باندې آزاد وي او د هغوی ترمنځ تعامل هم باید آزادي ولري. هر څوک که هغه پلورونکی وي او که پېرودونکی وي کولای شي چې په آزاد ډول ټاکنه ترسره کړي، خو بازار د هغوی ټاکنې داسې همغږي کوي چې هر یو له دوی څخه حداکثر ګټه وکړي چې د هغه د همغږۍ عامل هم قېمت دی. دغه ځانګړتیاوې د اېستېکلر په تعریف کې دا ډول راغلي دي:

بازار هغه بنسټ دی چې په هغه کې معاملات ترسره کېږي. دغه بنسټ هغه وخت په مؤثر ډول فعالیت کوي چې هر اخیستونکی دېته حاضر وي چې د شیانو د رانیولو لپاره تادیه وکړي او د هغه په رانیولو باندې بریالي شي او هر خرڅوونکي چې خرڅولو ته میل ولري د حد اکثر دود شوي قېمت باندې شیان خرڅ کړي. هر څومره چې شیان او خدمات مشخص او معلوم وي او په هره اندازه چې اخیستونکي او خرڅوونکي د خپلو اموالو په حقوقو او قېمتونو باندې زیاته خبرتیا ولري بازار په هماغه اندازه خپله دنده په مؤثر ډول مخته بیایي. همدارنګه بازار په کامله توګه اخیستونکو او پلورونکو ته ددې توان ورکوي چې ترڅو د دوی د راتلونکې په اړه چې دوی څه نظر لري نو د هغې پر اساس دوی خبر وساتي چې په خپلو فعالیتونو او کړنو کې د راتلونکي لپاره تغییر راولي. کېدای شي چې بازار کامل- انحصاري- ناقص- یا هم رقابتي وي. بازار اوس په داسې مفهوم سره غوښتل کېږي چې عموماً په رقابت باندې تکمیلېږي.(۵۳۱:۱٦)

د ساموئلسن او نردهاوس په تعریف کې په قېمت او جوړجاړي باندې زیات ټینګار شوی دی. ((بازار هغه همغږي ده چې د هغه په وسیله اخیستونکي او پلورونکي په آزاد تعامل سره د شیانو او خدماتو قېمت او مقدار تعینوي. قېمت په بازار کې د تولیدوونکو او مصرفوونکو د تصامیمو همغږي کوونکی دی.)) لوړ قېمتونه تولیدوونکي هڅوي او مصرفوونکي د مصرف زیاتوالی او د تولید د کموالي هڅوونکي دي. په بازار اقتصاد کې اصلي شرط د رقابت شتون دی د رقابتي بازار اصلي شرطونه په دې ډول دي:

۱: د ډېرو عرضه کوونکو شتون، په داسې ډول چې هېڅ یو هم په یوازې ډول په قېمت باندې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تأثیر نه شي غورځولی.

۲: د ډېرو زیاتو مصرف کوونکو شتون، چې هېڅ یو هم په یوازې توګه په قېمت باندې کوم تأثیر نه شي غورځولی.

۳:عرضه کوونکي او تقاضا کوونکي بازار ته په داخلېدو او خارجېدو کې آزادي لري.

۴: د بازار له شرایطو څخه د پوره معلوماتو شتون.

۵: په بازار کې د شیانو مشابهت. (۲۷:۷ )

**ب- د دولت اقتصاد یا عامه اقتصاد:** عامه اقتصاد هغه علم دی چې له ادارې، تهیې او د دولت د مالي او پولي وسایلو له پکار اچولو څخه بحث کوي. د دولت د اقتصادي فعالیتونو تحلیل او تشریح، پر اقتصاد او د تولیدوونکو او مصرف کوونکو د ژوند په سطحه د مالیاتو او عامه مخارجو تأثیرات د عامه اقتصاد د بحث موضوع تشکیلوي. د دولت فعالیتونه او کړنې د ټولنې د هر فرد په ورځني ژوند باندې اغېزه کوي. قوانین او مقررات، قضائي او اداري تصامیم او د دولت اقتصادي او ټولنیز سیاستونه د افرادو د رفتار په تعدیل پورې تړاو پیدا کوي. د عاید او ثروت د وېش، او د منابعو د ځانګړي کولو په څېر د دولت د اقتصادي سیاستونو ترسره کول، د دولت د مالیاتو د لاسته راوړلو، د نورو عایداتي منابعو تدارک او د پور پانګو د نشر دی. د دولتي مخارجو او د دولت د عایداتي منابعو په برخه کې مالي سیاستونه د عامه اقتصاد د وسایلو له جملې څخه دی چې د اقتصادي انکشاف او رفا سطحې ته د ټولنې د رسېدلو لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي.

د نیو کلاسیک اقتصاد چې د اقتصاد متداول نظریات عمومي برخې ته وړاندې کوي، د دولت اقتصاد ماهیتاً تابع او بشپړوونکې پدیده بولي. په دې معنا چې داسې چې اصلې کارونه، بازار او د بازار کړنلارې ته وړاندې کوي او یوازې هغه وخت د عمومي برخې شتون مني چې د منابعو په تخصیص کې د بازار د پاتې راتلو د جبران لپاره میدان ته راغلی وي. په حقیقت کې عمومي برخه او ډله ییز اقدام د منابعو په تخصیص کې د بازار نظام او د خصوصي برخې د شتون له امله ګني. د اقتصادي مؤثریت له نظره د دولت د مداخلې لزوم په لاندې موضوعاتو باندې ولاړ دی:

۱. داچې بازار د مؤثریت په تأمین کې پاتې ر شي.

۲. داچې د دولت مداخله دغه پاتې راتلل په ښه توګه جبران کړي. (۲:۲۲)

۳. د دولت دندې په اقتصادي چارو کې د مداخلې یو مهم دلیل دی.

څرنګه چې د دولت له مهمو دندو څخه یو هم د ټولنیز عدالت تأمین دی او دا هېڅکله د آزاد بازار اقتصاد له لارې نه شي تأمین کېدلی. نو یوازې د بازار پاتې راتلل د دولت د مداخلې دلیل نه شي کېدای. اصلا د اقتصاد په علم کې د دولت د مداخلې منطق همدا ډول طبیعت او ددغې مداخلې فضاء له فني او نظري دلایلو سره وړاندې کېږي. په دغه چوکاټ کې د عمومي برخې د تحلیل په برخه کې اقدام یوازې د خصوصي برخې د نواقصو د اصلاح لپاره د تدابیرو یوه مجموعه ده. بل مهم ټکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادی چې عمومي برخه باید په دقیق ډول د افرادو او بازار د عاملینو په ترجېحاتو باندې او پوهېږي او اقدامات یې هم باید د هغه په سرته رسولو باندې ولاړ وي، یعنې د بازار د پاتې راتلو د جبران لپاره باید په داسې انتحاب لاس پورې کړي چې اصولاً د افرادو د انتحاب لنډیز (جمع بندي) په هغه پورې ځانګړې شي یا په بله وینا ټاکنې باید له سیاسي او اداري لیدلوري څخه ترسره شي ترڅو معلومه شي چې څه او څومره اندازه تولید وشي او د هغه د مخارجو لپاره له څه شي څخه او څومره مالیات واخیستل شي.

په عمومي برخه کې د ټاکنو د ترسره کېدو لپاره د نماینده ګۍ پر اساس د دیموکراسۍ نظام چې په زیاتره هېوادونو کې دود دی مطلوبه سیاسي پروسه فرض شوې ده. هغه نظام چې په ډله ییزو سازمانونو باندې تکیه لري نه په خپله په خلکو باندې. همدا ډول د عامه برخې د اقتصاد موضوع د دولت د فعالیتونو تحلیل او توصیف دی. د دولت د فعالیتونو د څرنګوالي او اندازې په اړوند مختلف نظریات شتون لري. په داسې حال کې چې د دولت مسئولیتونه په ځینو مواردو کې د تأثیر وړ ګرځي او په ځینو مواردو کې باید بحث پرې وشي. د دولت مختلف فعالیتونه په ټولنه کې د بشر د افرادو د رفتار څرنګوالی ټاکي. د دولت سیاستونه د کمیابه منابعو په ځانګړي کولو پورې اړوند مسایل، اقتصادي ثبات او د ثروت او عاید وېش تر اغېزې لاندې راولي. د ټولنیزې هوساینې په برخه کې د دولت د فعالیتونو ترسره کول د مالیاتو غوښتنه کوي او له بلې خوا د دولتي مخارجو شتون اړین ګرځوي. د عمومي برخې اقتصاد د دولت د مخارجو او عوایدو اغېزې یو شمېر اهدافو لکه د منابعو تخصیص، د عاید وېش او اقتصادي ثبات بررسي کوي. (۱۱۴:۱۵)

د فریډمن په آند په مجموعي ډول باید دولت هغه دندې په غاړه واخلي چې د بازار په غاړه نه دي. په عمده ډول دغه دندې د مختلفو سیاستونو پلي کول او د منځګړي رول لوبول دي. قوانین هغه ظوابط دي چې په ښکاره توګه پانګوال نظام ورته اړتیا لري لکه د ملکیت قوانین، د قراردادونو لاسلیک کول، د پیسو چاپ او نور.

د منځګړي دندې د أمنیتي ارګانو، عالي دیوان او د هېواد د مرکزي بانک په وسیله ترسره کېږي. د دغو دندو ترسره کول د دولت د مداخلې لپاره دلیل ګڼل کېږي. ځکه له کورنیو څخه د غیر مسئولو اشخاصو پر وړاندې ملاتړ کوي. همدارنګه د ټاکلو قوانینو په اجراء سره د خلکو ترمنځ ستونزې او دعوې حل و فصل کوي او د اقتصادي نظام مستقر ساتي. فریډمن لیکي؛ د خلکو ترمنځ د اړیکو بنسټیز هدف آزادي ده او د هغه د ساتلو لپاره لازمه ده چې موږ د دولت رول محدود کړو او اساساً د خصوصي ملکیت، آزادو بازارونو او اختیاري ترتیباتو په څېر ظوابطو باندې تکیه وکړو. نوموړی د دولت دندې د کلاسیکانو له نقطه نظره قبلوي او نورې دندې په هغه باندې ورزیاتوي لېکن په پانګوال نظام کې د دولت د مداخلې او رول په برخه کې د کېنز او کېنزیانو په فلسفه عقیده نه لري. او څرنګه چې دولت د ټولنې د افرادو آزادي له خطر سره مخامخ کوي نو د دولت له فعالیتونو او دندو د زیاتوالي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېره لري. (۴۶۹:۴)

د بازار نظام هغه وخت مؤثر نظام دی چې زیاتره ستونزې او مسائل حل و فصل کړي. په دې شرط چې د دولت رول د انحصار ضد عامل په توگه وساتل شي. د بازار نظام د اقتصادي فعالیتونو د همغږي کولولپاره مهم رول لوبوي. لېکن باید پاملرنه وکړو چې نوموړی نظام د غیر رقابتي عواملو په شتون کې کمزوری کېږي او د پانگوال نظام د ننني ټولنې پېچلو او پرمختللو شرایطو ته په پام سره ممکنه نه ده چې د بازار نظام د دولت له مداخلې پرته وکولای شي چې خپل رول ولوبوي. له دې لړخه د دولت مداخله د پام وړ ده او دغه رول لوبول د ټولنیزو او فردي آزادیو په قلمرو باندې تېری نه دی. په مجموعي ډول هغه دندې چې فرېډمن د دولت لپاره وړاندې کړي دي کولی شو چې په درېیو مواردو کې رالنډې کړو.

**لومړی مورد:** په هغه فني انحصار پورې مربوط دی چې په یو شرکت پورې اړه لري چې له فني نقطه نظره د رقابتي بازار په مقایسه زیات اغېزمنتوب لري. په دې او نورو حالاتو کې لکه د برق او ټلیفون د تأسیساتو لپاره پانگې اچونې چې د هغه مصرف فوق العاده درونډ دی یوازې د دولت اقتصادي مؤسسه ده چې د خصوصي برخې په نسبت په دې برخه کې د پانگې اچونې د لومړیتوب حق لري.

**دوهم مورد:** د ټولنې په روغتیایي او هوساینې په پروگرامونو پورې مربوطېږي. د ژوند چاپېریال له ککړتیا سره مبارزه او د صحي خدماتو برابرول د هوساینې له پروگرامونو څخه دي چې دولت باید هغه د اجراء مرحلې ته داخل کړي، یعنې باید اجراء یې کړي.

درېیم مورد: د وروسته پاتې ماشومانو د پالنې او هغو کسانو څخه د ساتنې په برخه کې د دولت په اقداماتو پورې مربوطېږي چې هغه د ټولنې لپاره خطرناک وي.

**ج- مختلط اقتصاد:** مختلط اقتصاد هغه ډول اقتصاد دی چې دولت په هغه کې د پام وړ اجناس او خدمات عرضه کوي او د خصوصي اقتصاد فعالیتونه منظموي. په دې ډول اقتصاد کې دولت اکثره وخت د خصوصي اقتصاد په فعالیتونو باندې نظارت لري او له مالیاتو او بلاعوضه مرستو څخه استفاده کوي ترڅو له منابعو څخه د استفادې د تشویق زمینې برابرې کړي. د اقتصاد په دې شکل کې د بازار اقتصاد او خصوصي فعالیت هم مهم ځای لري. د امریکا متحده ایالات او د نړۍ اکثره عصري هېوادونه د مختلط اقتصاد لرونکي دي. (۱۲:۱۳) یا په بله وینا اقتصاد هغه اقتصادي نظام دی چې په هغه کې له یو اړخه د پانگوال نظام ځینې ځانگړتیاوې شتون لري او له بلې خوا د دولتي اقتصاد ځینې تدابیر او د مرکزي حکومت مقررات پکې لیدل کېږي. (۶:۲۲۷)

د نیو لېبرالو اصلي او محوري مفکورې د مثبت اقتصادي نظام سیاست پلي کول دي. د هغوی په نظر پانگوال او سوسیالېزم دواړه زاړه او منسوخ نظامونه دي. پردې سربېره د هغوی په نظر دغه دواړه نظامونه انسان د گمراهۍ لوري ته ټېل وهي. ((د نویو لېبرالو له نظره موجود دواړه اقتصادي اساسي نظامونه چې اوس زموږ په اختیار کې دي، یعنې رقابتي نظام (پخواني) او اداري نظام (متمرکزه برنامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي). په ټولو ممکنه او د هغوی د طرحې وړ بڼو سره د خپلې دغې شریکې ځانګړنې په تړاو چې ټولنیز مسائل حل کړي، یعنې د اقتصاد رفاه مطلوب حد او په عین حال کې د ټولنیز عدالت مطلوب حد به رامنځته کړي. په بنسټیزه توګه شنډ او بې تأثیره دی. هغوی باور لري چې زموږ مفکورې هغه وخت څرګندېږي چې خپل ټول معرفت د اقتصادي او ټولنیزو نظامونو په دغو ځانګړو شکلونو باندې او له یو بل سره د هغوی په تړاو باندې متمرکز کړو او هڅه وکړو چې په ذهني ډول د هغه له کړنلارې څخه خبر ترلاسه کړو او دا حقیقت هم کېدای شي چې د یوه ډله مختلطو او یو په بل کې د ګډو نظامونو اشکال ممکن ددغو دوو قطبونو په منځ کې وي. د نویو لېبرالو د مفکورو له نظره پیاوړی دولت د رقابتي نظام ضامن دی.

د نوي لېبرال دولت دا دنده ورکوي چې اقتصادي نظام ته په مثبته توګه شکل ورکړي او په شکل ورکونه کې او له هغه څخه په ساتنه کې باید مثبته اغېزه ولري. د هغوی په نظر د داسې یو هدف د تحقق لپاره د یو قوي او پیاوړي دولت شتون بنسټیز شرط دی. ځکه داسې فرض کېږي چې یو اقتصادي نظام خپله ټوله هڅه د یوې خاصې طبقې ځانګړو امتیازاتو د خصوصي برخې د قدرتمندانو د لاس لنډول، د نفوذ لرونکو ډلو او ګروپونو مهارولو ته ځانګړې کوي او خپل ټول توان او ځواک داسې اهدافو ته مېام کوي چې طبعاً د هغه له مقاومت سره سروکار لري او وروسته به یې هم ولري. نو بناء دولت باید د داسې پیاوړي او توان لرونکي نظام ساتونکي وي. همدا راز دولت د فردي تصامیمو مجموعې پایلې د اقتصاد په لحاظ اصلاح کوي مثلا د عاید له وېش څخه د تجدید نظر له لارې د دولت د اقتصادي سیاست دوه اصلي او محورې دندې یوه له هغو څخه د کامل رقابت پر اساس د اغېزمنو او مؤثرو قېمتونو د میکانېزم د استقرار منځته راوړل او دوهمه یې د پولي ارزښت په انګېزه باندې د ثبات د وسایلو رامنځ ته کول.

اویکن له دولت څخه لږه توقع نه درلوده، بلکې د ډېرو مهمو مواردو د سرته رسولو په خاطر یې په دولت سترګې پټې کړې وې او ډاډه و چې دولت هغه سرته رسوي. د کنوت بور خات په باور داسې تر سترګو کېږي چې د نویو لېبرالو په اُلګو کې د خیر غوښتونکي دیکتاتور مفهوم او غوښتنه چې د رفاه اقتصاد په پخوانۍ تیوري کې د کنایې په توګه مطرح شوې وه د کار پایه او بنسټ وي. نوي لېبرال په پخواني لوېدیځ آلمان کې په اصولو سره د بازار په اجتماعي اقتصادي نظام او د هغه په څرنګوالي، تعریف او پېژندنه کې له یو بل سره توافق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډيز:**

د عامه اقتصاد بحثونه د ۱۹ پېړۍ په لومړيو کې رامنځ ته شول او د شلمې پېړۍ په ۸۰ لسيزه کې دغه علم په يوه نوي ډول پرمختګ وکړ. عمومي اقتصاد د لومړي ځل لپاره د هغه کتاب عنوان و چې په ۱۹۲۴ ز کې د فرانسوي کوبرت په وسيله چاپ شو او همداراز په ۱۹۶۵ز کې د ليف جانسن لخوا هم د عامه اقتصاد اصطلاح وکارول شوه او همداراز ۱۹۵۹ز ريچارډ ماسګريو په خپل کتاب کې د عمومي ماليې نظريې تر سرليک لاندې د عامه اقتصاد موضوع مطرح کړه، چې نوموړی أثر د اقتصاد د علم ددغې برخې له اصلي منابعو څخه دی. له ۱۹۶۶ز کال څخه وروسته د ټولي عامه اقتصاد له اصطلاح څخه هم استفاده وشوه او د عامه اقتصاد تر سرليک لاندې زيات سمينارونه وړاندې شول او همداراز د عامه اقتصاد په نوم مجله هم نشر شوه.

عامه اقتصاد چې په اقتصاد کې د دولت د رول له څرنګوالي څخه بحث کوي د اقتصاد د علم يوه څانګه ده. په همدې اساس چې هره ورځ د دولت دندې او مسئوليتونه د ټولنې په مقابل کې زياتېږي او په ملي عايد کې د دولت د سهم زياتېدل ددې سبب شول چې د اقتصادپوهانو پام ځان ته راواړوي او د اقتصاد د علم د يوې مهمې څانګې په توګه يې په دې ورستيو کې اهميت پيدا کړی.

دغه علم چې په حقيقت کې تر يوې معلومې او ټاکلې اندازې پورې د بازار د پاتې راتلو د جبران لپاره رامنځ ته شوی، په اقتصاد کې د دولت د رول مطالعه او د هغه حدود ارزيابي کوي او همدارنګه د خصوصي او عمومي اقتصاد معقولې اړيکې برابروي او د قوانينو، مقرراتو او اقتصادي سياستونو په وضع کولو سره د هر يوه لپاره ټاکي او ترڅو داسې زمينه ورته برابره کړي چې اقتصادي پرمختګ، عدالت او نور اهداف ترلاسه شي.

عامه اقتصاد د اقتصاد په مختلفو ساحو باندې هم د لوی اقتصاد او کوچني اقتصاد په کچه په اقتصادي مسايلو باندې تأثير کوي او ددغه علم په مرسته موږ کولای شو هغو پوښتنو ته ځواب ووايو، چې وايي دولت بايد څه وکړي؟ څه ډول يې وکړي؟ يا داچې په کوم ځای کې مداخله وکړي؟ او په کوم ځای کې مداخله ونه کړي؟ پوښتنې ځوابوي.

د عامه اقتصاد پوهه د سياست پوهانو، حقوق پوهانو او مديرانو لپاره اړينه بلل شوې. دولت د عامه اقتصاد د بحث محوري موضوع تشکيلوي، د تاريخ په مختلفو دورو کې د دولت دندې په اقتصادي فعاليتونو کې يو شان نه وي او هغه تحولات او پېښې چې تر دې دمه رامنځ ته شوي د دولت د مسئوليتونو او دندو حدود هم ورسره هم تغيير کړی. د دولت د وظايفو د حدودو موضوع او د دولت رول په اقتصادي فعاليتونو کې ځکه مهمه ده چې په هره اندازه چې په اقتصادي او اجتماعي فعاليتونو کې د دولت د دندو اندازه زياته وي په هماغه اندازه عامه اقتصاد زيات اهميت پيدا کوي او د مالي قوانيو د پراختيا سبب ګرځي چې په دې برخه کې د دولت د فعاليتونو پراخوالی د تاريخ په اوږدوالي کې يوه ښه شاهدي ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوسنیو شرایطو کې هر دولت زیاتې دندې او مسئولیتونه په غاړه لري لکه د قېمتونو ثبات او د ملي پیسو د ارزښت ثبات، د اقتصادي نوساناتو کنټرول او د دولتونو د اقتصادي پرمختګ په خاطر د مناسبو او لازمو سیاسي کړنو ترسره کول، د حداقل مزدونو ټاکنه، د صحي او ټولنیزو بیمو پراخوالی، د خلکو د اقتصادي وضعې د ښه والي لپاره هڅې په ځانګړي ډول د کم عاید لرونکو خلکو، د کارونو تأمین او د استخدام د کچې لوړول، د ژوند د چاپېریال ساتنه، طرح، د خارجي او داخلي أمنیت د تأمین او ساتنې لپاره د لازمو قوانینو او مقرراتو تطبیق او تصویب، فرهنګي پرمختګ لپاره مرسته، د علم او کسبونو پرمختګ، د فرهنګي سیاسي او له خارجي هېوادونو سره د اقتصادي روابطو تنظیم او ساتنه. په دې ډول سره چې د دولت دندې او مسئولیتونه زیات شول نو د دولتونو مخارجو هم په بې ساري ډول زیاتوالی وموند. په داسې ډول چې د ملي عاید یوه لویه کچه او حتی د ملي عاید او منابعو او مخارجو زیاتره کچه د دولت په کنټرول کې شوه.

په اوسنۍ او معاصره نړۍ کې له ۳۰ څخه تر ۶۰٪ پورې ناخالص ملي محصول (GNP) د دولت په فعالیتونو پورې تړاو لري چې دا په خپله د اقتصاد ددغې مهمې برخې (عامه اقتصاد) مطالعه راښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. د دولت د اقتصاد مباحث څه وخت رامنځ ته شول او د عامه اقتصاد لومړی کتاب د کوم اقتصادپوه لخوا ولیکل شو؟

۲. کوم علمي أثر د عامه اقتصاد د اصلي منبع په توګه پېژندل شوی او په کوم اقتصادپوه پورې اړه لري؟

۳. د عامه اقتصاد اصطلاح له کوم کال څخه وروسته عامه شوه؟

۴. د عامه اقتصاد ماهیت توضېح کړئ؟

۵. په اقتصادي فعالیتونو کې د دولت مداخله د بازار د پاتې راتګ د جبران لپاره په کومو حالاتو کې کېدای شي چې بریالی وي؟

٦. د عمومي مالیې او عامه اقتصاد ترمنځ کوم توپیر وجود لري؟

۷. د عامه اقتصاد د بحث اساسي موضوع کومه ده؟

۸. عامه اقتصاد څنګه کولای شي چې په لوی اقتصاد او کوچني اقتصاد باندې اغېزه وکړي له مثال سره یې واضح کړئ؟

۹. په عامه اقتصاد کې د معیاري ځوابونو د نه څرګندولو دلیل به څه وي بیان یې کړئ؟

۱۰. د اقتصاد علم له کومو موضوعاتو څخه بحث کوي؟

۱۱. د سیاستوالو، مدیرانو او حقوق پوهانو لپاره د عامه اقتصاد د مطالعي اړتیا څه ده؟ څرګنده یې کړئ.

۱۲. د دولت مفهوم څرګند او هم یې لومړنۍ دندې و ښیئ؟

۱۳. عامه اقتصاد، د بازار اقتصاد او مختلط اقتصاد سره پرتله کړئ؟

۱۴. د کلاسیکانو مکتب په اقتصادي چارو کې د دولت د مداخلې د حدودو په اړه څه ډول نظریات لرل؟

۱۵. له لومړۍ نړیوالې جګړې نه وروسته د دولت په وظایفو کې څه ډول تغییر رامنځ ته شوی؟

۱٦. په اوسنیو شرایطو کې د دولت عمده دندې کومې دي؟

۱۷. په پرمختللو هېوادونو کې په اقتصادي فعالیتونو (GNP) کې د دولت ونډه ترڅو فیصدو پورې د دولت په اقتصادي فعالیتونو پورې مربوطېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مأخذونه:**

۱. پژویان، جمشید. ( ۱۳۸۳) اقتصاد برخه عمومی ( هزینه های دولت). نشر جنگل چاپ سوم، تهران.
۲. پژویان، جمشید. ( ۱۳۸٦) اقتصاد برخه عمومی ( مالیات ها). انتشارات جنگل، تهران.
۳. پژوهشکده حوزه دانشگاه. (۱۳۷۹) مبانی اقتصاد اسلامی. شرکت انتشارات علمی و فرهنگی، تهران.
۴. تفضلی، فریدون. ( ۱۳۸۵) تاریخ عقاید اقتصادی. نشر نی، تهران.
۵. توکلی، احمد. (۱۳۸۰) بازار، دولت. شرکت چاپ و نشر لیلی، تهران.
٦. توکلی، احمد. (۱۳۸۴) مالیه عمومی. سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی، تهران.
۷. خراسانی، حسن. ( ۱۳۸۵) مالیه عمومی و تعین خط مشی دولت ها. انتشارات مهر اندیش، تهران.
۸. زندی، حقیقی، منو چهر. (۱۳۴٦) پول بانک. چاپ مهر (قم)، تهران.
۹. صمیمی، جعفری. (۱۳۸۵) اقتصاد برخه عمومی. چاپ مهر (قم)، تهران.
۱۰. عارف، عبدالقیوم. ( ۱۳۸۷) مبادی علم مالی. مطبعه خصوصي تمیم، کابل.
۱۱. غوثی، عارف. ( ۱۳۵۳) قاموس اقتصاد. مطبعه دولتی، کابل.
۱۲. فرهنگ، مهر حسین. ( ۱۳۸۱) زمینه بودجه ریزی. دفتر پژوهش های فرهنگی، تهران.
۱۳. فولکرس، کی. ( ۱۳۸۵) اقتصاد عامه (تر جمه شده به دری). مؤسسه همکاری اکادمیک آلمان، کابل.
۱۴. لوشین، س، ی. ( ۲۰۰۷ ) امور مالی دولت و شاروالی ها. متن روسی، چاپ اکونومیست، ماسکو.
۱۵. معروفی، محمد موسی. (۱۳۸۴ ). سیر انکشاف حقوق مالی و مالیه عامه در افغانستان. مرکز نشراتي شوخک، کابل.
۱٦. محتشم، طهماسب دولتشاهی. (۱۳۷٦). فرهنگ کوچک اصطلاحات اقتصادی. ناشر شهراب، تهران.
17 . Jeam , Hindirks ( 2004) . . Intermediate Public Economics , USA.
18 . Martin , Feldstein .. ( 2002) . Handbook of Public Economics .USA.
19 . Stiglar , G. ( 1987) . "Competition" USA .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

## د عامه سکتور وده

هغه څه چې په اقتصاد کې پېښېږي که په خصوصي یا عمومي برخه کې وي، د خصوصي برخې فعالیتونه چې بازاري یې بولي، ممکن د ګټې یا له هغه پرته په بل نیت وي، خو په هر صورت د بازار په صحنه کې آزادانه او اختیاري اقدامات وي. په مقابل کې یې د عمومي برخې یا عامه سکتور فعالیتونه د بازار په صحنه کې وي او که نه وي، خو په هر صورت سیاسي پروسه ده. د بازار هڅه د شتمنۍ په منځته راوړلو سرته رسېږي، چې د هغې شتمنۍ یوه برخه د دولت لاس ته ورځي. دولت هم په داسې فضاء کې خپل رول لوبوي، چې وکولای شي په خپلو خلاقو فعالیتونو لاس پورې کړي. آیا دولت په خپله د شتمنۍ خلاق دی؟ ځواب قطعاً مثبت دی، آن تر دې چې د نیو کلاسیکو په فضاء کې چې د دولت فعالیت یوازې د بازار د پاتې راتلو د جبرانوونکي په توګه مني. د مثال په توګه أمنیت چې دولت د هغه د تأمین دنده په غاړه لري. آیا د تولید د هغو بنسټونو حاصل چې په أمن او لږ بې اطمینانه او لږ خطر لرونکې فضاء کې لاسته راځي، له هغه سره برابر دی چې په نا أمنه او له خطر څخه په ډکو شرایطو کې ترلاسه کېږي؟

څرګنده ده چې د خصوصي برخې وده، یعنې د ټولنې د ټولو هغو افرادو فعالیتونه چې د عامه استخدام له چتر څخه بهر ترسره کېږي، د هېواد لپاره اړین دي. په حقیقت کې د بازار هغه وده ده چې د واقعي ملي تولید په لوړو سطحو کې څرګندېږي. د هېواد د سلامتیا او فعالیت نښه ده. په حقیقت کې دغه امکان د دولتي یا عمومي برخې په اغېزمن فعالیت سره ممکن یا د لاسته راتلو وړ دی. نو ددې تمه کولای شو چې د بازار یا خصوصي برخې په ودې سره عمومي برخه هم پراخېږي، خو د عمومي برخې وده په عین حال کې د اقتصادي حالت د بهبود نښه نه ده. معمولاً د عمومي برخې وده د بازار په فعالیتونو کې د دولت له هغو مداخلو سره یوځای ده، چې نوي پاتې راتلل په اقتصاد باندې تحمیلوي، چې له هغې جملې څخه د افرادو د آزادۍ محدودول او د هغه انتخاب ته تغییر ورکول، چې د هغه ساتنه د ټولنې له مطلوبو غوښتنو څخه ده. نو بناء مختلط اقتصاد چې د بازار اقتصاد او عامه اقتصاد د فعالیتونو ترکیبولو ته شاملېږي، کولای شو چې هغه د ټولنو د پرمختګ لپاره مناسبه طریقه و ګڼو. په دې څپرکي کې لومړی د بازار د ماتېدنې علتونه او د عامه اقتصاد اړتیا څرګنده شوې ده. وروسته په اقتصاد کې د دولت د مداخلې د حدودو د چوکاټ په نظریاتو کې په بدلون بحث کېږي.د عامه سکتور وده په بېلابېلو موډلونو کې څېړل شوې او د دولتونو د لویوالي شاخصونه څرګند شوي دي او همدارنګه د دولت په اقتصادي اهدافو او رول پورې رابطه ورکړل شوې او په پای کې د موضوعاتو لنډیز، پوښتنې او مأخذونه ورکړل شوي دي.

### د بازار پاتې راتګ او د عامه اقتصاد اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الف- د مارکېټ د ضعف موارد:**

۱- **انحصار**: رقابت د بازار اقتصادي نظام په فعالیتونو کې بنسټيز رول لري، د کالیو په مارکېټ کې رقابت ددې سبب کېږي ترڅو قېمت له متوسطو مصارفو څخه ټیټ حد ته راښکته کړي. د رقابتي شرایطو په صورت کې د تولید عوامل هم په تو لیدوونکو باندې په لوړه بیه نه پلورل کېږي. (۳: ۳٦) رقابت په بازار باندې د اخیستونکو او پلورونکو د تسلط مانع ګرځي، یا په بله وینا د هغه شمېر زیات وي او د هر یوه برخه لږه وي. خو نن سبا کتلوي تولید،د وېش شبکې د لوړې بیې او پرمختللې ټکنالوژۍ او بازار موندنې لویو تولیدوونکو ته ددې امکان برابر کړی چې د کوچنیو  تولیدونکو په پرتله په مصارفو کې ډېره سپما وکړي او له خپلو کوچنیو رقیبانو څخه مخکې شي لکه د الوتکو، ببړیو او فولادو په صنایعو کې لږ شمېر شرکتونه ټول تولید په لاس کې لري او په یو شمېر نورو کې محدود شمېر صنایع وجود لري د بازار موندنې اصلي قدرت په لاس کې لري. (۵:۲۷۷) څرنګه چې د انحصار شتون د رقابتي حالاتو د ګټو له منځه وړلو سبب کېږي او د مصرف کوونکو په زیان تمامېږي او د قېمتونو لوړېدوته زمینه برابروي، نو بناء د انحصاري شرایطو منځ ته راتلل د بازار د پاتې راتللو له شرایطو څخه یو شرط ګڼل کېږي.

۲- **جانبي یا بهرني تأثیرات**: ځینې وخت چې یو اقتصادي فعالیت سرته رسېږي، یو شخص یا د اشخاصو یوه ډله، چې په هغه فعالیت کې کډون هم نه کوي، خو له اغېزو څخه یې اغېزمن کېږي، دغه اغېزه کېدای شي چې مثبته وي او یا منفي، خو نوموړې اغېزې په بازار کې انعکاس نه مومي. د مثال په توګه د یوې فابریکې تولید د هوا د ککړتیا سبب کېږي، خو دغه عوارض د فابریکې په مخارجو کې نه شاملېږي. نو په همدې دلیل سره په دې برخه کې د دولت مداخلې ته اړتیا محسوسېږي.

۳- **عامه کالي**: ځینې شیان بازار ته د عرضه کېدو وړ نه دي، ځکه په هېڅ صورت نه شو کولای چې هغه خلک چې د هغه قېمت نه ورکوي د هغه له مصرفولو څخه منع کړو، چې  دا ډول کالي یا اجناس چې ټول یې په شریکه مصرفوي او یا ترې استفاده کوي. د عامه کالیو په نامه یادېږي ملي دفاع، قضائي نظام او د قانون ګذارۍ نظام یې ښه مثالونه دي. هغه وخت چې تاسې د ملي دفاع د شتون په صورت کې د أمنیت احساس کوئ، په عین وخت کې نور هم له دغو کالیو (أمنیت) څخه استفاده کوئ. پولي مقامات چې کله د خپلو تصامیمو په وسیله په هغو شیانو اغېز شیندي چې تاسو یې اخلئ، په هماغه وخت کې د نورو د تقاضا کېدونکو کالیو په قېمت باندې هم اغېزه کوي، خو د بازار په اقتصاد کې  د عامه اجناسو تولید له امکان څخه لرې خبره ده، ځکه د مصرف او ورکړې ترمنځ مستقیمه رابطه شتون لري. په بازار کې هر څومره چې پیسې ورکړئ خوري یې. په همدې ترتیب سره مصرف د تولید انګېزه رامنځ ته کوي، په داسې حال کې چې عامه کالي د خصوصي کالیو یا بازاري کالي له دغو دوو صفتونو څخه یې یو صفت هم نه لري. (۱: ۴۷)

لومړی هغه وخت چې تاسې له عمومي کالیو څخه استفاده کوئ، په هماغه وخت کې بل څوک هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې ګټه اخلي، نو هېڅ مصرف کوونکی ترې مستثنا نه دی. نو د هغه د مخارجو د ورکړې انګېزه او آن تردې چې د هغه د ګټو د ارزيابي کولو انګېزه هم له منځه ځي، خو هغه وخت چې ملي دفاع يا د پوليسو ملاتړ يا محکمه په وړيا توګه ستاسې د استفادې لپاره خدمات وړاندې کوي تاسې پيسې ورکړې د؟ کله چې نور په کافي اندازه د دغو خدماتو لپاره پيسې ورکړي نور نو ستاسې ورکړې ته اړتيا نه شته. نو بناء ټول د پيسو له ورکړې څخه ځان يوې خوا ته کوي. کله چې ټول ځان وباسی، يعنې ځان يوې خوا ته کړي، څه به پېښ شي، طبعاً عمومي کالي نه توليدېږي. له همدې کبله ده چې د عامو شيانو په توليد کې د بازار ضعف څرګندوي.

۴- **اقتصادي بې ثباتي:** ددې لپاره چې بازار په مؤثره توګه عمل وکړي، نو يو باثباته پولې نظام ته اړتيا ده چې شتون ولري. د زياتره اقتصادي معاملاتو او فعاليتونو د بشپړې سرته رسېدنې لپاره وخت ته اړتياده، کور جوړونه، ځمکه او ساختمان هغه بېلګې دي، چې د هغه په برخه کې عمل کول په يوه زماني دور کې ترسه کېږي. د دغه کار تحقق د پيسو نسبي ثبات ته اړتيا لري. که چېرې د پيسو نوسانات ډېر زيات شي، نو زياتره توليدات او معاملات د ډاډ د نشتوالي په دليل له زيان سره مخ کېږي او په دې وخت کې د بازار د آرامې برخې د اطمينان کړنلاره ګډوډېږي. اکثره اقتصادپوهان په دې باور دي، چې د دولت په مرسته اقتصاد له هر وخت څخه زيات ثبات ترلاسه کوي، چې مداخله پکې شتون نه لري، يعنې د دولت په مداخلې سره ثبات پيداکوي. د دولت عوايد او مخارج او پولي او مالي سياستونه په اقتصادي ثبات باندې ډېر تأثير لري.

۵- **عدالت:** اقتصادي مؤثريت، يعنې له محدودو منابعو څخه د حداکثر محصول توليدول، په داسې توګه چې حداکثر ډېره اجتماعي ګټه ترې لاس ته راشي، يوازې د هرې ټولنې له موخو څخه يو موخه ده. مګر کوم هدف چې تر ډېره حده پورې مهم ګڼل کېږي هغه دادی، چې توليد شوی محصول څرنګه د ټولنې د افرادو ترمنځ ووېشل شي، يعنې د عدالت موضوع. د بازار نظام، يعنې د عرضې، تقاضا او قېمتونو نظام معمولاً د محصول د داسې وېش سبب کېږي، چې په بشري ټولنو کې عادلانه نه ګڼل کېږي، که څه هم د مختلفو ټولنو د اقتصادپوهانو ترمنځ د عدالت په تعريف کې اختلاف شتون لري، خو داچې بازار د عدالت لامل نه کېږي، نسبتاً د عمومي نظر يووالی په دې بر خه کې شتون لري، په همدې دليل د اوسې هېڅ اقتصاد هم د عايد وېش په بشپړه توګه د بازار نظام ته نه سپاري. (٦:٨٠)

٦- **انساني ارزښتونه:** په اقتصاد پورې اړوندې اجتماعي موخې يوازې مؤثريت او عدالت نه دی، بلکې هره ټولنه ځينې نور مهم اهداف هم تعقيبوي، چې د هغه په اقتصادي ژوند پورې تړاو لري. د مصرف کوونکي انتخاب، فردي آزادي، اخلاقي تعهد، عزت او ملي استقلال،د ټولنيزې روحيې پياوړتيا، وحدت او يووالی، له استعمار څخه آزادي او ټولنيز اعتقادات د هغو موخو او اهدافو له جملې څخه دي، چې هر ټولنه د هغه د لاسته راوړلو او ساتلو په هڅه کې دي. د بازار فعاليتونه چې په شخصي ګټه باندې ولاړ دي، اکثره هغه يې د دغو اهدافو له پيداکېدو سره نه جوړېږي، نو بناء دا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بازار د ضعف یا ناکامۍ له ټکو څخه ګڼل کېږي.

**ب- د بازار نیمګړتیاوې:**

هغه مهمه نېمګړتیا چې مؤثریت له لاسرسي څخه لرې کوي، د اطلاعاتو کمزوري ده. پر هغه سربېره په عواملو کې د تحرک نشتوالی، د عواملو په غبرګون کې ځنډ، د وېش نه منل، د کالیو مختلفوالی او غیر عقلاني رفتارو د بازار نیمګړتیاوې دي.

۱- **د اطلاعاتو کمزوري:** د بازار یوه معضله هم په نیمګړو اطلاعاتو یا معلوماتو سره تصمیم نیول دي، مصرف کوونکي د کالیو د کیفیت د مختلفو عرضه کوونکو د قېمت او د تعویضي اجناسو د قېمت او د هغه د بهرنیو اغېزو په اړه معلومات نه لري. همدا دلیل دی، چې کېدای شي چې ناسم تصمیم ونیسي. همدارنګه ممکن تولیدوونکي، د تولیداتو له کیفیت، د بازار له مختلفو قېمتونو او د نوې تکنالوژۍ له مختلفو سطحو څخه بشپړ معلومات ونه لري. دوی هم امکان لري، چې په ناسمه توګه تصمیم ونیسي. د مصرف کوونکي لپاره ناسم تصمیم، یعنې د محدودې بودجې په پام کې نیولو سره حداکثر مطلوبیت نه ایجادوي. تولیدوونکی هم په خپلو تصامیمو کې حداقل مصرف یا حداکثر ګټې ته نه شي رسېدلی.

د کافي اطلاعاتو نشتوالی ددې سبب کېږي ترڅو د بازار هغه عوامل چې په عمل کې د خپلو یو شمېر ناسمو تصامیمو په جریان کې دي، د کافي اطمینان احساس به ونه کړي. دغه د اطمینان نشتوالی د پانګې اچونې د کموالي او په معاملاتو کې د محتاطانه چلند سبب ګرځي. (۳:۱۷۹)

د بازار عوامل په عین حال کې تل هڅه کوي ترڅو سم او اړین معلومات راټول کړي خو دغه هڅه د مصرف غوښتنه کوي. د نویو محصولاتو معرفي کول، ټیټ قېمتونه، مبتکر او بهتره فرصتونو ته د رسېدو لپاره نوي روشونه یا طریقې، دا ټول د سودا ګریزو اعلاناتو او اشتهاراتو له لارې ترسره کېږي. سوداګریز اعلانونه چې د رسنیو د مالي تأمین اصلي منبع ګڼل کېږي او د هغه له بقاء سره په مرستې کولو سره په غیر مستقیم ډول هم د اطلاعاتو له پرخوالي سره مرسته کوي. مګر د پانګوالۍ له نوموړي لارې څخه په ګټه اخیستنې د انسان په غرایزو تکیه لري لکه له مال او شتمنۍ سره علاقه،حرص، د پټو سترګو تقلید، ځان غوښتنه، حسد یا هم رقابت او جنسي اړیکې. نوموړي ځانګړتیا وې ددې سبب کېږي، چې اعلانات او تبلیغات ددې پرځای چې د اطلاعاتو له لوړېدو سره مرسته وکړي، په ګمراه کولو سره د ناسمو تصامیمو سبب کېږي.

**۲- د تولید د عواملو د تحرک نشتوالی او د هغوی په غبرګون کې ځنډ:** اوږدمهاله عمومي تعادل د تولید د عواملو د بشپړ او بېړني تحرک تابع دی. په داسې حال کې چې بازار له اطلاعاتي، مالي، فرهنګي او ساختماني تولیدي او بنسټیزو د لایلو سره نوموړي موخه لاسه نه شي ترلاسه کولای. د اطلاعاتو کموالی نه یوازې د کالیو په بازار کې، بلکې د تولید د عواملو د عدم تحرک سبب کېږي، آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې چې د اړينو معلوماتو له لاسته راوړلو څخه وروسته کېدای شي، د توليد عوامل په ورو او له زماني ځنډ سره غبرگون څرگند کړي، چې په بازار کې د توليد د عواملو د بيې د لوړېدو سبب کېږي.

**۳- په اجناسو کې د يوشانوالي نه موجوديت:** د اجناسو يو شانوالی د بازار له شرايطو څخه دی مگر نومو‌ړی شرط د کاليو، پانگې او کار په بازارونو کې عملاً نه شي بر قرار کېدای ترڅو د عرضه کوونکو او تقاضا کوونکو د کاليو، د پانگې د محصول او د کاري ځواک د مزد د ټيټو قېمتونو سبب شي.

د کاليو په بازار کې په هغه حالت کې، چې د کاليو ځانگړتياوې يو شان وي، بيا هم ځينې عوامل شتون لري، چې د اجناسو په بيو کې د توپير سبب کېږي لکه د عرضه کوونکي ځای، د گودام مصارف، د ظاهري بسته بنديو شهرت، له خرڅلاو څخه وروسته اسانتياوې او همداراز تبليغات، چې د يو شان کاليو په بيو کې د توپير سبب کېږي يا د يو شان کاليو لپاره مختلفې بيې شتون ولري. د پانگې په بازار کې د پانگې اچونې مؤسساتو او اعتباراتو ته لاسرسی او متفاوت توانونه مشتريان، په مختلفو ډلو وېشي او په بازار باندې د تنزيل بېلابېل نرخونه تحميلوي او د سود تر ټولو ټيټ نرخ د پيداکېدو په مخ کې خنډ گرځي. د کار په بازار کې د کار د توان نابرابري د يو شانوالي شرط له منځه وړي، ځکه چې د مختلفو توانونو او تخصصونو شتون، چې ځينې ذاتي او ځينې هم اکتسابي دي، د اقتصادي پرمختگ لپاره اړين گڼل کېږي.

**۴- عدم عقلانيت:** عقلاني رفتار د شخصي گټو د پلټلو په معنا دی او په بازار کې د اقتصاد د مؤثرې کړنلارې له لومړنيو شرايطو څخه دی، خو نوموړی شرط تل تحقق نه مومي. مصارف د سياليو يا د تبليغاتو تر تأثير لاندې راتلل، عادت، معتاد کېدل، او همدارنگه د نورو په گټه مصرف نه کول، له هغو موادو څخه دي چې له عقلاني رفتار څخه بهر گڼل کېږي. په بازار کې د ونډې د اعظمي کولو انگېزه، د سياسي نفوذ لوړول، د ټولنيزو اړيکو پر اساس د گومارنو اعظمي کول، د کورنۍ پر اساس مديريت په څېر موارد، له عقلانيت څخه لرې دي.

**ج- د مؤثريت پر اساس د ټولنې د اړتياؤ په تأمين کې د بازار مېکانېزم:**

د بې کفايتۍ موارد د بازار د قېمت اېښودنې د سيستم لنډ والی له ځانه سره دوه اهميته لري:

**لومړی:** حکم کوي چې الزاماً د بازار قېمتونه د ټولنيزو نهائي مخارجو يا گټې منعکس کوونکي نه دي او همدارنگه د بازار گټه، خالصې ټولنيزې گټې نه منعکس کوي.

**دوهم:** د آزاد بازار عدم مؤثريت: موږ له يو اضافي ميکانېزم څخه په گټې اخيستنې اړ باسي، ترڅو د منابعو په مؤثر تخصيص کې د بازار ناتوانۍ د اصلاح لپاره اقدام وکړو او د هغه ناتواني په دې ډول دنده کې رفع کړو. (۲:۱۰۵)

د بازار پاتې راتگ د دولت د مداخلې لپاره لازم شرط دی، خو کافي يا يوازيني شرط نه دی. بايد پاملرنه وکړو، چې د بازار پاتې راتگ د اقتصاد په سيستم کې يوازينی شرط نه دی، بلکې په يو اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیستم کې داسې موارد شتون لري، چې د سیاسي او ټولنیز کالیو شتون اړین ګرځوي. همدارنګه د دولت شتون په هغو بازارونو کې د هغه عدم مؤثریت په د لیل هغه کې شتون لري، الزاماً د مؤثریت زیاتوالی له ځانه سره نه لري، بلکې د دولت سم سیاستونه دي، چې د مؤثر تخصیص سبب کېږي. په مجموعي ډول د شیانو او خدماتو په تولید او وېش کې د دولت مداخلې په په مجموع کې په دوه مقولو کې ځای لري: لومړی د دولت شتون په هغو شیانو او خدماتو پورې اړوند اقتصادي فعالیتونو کې دي، چې اصولاً خصوصي برخه د هغه تولید ته حاضره نه وي. هر څوک د نومړو کالیو او خدماتو تولید ته د ګټه اخیستونکو له ګټې سره یو ځای هم وي. دوهم داچې هغه د پام وړ کالي او خدمات دي، چې خصوصي برخه د هغه د تولید لپاره حاضره ده او غواړي چې تولید یې کړي او کولای شي چې د بازار له لارې یې وېش کړي، خو د تولید سطحه او ټاکل شوی قېمت به په بازار کې د عدم مؤثریت شرط به له ځانه سره ولري.

**د- د دولت کړنلاره:**

دولت په مختلفو لارو سره کولای شي چې د بازار نیمګړتیاوې راکمې کړي. د اطلاعاتو په وړاندې کولو سره د تولیدوونکو الزام، د معلوماتو رسولو آسانتیا او د ملي احصائیو وړاندې کول له تبعیض څخه پرته هغه لارې دي چې د ناکافي معلوماتو منفي اغېزې له منځه وړلی شي. د کار او استخدام د قوانینو آسانتیا، د ملکیت د حقوقو بیان او د هغه له پلي کولو څخه ملاتړ، د کار د فرصتونو د معلوماتو وړاندې کول، پانګونه، ابتکار او د زده کړې د کیفیت لوړول، د تولید د عواملو تحرک زیاتوي او د کار د عامل له ډېر ورته والي سره مرسته کوي. د دولت مناسب فرهنګي اقدامات کولای شي، چې د اطلاعاتو د داوطلبانه تبادلې او دوکې څخه د ځان ساتلو سبب کېږي او په همدې ډول د کار د فرهنګ پیاوړتیا او د تولید د عواملو د تحرک هڅې ته زمینه برابروي. (۱۸۸:۲)

**۲- په اقتصاد کې د دولت د مداخلې د حدودو د ټاکنې په اړه په نظر یاتو کې بدلون:**

دولت پراخ مفهوم او مختلف تعریفونه لري. په مختلفو دولتونو کې دولت او د هغه د مداخلې ساحه په مختلفو بڼو بیانېږي. په حقیقت کې د نوموړي مفهوم ټاکل او له هغه وروسته د اقتصاد د عمومي برخې اصلي پوښتنې (دولت باید څه وکړي او څرنګه یې وکړي؟) ته ځواب له ایډیالوژۍ او حاکمې سیاسي فلسفې ته له مراجعې پرته امکان نه لري، ځکه چې په لومړي قدم کې نوموړې پوښتنې په ځواب ویلو کې د دولت د اهدافو ټاکل دي، چې دغه کار ټولنې ته د منلو وړ ارزښتونو ته له مراجعې پرته امکان نه لري او که وغواړي او یا ونه غواړي ټولنې له نړۍ څخه متأثره کېږي. څرګنده ده چې ټولنه په عمومي ډول له نړۍ څخه د دولت د مداخلې او ساحې د اغېز څرنګوالی د فرد او دولت د اړیکو په اړوند دی او دغه تړاو په مختلفو سیاسي مکاتبو او ادیانو کې په مختلفو طریقو سره بیان شوی دی. (۴:۱۰)

د دولت د مداخلې د حدودو ټاکل چې له بنسټ څخه د ټولنې په سیاسي فلسفې او اعتقاداتو پورې تړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري، دا په دې معنا ده چې د دولت د مداخلې له منطقي حدودو څخه بحث نه شو کولای، ځکه لومړی په دې برخه کې مختلفې سیاسي فلسفې او اعتقادات مشترک ټکي لري، دوهم د هرې سیاسي فلسفې د منلو په فرض ممکن د دولت د مداخلې په اړه مختلف نظریات لري. په دواړو حالاتو کې به بازار او دولت یو د بل بشپړوونکي وي. (۷:۷۰)

د دولت او بازار ترمنځ سرحد ټاکل یو فني کار نه، بلکې د اعتقاد پر اساس دی. د دولت د فعالیت حدود لومړی د خپلو لومړنیو دندو او حقوقو پر اساس تکیه لري او وروسته د واقعیتونو وخت او ځای د غوښتنو او د بازار او دولت د واقعي توانایی کچې د پام وړ حدود ټاکي. په اقتصاد کې د دولت د مداخلې د حدودو په اړه نظریات د مدرن اقتصاد د مفکورو د رامنځ ته کېدلو له پیل څخه د بدلونونو تابع شوي دي، په دې تړاو کولای شو چې دغه اقتصادي پرابلم له درېیو تاریخي دورو سره بېل کړو. (۲۰:۸)

**الف**- هغه دوره چې له اتلسمې پېړۍ څخه په انګلستان کې په صنعتي بدلونونو سره پیل شوه او د کلاسیکو اقتصادپوهانو له نظریاتو او مفکورو سره یو ځای وه. په دې دوره کې د اقتصادي نظام بنسټیزه مشخصه په اقتصادي چارو کې د دولت د مداخلې محدودیت دی او د هغه دندو له هغه څه سره مطابقت درلود، چې آدم سمېت د دولت د بنسټیزو دندو په توګه وړاندې کړي وو. د کلاسیکانو لومړی نظریه ورکوونکی آدم سمېت په خپل مشهور کتاب (د ملتونو ثروت) کې درې دندې د دولت لپاره اړینې ګڼي.

**لومړی**: د پوځ او نظامي ځواک د رامنځ ته کولو له لارې د احتمالي د ښمنانو په مقابل کې د ټولنې له مال او ځان څخه دفاع.

**دوهم**: د نظم رامنځ ته کول او یو د بل په حقوقو باندې له تېري مخنیوس، د لازمو او اړینو قوانینو د برقرارولو له لارې د محاکمو رامنځ ته کول او د داخلي انتظامي ځواکونو تأسیس.

**درېیم**: د هغو کالیو او خدماتو برابرول چې د ټولنې لپاره ډېره او د اهمیت وړ ګټه لري. د هغه د رامنځ ته کولو مخارج د فردي او ډله ییزې پانګې اچونې له لارې د خصوصي برخې په وسیله د تأمین وړ نه دي. په ټولیز ډول کلاسیکي اقتصادپوهانو د دولت د مداخلې پلوي نه کوله او شعار یې درلود او ویل به یې «پرېږدئ چې کاورنه ترسره شي» (laissez Fair) د آدم سمېت په نظر که چېرې په اقتصاد کې تعادل شتون ونه لري، د اقتصادي نظام په داخل کې به نه لیدونکی لاس هر ډول عدم تعادل د تعادل لوري ته ورسوي.

**ب**- د۲۰ پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د اکتوبر د انقلاب پېښنه او په اروپا او امریکا کې لوی اقتصادي بحران ددې سبب شو چې دولت د اقتصاد په برخه نور هم زیات رول ولوبوي، د کلاسیکانو نظریه چې د دولت لپاره په یو غیر فعال او نظارت کوونکي رول باندې قایلېږي او د هغه دنده یوازې د عمومي نظم تنظیم او ساتنه او د لږ شمېر خدماتو سرته رسول ګڼل، شاته پاتې شوه او یوه داسې نوې نظریې د هغه ځای ونیو، چې د دولت د فعال رول غوښتنه یې کوله. د دولت او ټولیزې رفاه نظریه ( Welfare

(c) ketabton.com: The Digital Library



State) په دې ترتيب سره د آدم سمېت نه ليدونکي لاس هېڅکله هم د خپلې مهربانۍ لارې د ټولنې درد دوا نه کړ او د محرومانو د رفاه او آرامۍ په برخه کې يې کوم کار ترسره نه کړ او وېرونکي بې تعادلي يې په آرام بخښونکي او انساني تعادل سره پای ته ونه رسېدل، په نا چارۍ سره يې د محرومو طبقو فشار او د انسان دوستانو په معنوي ملاتړ سره يې هغه څه چې بايد نه ليدونکي لاس ترسره کړي وای ترسره نه کړل او ورو ورو د دولتونو دنده وګرځېده او ورپه غاړه شوه.

جان مينارد کېنز د خپل مشهور کتاب (د ربحې، پيسو او استخدام عمومي تيوري) په نامه کتاب کې چې په ۱۳۹٦ز خپور شوی د کلاسيکانو د نظريې بنسټ تر نيوکې لاندې ونيو. د کېنز نظريات کامل استخدام ته د رسېدو لپاره د دولت د پانګې اچونې او توليدي او اقتصادي چارو په پراخوالي باندې راڅرخېدل. (۴:۷)

په دې ترتيب په اقتصادي چارو کې د دولت مستقيمې مداخلې ته لار پرانيستل شوه. په داسې توګه چې په بانک پورې اړوندو چارو په حمل و نقل او توليد کې يې مستقيماً مداخله وکړه. د بېلګې په توګه د کاريګرو لپاره د مزد نرخ ټاکي، د مصرفي موادو په بازار کې يې په مختلفو بڼو خپله مداخله څرګنده کړه او معاش يې معلوم کړ. د عرضې او تقاضا ميکانېزم ته يې په خپلې لېوالتيا سره تغيير ورکړ. په ټوليز ډول د شرايطو په تغيير سره د اقتصادي او ټولنيزو اړيکو سره د دولت لپاره يو نوی جوړښت او مفهوم منځ ته راغی، چې په هغه کې پخوانی (دوديز) حاکميت او د نظم ساتل او د أمنيت تأمين او له هېواد څخه دفاع يوازې د دولت د دندو يوه کوچنۍ برخه ګڼل کېږي. که څه هم اقتصادي ليبرالېزم د حکومت پيل د دولتونو کار د موجوده حالت ساتل و. دغه دنده د ستونزو حل کول، که څه هم د موجوده حالت د ګډوډېدو په قېمت وای بدله شوه او پر هغه سربېره د نظم او استقلال ساتل او د عدالت تأمين، د ټولنې د رفاه پرمختګ او د سلامتيا تأمين هم د دولت د دندو په محدوده کې راغلل.

**ج**- د شلمې پېړۍ په وروستۍ ربعه کې د دربيم ځل لپاره د لومړۍ دورې مفکورو او نظريو ته پام ورواوښت. د نوي ليبرالېزم په نوم کړنلارې و کولای شول چې دولت پلوه سوسياليستي او کېنزي مفکورې له صحنې څخه بهر کړي. د سوسياليستي نظامونو د ناتوانۍ دوره د افرادو مصرفي غوښتنو او تقاضاوو ته په ځواب ويلو او پر هغه سربېره د رفاهي دولتونو د انفلاسيوني رکود د ستونزې په حل کې په پرمختللو پانګوالو هېوادونو کې د ليبرالېزم د کړنلارې د ژوندي کولو لپاره په نويو فکري چوکاټونو کې زمينه برابره کړه.

په ټوليز ډول د ۱۹۹۰ز لسيزه د خصوصي کولو او بازار اقتصاد ته د ميلان لسيزه ګڼلی شو. په دې لسيزه کې زياتره مخ پر ودې هېوادونو د وخت د غوښتنو او اړتيا پر اساس مطلوبې اقتصادي ودې او پراختيا ته د لاسرسي لپاره د بازار له قوانينو څخه د ګټې اخيستنې هڅه وکړه او په خپلو لويو اقتصادي ستونزو باندې د لاسبري کېدلو لپاره په ا قتصادي فعاليتونو کې د دولت د مداخلې د کموالي په فکر کې شول او د هغه په تعقيب او د دولت تر کنټرول لاندې توليدي او سوداګريز مؤسسات د خصوصي کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هڅه کې شول. څرګنده شوه چې په لويه کچه اقتصادي تصاميم او د دولت تر د شرکت تر پوښښ لاندې تصاميم د اقتصادپوهانو په واسطه نه نيول کېږي، بلکې تکنو کراتان دي چې تصميم نيسي او وروسته د خپلو تصاميمو لپاره اقتصادي دليل وړاندې کوي. له دې ټولو سره بيا هم د مخ پر ودې هېوادونو اقتصاد په سر د دولت تيوري محسوسېږي.

په اقتصاد کې د دولت د فعاليت پراخوالی، په مختلفو وختونو کې په ټولنيزو فعاليتونو کې د اجتماعي عدالت په تحقق او د منابعو په تخصيص کې د خصوصي برخې د ناتوانۍ په دليل دی او په داسې حال کې دی چې زياتره هېوادونه د توليدي منابعو د مديريت او مناسبې ټکنالوژۍ د کموالي، د ټانګې اچونې د محصول د نرخ د ټيټوالي، د کورنيو انحصارات او د سياسي او اقتصادي قطبونو ايجاد، د اقتصاد له راتلونکې نه د بهرنۍ مداخلې او تعرضاتو څخه نه يوازې له کوم مطلوب څخه برخمن دی، ياد عوامل په اقتصاد کې د دولت مداخله توجيه کوي.

په ټوليز ډول تجربې ثابته کړې ده چې د اقتصاد دوه جوړښتي موډلونه چې  اقتصاد د بازار له ميکانېزم سره او دستوري اقتصاد پکې شامل دي، هېڅ يوه هم په يوازېتوب سره ونه کړای شول، چې اقتصادي ستونزو ته مناسب او سم ځواب ورکړي او په جرئت سره ويلی شو، چې حتی په پانګوال نظام لرونکو هېوادونو کې هم د بازار د ميکانېزم پر اساس اقتصاد شتون نه لري، بلکې اقتصادونه مختلط او دواړه خصوصي سيستمونه او عمومي کنترول پکې شامل دي.

**۳- په بېلابېلو موډلونو کې د عامه سکتور وده:**

د دولت د مالي اقتصاد تاريخي وده د اړتيا وړ حد څخه وړاندې د بازار اقتصاد د پاتې راتلو د جبران لپاره رامنځ ته شوې ده، زياتو اعتقادي، سياسي او ټولنيزو عواملو لاسونه سره ورکړي، چې په نتيجه کې يې نوموړې وده رامنځ ته شوې ده. د نوموړې پديدې د علت لپاره مختلف نظريات وړاندې شوي دي. يو داسې پراخ موډل چې وکولای شي له يوه اړخه د مجموعي اقتصاد په پرتله د دولت د مخارجو اوږدمهاله وده څرګنده کړي او له بلې خوا د انتقالي ورکړو زياتېدونکی سهم څرګند کړي، تراوسه پورې نه دی وړاندې شوی، بلکې لوی موډلونه د دولت د مخارجو د اوږدمهاله ودې او کوچني موډلونه د مخارجو د اجزاوو د تغييراتو د بيان لپاره  پکار وړل کېږي. له معمول سره سم په لاندې توګه د عامه اقتصاد د دودې د څرګندولو لپاره له مختلفو موډلونو څخه استفاده کېږي. (۳:۳۷۲)

**الف- د اقتصادي پراختيا موډل:** په دې موډل کې چې په روستو او ماسګريف پورې منسوب دی، د عمومي برخې مخارج د اقتصادي پراختيا د اړتيا په توګه ګڼل کېږي. په لومړيو پړاوونو کې بايد ډېرې مخارج د زېربنائي چارو لپاره ځانګړي شي لکه د حمل و نقل، ترانسپورت او مخابراتي شبکو اړيکې، سړکونه، بندونه عمومي ښاري خدمات د قانوني بنسټونو ځای پرځای کېدل او هغه ته ورته چې تقريباً د عمومي اجناسو ماهيت ولري، چې خصوصي سکتور د هغه له سرته رسولو او بشپړولو سره لېوالتيا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري او یا ورته حاضر نه دي، پردې اساس دولت باید په دغو برخو کې په زیاتېدونکې ډول سره مخارج ترسره کړي. په وروستیو پړاوونو کې ددې ډول پانګه اچونو اړتیا کمېږي خو د انساني پانګې اچونې مخارج له زده کړې، عامه روغتیا او داسې نور مخارج ددې ځای ډکوي. پر هغه سربېره د دولت د خدماتو له امله د عامه سکتور وده د ثروت د قطبونو د راپیدا کېدو سبب ګرځي، په دې معنا چې د دولت د دا ډول کړنو په نتیجه کې شتمنۍ راپیدا کېږي او همداراز د نا مطلوبه بهرنیو اغېزو سبب ګرځي، چې دا ډول اغېزو مهارول هک په خپله د دولت لپاره تازه مخارج منځ ته راوړي.

**ب- د ارګانیک دولت موډل:** د نوموړي موډل وړاندې کوونکی آلماني اقتصادپوه واګنر دی، چې په نوموړي موډل کې دولت د یو ژوندي ارګان په توګه ګڼل کېږي، چې د اتباعو په استازیتوب تصمیم نیسي او د وخت په تېرېدو سره وده کوي. همداراز د دولت د ودې علت د ټولنې له غوښتنې سره سم د خدماتو او توکو په زیاتوالي سره نه ترسره کېږي او د خلکو عواید له نوموړو غوښتنو څخه بېرته ستنوي، په دې معنا چې د دولتي توکو او خدماتو د تقاضا د زیاتوالي له سرعت څخه زیات دی. په عین حال کې د بازار پاتې راتلل په ځانګړي ډول د بهرنیو اغېزو په نتیجه کې، کله چې یو طبیعي آفت راځي، نو په دې حالت کې ټولنه او خصوصي سکتور له دې ډول کړنو څخه عاجز وي او یا ځینې خلک نه غواړي چې دا ډول کړنې ترسره کړي او یا همدارنګه د ممتازو توکو په تولید کې هم د دولت مداخله ضروري کوي ترڅو د نوموړو توکو او خدماتو په مستقیم ډول عرضې سره نوموړي تشه ډکه کړي یا په بله وینا د واګنر قانون ددې څرګندوی دی، چې د سړي سر عاید په زیاتوالي سره د دولت په اندازه کې هم ورزیاتېږي.

**ج- د سیاسي محدودیت موډل:** په دې موډل کې د پیکاک او ویزامین په لاس ارایه شوی د مخارجو د کموالي په پرتله د مخارجو زیاتوالي ته ډېر میل لري. ددې دلیل دا کېداي شي، چې دولتونه د قدرت زیاتوالي ته ډېر مایل دي. مګر په هغه هېوادونو کې  چې مالیات د ارایه ورکوونکو له لوري تأمین کېږي، نو دغه میل د مالیه ورکوونکو له خوا د محدودیت سره مخامخ کېږي. د تحمل یا منلو وړ مالیاتي نرخ کې زیاتوالي، د شخصي عوایدو او شرکتونو د عوایدو په زیاتوالي سره په یو وخت کې د دولت مالیاتي عواید زیاتېږي. نو هر کله چې یو هېواد د یوه بحران یا ستونزې سره مخامخ کېږي، لکه جنګ یا قحطي، نو د ټولنې تحمل یا حوصله د مالیاتو د زیاتوالي په مقابل کې زیاتېږي، چې په نتیجه کې د بحران څخه مخکې دوران په نسبت مالیات په لوړو نرخونو سره اخیستل کېږي او د دولت مخارج په لوړه کچې خپلې ودې ته دوام ورکوي.

**د- د هیولای موډل:** په دې موډل کې داسې فرض کېږي، چې د دولتي مخارجو زیاتوالي دومره سیاسي محدودیت نه لري، همدارنګه داسې فرض کېږي، چې دولت ددې پرځای چې د عمومي ګټو د ملاتړ په فکر کې شي، په خپله وده پسې وي ترڅو د سیاستوالو او د هغه د کار کوونکو ګټې ترلاسه شي، چې په نتیجه کې عمومي برخه د خلکو په نسبت د ځان لپاره زیات کار کوي. لکه د یو بد هیولا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څېر په مراتبو سره لوېږي.

**هـ- سياسي نفتي موډل:** مخکې له دې څخه چې نومورو موډلونو کې داسې فرض شوي وو، چې د دولت د مخارجو د تمويل اصلي منبع يوازې ماليات دي، اما په نفت لرونکو هېوادونو کې لکه ايران، چې د هغه هېواد اقتصاد د هغې شتمنۍ سره چې منبع يې د نفتو په توليد او صادرولو کې نغښتي ده، د دولت د ودې بنه توپير لر ونکي تر سترګو کېږي.د نفت لرونکو او نفت نه لرونکو هېوادونو لوي توپير دا دي، چې دولت کولای شي، چې د نفتو په عوايدو باندې په تکيه او د ملي توليد سطحې ته په نه پام سره د مصرف توان او قدرت ټولنې ته انتقال کړي.

**و- سياسي تسليحاتي موډل:** د دولتونو په مخارجو کې د دفاعي مخارجو د سهم مداخله شايد وکولای شي، چې په وسلو باندې د ولاړ موډل په وړاندې کولو کې مرسته وکړي. د دولتونو د ليد وړ وده په شلمه پېړۍ کې پيل کېږي. په نړۍ کې د سياسي بلاکونو او دښمنيو را منځ ته کېدل او ختيځ او لويديځ وسله واله سيالي چې د ناټو او ورسا په سازمانونو کې په بشپړه توګه و ځلېدل، د نوموړي پېړۍ له ځرګندو ځانګړتياوو څخه دي. د اقتصادي ګټو د لاسته راوړلو او نفوذ د ساحې د پراخوالي لپاره سيالي د بحرانونو د مرکز د را پيدا کېدو سبب شوه، چې د اوږدو کلونو په تېرېدو سره زياتې بېلګې شتون لري، چې نظامي مخارج د دولتونو د مخارجو مهمه برخه تشکيلوي. د دولت د مالي اقتصاد وده په شلمه پېړۍ کې په ټولو هېوادونو کې د ليد وړ ده. دا منلی شو چې په اقتصادي ودې سره دولت هم زيات رول پيدا کوي، مګر په ملي تو ليد کې د هغه سهم زياتوالي د بحث وړ موضوع ده. زيات شمېر کمي شاخصونه تر کار لاندې نيول کېږي ترڅو نوموړي سهم څرګند شي. نسبت مجموعي عايد ته د دولت بودجه يو له هغه څخه دي. د دولت مالي اقتصاد په قانون ګذاري او سياست ګذاري سره د منابعو په ځانګړي کولو او عايد وېش کې جدي رول لوبوي، خو د مخارجو د نسبي ټيټوالي په دليل دا ډول اقدامات نه شي کولای، چې د هغه کمي شاخص ارايه کړي. په مجموعي استخدام کې د عامه اقتصاد د استخدام نسبت او د مالياتو نسبت GDP ته د نورو کمي شاخصونو له جملې څخه دي. نوموړي شاخصونه هم د عامه اقتصاد د رول په څرګندولو کې د ستونزو سره مخامخ دي. د دولت له اندازې څخه د هغه دوامداره ودخ مهم ده. ددغې پديدې د توضېح لپاره داسې يو واحد موډل، چې مجموعي پراخوالي او د دولت د مخارجو د ترکيب تغيير څرګند کړي، تراوسه پورې نه دی وړاندې شوی. د اقتصادي پرمختيا، ارګانيک دولت، سياسي محدوديت او د هيولای موډلونه ددې موخې لپاره دود دی. سياسي نفتي موډل د نفتو صادرونکو هېوادونو ته د پورته کېدونکې ودې لپاره د کارونې وړ دی. تسليحاتي موډل هم امکان لري، چې د قدرتمنو هېوادنو او همدارز د هغه تر واک لاندې هېوادونو لپاره تر يوې اندازې پورې د منلو وړ څرګند شي. يو بل علت هم کولای شي، چې د عامه اقتصاد د ودې اړخونه څرګند کړي لکه نفوس، د تکنالوژۍ پرمختګ، ښاري کېدل او ايډيالوژيکي څېړنې. په ټوله کې کولای شو ووايو، چې له نوموړو مختلفو نظرياتو څخه هريو د واقعيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډولونو بيانوونکی دی. که هرڅو ځينې هغوی په تاريخي اړخونو باندې ټينګار کوي او يوه ډله د هغوی د سياستوالو کار کوونکو او ماليه ورکوونکو سياستونو ته ګوته نيسي يا نظريات چې په داخلي او نړۍ والو اړخونو باندې تکيه لري. د وړاندې شويو نظرياتو تجربوي څېړنې هم د عامه اقتصاد د ودې لپاره د ټاکلی حد په ټاکلو باندې پای ته نه رسېږي. ۲۰ پېړۍ په دغو وروستيو لسيزو کې د دولت په کوچني کولو باندې له ټينګار سره سره دغه چاره په څرګند ډول منل شوې ده، چې په مخ پر ودې هېوادونو کې اوس هم د دولت لپاره بنسټيز رول باقي پاته دی. دغه رول مخکې له دې چې يوه اندازه نظر ولري، چې د مؤثريت لوري ته لېوالتيا لري.

مؤثريت د هغه د نفوس يا ټولنې د اقتصادي او ټولنيزو اړتياوو ته د ځواب ويلو لپاره، يعنې په دغو هېوادونو کې د دولتونو د پراختيا مديريت امکان لري، چې په اقتصاد باندې تمرکز راکم کړي او همدارنګه د لاندې چارو د اجراء او تنظيم مسئول دي. د عمومي مؤثريت سياستونه په ځانګړې توګه د اقتصادي تېربېدنې په برخه کې د فقر کموالی، د کرهنې د لارې ښه والی، د ټولنيزو خدماتو عرضه او د ژوند چاپېريال ملاتړ تر اوسه پورې د دولت د رول او اندازې په اړوند زياتې شخړې شتون لري او ډېر پېچلي نه موندل شوي مسائل باقي پاته دي.

**۴- د دولتونو د لويوالي شاخصونه:**

په نيو کلاسيک اقتصاد کې عامه اقتصاد يوازې د بازار د پاتې راتلو د جبران لپاره منځ ته راغلی دی، يعنې اصل بازار او خصوصي برخه ده او په هر ځای کې چې اړتيا پېښه شي، دولتي اقتصاد مرستې ته حاضرېږي. د توافق وړ او له مشخصو اهدافو سره په مطابقت کې عامه يا دولتي اقتصاد غواړي، روښانه کړي چې دولت په کوم ځای کې مداخله وکړي او په کوم ځای کې ځان ګوښه کړي ترڅو اقتصادي مؤثريت د ټولنې لپاره زيات شي، د شتمنۍ وېش د ټولنې مطلوب حالت ته نږدې شي او نور ټولنيز اهداف تحقق ومومي. عامه اقتصاد يا د دولت مالي اقتصاد د بازار اقتصاد يا د وده موندنې خصوصي برخې د کمبود د جبران لپاره د زمينه سازۍ د آسانتيا لپاره د زمينې برابرول او د خصوصي او عمومي برخې ترمنځ د متقابلو اړيکو د بيان لپاره هڅه ده. (۱۲۵:۹)

نو پردې بناء کولای شو تمه ولرو، چې څه هم په هغو هېوادونو کې چې د پياوړي او سازمان شوي خصوصي سکتور لرونکي دي او د بازار چارې په ټول توان سره حمايت کوي، هېوادونه څومره لوی نه شي خو حقيقت برعکس دی. څرنګه چې په مشخصو شاخصونو سره کولای شو چې د هېوادنو د لويوالي يوه ببلګه وګنو.


**الف- د ناخالص داخلي توليد د حجم په پرتله د دولت د مخارجو تناسب:** د ناخالص توليد د حجم په تناسب د دولت د مخارجو د سهم د زياتوالي په اړوند موجود ارقام او اعداد يو له هغو فکتورونو څخه دی، چې د دولتونو په لويوالي باندې شاهدي ورکوي. که چېرې د دولت رول ناخالص داخلي توليد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دولت د مخارجو د نسبت له لارې اندازه کړو، دغه نسبت په ۱۹۹۰ز کال کې په ګڼ شمېر صنعتي هېوادونو کې لاندې بڼه وده.

(۱) شکل: په ۱۹۹۰ ز کال کې د GDP په پرتله د صنعتي هېوادونو دولتي مصارف (۳:۳٦۱)




پورتنی شکل څرګندوي چې دولت د بازار په اقتصاد کې د پراخ سهم او رول لرونکی و. څرنګه چې لږ سهم په جاپان پورې تعلق لري، چې د ۳۲٪ GDP په حدودو کې پکې شاملېږي او تر ټولو لوړ سهم په سویډن پورې تړاو لري، چې د GDP ۵۹،۱٪ رانغاړي. څرنګه چې په صنعتي هېوادونو کې په تاریخي بهیر کې لیدل کېږي، چې نوموړی فکتور مخ په زیاتېدو دی مثلاً په ۱۹۴۰ز په امریکا کې له ۲۰٪ څخه په صعودي ډول سره په ۱۹۸۰ز کې ۳۵٪ ته زیات شوی دی.  ظاهراً دولتونه نه یوازې د اقتصادي مؤثریت د نشتوالي د جبران لپاره، بلکې د نورو سیاسي او ټولنیزو دلایلو په امله هم وده کوي. (۳:۳٦۰)

**ب- د ملي عاید په پرتله د دولت د بودجې د نسبت زیاتوالی:** نوموړی په ملي اقتصاد کې د دولت درول د ټاکلو لپاره ښه معیار دی او د تاریخ په اوږدو کې یې خپل صعودي لوری وهلی دی.

**ج- په مجموعي استخدام کې د دولتي استخدام د سهم زیاتوالی:** دا هم د هېوادونو په مجموعي استخدام کې د دولتي وظایفو د سهم تغییراتو ته په کتو د دولت د رول د اندازه کولو یو بله طریقه ده. انساني ځواک د هغو تولیداتو له منابعو څخه دی، چې په خپله د نورو منابعو په کارولو کې اصلي رول لري. پردې اساس له دغې منبع څخه د دولت سهم زیاتوالی موندلی شي، چې په مجموعي اقتصاد کې د دولت د رول څرګندوی واوسي.

**د- په ملي عاید کې د مالیاتو د سهم زیاتوالی:** په هغو هېوادونو کې چې مالیات د دولت د مخارجو د تأمین منبع ده، په ملي عاید کې د مالیاتو نسبت کولای شو چې د دولت د رول د اندازه کولو لپاره په کار یوسو.

**۵- د دولتونو اقتصادي رول او موخې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاصر اقتصادي شرايط او نوې اقتصادي نظريې، د عمومي برخې د فعاليتونو پراخوالى ايجابوي او د دولتونو په هغه کوچني رول باندې بسنه نه کوي، کوم چې کلاسيک اقتصادپوهان د هغه لپاره وربانديې قايل وو او د ټولنې د يو اقتصادي ارګان په توګه عمل کوي. په اقتصادي جرياناتو کې د دولت رول د پام وړ سرعت سره مخ په زياتېدو دى. د غه تناسب د سازمانونو او تصديو په ايجاد او داسې فعاليتونو باندې پای ته رسېږي، چې په ملي عايد کې د دولت د سهم د زياتوالي سبب کېږي. دولت له پخوانيو دندو څخه جلا چې د کلاسيکو اقتصادپوهانو د منلو وړ هم دي، بايد ټولنيزې رفاه ته د رسېدو پورې اړوند مسايلو ته پام وکړي يا يې ترسره کړي لکه د منابعو ځانګړي کول، د عوايدو عادلانه وېش، کامل استخدام، د قېمتونو د سطحې استقرار، اقتصادي وده، نړيواله سوداګري او داسې نور. نو بناء اوس د کميت او کيفيت له نظره د دولت اقتصادي فعاليتونه مخ په پراخېدو دي او د ټولنې په اقتصادي جرياناتو کې د دولت مداخله اړينه ده. کولای شو چې د دولت عمده اقتصادي موخې په درېيو ساحو کې مشخصې کړو. (۲۲:۲)

**الف- د منابعو ځانګړي کول:** دولت بايد مشخص کړي چې د منابعو په تخصيص کې کوم تغييرات او اصلاحات اړين دي او د منابعو په پرځاي کولو کې بايد څوک ضرر ومني؟ او ددغو تغييراتو د سرته رسولو لپاره بايد داسې سياستونه تعين کړي، چې د عوايدو په راټولولو او د هغه د مخارجو لپاره اړين دي.

**ب- د عوايدو وېش:** دې ته په پام سره چې بايد د عوايدو په مناسب يا عادلانه وېش کې د تشخيص لپاره له تعريف سره نږدې وي. دولت اړ دى چې ټولنيز عدالت ته د رسېدو او حداکثر رفاه د لاسته راوړلو په خاطر د عايد د وېش وسايل برابر کړي.

**ج- اقتصادي ثبات:** د دولت له مجموعي اهدافو څخه يو بل هدف د ټولو لپاره کار پيدا کول او د قېمتونو د مناسبې سطحې ساتل دي، چې نوموړي عوامل په خپله د اقتصادي پراختيا او ودې لپاره وسايل ګڼل کېږي. په ټولنه کې د دولت اقتصادي رول او د ټولنې او بازار په نهائي برياليتوب کې ددغه رول د يوې برخې اغېزه د عامه اقتصاد اهميت په ځانګړي ډول په لاندې مواردو کې څرګندوي:

١. د اقتصادي فعاليتونو قواعد مشخصوي.

٢. د مالکيت د حقوقو د ټاکلو او له هغه څخه د ملاتړ دنده په غاړه لري، هغه څه چې د اقتصادي ډاډ لپاره اړين دي.

٣. سياست ګذاري په لاس کې لري، هغه چاره چې د تأمين د ثبات وسيله ده.

۴. د عدالت په پام کې نيولو سره له امکاناتو سره سم ماليات د دولت په لاس کې دي.

٥. په خپله په مستقيم ډول ځينې توکي عرضه کوي.

٦. د هغه رهبري کوونکي رول ته په پام سره، د خلکو په وړاندې ځانګړي مکلفيتونه په غاړه لري.

پورتني ټکي کفايت کوي ترڅو د دولت د اقتصاد په اړوند بحث ته اړتيا روښانه کړي. معمولاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتونه د مختلفو موخو د تأمین لپاره ه کړي. معمولاً دولتونه د مختلفو موخو د تأمین لپاره د بازار په څنګ کې ځاي لري، چې دا ډول موخې په عمده ډول په لاندې دي له:

۱. د اقتصادي مؤثریت لوړول.

۲. د عدالت تأمین.

۳. د انساني ارزښتونو بهبود.

د دولتونو د مداخلې ډولونه د پورتنیو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره په لاندې کړنو کې د تطبیق وړ دي:

۱. د قانون ګذارۍ رول.

۲. د ثبات ورکولو رول.

۳. د ځانګړي کولو رول.

۴. د عدالت غوښتنې رول.

۵. د رهبري کولو رول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډیز:**

د عامه اقتصاد له پراخوالي څخه دمخه د مارکيټ د ضعف لاملونه لکه انحصار، جانبي تأثيرات، عامه کالي، د اقتصادي ثبات نه شتون، عدالت او انساني ارزښتونه تر بحث لاندې نيول شوي او د بازار نواقص لکه د اطلاعاتو ضعف د توليدي عواملو د تحرک نه موجوديت او د هغوی په عکس العمل کې څنډه، د کاليو مختلف والی توضيح شوي دي او همدارنگه د مارکيټ عدم کفايت ترڅو په ممثره توگه د تولنې اړتياوې تأمين شي او دولت هغه فعاليتونه چې د بازار د نيمگړتياوو د لرې کولو لپاره ترسره کېږي بررسي کوي.

په اقتصادي فعاليتونو کې د دولت د مداخلې په اړه نظريات په تاريخي لحاظ په درې ډوله ليدل کېږي، چې لومړۍ دوره د کلاسيکانو ده او د دولت مداخله په اقتصادي کارونو کې ډېره محدوده ده، په دوهمه دوره کې بيا د دولت مداخله يو څه زياته ښکاري چې جان مينارد کېنز په دغو نظرياتو کې زياته برخه لري او درېيمه دوره بيا لومړۍ دورې ته بېرته ورگرځېدلې چې دوی نوی ليبرالېزم رامنځ ته کړی.

د عامه اقتصاد د پراخوالي د پېژندنې لپاره ځينې ماډلونه لکه د اقتصادي پرمختگ ماډل، ارگانيک ماډل، د سياسي محدوديت ماډل، د هيولای ماډل، نفتي سياسي ماډل او تسليحاتي ماډل تر لاس لاندې نيول شوي دي او د عامه اقتصاد د اقتصادي ودې دلايل ارزيابي شوي.

د دولتونو د ورځ تر بلې لويوالي شاخصونه نسبت د دولتونو د مصارفو زياتوالی د هغوی د داخلي توليد ته، د ملي عايد په نسبت د بودجې زياتوالی، د دولتي استخدام د کچې زياتوالی په عمومي استخدام او همدارنگه په ملي عايد کې د مالياتو د اندازې زياتوالی توضيح کوي.

د دولتونو عمده اقتصادي اهداف چې د منابعو تخصيص، د عايد وېش او اقتصادي ثبات دي د دولت د مداخلې له لارې چې په قانون گذارۍ، ثبات ترلاسه کولو، تخصص، عدالت غوښتنې او د رهبري له لارې کولای شي چې عملي او تطبيقي جنبه ترلاسه کړي او اقتصادي اهدافو ته د دولت د رسېدنې لپاره زمينه برابره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. د بازار د ضعف موارد کوم دي؟
۲. انحصار ولې د بازار د شرایطو په موجود یت کې هم موجود وي؟
۳. آزاد بازار ولې د عامه کالیو په وړاندې کولو کې پاتې راځي؟
۴. ولې آزاد بازار په اقتصادي ثبات او عدالت ترلاسه کولو کې پاتې راغلی؟
۵. انساني ارزښتونه ولې په آزاد بازار کې نه تأمین کېږي؟
٦. د بازار عمده نواقص و نوموئ؟
۷. آزاد بازار ولې د اطلاعاتو په لاسته راوړنه کې پاتې راغلی؟
۸. د کالیو مختلف والی ولې د آزاد بازار د نواقصو څخه شمېرل کېږي؟
۹. د بازار د نواقصو د لرې کولو لپاره دولت څه کولای شي؟
۱۰. د دولت د مداخلې حدود څه ډول کولای شو چې په اساسي ډول و ټاکو؟
۱۱ . د اتلسمې پېړۍ اقتصادي نظریات په عمده ډول د کوم اقتصادي مکتب ملاتړ کوي او څه ډول توضیح کېږي؟
۱۲. د دولت د مداخلې د نظریاتو بدلون په اقتصاد کې په درې یادو دورو کې توضیح کړئ؟
۱۳. د عامه اقتصاد د ودې په باره کې له کومو ماډلونو څخه استفاده کېږي؟
۱۴. د اقتصادي پرمختګ ماډل کوم مفهوم ارایه کوي؟
۱۵. د دولتو ورځ تر بلې پراخوالی کوم دی نومونه یې واخلئ؟
۱٦. د دولتونو عمده اقتصادي اهداف کوم دي؟
۱۷. په اقتصادي فعالیتونو کې دولت خپلو اقتصادي فعالیتونو ته د رسېدو په خاطر کوم رول ترسره کوي؟

**مأخذونه:**


۱. پور مقیم ، سید جواد. (۱۳۸٦) اقتصاد بخش عمومی، نشر نی، تهران.
۲. پژویان، جمشید. (۱۳۸۳). اقتصاد بخش عمومی، نشر جنگل، تهران.
۳. توکلی، احمد. (۱۳۸۰). بازار، دولت. چاپ و نشر لیلی، تهران.
۴. توکلی، احمد. (۱۳۸۵). مالیه عمومی، سازمان چاپ و نشر وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی، تهران .
۵. شبان، محمد انور. (۱۳۷۵). تیوریها، سیاست ها و عوامل انکشاف اقتصادی، نیاز آرت پرِس، پشاور.
٦. عارف، عبدالقیوم. (۱۳۸۷). سیر تحول وظایف دولت ها و توسعه اقتصاد عامه، مجله علوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتماعی، شماره سوم، کابل.

۷. فولکرس، کی. (۱۳۸۵). اقتصاد عامه (ترجمه شده به دری) مؤسسه همکاری اکادمیک آلمان، کابل.

۸. فرج وند، اسفندیار. ( ۱۳۸۴) . بودجه ، انتشارات فروزش، تهران.

9 .Frank.R. (1997) > "Micro Economics and Behavior'' , ed , USA>

10 . Samuelson P.A . and Nard Hanus . W. D. (1998) . '' Economics'' . 6th < ed, USA .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریيم څپرکی

# د دولت کړنې او عامه مخارج

په اقتصادي سیستم کې د دولت د عدم مداخلې طرفدار اقتصادپوهان هم د دولت په وسیله د ځینو کالیو او خدماتو په تولید باندې معتقد وو. د دولت دغه اقتصادي فعالیتونه د هغو کالیو او خدماتو په عرضې پورې مربوطوي، چې د عامو خلکو لپاره ګټور وي، خو خصوصي سکتور معمولاً د هغه د تولید لپاره داوطلب نه وي.

د مصرف او استفادې له نقطه نظره کولای شو، کالي او خدمات په دوه عمده ګروپونو ووېشو. (۲:۱۴۵) هغه کالي او خدمات چې د بازار له لارې عرضه کېږي، د هغې په مقابل کې چې د خصوصي بازار سیستم د هغه په وېش کې ناتوانه دی، بازار یوازې هغه وخت عمل کولای شي چې د کالیو او خدماتو د ګټو د تفکیک امکان وجود ولري او ددغو ګټو د تخصیص قابلیت موجود وي، یعنې کله چې احمد د مصرف لپاره کالي پېري او د هغه په مقابل کې پیسې تادیه کوي ،حسن چې قېمت يې نه اداء کوي، د هغه کالي له ګټې څخه محرومېږي. مبادله د مالکیت د حق له تمیز پرته نه شي ترسره کېدای او د مالکیت د حق تمیز ددې غوښتنه کوي چې کالي د بېلېدو او تفکیک وړ دي، له هغه څخه استفاده هم خصوصاً فرد یا افرادو ته د تخصیص وړ وي.

په دې څپرکي کې لومړی د اقتصادي تأثیراتو له نظره د عامه مخارجو له معرفت څخه نیولې، عامه کالي توضیح شوي او وروسته د عامه کالیو د انتخاب امکاناتو بررسي، عامه تصدیګانې هم د دولت د فعالیتونو د یوې برخې په توګه په پام کې نیول شوي او د دولت په واسطه د اجتماعي سیاستونو تأمین د یو بل بحث موضوع تشکیلوي.

سبسایډې ګانې، بلاعوضه دولتي مرستې بل عنوان دی چې د عامه مخارجو په اړخ کې خاص ځای او مقام لري، بالآخره په مختلفو عرصو کې دولتي مرستې چې د عامه مخارجو د مصرف له پلوه د استقامتونو ټاکوونکې وي په مختصر ډول بحث پرې کېږي او په پای کې د عمده موضوعاتو لنډیز، محصلانو ته تمریني سوالونه او مأخذونه هم ورکړل شوي دي.

**۱- عامه مخارج د هغه د اقتصادي تأثیراتو له نظره:**

عامه مخارج د دولت د انتخابي سیاستونو منعکس کوونکي دي. کله چې دولت تصمیم ونیسي چې څه ډول کالي او خدمات ارایه او له څه ډول کمیت او کیفیت سره يې تولید کړي، عامه مخارج به ددې ډول سیاستونو د اجراء کولو مخارج وي. دغه مفهوم کولای شو د موضوع د وسعت په پام کې نیولو سره د مخارجو له اړخه په دوه برخو ووېشو:

**الف:** د مخارجو تأمین، د عامه برخې د بودجې له لارې د کالیو او خدماتو ارایه، چې د عامه مخارجو اساسي مفهوم دی. دغه ډول مصارف هغه مصارف دي چې د عامه برخې په صورت حسابونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ظاهرېږي.

**ب:** د دولت د قوانینو او مقرراتو په وضع کولو سره د خصوصي سکتور مخارج تر تأثیر لاندې راولي، د مثال په توگه په هوټلونو کې د حداقل حفاظتي وسایلو د ایجادولو په اړه د قانون تصویب، د هوټل مالک د مصارفو په قبلولو مجبوروي.

کله چې د عمومي برخې تصامیم ددې ډول مخارجو باعث کېږي، ځینې کارپوهان دغه ډول مخارج د عمومي مخارجو جزء گڼي.

کله چې د دولت د عملیاتو په مصارفو بحث کوي، د عامه مخارجو یو پراخ مفهوم ته پام کوي. ددې ډول ایډیالوژیکي دلایلو له مخې د دولت فعالیتونه په تخصیص او وېش کې له نه کارونې سره مقابله د بازار له ناتوانۍ سره تړاو لري. پردې اساس دولت عامه خالص او ناخالص کالي ارایه کوي او انتقالي ورکړې به ولري.

هغه څه چې دلته د پام وړ دي، د عامه سکتور وده ده. د عامه اقتصاد د ودې پوښتنې ته د ځواب لپاره ډول ډول روشونه او طریقې وجود لري مثلاً کولای شو د عمومي مخارجو د مطلقې اندازې ودې ته پام وکړو، د مثال په توگه د افغانستان د اسلامي دولت د ملي بودجې عمومي مخارج په ۱۳۸٦ لمریز کال کې ۲۵۳ ملیارده افغانۍ او په ۱۳۸۷ کال کې دغه رقم ۳۷۸ ملیارده افغانیو ته رسېدلی و (۳۰:۱۰) او که چېرې دغه د عمومي مخارجو زیاتوالی د نورو اقتصادي متحولینو اندازو لکه د قېمتونو د عمومي سطحې زیاتوالي، د ناخالص ملي تولید ودې او د نفوس تغییراتو ته په پام کې ونیسو د عامه مخارجو د نسبي زیاتوالي بررسي افاده کوي. د عامه مخارجو خاص اقتصادي تأثیر د مخارجو په ماهیت پورې تړاو لري او له دې وجې د دولت د مخارجو د ماهیت له لحاظه مخارج په دوه گروپونو وېشل کېږي. (۲: ۳۰۲)

**الف- تمامېدونکي عمومي مخارج:**

په دغو مخارجو کې د کالیو او خدماتو جاري پېرودنې (د کار قوه او مصرفي کالي) او پانگه ییز کالي او خدمات (لکه د واټونو، مدرسو، روغتونونو او داسې نورو چارو کې پانگونه) کې شاملېږي یا په بله وینا دغه ډول مخارج په دې ډول دي:

د عمومي سکتور په واسطه ورکړل شوې پېرودنې چې په قېمت کې د ترلاسه شوي مقدار له ضرب څخه لاس ته راځي یا په بله وینا هغه مخارج دي چې تولیدي منابعو لکه ځمکې، د کار قوې او پانگې ته ضرورت لري چې د عمومي سکتور د استفادې لپاره له خصوصي سکتور څخه اخیستل کېږي. پردې سربېره تمامېدونکي عمومي مصارف د اقتصاد پر منابعو ادعا ده او د عمومي سکتور په واسطه له دغو منابعو څخه په نورو سکتورونو برخو کې د استفادې مانع کېږي او د نورو برخو د نه تولید شویو محصولاتو ارزښت، فرصتي مخارج او عامه مخارج دي چې د عامه سکتور په واسطه د منابعو د جذب پر اساس ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ډول مخارجو ماهیت کاملاٌ د سوداګریزو واحدونو د تولیدي مخارجو له ماهیت سره مشابه دی او څرنګه چې یاد مخارج د عاید په شکل د ټولنې د افرادو لاس ته رسېږي د ملي عاید په محاسبه کې هم شاملېږي. په واقعیت کې د دولت او خصوصي واحدونو په منځ کې عمده تفاوت ددې ډول مخارجو په اړه د تولید شویو کالیو او خدماتو امر دی. خصوصي مؤسسات خپل کالي او خدمات د معادل قېمت په مقابل کې او یا یې د تمام شوي قېمت څخه په لوړ قېمت پلوري او په مقابل کې دولت په واسطه ارایه شوي کالي او خدمات ددغو مخارجو په أثر ممکن د دولت د دندو او وظایفو په اجراء کې په وړیا ډول او یا په ډېر کم قېمت وېش شي او یا د خاصو خدمتونو د ترسره کولو لکه د اداري او نظامي خدمات د دولت په لاس کې باقي پاته شي.

د تولید د عواملو د پېر مخارج له اقتصادي منابعو څخه د دولت د مستقیمې استفادې منعکس کوونکي دي. هماغه ډول چې اشاره وشوه دغه ډول مخارج له هر اړخه د خصوصي تولیدي واحدونو له مشابه مخارجو سره برابر دي. پردې اساس له دغو منابعو څخه استفاده ممکن د خصوصي واحدونو له رقابت سره مخامخ وي. ددغه رقابت تأثیر او حدود په دوه عواملو پورې تړاو لري؛ لومړی د تولید له عواملو څخه د شرکت د استفادې په وخت کې اقتصادي شرایط، دوهم ددې ډول مخارجو د مالي تمویل میکانیزم.

د اقتصادي شرایطو له پلوه له دغو عواملو څخه د دولت د استفادې په وخت کې د تولید د عواملو د پېرودلو د مخارجو تأثیر به د بوختیا له سطحې سره تړاو ولري. په هغه صورت کې چې د تولید د عواملو یوه برخه یا په کلي ډول اقتصادي واحدونه وزګار یا کم کاره وي یا په بله وینا له کامل استخدام څخه ټیټ شرایط وجود ولري، د دولت شرکت ددغو عواملو په پېر کې له کم رقابت سره مل دی.

په واقعیت کې دولت له هغه پرته چې د خصوصي تولیدي واحدونو له لاسه عوامل خارج کړي، تر خپلې استفادې لاندې یې نیسي یا په بله وینا د دولت ګډون د عدم استخدام  په شرایطو کې د تولید د عواملو د مصرف پر اساس په خصوصي سکتور کې د تولید او مصرف د کموالي سبب نه کېږي. په مقابل کې یې د کامل استخدام  په شرایطو کې د دولت په واسطه د تولید د عواملو د پېرودلو د مصارفو تأثیر او له دغو عواملو څخه د نورو مصرف کوونکو د رقابت مسئله کاملاً متفاوته ده. په دغو شرایطو کې به دولت مجبور وي چې له خصوصي واحدونو سره په مستقیم رقابت کې د خپلې اړتیا  وړ عوامل له بازار څخه ترلاسه کړي او یقیناً دغه ډول وضع په خصوصي سکتور کې د تولید د کموالي سبب کېږي.

د خصوصي سکتور او دولت د اړتیا وړ عواملو د قېمت په سطحه کې ددغه رقابت تأثیر په کلي ډول د قېمتونو په عمومي سطحه کې ددې ډول مخارجو د مالي تمویل په مواردو پورې تړاو لري. که چېرې د دولت د مخارجو تمویل د خلکو په لاس کې د پېر قدرت د کموالي د میتودونو لکه مالیاتو او د ملي پورې اوراقو له مخې وي، د کامل استخدام په شرایطو کې د دولت ګډون د تولید د عواملو په پېرودنه کې له خصوصي سکتور څخه عمومي سکتور ته ددغو عواملو د انتقال لامل کېږي او د هغه تأثیر به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قېمتونو په عمومي سطحه باندې ډېر کم وي. هرکله چې ددغو مخارجو د مالي تأمين منبع د هېواد له بانکي سيستم او شبکې څخه وي او خلک وتوانېږي چې د پېروډنې په ټول قدرت سره پېرودلو، مصرف او پانګونې ته ادامه ورکړي، د دولت او خصوصي سکتور د رقابت په ترځ کې د عمومي قېمتونو په سطحه کې زياتوالی په ښېړني ډول ظاهرېږي. ځکه په دغو شرايطو کې به دولت د خصوصي سکتور پر مشابه مصارفو سربېره د خپلو مصارفو په زياتولو ناچاره وي ترڅو وتوانېږي د خپلې اړتيا وړ عوامل لاس ته راوړي او دغه کار د قېمتونو د عمومي سطحې د زياتوالي لامل کېږي.

**ب- انتقالي تأديات:**

د دولت ټول فعاليتونه په خصوصي سکتور کې ځان ته د منابعو د تخصيص لپاه اړين نه دي، په ځينو حالاتو کې دولت يوازې د پېروډنې د قدرت د مجددې وېش رول لري مثلاً د دولت نقدي مرستې ددغو انتقالي تأدياتو له جملې څخه دي. پردې اساس د دولت هغه مصارف چې د ټولنې د خلکو په منځ کې د پېرودلو قدتر په وېش باندې ختمېږي (انتقالي تأديات نومېږي) يا په بله وينا د انتقالي تأدياتو مصارف د عمومي مصارفو په هغه قېمت کې شاملېږي چې د دولت لپاره د توليد له منابعو څخه د استفادې ضامن نه دي او ددغو پيسو ترلاسه کوونکي هم د دولت لپاره د خاصو خدماتو په ترسره کولو او يا د کاليو د توليد لپاره ګومارل شوي نه دي. په واقعيت کې انتقالي ورکړې يوازې په خصوصي برخه کې له يوې برخې نه بلې برخې ته د پېروډنې قدرت انتقالوي.

له هغه ځايه چې دغه د پېرودلو قدرت د اقتصادي فعاليتونو د ترسره کولو له لارې لکه د کاليو او خدماتو د تهيې او د عايد په توګه نه حاصلېږي. ددې پرخلاف د توليد د عواملو د پېروډنې مصارف د ملي عايد په محاسبه کې نه منظورېږې يا په بله وينا د دولت انتقالي تأديات په ملي عايد باندې هېڅ تأثير لرونکي نه دي او په ملي عايد باندې د هغه تأثير له مختلفو اړخونو څخه هغه ډول چې لاندې ليدل کېږي غير مستقيم دی. انتقالي تاديات کولای شو په دوو اصلي ګروپونو ووېشو:

**لومړی:** په افرادو پورې مربوط هغه تأديات چې له قانون سره سم د مرستې د ترلاسه کولو لپاره مجاز پېژندل شوي دي.

**دوهم:** د ملي پورونو لپاره د سود تاديه کول.

لومړی ډول مصارف اکثره د دولت له اجتماعي فعاليتونو سره د خلکو د ژوند د سطحې د بهبود په موخه او هغه ډلې چې په اقتصادي سازمان کې د کافي عايد په حاصلولو برلاسي نه دي، ورکول کېږي. له وزګارو سره مرسته، د بې سرپرسته ماشومانو ساتنه او روزنه، همدارنګه له ځينو ډلو لکه کار کوونکو، بزګرانو او نورو سره مالي مرستې په دې برخه کې مهمې بېلګې دي.

د ملي پورونو د سود ورکړه په هغه صورت کې چې د بودجې د اجراء له وخت نه پرته دورو کې په ترلاسه کېدونکو پورونو پورې تړاو ولري، بايد د انتقالي ورکړو برخه حساب شي. څرنګه چې ترلاسه کوونکی د هغه په مقابل کې دولت ته کوم خدمت نه ترسره کوي. په هغه صورت کې چې د سود ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جاري پورونو پورې تړاو ولري چې د دولت په جاري پانګونو مصرف شوې وي، بايد د تمامېدونکو تأدياتو برخه منظوره شي. لېکن څرنګه چې اکثره ملي پورې د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې په تېر وخت پورې تړاو لري، له دې وجې اصلي او فرعي تأديات انتقالي تأديات حسابېږي. څرنګه چې په انتقالي تأدياتو کې د دولت په وسيله له کاليو او خدماتو څخه استفاده مطرح نه ده پردې اساس د رقابت له نظره او د توليدي منابعو په توزع کې د هغه تأثير او د قېمتونو په سطحه کې ستونزه وجود نه لري.

انتقالي ورکړې په غير مستقيم ډول د ماليه ورکوونکو او ماليه ترلاسه کوونکو د ثروت او عايد له تغيير څخه انتقالي پيسې د توليدي منابعو په وېش باندې تأثير کوي. ددغو ورکړو له قبلولو څخه د دولتونو اصلي هدف هم په اکثرو مواردو کې د ټولنې د مختلفو طبقاتو ترمنځ د عايد په مجدد وېش باندې تأثير اچول دي. خو ددغو مصارفو د مالي تمويل د وسيلې تأثير د قېمتونو په عمومي سطحه باندې بايد عادي ونه ګڼو. په هغه صورت کې چې انتقالي تأديات د مالياتو د ترلاسه کولو له محل څخه تأمين شي، د قېمتونو په عمومي سطحه باندې مستقيماً تأثير نه لري. پردې اساس د مختلفو طبقاتو ترمنځ به يوازې د عايد د مجددې وېش سبب شي.

مګر په هغه صورت کې چې ددغو تأدياتو تأمين محل بانکي اعتبارات وي، د هغه تأثير د قېمت په عمومي سطحه باندې د استفادې په مختلفو شرايطو کې متفاوت دی. دغه کار د قېمتونو په سطحه باندې له کامل استخدام څخه په ټيټو شرايطو کې نږدې بې تأثيره او د کامل استخدام په شرايطو کې د قېمت د عمومي زياتوالي او د عايد او ثروت د وېش او تعديل سبب ګرځي.

**۲- عامه کالي يا اجناس:**

هغه شمېر کالي او خدمات چې د بازار اقتصاد د عدم علاقمندۍ او يا هم د نورو دلايلو پر اساس د ټولنې د اړتياوو پر بناء دولت د هغه د توليد او عرضې مکلفيت په غاړه لري، د عامه کاليو، شيانو او خدماتو يا د سياسي کاليو په نوم يادېږي. د ملي دفاع قضائي نظام، د قانون جوړونې نظام د عامه کاليو او خدماتو مثالونه دي، چې د هغه په مقابل کې خصوصي کالي او خدمات وجود لري.

عامه کالي د پوښښ له لحاظه چې مصرف کوونکو ته يې ورکوي په محلي، ملي او نړۍ والو عامه اجناسو باندې وېشل کېدای شي.

سيمه ييز عامه کالي: هغه کالي دي چې د هغه زياتره ګټه د يوې ځانګړې سيمې اوسېدونکو ته رسېږي لکه پارک، ځنګلونه او هغه مثالونه چې د يوه ښار د هوا د پاکېدو لپاره د هغه په ګاونډ کې جوړېږي.

ملي عامه کالي: هغه کالي دي چې د هغه ګټه د يوه هېواد ټول اوسېدونکي تر پوښښ لاندې راولي لکه د نفوسو تنظيم او د زېږون کموالی، د سيمه ييزو خدماتو بهبود، ښوونه او روزنه او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور.

نړۍ وال عامه کالي: هغه کالي دي چې په طبعي ډول د هغه ګټې نړیوالې وي لکه نړیوال أمنیت، نړۍ وال اقتصادي ثبات، د ژوند د نړۍ وال چاپېريال د ساتنې تدابیر، ځمکنی اتموسفیر، بحرونه او نور.

ساموېلسن عامه کالي داسې تعریفوي؛ عامه کالي هغه کالي دي چې ټول په ډله ییزه توګه ترې استفاده کوي. په داسې ډول چې له دې ډول کالیو څخه د هر فرد مصرف د نورو په مصرف کې کموالی نه څرګندوي. طبعاً دغه خاصیت د خصوصي کالیو له خصوصیت سره په روښنایي کې متفاوت دی چې په خلکو باندې د وېش وړ دی یا په بله وینا عامه کالي له هغه کالي دي چې په هم مهاله ډول د ټولو مصرف کوونکو لپاره په مساوي اندازه د ګټې اخیستنې وړ وي.

هغه د رقابت نه منلو، استثناء نه منلو او نه ردېدو خاصیت لري لکه په خالصو خصوصي کالیو کې استثناء منل وجود لري. د مثال په توګه کله چې زه خودکار قلم پېرم او په هغه باندې یو څه لیکم د پېر په عمل سره هغه په ځان پورې ځانګړی کوم او نور افراد نه شي کولای چې په هم مهاله ډول له هغه څخه ګټه پورته کړي. په داسې حال کې چې عام کالي دغه خاصیت نه لري.

کله چې د هوا د ککړتیا د کموالي لپاره طرح اجراء کېږي. په هماغه وخت کې چې زه له هغه څخه ګټه پورته کوم نور افراد هم ترې ګټه اخلي. بل صفت یې رقابت منل دي. په خصوصي کالیو کې د عمومي کالیو پرعکس د کالیو د ګټو د لاسته راوړلو لپاره رقابت وجود لري، په واقعیت کې په خصوصي کالیو کې د مصرف کوونکو زیاتوالی د اضافي مخارجو غوښتنه کوي. خو د عمومي کالیو د مصرف کوونکو زیاتوالی، اضافي مخارجو ته ضرورت نه لري، یعنې مخارج متغیر او د کالیو تولید ثابت پاته کېږي.

کله چې نه شو کولای هېڅوک د عمومي کالیو له مصرف څخه منع کړو، نو څوک حاضر دي چې د هغه د مصرف لپاره قېمت تادیه کړي او څوک حاضر دي ترڅو هغه تولید کړي؟ کله چې د یو واحد کالي په بازار کې، د تولیدوونکو او مصرف کوونکو ترمنځ ارتباط قطع وي، دولت مجبور دی چې د هغه د عرضې لپاره رامخکې شي. ددغې پوښتنې پر اساس د دولت د اقتصادي نظریاتو یو محور دی، چې کومو کالیو او خدماتو ته عمومي ویل کېږي او باید د عمومي سنجش په واسطه تهیه شي او څرنګه د هغه مقدار ټاکل کېږي.

البته د دولت حضور په اقتصادي فعالیتونو کې د داسې کالیو او خدماتو په تولید پورې مربوط دی، چې خصوصي سکتور اصولاً د هغه د تولید لپاره داوطلب نه دی. هر څومره چې ددغو کالیو او خدماتو تولید د ګټه اخیستونکو لپاره له ګټې سره یوځای وي، چې همدغه کالي کولای شو عمومي ونوموو.

د پیګو تحلیل د عمومي او خصوصي کالیو ترمنځ د منابعو له مؤثر تخصیص څخه د بحث نتیجه د مالیاتو د اصولو برقرارول دي یا په بله وینا هغه د مالیاتو ورکوونکواو مالیاتي نرخونو د ټاکلو د اصولو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيان کې د عمومي کاليو توليد مطرح کوي. پيگو د مطلوب پالو (افاده غوښتونکو) له روش څخه په استفادې، فرض کوي چې د عمومي کاليو مصرف هر استفاده کوونکي شخص ته پام کوي، په داسې حال کې چې ددغو کاليو د توليد د مصارفو د جبران لپاره د مالياتو ورکړه دده لپاره د مطلوبيت د کموالي باعث کېږي. له منځه تللي مطلوبيت ته په پام سره د مالياتو د ورکړې په أثر د افادې د کموالي حاصل د خصوصي کاليو له لاسه ورکولو څخه اندازه کېږي. د هر شخص لپاره ترلاسه کېدونکی کار په داسې ځای کې د عمومي کاليو عرضه ده، چې د عمومي کاليو له مصرف څخه ترلاسه شوی نهائي مطلوبيت د مالياتو د ورکړې د نهائي مطلوبيت له کموالي سره برابر وي. (۷ : ۲۸۷)

په دې صورت کې د عمومي کاليو په توليد کې د منابعو مؤثر تخصيص په داسې ځای کې ټاکل کېږي چې د عمومي کاليو له توليد څخه ترلاسه شوی نهائي اجتماعي مطلوبيت د مالياتو د ورکړې د نهائي اجتماعي مطلوبيت له کموالي سره مطابقت وکړي. که څه هم دغه نظر له نواقصو څخه خالي نه دی، خو د عمومي کاليو د اقتصادي مسايلو د تحليل او بررسۍ لپاره يو مناسب لارښود پېژندل شوی.

**۳- د عامه کاليو د انتخاب امکانات:**

**الف- د خلکو د رايو پر اساس د عمومي کاليو د وړاندې کولو په اړه تصميم:** په دې ځای کې د عمومي کاليو لپاره په تقاضا کې د خلکو د رايو په لاس ته راوړلو بحث کېږي. خلک د مستقيمو او غير مستقيمو رايو ورکولو له لارې خپلې ټاکنيز او لومړيتوبونه څرگندوي. عمومي کالي او خدمات د اکثريت رايو پر اساس تثبيت کېږي.

**ب- سياسي تعادل:** سياسي تعادل يو توافق دی چې د هغه پر اساس د مالي تأمين خاصو قواعدو ته په پام سره د يو يا څو عمومي کاليو د توليد سطحه ټاکل کېږي. د عمومي کاليو او خدماتو د مالي تأمين طريقه د مالياتو د ډولونو پر اساس ده او د هر فرد مالياتي سهم چې کله کله مالياتي قېمت هم بلل کېږي له وړاندې اعلانېږي. د رايه ورکوونکي لپاره د توليد شويو کاليو د هر واحد مالياتي قېمت د دولت لخوا دی. د عمومي کاليو د توليد مصارف د ښاريانو د مالياتو سهم مشخص کوي يا په بله وينا د هر فرد د مالياتو د سهم روښانه کېدل د عمومي کاليو او خدماتو د توليد په مصارفو کې زياتوالی به د مالياتي سهم په پرتله د ټولو افرادو د مالياتو سهم ته زياتوالی ورکړي.

**ج- د رايو د توافق قاعده:** که چېرې د برابر شويو عمومي کاليو مقدار په بشپړه سطح کې وي، د ټولو وضعيت به بهتر شي. ځکه خلک پوهېږي چې هرکله يو واحد عمومي کالي ترلاسه شي دوی هم له هغه استفاده کوي. د شخصي گټو پر اساس به د عمومي کاليو کافي مقدار ترلاسه نه شي. په نتيجه کې که چېرې ممکن وي چې د مالياتي سيستم له لارې د عمومي کاليو مخارج جبران شي، بايد د رايه ورکوونکو رضايت ترلاسه شي، ترڅو وتوانيږو د رايې ورکولو له لارې د عمومي کالي کاربره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولید ته ورسېږو. هغه روش چې د هغه  پر اساس وتوانېږي په دې ډول رایو کې توافق ترلاسه کړي، د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د لېندال Frik Lindahl لخوا وړاندې شو. د لیندال موډل مالیاتي سهم او د عمومي کالیو د تولید سطحه چې د ټولنې د ټولو غړو د توافق وړ وي ښیي، خو مهمه پوښتنه دلته مطرح کېږي، چې څرنګه یو اقتصاد دغه ډول تعادل ته لاسرسی پیدا کړي چې د تعادل حل ته رسېدل کاملاً غیر عملي تر سترګو کېږي.

**د- د اکثریت رایو قاعده:** داسې ښکاري چې توافق او هم نظره کېدل یوه داسې نتیجه ده چې په ډېرې  سختۍ لاس ته راځي او شاید اصولاً د لاسرسي وړ هم  نه  وي. په نتیجه کې د رایې ورکولو یو سیستم چې الزاماٌ کامل توافق په پام کې ولري د حل مناسبه لاره  ښکاري.

د اکثریت رایو د قاعدې پر اساس که چېرې د اضافه رایه ورکوونکو په اړه توافق وکړي، هغه مورد به تر اجراءا لاندې ونیول شي مثلاً په یوه اقتصادي سیستم یا یوه درې نفري ټولنه کې که چېرې له درې نفرو څخه دوه نفره د عمومي کالیو د تولید یو مقدار ته رایه ورکوونکي وي، د هغه د توافق په اړه دوه  نفره راټولېږي. هر رایه ورکوونکی باید له رایه ورکولو وړاندې د انتخاب لپاره لازمه اماده ګي ولري، یعنې دوی ته باید لازم اطلاعات په واک کې ورکړل شي ترڅو وتوانېږي د خپل مطلوبیت تابع ته په پام سره قضاوت کوونکی تصمیم ونیسي او په خاص مورد کې رایه ورکړي. دغه ډول  اطلاعات کېدای شي په لاندې ډول دسته بندي شي:

۱. د عمومي کالیو متوسط او نهائي مخارج.

۲. د مخارجو او د رایې ورکولو وړ موضوع د ګټې په اړه لازم اطلاعات.

۳. د رایه ورکوونکو ترمنځ د مالیاتو د سهم وېش او په  مالیاتو کې د تغییر طریقه، کله چې له کالیو څخه اضافي مقدار ترلاسه شي.

۴. د رایه ورکوونکو ترمنځ د کالیو د ګټو د وېش طریقه.

**هـ- د منځنیو رایه ورکوونکو ماډل:** منځني رایه ورکوونکي هغه رایه ورکوونکي دي، چې د دوی تقاضا د نورو ټولو رایه ورکوونکو د تقاضاوو په وسط کې قرار لري. د منځنۍ رأیه ورکوونکي روش د خلکو د اکثریت رایو پر اساس تصامیم بررسي کوي. د ځینو اولیه فرضیو په قبلولو سره په ساده ډول ښودل کېږي چې د اکثریت رایو پر اساس د تصمیم قاعده په پېشنهادي انتخاب پای ته رسېږي، چې د منځني رایه ورکوونکي د نظر وړ وي. د اکثریت رایو پر اساس د تصامیمو د اجرا لپاره مختلفې طریقې وجود لري چې له دغو طریقو څخه د کمېټې د رایې پر اساس انتخاب دی.

لومړی داسې یو مورد ته پام وکړئ چې د یوې درې نفرې کمېټې اکثریت رایو پر اساس انتخابات ترسره کېږي، هر رایه ورکونکی تصمیم نیسي چې د عمومي کالیو او خدماتو څه مقدار تولید او ارایه شي. په دې کمېټه  کې هر فرد د خپل مطلوبیت د مقدار پر اساس د عمومي کالیو تولید پېشنهادوي. مشخص دی چې په دې ځای کې به درې مختلف پېشنهادونه وجود لري، چې یو له درې ګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېشنهادونو څخه د انتخاب لپاره رایه ورکول ترسره کېږي.

**و- د ریفرنډم ماډل:** کله کله انتخابات د عمومي رایو له لارې ترسره کېږي. په دې ترتیب چې د پېشنهاد پر اساس رایه ورکول ترسره کېږي. که چېرې اکثریت رایې ترلاسه نه شوې رایه ورکول به تکرار شي او دغه عمل یوې اکثریت رایې ته تر رسېدو پورې دوام پیدا کوي.

**۴- عامه تصدیګانې:**

عامه تصدیګانې د بازار په اقتصاد کې هغه وخت مجاز ګڼل کېږي، چې د عامه رفاه په لوړولو کې ونډه ولري. پردې اساس د اجتماعي رفاه اعظمي کول د عامه تصدیو د معقول هدف په توګه ګڼل کېږي. د دولت تشبثاتي یا انتفاعي فعالیت په خپل ذات کې هدف نه، بلکې د عامه وظایفو د ترسره کولو او د اجتماعي ګټو د ترلاسه کولو لپاره یوازې یوه وسیله ده.

اجتماعي رفاه لازمه نه ده د امکان تر حده یو لوی اجتماعي محصول ته له رسېدو سره عین شی تعبیر شي. عامه رفاه د تولید د سطحې د لوړوالي او له مقداري، کیفي، زماني او مکاني لحاظه د اجتماعي شیانو او خدماتو د وېش په واسطه تاکل کېږي. په دې اړه تصمیم چې تر کومو شرایطو لاندې (څه شی، چېرته، څرنګه او د چا لپاره) خصوصي اقتصاد تولید کوي د بازار د میکانېزم له خوا ترسره کېږي. د دولت په عامه سکتور کې د تولید وړ شیانو او خدماتو د لوړوالي او ترکیب په اړه تصمیم د سیاسي موافقو له مخې ترسره کېږي. دولت باید د خپلو تشبثاتي فعالیتونو په واسطه هغه خلا ډکه کړي چې له اجتماعي پلوه د مطلوبو شیانو او خدماتو او د خصوصي اقتصاد په واسطه د تولید شویو شیانو او خدماتو ترمنځ منځ ته راځي یا په بله وینا هرکله چې له اجتماعي پلوه مطلوب شیان او خدمات د خصوصي شیانو او خدماتو د تولید په واسطه رفع نه شي کړی، په دې صورت کې دولت ته لازمه ده چې دغه کسر د خپلو تشبثاتي فعالیتونو په واسطه رفع کړي. پردې اساس له پورته یادونو څخه داسې نتیجه اخیستل کېږي چې د دولت له تشبثاتو څخه اساسي موخه د اجتماعي رفاه تأمین دی.

د دولت تشبثاتي عواید اوس د کمیت له پلوه د بازار اقتصاد نظام لرونکو هېوادونو کې لږ اهمیت لري. ځکه په معاصرو شرایطوکې د نړۍ په صنعتي هېوادونو کې دولتونو ځانونه په تشبثاتي عوایدو باندې له زیات متکي دولت څخه په مالیاتي عوایدو باندې په زیات متکي دولت باندې تبدیل کړي دي یا په بله وینا اوس د دولت د عوایدو لویه برخه د مالیاتي عوایدو له لارې لاس ته راځي. پردې اساس اوس د نړۍ په صنعتي هېوادونو کې د دولت سهم په صنعتي تولیداتو کې په هغه اندازه زیات نه دی او انتفاعي عواید یې هم د هغه مطابق کم شوي دي. د دولتي تصدیو د نافعیت موضوع د اقتصادي نظامونو له پلوه په مختلفو صورتونو استدلال او ارزیابۍ کېدای شي.

د دولت د خدماتو د ارایې په موخه د عامه ادارې (دولتي اداراتو او مؤسساتو) تر څنګ د یو ډلې تصدي ډوله سازمانونو یا د اقتصادي تصدیو په ایجاد کې چې له خصوصي سکتور سره ورته والی لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مداخله کوي. ټول دغه سازمانونه د عامه تصديو په نامه يادېږي، په دې شرط چې د هغه مالکيت له دولت سره وي.

د عامه تصديو د ايجاد اصلي انګېزې په لاندې ډول دي: (٦:٣١٠)

**الف:** عامه اداره بايد د خدماتو تقاضا پوره کړي. دغه تقاضا په بازار کې هم په لاس راتلی شي لېکن د سياسي، اجتماعي او مصارفاتي علتونو پر اساس دغه تقاضا د دولتي توليد په سکتور پورې مربوطېږي.

ددغو خدماتو د تنظيم نوعيت ته په کتو سره په خاصو او مستقلو رهبري کوونکو او اداري مؤسساتو کې آماده کېږي. اداري تصديګانې دغه ډول خپلې ادارې لري او له خپلو عوايدو او مصارفو سره عمومي بودجې ته داخلېږي.

په رهبري کوونکو تصديو کې په يوه ټاکلی وسعت سره په اداره کې د کمښتونو د رفع کولو د انعطاف پذيرئ لپاره د هغه اداره له تشکيلاتي لحاظه مستقله شوې ده. د تصدي شتمني له عامه بودجې څخه جلا شوې ده. د تصدي محاسباتي چارې د مستقلې رهبري له لارې له خپل مسئوليت سره منځ ته راځي. له هغې سره دغه تصديګانې له حقوقي لحاظه تړلي پاته کېږي. هغوی خپل خدمات د نورو اداري واحدونو لپاره په تمام شد قېمت سنجش کوي او په کلني سنجش سره ګټه خصوصاً د مخارجو د جبران د تصدئ د مالک په عمومي بودجه کې څرګندېږي.

**ب:** پردې سربېره داسې کالي او خدمات توليدېږي چې د تصدئ د بقاء لپاره د عمومي وړاندوينې په برخې پورې مربوطېږي.

په دې ځای کې هدف تأميناتي کالي او د احتياجاتو د رفع کولو يا زېربنائي تأسيسات دي. دقيق او لوړ مخارج او له دې لارې د متوسط حد نزولي مخارج په اوږدمهال کې د خصوصي اقتصاد فعاليتونه تر تأثير لاندې راولي. يو خصوصي اقتصادي تأمين د کاليو په برخه کې له يوې لوړې درجې سره د عامه خدماتو لپاره کېدای شي مزاحمت وګرځي. ځکه چې يوه فردي داوطلبانه آماده ګي د استفاده کوونکو له خوا د تاديې لپاره وجود نه لري مثلاً د سړکونو د تنظيف او پاکولو په سنجش او د اور سوځېدنې په بيمه کې قانون ګذار د بازار ددغو نامکملو شرايطو په مقابل کې داسې عکس العمل ښکاره کوي چې د فشار د بخښنې توانايي يوځای شوي او په کار وړل شوي. جبر او يا د بيمې مکلفيت د ادارې له خوا سلب کېږي. پردې سربېره له حقوقي لحاظه غير مستقلې تصديګانې پورته يادې شوي. دغه ډول فعاليتونه په خاص ډول د مستقلو اقتصادي او تشکيلاتي لحاظه د تصديو لخوا هم ترسره کېږي، چې تر يوې اندازې پورې له عامه بودجې سره د مشابه بودجو له سنجش سره تړاو پيدا کوي. هغه مؤسسات چې د غړو لخوا اداره کېږي لکه خونې او د کسبګرو اتحاديې د عامه حقوقي شخصيتونو په توګه ثبت شوي دي. د اجتماعي ګټورتيا له لحاظه د ټاکلو اهدافو د تحقق لپاره چې د ورځې له سياسي لرلي څخه بهر عمل وکړي کېدای شي له هدفمنې شتمنئ سره عامه حقوقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤسسات ايجاد شي (مثلاً د مصرفي کاليو د کيفيت د تعين مؤسسات يا د معيار او سټنډرډ اداره، د ژوند د چاپېريال اداره).

**ج:** همدارنګه د سياست له لحاظه د هدفمنو خدماتو تهيه کېدای شي معياري وي. په دې ځای کې له هغو برخو څخه هدف دی چې په هغه کې د بازار تأمينات اصولاً عملي کېږي او يا لږ تر لږه ممکن، نتيجه په لاس راغلې وي. لېکن خپل مقدار او نوعيت ته په کتو بايد د سياسي هدف ګذارۍ پر اساس تصحيح شي. دغه عامه توليد شوي کالي د رفاهي کاليو په نامه يادېږي. تر هغه ځايه چې دغه مؤسسات د پېرودونکو لپاره عيار وي، اکثره د عامه حقوقو د اداراتو په توګه پر مخ وړل کېږي (د سپما پيسې، د راډيو او ټلوېزيون عامه چينلونه).

**د:** په نهايت کې کېدای شي د عامه تصديو لپاره يو توليدي اقتصادي متوازن فعاليت وګرځي، چې په هغه کې د مصرفي او خدماتي کاليو توليد د تمام شد په قېمت يا داچې په يوې محدودې ګټې سره ترسره شي. دغه هدف ګذاري کولای شي د توليد عامه هدف منعکس کړي. دغه هدف ته د رسېدلو لپاره مشابه سازماني او حقوقي اشکالو ته چې په يوه تصدۍ کې ورته ضرورت حس کېږي له دې ډول يوې توليدي اقتصادي مؤسسې سره د بازار انکشافاتو ته د ښه مطابقت توانايي، زياته ګټورتيا او مؤلديت منځ ته راځي. البته د هغه په مقابل کې د محدودو تأثيراتو رسونې امکاناتو او د دولتي کنترول نقص وجود لري. داچې له دې طريقه عامه وظيفه د يو سمت ورکونې په ګټه (د ګټو له محدودولو پرته) څه ډول صدمه ويني، کولای شو د عامه تصديو د خصوصي کولو ضرورت د يو محدود تشکيل لرونکي دولت په مفهوم استدلال کړو. په عمومي ډول بايد وويل شي چې د دولت له بودجې څخه د جلا شويو ټولو عامه تصديو لږ او زيات فعاليتونه بايد د يو ډول راپور ورکولو تابع وګرځي، ترڅو د برخو د سياسي مسئولو افرادو لپاره په فعاليتونو کې کامل شفافيت او د دغو تصديو تأثيرات لاس ته راوړلی شي. يوازې په دې طريقه کېدای شي يو هدفمن او مؤثر سياست تحقق ومومي. پردې سربېره کولای شو له دې لارې مخنيوی وکړو چې عامه تصديګانې د نه منلو تاوانونه منځ ته راوړي او په هغو قېمتونو سره چې د دوی مصارف نه جبرانوي د خصوصي عرضه کوونکو بازار نقصاني کوي.

**۵- د اجتماعي سياست تأمين:**

د اجتماعي تأميناتو عمومي هدف دادی ترڅو د يوې ټولنې ټول غړي له فقر او احتياج نه وساتي او دوی ته د ژوندانه هغه ډول شرايط مهيا کړي چې د انساني کرامت مطابق وي. د مرستې تأدياتو ترلاسه کوونکي تر يوه حده ددې وړ وګرځول شي چې وکولای شي په راتلونکې کې له مرستو نه مستقل ژوند وکړي. تر اوسنيو شرايطو لاندې اجتماعي تأمينات د دولتونو د مخارجو يو لوی رقم تشکيلوي. (۹ :٦٦)

اجتماعي سياست د سياسي او اجتماعي فعاليت يو برخه ده. دولتي اجتماعي سياست هغه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي عمل دی چې د لازمو وسایلو په کار وړلو سره غواړي د افرادو د ډلو اقتصادي او اجتماعي (ژوندانه وضع) بهتره کړي. دغه ډله افراد په مطلق یا نسبي ډول، یعنې د نورو په پرتله نسبتاً کمزورې ښکاري. ځکه هغوی د یو ښکلي انساني ژوند لپاره لازم عاید لاس ته نه شي راوړلی. د اجتماعي سیاست د عملي کولو ضرورت په ټولو ټولنو کې پراختیا موندلی او د سازمان شوي کار وېش پر اساس د دوی له اقتصادي نظامونو څخه صرف نظر حس کېږي.

د اجتماعي سیاست له تأمین پرته به لاندې پرابلمونه ایجاد شي: (۶:۳۸۱)

۱. د بېوسو او معیوبو افرادو ژوند (بوډا افراد، ناروغان، معیوبین، وزګار افراد) نه شي تضمین کېدلی.

۲. په ارثي یا کسبي توانونو کې د لویو تفاوتونو په خاطر او یا د انسان د کار د قوې اقتصادي په کار وړنې په امکاناتو کې لوی تفاوتونه د هغوی په عوایدو او شتمنۍ کې منځ ته راځي، چې په شکل د اشکالو باید له منځه یوړل شي.

۳. د اعظمي تولید لپاره د تصدیو د رهبرۍ هڅه کولای شي صحت او نور د کارګرانو ابتدائي علایق مثلاً د مجددې احیاء لپاره کافي وختونه او په تصدیو کې سمه تداوي او معالجه متضرره او نقصاني کړي.

۴. په اقتصادي انکشاف پورې مربوط ساختاري اختلالات د مطابقت ورکولو د فشارونو باعث (د انساني پانګې بې ارزښته او آزادېدل، افلاس) چې د اجتماعي عدالت د علتونو پر اساس د یاد فرد او کورنۍ په غاړه نه شي بارېدلی، بلکې باید یو ځای اداء شي.

۵. په ځینو سکتورونو کې له ټولو مخکې د کار په بازارونو، زراعتي بازارونو او د بیمې بازارونو ته، بازارونو په خپل ځان پورې مربوط وظایف په ناقصه توګه اجراء کړي او په بازارونو کې د ټیټو استثمارګرو مزدورانو په څېر د اقتصاد د عامل په ضرر منځ ته راځي مثلاً خصوصي بیمې، د وزګارتیا د ملاتړ بیمه، انفلاسیون او صحي خطرات یې نه دي عرضه کړي. اکثراً یوازې یو ملاتړ چې د ډول او اندازې له لحاظه ناکافي وړاندې کېږي د اجتماعي سیاست برخې په لاند ډول دي:

۱- د کار کوونکو حمایوي سیاست: دغه سیاست د کار د وخت له حمایې څخه متشکل دی چې د ماشومانو کار، د ځوانانو ملاتړ او سخت ژوبل شوي معیوبین پکې شاملېږي او د حوادثو او خطراتو په مقابل کې ملاتړ او همدارنګه له کار څخه د ګوښه کېدو ملاتړ (ساتنه او د کار ملاتړ ).

۲- د اجتماعي تأمین سیاست: چې د تقاعد په بیمه، د ناروغانو بیمه، د ساتنې او مراقبت بیمه، د وزګارتیا بیمه زیاتره اوسېدونکي د اقتصادي عواقبو پر ضد ناتواني، د بوډاتوب په وخت کې دوامداره کار، د وظیفې محدودیت، کونډوالی، یتیموالی او د ناروغي مراقبت ته ضرورت او وزګارتیا یې تضمین شوې ده او د هغو افرادو په اجتماعي اساسي تأميناتو سره چې له اجتماعي بیمو څخه یې استفاده نه ده کړې له احتیاج څخه یې ژغوري.

۳- د تصدیو او مؤسساتو د قانون سیاست: دغه سیاست د کار کوونکو په ارتباط د کار د ځای تشکیل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کار جريان، د کار وخت، د اجورې ورکولو اشکال، تقرر او انفکاک (جلا والی) تأمينوي.
۴- د کار د بازار سياست: چې له يوې خوا د کار د ادارې په مرسته د کار بازار کيفيت اصلاح کوي او له بلې خوا د کار بازار د شکل د تغيير له لارې او د اجورې د ترلاسه کولو د پروسې په لور د ائتلاف او خودمختارۍ د آزادۍ په مرسته د اجتماعي او اقتصادي د منلو وړ او ګټور واقع کېږي.
۵- د مسکن سياست: دغه سياست غواړي چې ټولو اوسېدونکو ته حداقل د دوی له کمي او کيفي غوښتنو سره سم سرپناه چمتو کړي.
٦- د کورنۍ سياست: د اساسي دوستانه کورنيو شرايطو په ايجاد او په دوی باندې د فشار د کموالي له لارې کورنيو ته د دوی د وظايفو په ترسره کولو کې سهولت پيدا کوي.
۷- د پوهنې سياست: دغه سياست دنده لري چې شروع کېدونکي نامساوي مادي شرايط متوازن کړي او د کافي انساني پانګې تشکيل تأمين کړي.
۸- د ثروت او شتمنۍ سياست: ددغه سياست په وسيله بالخصوص د پراخو اقشارو او طبقاتو په نزد شتمنۍ تقويه کوي او د شتمنۍ د تمرکز پر وړاندې يو مخالفت رامنځ ته کېږي.
۹- د متوسطې طبقې سياست: ددغه سياست له لارې بايد د ټولنې د يو زيات شمېر خلکو ژوند تأمين شي.
۱۰- د ځوانانو او لوړ عمر لرونکو د ملاتړ او حمايې سياست: د دغه سياست په مټ بايد هغه ډلې د کمزوري مسلک لرونکو افرادو په پرتله تر حمايې لاندې ونيول شي او د دوی له عمر سره سم اړتياوې اجراء او تأمين شي. د دولتي اجتماعي سياست وړونکي په مختلفو سطحو او سکتورونو کې دولتي ارګانونه دي، اجتماعي سياستونه عمدتاً د لاندې درې اهداف لري:
۱. د خلکو لپاره د مسلکي امکاناتو د تأمين له لارې د مادي آزاديو ارتقاء او تأمين، اجتماعي أمنيت او د فقر پر ضد يو د مبارزې سياست.
۲. د اجتماعي عدالت عملي کول.
۳. اجتماعي سولې تأمين.

**٦- سبسايډي ګانې:**

دولت د خپلو مالي امکاناتو په مرسته معمولاً د اقتصادي انکشاف د نواقصو په له منځه وړلو کې د سبسايډي ګانو په تاديه کولو سره مقابله کوي. په دې تړاو د ضعف څلور نقطې د يادولو وړ دي. (۴: ۱۵۵)

a) د منفردو اقتصادي واحدونو په لاس کې د اقتصادي قدرت تشکيل، چې د هغه په واسطه د رقابت وظايف مختل کېږي.

b) د هغو اسبابو د توليد او استهلاک په ذريعه د قېمت د تشکيل د عمليې له منځه وړل چې له بهرنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



أثراتو سره د بهرنيو مصارفو په شكل د مثال په ډول د ژوند چاپېريال ته وارده زيان چې له تادياتو پرته باقي پاته شي يا بهرنی ګټورتوب د مثال په ډول عامه مصالحو ته د بدلې له ورکړې پرته د خدماتو او فعاليتونو آماده کولو سره يوځای وي.

c) د عايد او شتمنۍ د وېش ايجاد چې په غير عادلانه ډول حسابېږي او د هغه په وسيله کېدای شي اجتماعي اختلافات راپورته شي.

d) د کلي اقتصاد اهدافو ته نه رسېدل (د لوړ استخدام سطحه، د قېمتونو د سطحې دوامداره استقرار، د خارجي اقتصاد تعادل او مناسبه او دوامداره اقتصادي وده).

ددې لپاره چې دولت دغه وظايف ترسره کړی شي، د نورو بې شمېره وسايلو او تدابيرو تر څنګ انتقالي ورکړې تصديو او کورنيو ته (مالي مرستې، اجتماعي انتقالات) په کار وړي. په دې ډول انتقالاتو کې چې (د مفهوم له لحاظه په سبسايډيو خلاصه کېږي) انتخاب شوې مرستې له متقابل جبران پرته د بازار په ډول مطرح دي، چې دغه مرستې د عامه مالي اقتصاد د حاملينو لخوا د دولتي اداري له دستګاوو څخه پرته اخيستونکو ته ورکول کېږي. (٦: ٤٠٢)

**تصديو ته د سبسايډيو ورکړې لاندې درې ډوله اصلي ساحې دي:**

١. سکتوري ساختاري سياست دنده لري چې له اقتصادي تزلزل (ساختاري وزګارتيا) څخه په تدريج سره رامنځ ته شوي عواقب نرم کړي او په همدې ډول ضروري ساختاري تحول ته د اقتصادي ودې لپاره سرعت وروبخښي.

٢. منتقوي ساختاري سياست د توليد د بالقوه ظرفيت په وېش او د ملي اقتصاد په داخل کې د جغرافيايي سيمو په زېربنائي انکشاف باندې ځان متمرکزوي. د هغه په وسيله د ژوندانه مناسب او د مساوي ارزښت لپاره مهم شرايط ايجادېږي.

٣. د تصديو د لويوالي په موخه ورکړل شوی ساختاري سياست هڅه کوي موجوده ممکن نامساعد رقابت د کوچنيو او متوسطو تصديو لپاره د لويو تصديو په پرتله متعادل کړي. دغه ډول هڅه شوی انطباق، اقتصادي او تخنيکي اختلال ته د ضرورت په صورت کې دغه سهم ترسره کوي ترڅو د اقتصاد د رقابت قدرت ته په مجموعي ډول شدت وروبخښي. د پورته موضوعاتو په ارتباط د وظايفو ترسره کولو لپاره دولت د ډول ډول سبسايډي وسايل په واک کې لري، د هغه په کار وړل په مالي اقتصاد (دولتي بودجې سره تړلي) متکي مختلف ډوله تأثيرات رامنځ ته کوي. په موقع سره کولای شو له لاندې تأثيراتو يادونه وکړو:

١. د درېيم اړخ په ګټه دستورونه او ممنوعات له دولتي بودجې سره پرته له کومې اړيکې (د مثال په ډول د ورداتو دستورونه).

٢. مالي مرسته د مثال په ډول د ټاکلو فعاليتونو په ارتباط د اضافي مرستو په شکل د پوروي خدماتي مرستو او ځينو ترسره شويو مخارجو بېرته ورکړه چې دغه ټول د عامه بودجې د تادياتو په طرف کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درج کېږي.

۳. مالياتي تسهيلات د مثال په ډول له ماليې څخه په معاف شويو پيسو، خاص فرسايشات او يا د مالياتي پايو تخفيفونه چې دغه ټول په عامه بودجه کې د عايد کموالی له ځان سره لري.

دغه مرستې د بازار په اقتصاد د ولاړ انکشاف عمليه اخلالوي، له يوې خوا سبسايډي ګانې ددې باعث ګرځي ترڅو د هغه د اخيستونکو موقف د اقتصادي واحدونو په مقابل کې نسبتاً مناسب شي، چې ددغو مرستو له برخو څخه استثناء ورکړل شوې ده (تبعيضي أثر).

له بلې خوا ټول ماليه ورکوونکي د سبسايډيو له برخې څخه د ايجاد شويو مالي فشارونو څخه متحمل کېږي (د مجددې وېش أثر). دغه أثرات به اساساً کم وای که چېرې سبسايډيو وجود نه لرلی.

**۷- دولتي معاونتونه:**

الف- د معاونتونو مفهوم او ماهيت: د مالي علم له نقطه نظره معاونتونه جامع اصطلاح ده او د مرستو، امدادونو، مساعدتونو، سبسايډيو، جايزو او نورو مفاهيم رانغاړي. د معاونتونو ماهيتي علايم په لاندې ډول دي:

۱. هرکله چې په دې ځای کې معاونتونه د دولت د مخارجو په يوه برخه کې شاملېږي، نو د هغه د ورکولو په توګه يوازې دولت ملاحظه کېږي.

۲. د معاونتونو ترلاسه کوونکي کېدای شي تصديګانې، کورنۍ او اقتصادي ساحې لکه زراعت، صنايع او کانونه، تجارت، مناقلات او نور وي.

۳. هغه رابطه چې د معاونت د ورکوونکي او ترلاسه کوونکي ترمنځ موجوده ده. د يوه بازار په شکل نه ده او پردې اساس معاونت د خپل ځان په مقابل کې د بازار په ډول د کوم پاداش او جبران لرونکی نه دی، بلکې د معاونتونو په واسطه له ترلاسه کوونکو څخه يو ډول خاص طرزالعمل غوښتل کېږي. هرکله چې دولت يو شی په هر لحاظ چې وي له هغه څخه په لوړ قېمت چې په بازار کې پېرودل کېږي، وپېري په دې حالت کې هغه اضافي قېمت يو ډول مخفي معاونت ګڼل کېږي.

۴. له معاونتونو څخه هدف په آزادنه ډول د اجتماعي محصول تشکيل ته تغيير ورکول او تر تأثير لاندې راوړل دي. په دې معنا چې دولت کولای شي د خپلو معاونتونو په واسطه توليد په يو ټاکلي او مطلوب سمت کې د دولت له نظره رهبري او تشويق کړي او د هغه په واسطه اجتماعي محصول ته تغيير ورکړي مثلاً که چېرې دولت غوښتي وي ترڅو د پختې زراعت په هېواد کې تشويق کړي او د هغه په واسطه په هېواد کې د پختې حاصلات لوړ کړي. دغه هدف د مناسبو پورونو د ورکړې په واسطه په مناسبو قېمتونو سره د پختې پېرودل، په ټيټو قېمتونو سره د تخم او کېمياوي سرې ورکول، په مناسبو قېمتونو سره د زراعتي ماشينونو خرڅلاو او قسطونه ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي.

په نتیجه کې د پورته تدابیرو نیول او د بزګرانو تشویق په یوه تولیدي سمت کې په قصدي ډول اجتماعي محصول ته تغییر ورکول کېږي. هغه معاونتونه چې انتفاعي تصدیو ته ورکول کېږي د تولید شرایط يې بهتره کړي او یا يې د تولیداتو مقدار لوړ کړی او پردې اساس تولیدي اهداف يې لرلي دي. په داسې حال کې چې کورنیو ته په معاونتونو سره، وزګارو، معیوبینو او نورو ته د معاونت په شکل چې له اقتصادي عملیې څخه عاید لاس ته نه شي راوړلی. د اجتماعي سیاست هدف يې لرلی او په مستقیم ډول د تأثیراتو له نظره د معاونت ترلاسه کوونکو یا د خلکو د پېرودنې قدرت لوړوي.

د معاونتونو په واسطه لازمه نه ده د معاونت شویو تصدیو د بازار قدرت لوړ کړي. ځکه دغه کار له یوې خوا غیر عادلانه دی او له بلې خوا د فعالو تصدیو د متضرره کولو په واسطه په اقتصاد کې مؤلدیت کموي.

مرسته شویو تصدیو ته د دولت معاونتونه همدارنګه کولای شي د اجتماعي سیاست هدف مثلاً تعمیراتي شرکتونو ته معاونتونه اکثراً په دې موخه ترسره کېږي، ترڅو ارزان یا لږې کرایې لرونکي کورونه کرایه نیوونکو ته په واک کې ورکړي یا مناقلاتي تصدیو ته په دې موخه معاونتونه ترسره کېږي ترڅو له مشتریانو څخه ټیټې تعرفې وغواړي چې په دواړو پورته مثالونو کې معاونتونه په غیر مستقیم ډول او د استفاده کوونکو په ګټه تمامېږي یا يې د اقتصادي سیاست هدف لرلی وي لکه هغه تصدیګانې چې مالي مشکلات يې لرلي وي له افلاس څخه و ژغوري ترڅو له هغه نه د رامنځته کېدونکو پرابلمونو څخه د هغه په واسطه مخنیوی وشي.

**ب- د معاونتونو اهداف:**

د معاونتونو اهداف زښت زیات دي. لېکن په دغه ځای کې به له هغه څخه په مهمو اهدافو بحث وشي:

۱. لکه څرنګه چې مخکې هم یاونه وشوه چې د معاونتونو یو مهم هداف حمایوي هدف دی. حمایه کولای شي همدا ډول د خارجي رقابت یا د مالیاتي فشار، د پانګې د بازار د مشکلاتو او داسې نورو د اړتیا وړ حالاتو په مقابل کې ترسره شي.

په پورته حالاتو کې دولت کولای شي د ارزانو کریډیټونو ورکول، چې یو ډول غیر مستقیم معاونت ښیي او یا د مستقیمو معاونتونو په واسطه او همدارنګه د مالیاتو د ورکولو په واسطه یا د مالیاتي معافیت په وضع کولو سره د تصدي وضع بهتره کړي او په دې ترتیب هغه حمایه کړي.

۲. اکثره وخت ملاتړ په خپل ذات کې هدف نه دی، بلکې د خودکفائۍ لپاره د یوې وسیلې په توګه ګڼل کېږي. یو خودکفا اقتصاد ته د رسېدو په موخه دولت په یوه خاصه رشته کې هڅه کوي ترڅو د ملي اقتصاد ټول ظرفیتونه او بالخصوص د حیاتي اړتیا وړ تولیدوونکې صنایع د خاصو معاونتونو په واسطه فعالې کړي ترڅو د هغه په واسطه زیاتو او قوي بهرنیو هېوادونو ته له تړلتیا څخه خلاصون

(c) ketabton.com: The Digital Library



وموومي.

۳. معاونتونه کولای شي انکشافي او تربيتي هدف ولري، په دې معنا چې د پراختيا په حال کې تصدۍ د معاونتونو له لارې تر هغه وخته پورې چې په خپلو پښو د درېدلو توانايي پيدا کړي حمايه او ساتل کېږي.

۴. معاونتونه همدارنگه د تصديو د اقتصادي کولو د هدف لپاره هم ترسره کېږي مثلاً هغه تصديگانې چې ځان ته په خپل قدرت سره د پرمختگ او تخنيک له نويو شرايطو سره مطابقت ورنه کړای شي، دولت د معاونتونو په واسطه هڅه کوي ترڅو ددې ډول تصديو مشکلات رفع کړي.

۵. د تادياتو د متوازن بيلانس د تأمين په موخه او د تادياتو بيلانس د کسر د له منځه وړلو او د اسعاري مشکلاتو له رفع کولو سره صادراتي معاونتونه چې د صادراتو د زياتوالي او تشويق سبب گرځي، هم زيات مؤثر کېدای شي.

**ج- د معاونتونو تأثيرات:**

د مالي او پولي اقتصاد له نظره د معاونتونو تأثيرات: معاونتونه له متقابل خدمت نه پرته د مخارجو په توگه د دولت د مالي او پولي وسايلو د کموالي باعث گرځي. د پيسو د پېرودنې په قدرت باندې د تغييراتو له نقطه نظره اساساًدوه ډوله تأثيرات د تفکيک وړ دي:

هرکله چې اضافي وسايل د معاونتونو د ورکړې له لارې په اقتصادي دوران کې اچول کېږي، د پانگونو په گټه تمامېږي او د هغه په واسطه د توليد د عواملو لپاره تقاضا لوړېږي. په دې صورت کې توليد او استخدام لوړېږي او په نتيجه کې د پېرودنې د اضافي قدرت په مقابل کې د معاونتونو له لارې اضافي عرضه يا توليد هم ترسره کېږي او پردې اساس د پولي سياست له نظره د معاونتونو ورکړه د تشويق وړ نه ده. برعکس هرکله چې اضافي وسايل د معاونتونو د ورکړې له لارې په اقتصادي دوران کې واچوي او د پانگه ييز شيانو د زياتوالي او په نتيجه کې د ملي اقتصاد د شيانو د ذخيرې لوړولو په لوري رهنمائي نه شي. په دې صورت کې معاونتونه کولای شي په عمومي ډول د پېرودنې کموالی او د پيسو خرابی منځ ته راوړي، ځکه پولي عايد يا د پېرودنې منځ ته راغلی قدرت د قېمتونو د پورته وړونکي په ډول د معاونتونو له لارې تأثير کوي.

د عايد په وېش باندې د معاونتونو تأثير: په عمومي ډول د دولت هر ډول مخارج په ملي اقتصاد کې د عايد او شتمنۍ وېش په مثبت ډول تر اغېزې لاندې راولي. ځکه هغه گټې د دولت له مخارجو څخه منفردو اقتصادونو ته رسېږي، هېڅکله د دولت د مخارجو په تمويل کې د منفردو اقتصادونو له سهم سره مساوي او معادل نه دی. پردې اساس هغه کسان چې د دولت په مخارجو کې د دوی تمويلي سهم د هغه د گټې په اندازه چې د دولت له لارې يې ترلاسه کوي زيات وي. په دې صورت کې د دولت د مخارجو په واسطه (د دولت د مجموعي مخارجو د يوې برخې په توگه معاونتونه) تر منفي تأثير لاندې راولي او ددې پرعکس هغه کسان چې د دولت په مخارجو کې د دوی تمويلي سهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه د ګټورتوب د اندازې په پرتله چې د دولت له لارې يې ترلاسه کوي کم وي. په دې صورت کې د دوی عايد او شتمني د معاونتونو له لارې تر مثبت تأثير لاندې راځي.

ځرنګه چې د معاونتونو په واسطه د پېرودنې د قدرت يو انتقال په واقعيت کې د منفردو اقتصادي عاملينو ترمنځ ترسره شوی او دولت د منځګړي په توګه رول لوبوي. نو په دې صورت کې د هغه عايد وېش چې خپله د آزاد بازار له اقتصاد سره سم نتيجه ورکوي. اصلاح شوې ده او په نتيجه کې په اقتصاد کې د عايد مجدد وېش ترسره کېږي. دغه د عايد مجدد وېش په پخوا وختونو کې د دولت د بودجې د سياست يوه فردي وظيفه ښکارېده، په داسې حال کې چې اوس دغه وظيفه د دولت د بودجې د سياست له اساسي اهدافو څخه ګڼل کېږي.

د عايد د مجدد وېش هدف دادی ترڅو د هغه عايد زياتو تفاوتونو ته چې خپله د بازار په اقتصاد کې نتيجه ورکوي، بايد کم شي. ځرنګه چې د عايد په اړه عايد په اسمي او حقيقي عايد باندې وېشل کېږي. پردې اساس ليدل کېږي چې دغه دوه ډوله عايد څه ډول او د کوم ډول تدابيرو په واسطه تر تأثير لاندې راځي. اسمي عايد کېدای شي د مثال په ډول په مترقي عوايدو او پولي انتقالاتو کې د مالياتو په واسطه د معافيتونو له لارې تش لاسو کورنيو ته او حقيقي عايد هم د مصرفي شيانو د ارزانه کولو په غرض د معاونتونو په واسطه يا په وړيا ډول د شيانو او خدماتو په واک کې ورکولو په واسطه د دولت لخوا تغيير شي.

د مجدد وېش تأثير کېدای شي زياتره وخت يوازې فرعي نتايج د دولت د مالي سياست له نورو اهدافو څخه وي مثلاً په مترقي عوايدو کې د مالياتي تعرفو لوړول يا په نوو مترقي عوايدو کې د مالياتو واردول اکثره وخت د دولت لپاره د مالياتي د عوايدو د لوړولو هدف لري، چې ددغه هدف تر څنګ د عايد مجدد وېش د خپلې يوې فرعي نتيجې په توګه رامنځ ته کېږي.

**لنډيز:**

د دولت يا عامه اقتصاد د دندو له جملې څخه يوه هم د عامه اجناسو او خدماتو توليد دی. البته هغه شمېر اجناس او خدمات چې بازار د هغوی په توليد کې لېوالتيا نه لري او يا د نورو دلايلو له وجې د ټولنې د اړتياوو د رفع کولو لپاره دولت د هغوی د توليد مکلفيت په غاړه لري چې د عامه او يا سياسي کاليو په نوم يادېږي لکه ملي دفاع، ملي قضائي نظام او نور، عامه کالي په نړۍ والو، ملي او سيمه ييزو کاليو باندې وېشل شوي دي.

د عامه کاليو اندازه نه يوازې د خلکو د اړتياوو له لارې، بلکې د نورو لارو او طريقو په وسيله هم ټاکل کېږي لکه د خلکو د رايو پر اساس، سياسي تعادل، د رايو د توافع قاعده، د اکثريت رايو قاعده، د کمېټې د رايو پر اساس ټاکنه، د ريفرنډم او نورو په وسيله ټاکل کېږي.

دولتونه د خدماتو د وړاندې کولو په موخه او د ټولنې د احتياجاتو د رفع کولو لپاره د دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤسساتو، ادارو او دولتي اقتصادي تصديو تر څنګ خصوصي سکتور هم رامنځ ته کړی، ترڅو د مختلفو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ترې ګټه پورته کړي.

د ټولنيز سياست تأمينول د عامه اقتصاد د نويو سياستونو او دندو له جملې څخه دي، چې د عامه مصارفو په مرسته دغه ډول تدابير تر لاس لاندې نيول کېږي ترڅو دغه اهداف ترلاسه شي، چې ټوله اجتماع له فقر څخه وساتي او د يوه داسې ژوند د تېرولو زمينه ورته برابره کړي چې له انساني کراماتو سره برابره وي.

سبسايډي ګانې او بلاعوضه مرستې د عامه مصارفو په چوکاټ کې يوه بله وسيله ده، چې د هغه په مرسته دولت د اقتصادي انکشاف په لاره کې د خنډونو د لرې کولو د وسيلې په توګه کار اخلي.

معاونتونه هم د دولت د مصارفو له جملې څخه يوه داسې وسيله ده، چې د مهمو اهدافو لپاره کارول کېږي لکه حمايه، د خودکفايي وسيله، اقتصادي پرمختګ او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. عامه مصارف د موضوع د وسعت له نظره په کومو څانگو د وېش وړتيالري؟
۲. عامه مصارف د ماهيت له نظره په کومو څانگو وېشل شوي دي؟
۳. انتقالي تاديات په څو ډوله دي؟
۴. د عامه کاليو او خدماتو مفهوم څرگند کړئ؟
۵. عامه کالي او خدمات د مصرف کوونکي د پوښښ له مخې په څو ډوله وېش وړتيا لري؟
٦. د عامه کاليو ځانگړتياوې کومې دي؟
۷. د عامه کاليو او خدماتو ټاکنه او د اړتيا د اندازې معلومول د کومو لارو په وسيله ترسره کېږي؟
۸. سياسي تعادل کوم مفهوم ارايه کوي؟
۹. د عامه تصديو د ايجاد اصلي انگېزې کومې دي؟
۱۰. د ټولنيز سياست مفهوم څرگند کړئ.
۱۱. له ټولنيز سياست څخه پرته کومې ستونزې رامنځ ته کېدای شي؟
۱۲. د سبسايډيو په موجوديت کې دولت له کومو ضعيفو نقطو سره په اقتصاد کې جگړه کولای شي؟
۱۳. د ټولنيزو سياستونو عمده اهداف کوم دي؟
۱۴. د سبسايډيو د ورکړې اصلي ساحې کومې کېدای شي؟
۱۵ – د معاونتونو ماهيتي علايم کوم دي؟
۱٦. د معاونتونو مهم اهداف کوم دي؟
۱۷. د مالي او پولي اقتصاد له نظره د معاونتونو تأثيرات توضيح کړئ.

**مأخذونه:**


۱. ايسينگ، اتمار. (۱۳۷۴ ). تاريخ انديشه ها و عقايد اقتصادی. ترجمه صمدی، هادی مؤسسه تحقيقات اقتصادی دانشگاه تربيت مدرس، تهران.
۲. پور مقيم، سيد جواد. (۱۳۸٦) اقتصاد بخش عمومی. نشر نی، تهران.
۳. پژويان، جمشيد. (۱۳۸۳) اقتصاد بخش عمومی، نشر جنگل، تهران.
۴. پژويان، جمشيد. (۱۳۸٦) اقتصاد بخش عمومی، انتشارات جنگل، تهران.
۵. توکلی، احمد. (۱۳۸۰) بازار، دولت. شرکت چاپ و نشر ليلی، تهران.
٦. رولف، هاسه، هيرمن شنايدر. (۱۳۸٦) فرهنگ اقتصاد بازار با اصول اجتماع. ترجمه دوکتور حميدالله نورعباد- دوکتور بهبود، کابل.
۷. سويل، توماس. ( ۱۳۸۲) اصول اساسی علم اقتصاد. ترجمه محمد حسين وقار، انتشارات اطلاعات تهران، تهران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. صمیمی، جعفری. (۱۳۸۵ ) اقتصاد بخش عمومی. چاپ مهر (قم)، تهران.
۹. فولکرس، کی. ( ۱۳۸۵) اقتصاد عامه. ترجمه داکتر اشرف زی و داکتر سمیع نور، مؤسسه همکاری های اکادمیکی آلمان، کابل.
۱۰. وزارت مالیه. (۱۳۸٦) ریاست بودجه. بودجه ملي سال ۱۳۸٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## بودجه او د دولت منابعو او مخارجو جوړښت

کوم وخت چې دولت وغواړي د خپلو قانوني وظایفو د ترسره کولو هوډ وکړي د اقداماتو او عملیاتو لویه او پېچلې ټولګه باید ترسره کړي. د دولت د منابعو محدودیت او د هغې د مصارفو پراخوالی او هم د خلکو د کړو وړو نظارت او ارزونه دولت اړ باسي ترڅو هدف ته د رسېدو لپاره پروګرام جوړ کړي او دا څرګنده کړي چې په ټاکلو او محدودو دورو کې څه ډول وسایل او خدمات، په څه اندازه، د چا لپاره او یا کوم لومړیتوبونه باید تولید او وړاندې کړي او د هغې مالي منابع څه ډول او په څه اندازه لاسته راوړي، چې دغه پروسه د دولت د بودجې د ډلبندۍ په نامه یادېږي.

بودجه د دولت حیاتي شاهرګ2 دی، ځکه چې دولت خپل ټول فعالیتونه د عوایدو او مخارجو د ورکړې په ګډون د ګڼ شمېر پروګرامونو د ترسره کولو لپاره د بودجې د قانون په چوکاټ کې ترسره کوي. پردې سربېره بودجه د دولت د ټولو پلانونو او فعالیتونو هینداره ده او په ملي انکشاف کې مهم او حیاتي رول لري. د ټولنې په مختلفو اقتصادي او اجتماعي برخو کې هر ډول پرمختګ د بودجې په چوکاټ کې دی او ددې پرعکس هر ډول په شاتګ او وروسته پاتې والی چې په مختلفو ډګرونو لکه اقتصادي، ټولنیز او سیاسي کې راځي. همدارنګه کولای شو د بودجې د ډلبندۍ په کموالي او نواقصو پورې وتړو.

دولتي بودجه د مالي اقتصاد د وسایلو په توګه د دولتي فعالیتونو په پراختیا سره د ژوند په ټولو ډګرونو کې د دولتي سازمانونو په لوبدو او پېچلتیا سره د پلان جوړونې او د مدیریت د روشونو په پرمختګ او د نن ورځې د اطلاعاتي تکنالوژۍ په راڅرګندېدو سره د ډلبندۍ نظام د پروګرامونو یو پېچلی سیستم دی او بودجه په سیاسي او اقتصادي رول سربېره یو حساس او مهم رول چې د پروګرام جوړونې دی. هم په غاړه لري او د اوسنۍ بودجې د سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او د ټولنې فرهنګي پروګرامونو د ډولونو منعکس کوونکي حسابېږي.

ددې څپرکي په پیل کې مفهوم او حقیقت، وظایف او د بودجې اهمیت تر بحث لاندې ونیول شول او د بودجې د ډلبندۍ د حقیقت او اهدافو په هکله په ځانګړي ډول د مصارفو د ډلبندۍ په هکله یا د دولت د عایداتي منابعو او د عوایدو تصنیف په لنډ ډول کتل کېږي. په پای کې یاد موضوعات، د موضوع لنډیز، تمریني پوښتنې او مأخذ په پام کې نیول شوي دي.

### ۱- د بودجې مفهوم، دندې او اهمیت:

---

2- د وینې مهم رګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الف- د بودجې مفهوم او حقیقت:**

د بودجې د مفهوم د و ضاحت لپاره ګڼ شمېر تعریفونه او توضېحات څرګند شوي دي، چې د ځينو په يادولو سره دلته بسنه کوو. د ۱۳۵۳ لمريز کال مقرراتو د افغانستان بودجه داسې تعریف کړې ده:

(بودجه د دولت يو قانوني سند دی چې په هغه کې ټول عوايد او مصارف د ټاکلي وخت (معمولاً يو کال) لپاره ټاکل کېږي او په اقتصادي، دفاعي، کلتوري، اجتماعي او سياسي ساحو کې د ټولو فعاليتونو او انکشافاتو منعکس کوونکی وي). (۴۰:۵)

د آلمان هېواد يو اقتصادپوه (لووين شتاين) ليکي؛ (بودجه د حکومت د سياست د مالي اقتصاد څرګندوی ده. د اجرائيه قوې يوهه مهمه تشکلاتي وسيله ده، چې مالي اساسات يې د هغې د تعميل اساسي کرښې څرګندوي). (۱۱۴:۸)

يو بل آلمانی چې Frist Neumark نومېږي بودجه يې داسې تعريف کړې ده: (بودجه د يوې منظمې طرحې او د پلان شويو مصارفو په مقابل کې د پېشبيني شويو عوايدو ټاکل ددغو مصارفو د برابرېدو لپاره په يوه ټاکلې راتلونکې دوره کې قرار ورکول دي، چې د پرانسيپ له نظره د تطبيق د مکلفيت لرونکې ده). (۳۵:۱) دولتي بودجه د ټولو هغو پېشبيني شويو مصارفو مجموعه ده چې په يو کال کې د ټاکل شويو اهدافو د پوره کولو په موخه د دولت لخوا تعينېږي. (۵:۹)

بودجه په اقتصادي مفهوم د دولت او نورو اړوند ارګانونو يا سهمدارنو، چې ټولنيز توليد وېش او مجدد پلان شوی وېش ترسره کوي، ترمنځ د پولي روابطو ممثله ده؟ د اجتماعي محصول ارزښت ټاکي. د مرکزي ذخيرو د ايجاد او له پولي وسايلو څخه د استفادې له لارې ټاکل شويو اهدافو ته ځان رسوي. (۳۰:۳)

په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په ۱۲۹۸ لمريز کال بودجه په کلني ډول ترتيب شوه او لومړی ځل په ۱۳۰۱ لمريز کال کې د بودجې په ترتيب او موجوديت سره اساسي قانون په قانوني توګه غوره کړ. (۱۵:۲)

**ب- د بودجې دندې:**

د بودجې ماهيت او اهميت د بودجې له دندو څخه په ښه ډول ښکاري، چې د دولتي بودجې مهمې دندې د ملي عايد مجدد وېش، د دولت په اقتصادي او سياسي توليد او وده کې مداخله او داسې نور چې په لاندې ډول دي:

۱- **د ملي عايد د مجدد وېش دنده:** د دولت ټول فعاليتونه لکه سياسي، اجتماعي، اقتصادي او داسې نور د مجدد عايد له وېش سره ټينګې اړيکې لري. د دولتي دندو په پراختيا او د دولت په رول سره د ملي عايد د مجدد وېش حجم او دولتي فعاليتونه پياوړي کېږي. د ملي عايدمجدد وېش له اجتماعي منابعو سره قوي اړيکې لري او د مهم اقتصادي او ټولنيز مفهوم لرونکی دی. له بودجوي سيستم څخه په استفادې، دولت کولای شي په ټولنه او همدارنګه په توليد او د ملي عوايدو په وېش

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مهم اساسي تغييرات لاس ته راوړي.

**۲- په توليد او اقتصادي وده کې د مداخلې دنده:** په اوږد مهال کې د ملي عايد او د ناخالص ملي توليد زياتوالی اقتصادي پراختيا ده. اقتصادي وده يوه اوږد مهاله پروسه ده، چې د پوره او ثابتو ظرفيتونو په مرسته پر مخ وړل کېږي. په نوموړې اوږد مهاله پروسه کې د توليد زياتوالي ته لارښوونه کوي. ملي عايد د يو هېواد د اقتصادي ودې لپاره معيار ټاکل شوی، يعنې هغه هېوادونه چې ملي عوايد يې ډېر وي اقتصادي پراختيا لرونکي هېوادونه ګڼل کېږي، چې سرچينه يې کمزوري اقتصاد لرونکي هېوادونه دي.

د بودجې د تمويل په مرسته د توليد د عواملو په کميت او کيفيت کې ښه والی راوستل، په يوه هېواد کې د اقتصادي ودې سبب ګرځي. ځکه د توليد د عواملو په کميت او کيفيت کې ښه والی راوستل د ملي اقتصاد د پياوړتيا او د اجتماعي محصول د ډېرېدو سبب ګرځي. د اقتصادي ودې مهم عوامل د کار او توليد د قوې په کار اچول، پانګونه او تخنيکي پرمختګ دي.

د ټولنې د اقتصادي پرمختګ په برخه کې اوس بودجه په پراخه پيمانه د ژوند په مختلفو اړخونو کې د ګټې اخيستنې وړ ده. د بېلګې په توګه د پانګونې په مرسته اقتصادي وده په مهمو توليدي سکتورنو کې پراختيا، په رهبرۍ او نورو ډېرو اړوندو سکتورونو کې پرمختګ هغه څه دي چې د بودجې او پانګې په مرسته منځ ته راځي.

دولت د مالي چارو د تنظيم، د دولتي مصارفو او کريډيټونو له لارې په پانګونه کې مداخله کوي. همدارنګه د مالي او بودجوي وسايلو او مدارکو په مرسته دولت په مختلفو اقتصادي سکتورنو کې لويې پانګونې ته زمينه برابروي.

**۳- د دولتي بودجې ټولنيزه دنده:** لکه څرنګه چې د نړۍ علمي او تخنيکي انقلاب د انساني ارتقاء د لوړوالي سبب شوی دی او نړۍ يې د خپل قدرت لوړو پولو ته رسولې. د نړۍ د ودې اوسنۍ درجه د هېوادونو د منظمې همغږۍ او ښو مناسباتو په پام کې نيولو سره له انسان سره د مجدد عمل کولو لاره پرانېزي. د کار پرمختګ او لوړېدل د توليداتو تابع دي. ټول وګړي په دې خبرې سره همنظره دي ترڅو د مالي وسايلو حجم د دولتي بودجې له انکشاف څخه ترلاسه کړي او د ټولنې د پراختيا سبب شي.

د بودجې او نورو مالي وسايلو په واسطه د دولت ټولنيز سياستونه تطبيقېږي. په ټولنيزو چارو کې دولتي مداخله او همدارنګه په دغو چارو لکه ښوونه او روزنه، عامې روغتيا او ټولنيز أمن کې د دولت رول څرګندوي.

**ج- د بودجې اهميت:**

دولتي بودجه د حجم او لويوالي له پلوه مهم مالي سند او د اهميت له پلوه مهم او جلا عامل دی، چې ملي اقتصاد پرې ولاړ دی او د ټولنيز او اقتصادي پرمختګ او ادارې په برخه کې ترې کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه سند د نسبتي اندازې، حجم، د عايد لازم ترکيب او مجموعي مخارجو له پلوه ډېر اهميت لري. د احاطه کولو له پلوه هم د پراخ پوښښ، لرې پرتو سيمو، د ټولنې تر ټيټ رتبه خلکو پوري احاطه کېږي او په دې ترتيب د عايد د منابعو تأمين، د عايد اندازه، ځای او مخارجو او د ځايونو ترمنځ فاصله هم په کلنۍ بودجه او د هېواد په اقتصاد باندې ډېر تأثير کوي. د رواجي پيسو ارزښت په هېواد کې د بودجې د کلني کسر او انفلاسيوني روشونه چې د بودجې د کسر د تأمين په خاطر ترسره کېږي ښکته کېږي. (۶:۳۴)

د دولتي بودجې په واسطه کولای شو د ملي سپما، ملي پانګونې، رښتينو توليداتو، د خدماتو او وسايلو مصرف، د پيسو ورکړه، د رواجي پيسو د اخيستلو قدرت او د پيسو ارزښت له هېواده بهر دا ټول عوامل د اقتصاد متحولين تر تأثير لاندې راولي. د بېلګې په توګه د بانکي پانګو د حجم په زياتېدو يا درېدو سره يا هم د وېش د فيصدۍ د نرخ ټاکلو يا هم د دولتي او خصوصي نشرولو په واسطه دولت کولای شي پانګوال او جوړونکي اشخاص تشويق او وهڅوي. همدغه دوه لارې د خلکو د عايد په سطحه باندې تأثير کوونکي بريښي او يا هم د نويو مالياتو وضع کولو او د هغوی بېرته ترلاسه کول له هر دولتي واحد څخه او بيا بېرته د هغوی مصرف د خلکو له غوښتنو سره سم او يا هم مضر توکي لکه سګرېټ، قېمتي او لوکس وسايل او غير ضروري توکي لکه د سرو زرو او جواهراتو ترلاسه کول او يا داچې د مترقي مالياتو اخيستل له زيات عايد لرونکو خلکو څخه او د هغوی انتقال هغو خلکو ته چې کم عايد لري او يا زيانمن وي، ټولنه په تعادل کې ساتي. په دې مناسبت بايد د دولت بودجې ته د يوې قوي وسيلې په ډول وکتل شي  څکه هغه د هېواد په ټولو چارو کې د يو قوي او تأثير لرونکې وسيلې په توګه کارول کېږي، يعنې دا ډول بودجه کولای شي د ټولنې ستونزې، بې عدالتي او هر ډول اقتصادي ستونزې لرې کړي، خو  که له بودجې څخه سمه ګټه پورته نه شي او يا په دقت سره برابره او تنظيم نه شي او يا هم دايمي کسر ولري او دغه کسر په آساني سره له بانکي، دولتي او عمومي بودجې څخه لرې نه شي او يا هم له اندازې نه زيات مصارف (غير ضروري مصارف) د خلکو په حالت او د هېواد په اقتصاد باندې منفي تأثير کوي او هغه له کمبود سره مخ کوي.

لکه څرنګه چې يادونه مو وکړه د دولت د مداخلې يو هدف دادی چې د ټول هېواد  اقتصاد د تعادل په حالت کې وساتي او همدارنګه کامل استخدام هم رامنځ ته کړي. د مالي سياست د يوې وسيلې په ډول بودجه  ددې هدف د ترلاسه کولو لپاره ښکاره ده.

په هر ډول اقتصاد کې چې د دولت رول زيات وي نو د هېواد په ټولو برخو کې هم تعادل ساتل کېدای شي او هم د اقتصادي حالت د ښه کېدو لپاره لاره هوارېږي.

د افغانستان په اقتصاد باندې چې د ناخالصو توليداتو په کمې فيصدۍ ولاړ دی، بيا هم د بودجې او د بودجې د تصنيف تر تأثير لاندې دی او د اقتصادي ثبات ساتنه ترې محسوسېږي. د مثال په توګه د دولت د مخارجو په زياتېدو او د نرخ په کمولو سره هڅه کوي زياتې پيسې له خلکو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوسي. د دولت ددې ډول انبساطي سياست په نتيجه کې د تقاضاوو او عوايدو په زياتېدو سره دولت ته هم ګټه رسېږي. دغه ډول کړنې د خلکو د کار موندنې لپاره غوره دي او د پيسو په تعادل او د متحولينو په بودجه هم ښه أثر کوي. ددغه أثر په نتيجه کې لاندې توکي ټول له افغاني مصرف سره تړاو پيداکوي، چې له هغې جملې څخه سپما، پانګونه، د بودجې تصنيف او نور يادولی شو. نو پردې اساس ويلی شو چې د بودجې تصنيف يو خطري کال دی، چې بايد د ټول اقتصاد د تعادل او معلومو اهدافو په پام کې نيولو سره تصنيف وشي.

لاندې ټکي د دولت د بودجې اهميت ښکاره کوي:

١. بودجه د منابعو د ځانګړي محدوديت امکان د لومړيتوبونو پر اساس له نوي ترتيب سره زياتوي.

٢. بودجه بايد ټول پروګرامونه په پام کې ولري او د سياسي، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي پروګرامونو ترمنځ همغږي ولري.

٣. په ديموکراس نظام کې د دولت په بودجه باندې د خلکو له خوا نسبتاً ټينګ نظارت ترسره کېږي. د بودجې رقمونه موږ ته دا راښيي چې دولت څومره خپلو ژمنو ته پابند دی.

۴. بودجه بندي له سياست بندۍ سره نږدې ده، يعنې د وېش څرنګوالی د منابعو له تخصيص سره نږدې والی لري.

۵. هر څومره چې د دولت مشروعيت د خلکو پر وړاندې ښه کېږي او د کارونو په غوره کولو کې يا د مصارفو په تعين سره پکې زياتوالی راځي، نو د دولت حق هم د مالياتو په پېژندلو کې آسانه کېږي او په نتيجه کې بودجه او ټولنيز تفاهم هم ورسره ښه او زياتېږي.

٦. په بودجه کې سياست ګذاري په عمومي ډول ښکاره ده. هر کله چې ژمنې په عمل بدلې نه شي نو پروګرامونه داسې پر مخ نه ځي لکه څرنګه چې يې غوښتنه شوې وي.

٧. د دولت واک او اختيار د بودجې په ټاکنې او اجراء پوري اړه لري. پانګوال د بودجې په مرسته پرېکړه کوي ترڅو خپل پروګرامونه پر مخ بوځي او کوم ډول کسان په دغو پروګرامونو کې برخمن کړي او په دې ډول پروګرامونو کې د پيسو ملاتړ تر کومه حده ترسره کېدای شي.

٨. د بودجې د پروګرامونو تنظيم او ترتيب بايد له اصولو سره سم وي، ترڅو لږ تر لږه نظري اړخ هم د اطمينان وړ شي. د کار دغه ډول اصول د بودجې په ټولو برخو (ترتيب، تصويب، اجراء او کنترول) کې بايد معلوم شي. دغه اصول په ترتيب سره په لاندې ډول دي:

د بودجې کلنی اصل، د بودجې د وحدت اصل، د بودجې د ټولنيز کېدو اصل، د بودجې د تفصيل اصل، د بودجې د ځانګړيتوب او انعطاف پزيري اصل، د عايد د لاس ته راوړلو اصل، د مخارجو د محدوديت اصل او د بودجې د تعادل اصل.

**٢- بودجه، مديريت او همغږي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الف- بودجه او مدیریت:**

مدیریت له کار څخه د استفادې ښه والی او مؤثرتوب دی او له مادي منابعو څخه د ګټې اخیستنې او د انساني اهدافو ښه ترلاسه کول دي. (۱۷۷:٦) له مادي منابعو څخه د ښې ګټې اخیستنې بحث د صنعتي مدیریت موضوع جوړوي. له انساني منابعو څخه سمه ګټه اخیستنه د مدیریت له پراخو مطالعو څخه شمېرل کېږي. مګر له مادي منابعو څخه سمه او متوقعه ګټه بیا د مالي مدیریت موضوع جوړوي. له بودجې څخه هدف ترلاسه کول شاید له مالي مؤسسو څخه ترلاسه شي. نو په دې سره ویلی شو دولتي بودجه له دولتي مدیریت سره تړاو لري. د مدیر دندې په دې ډول دي:

پروګرام ترتیبول، پلان جوړونه، همغږي او لارښوونه، خو له دې ټولو سره سره د مدیر لومړنۍ دنده داده چې داسې پروګرام ترتیب کړي، چې په هغه کې مؤثر اهداف او خط السیر معلوم وي او همدارنګه د فعالیت وخت او دوره هم ترې روښانه وي. اصلاً بودجه هغه وسیله ده چې له هغه څخه د پرواګرام مدیریت په کمي شکل تر څېړنې لاندې نیول کېږي. نو ویلی شو چې بودجه د فعالیتونو او کارونو پر تنظیم، د کارونو په اجراء، د مصارفو په وېش او د مؤسساتو په اهدافو کې رغنده رول لوبوي. نو ځکه د بودجې ښه وېش او ښه کنترول د هېواد د اقتصاد په پرمختګ او ټولنیزه پراختیا کې د پام وړ او مهمې اغېزې لري.

**ب- بودجه او همغږي:**

د بودجې له همغږۍ څخه موخه د دولتي ادارو د موخو او فعالیتونو یوستوی کول دي ترڅو اساسي اهداف ترلاسه شي. ډېری هغه سازمانونه چې ډېره بودجه ولري خو د بودجې په وېش او فعالیت کې یې همغږي وجود ونه لري د ناکامۍ په لور روان دي. خو هغه سازمانونه چې ښه مدیریت او همغږي ولري په لږې بودجې سره کولای شي چې لوی اهداف ترلاسه کړي. نو بودجه په ټیټه سطحه کې د اجرئیوي دستګاوو او په لویه سطحه د دولت فعالیتونه همغږي کوي او ټاکل شویو اهدافو ته ځان رسوي. څرنګه چې بودجه د دولت ټول فعالیتونه تنظیموي نو د مصارفو ارزیابي باید په مختلفو وختونو کې ترسره شي ترڅو د سازمان داخلي فعالیتونه او د دولت فعالیتونه له یو بل سره همغږي شي.

**۳- په بودجه کې د تصنیف ماهیت او اهداف:**

**الف- په بودجه کې د تصنیف ماهیت:**

بودجه د ګټې مختلف موارد لري. کولای شو چې بودجه د پروګرام جوړولو د یوې وسیلې د کنترول عامل او یاهم د دولتي دستګاوو په منځ کې د ارتباطي وسیلې په توګه وکاروو. په کلي توګه د دولت لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه د بودجې په سند کې د دولت له خوا اعلانېږي. د اطلاعاتي اړتیاوو د رفع کولو په موخه د پورته هریو استعمال په صورت کې د لاس ته راغلې پانګې او مصارفو وړاندوینه روښانه کوي. د مخارجو او عوایدو تصنیف د پانګې د تجزیې او تحلیل لپاره زمینه برابروي او په مجموعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول د بودجې تصنیف د اطلاعاتو پر اساس د بودجې سند روښانه کوي. ( ٦ :٥٣ )

**ب- په بودجه کې تصنیف موخې:**

په بودجه کې تصنیف د لاندې موخو لپاره ترسره کېږي. (۱۰:۳۱۳)

۱- د **پروګرام جوړولو، تصمیم نیولو او سیاستونو د آسانتیاوو لپاره:** په بودجه کې تصنیف باید په داسې ډول ترسره شي، چې د پروګرامونو په تصمیم نیونه کې آسانتیا راولي او په بودجه کې پېشنهاد شوي تغییرات باید واضح شي. همدارنګه د لاس ته راغلې پانګې، مصارفو، سازمانونو، پروګرامونو او مختلفو دولتي او ټولنیزو عملیاتو ترمنځ توپیر روښان کړي ترڅو پروګرام جوړول آسانه او دولت په آسانۍ سره خپلو اهدافو ته ورسېږي.

**۲- د منابعو غوښتل شوی تخصیص او د ښېرته ورکړې زیاتوالی:** دبودجې وېش د کارونو او فعالیتونو په پام کې نیولو سره د عملیاتو حجم د وړاندوینې په مرسته معلوموي او وروسته د ټاکل شویو اهدافو د تحقق لپاره لازمه اندازه معلوموي. د خبرتیا پر ایجاد نورې دندې او فعالیتونو د اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره همغږي کوي او د دولتي دستګاوو د فعالیتونو له بې نظمۍ څخه مخنیوی کوي. هر فعالیت مربوطه منابع ټاکي ترڅو منابع په سمه توګه مصرف شي. د نویو منابعو د ایجادولو لپاره هم خپلې هڅې جاري وساتي د ټولو اړوند فعالیتونو په همغږۍ باندې ټینګار هم کوي.

۳- **له بودجې څخه د ترلاسه شوي محصول تحلیل او تجزیه:** لکه څرنګه چې دولت د مصارفو یوه زیاته برخه د ځان لپاره اختصاص کړې. نو بناء دولتي عملیات او فعالیتونه د هېواد پر اقتصاد رغنده رول لري. د بودجې د وېش په مرسته کولای شو اقتصادي أثرات او همدارنګه دولتي فعالیتونه او کارونه تحلیل او تجزیه کړو. مجموعي لاس ته راغلي محصولات (پانګه)، مصارف، بوختیا، د دندې موندنه او د پانګې وېش د پانګې په تشکیل مهمې او د پام وړ اغیزې لري، چې د بودجې د وېش اهمیت ترې له ورایه معلومېږي.

۴- **په بودجه کې د کنترول او نظارت آسانتیاوې:** په ټولو هغو هېوادونو کې چې له پارلماني حکومت څخه برخمن دي د وګړو اصلي ځارنه د لاس ته راغلو محصولاتو او بېرته رسېدلو مصارفو څخه د منل کېدو وړ او قناعت بخشه دي.

د بودجې تصنیف د دولت د هر واحد او هرې اداري مسئولیت او اختیارات روښانه کوي او په ګڼو فعالیتونو کې د نظارت او کنترول لازم میکانېزم مهیا کوي.

۵- **د لاس ته راغلي محصول او مخارجو ترمنځ د مقایسې زمینه برابرول:** د تصنیف په مرسته کولای شو چې لاس ته راغلي څه له مخارجو سره پرتله کړو او د کمبود، سپما او تعادل حالت معلوم کړو. هغه بودجه چې دولت یې تنظیموي د ستراتیژیکو سیاستونو، پروګرامونو او د هېواد د ټولنیزو عملیاتو ښودونکې ده او باید په داسې شکل وجود ولري چې د لاس ته راغلي محصول او د مخارجو ترمنځ همېش یو معقول حالت وجود ولري. نو د نوموړو دواړو اساسي عواملو خصوصیات باید څرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او د دوی په منځ کې پرتله کېدونکي وي.

٦- **د مدیریت بهبود:** د مدیرانو کار موندنه کېدای شي د پروګرامونو له اعلان څخه وروسته څرګنده شي او د یوه سازمان اهدافو ته د رسېدو یوه لاره روښانه شي. څرنګه چې مجموعي بودجه د یو هېواد له اساسي پروګرامونو څخه شمېرل کېږي او د بودجې له تصنیف څخه په استفادې د دولت اجرئیوي دستګاوې، اهداف، لاس ته راغلي محصولات (پانګه)، مصارف، پروګرامونه او عملیاتو پېژندل کېږي. نو کولای شو د اجرائیوي دستګاوو کارونه او مدیریت ارزیابي کړو.

اجرائیوي مدیران د هغو امکاناتو په مرسته چې په واک کې یې لري او د هغو اطلاعاتو په مرسته چې له ځان سره یې لري کولای شو خپلې دندې، اختیارات او مسئولیتونه وټاکو ترڅو یو کامیابه مدیریت ولرو او خپل ټاکل شوي اهداف ترلاسه کړو.

**۴- د دولت په بودجه کې د مخارجو تصنیف:**

د مخارجو تصنیف د دولتونو د پخوانیو تصانیفو څخه په بودجه کې شمېرل کېږي. د مخارجو په تصنیف کې د ښه نظارت او مدیریت لپاره زمینه برابروي او له زیاتو مخارجو څخه مخنیوی کوي.

د مخارجو تصنیف په ساده ډول د دولت په عملیاتو سره د خدماتو او وسایلو کوم چې اخیستي یې وي ښه تشریح او بیانولی شي. پردې اساس په دې ډول تصنیف ډېر تأکید د حسابدارۍ او د دولت په اداري چارو باندې ترسره کېږي. مګر د پرمختګ په اندازه کولو او د دولت د عملیاتو په څرنګوالي کې مرسته نه کوي.

**الف: د مخارجو د تصنیف اهداف:**

١- **د بودجې تفکیک او د محاسبې مسئولیت:** د مخارجو تصنیف په هره اداره کې د حسابدارۍ د کار اساس جوړوي او د نوموړو مخارجو په مرسته په دولتي دستګاوو کې د موادو مصرف محدود او کنترولوي او یا په بله وینا د مخارجو د تصنیف په عملي کېدو سره په بودجه کې محدودې اجرائیوي دستګاوې د خپلو اجرائیوي کارونو په ترسره کولو سره د تصویب شویو اعتباراتو په احاطه کې هر هغه مصرف ترسره کېږي، چې د هغه لپاره هماغه بودجه ځانګړې شوې. نو په دې تر تیب مخارج په ښه شکل سره کنترولېږي.

٢- د **برآورد او مدیریت په میتودونو کې پرمختګ او بهبود:** د لازمو پلانونو او فعالیتونو لپاره د برآورد د محاسبې ضرورت هم ګڼل کېږي. د مخارجو تصنیف د یوې ادارې له مدیریت سره د پرسونل د معاشونو په مخارجو، د مصرفي موادو د مخارجو او نورو اړوندو مخارجو په ټاکلو او وېش کې مرسته کوي او همدارنګه مدیر ته د وسایلو د استهلاکي مصرف اندازه روښانه کوي او پردې سربېره له دولت سره د مخارجو په تحلیل او تجزیه کې مرسته کوي.

**٣- د هېواد پر اقتصاد د دولت د مخارجو د تجزیې او تحلیل د امکاناتو د برابرولو اغېزې:** د نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې په اقتصاد کې د دولت رول ددې سبب شوی چې د خاصو مخارجو په ترسره کولو او پراختیا سره ټولنیزه پراختیا تأمین کړي او د وګړو په ژوند کې ښه والی راولي د بېلګې په توګه په بازار او اقتصادي رونق باندې د پانګه ییزو مخارجو کموالی ښه اغېزه لري او له دې څخه د مخارجو د تصنیف اهمیت له ورایه څرګندېږي او په تصمیم نیونه کې مرسته کوي.

۴- **د مخارجو تفکیک:** د مخارجو تفکیک او وېش له یوې خوا په برآورد کې آسانتیا راولي او له بلې خوا د حسابونو په اداره او تنظیم کې له موږ سره مرسته کوي ترڅو حسابونه مو پاک او صفا وي او همدارنګه مخارج مو کم او کنترول کړي.

۵- **د کالیو او خدماتو ترمنځ توپیر:** په بودجه کې د خدماتو او کالیو د ونډې اخیستنې د توپیر په موخه باید د مخارجو په تصنیف کې د خدماتو پېرودنه د کالیو له پېرودنې نه جلا وي چې نوموړی کار د مخارجو د تصنیف په مرسته ترسره کېږي.

٦- **له پانګه ییزو مخارجو سره د جاري مخارجو توپیر:** د مخارجو تصنیف باید داسې ترسره شي، چې جاري مخارج له پانګه ییزو مخارجو څخه بېل شي. د مثال په توګه د یوې ودانۍ منځ ته راوړل او اخیستل د ودانۍ له اجاروي او کرایوي مخارجو او پانګه ییزو مخارجو سره په ټولو جاري مخارجو کې حسابېږي.

۷- **جزئیاتو ته پام کول:** د ټولو مخارجو له تصنیف او د هغې له وېش څخه وروسته چې په وړو طبقو ووېشل شي، امکان لري د هغې یو ټاکلی ډول هم په څو وړو ګروپونو ووېشو.

۸- **له حسابي او مالي قوانینو سره انطباق:** د مخارجو تصنیف باید په عمل کې له محاسبوي، مالي او حسابي له قوانینو سره د تطبیق وړ وي او د مخارجو د هر یوه حساب ساتنه آسانوي.

**ب- د مخارجو د تصنیف ډولونه او بنې:**

۱. د مصرفي موادو پر اساس تصنیف (پخوانۍ او زړه لاره).

۲. له سازماني واحدونو سره سم یا سازماني تصنیف.

۳. عملیاتي تصنیف.

۴. اقتصادي تصنیف (نوې لاره). (۳۲۲:۱۰)

۱- **د مصرفي موادو پر اساس تصنیف:** دغه ډول تصنیف د هېوادونو په بودجه کې د مخارجو په تصنیف کې پخوانۍ طریقه او لاره ده، چې د مخارجو په ګڼ شمېر څپرکو او متفاوتو موادو وېشل کېږي. په دې ډول تصنیف کې مشابه مخارج د یوه پروګرام په داخل کې بېلېږي او د اړوند څپرکي په سر کې ځای ورکول کېږي مثلاً د دولت د مخارجو بېلول له جاري او پانګه ییزو مخارجو سره چې په عمده ډول په څلورو څپرکو کې تصنیف یې ترسره کېږي لکه لومړی څپرکی- د پرسونل مخارج. دوهم څپرکی اداري مخارج. درېیم څپرکی- پانګه ییز مخارج، څلورم څپرکی- انتقالي مخارج.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- **د سازماني واحدونو پر اساس تصنیف:** په دې ډول تصنیف کې مخارج د هغو دولتي سازمانونو پر اساس چې وړاندیز کوونکي او اجراء کوونکي د تصویب شویو پروګرامونو وي، پېشبني کېږي. معمولاً په هر هېواد کې د دولت اصلي عملیات او وظایف د فرعي عملیاتو او وظایفو په صورت ګروپ بندي شوي او د هغې د ترسره کولو مسئولیت یو یا څو دولتي سازمانونه ترسره کوي. پردې سربېره د دولت ټولو مقاصدو او اهدافو ته رسېدل د سازمانونو د اهدافو او مقاصدو د رسېدو په واسطه تحقیق مومي. (٦٨:٦)

مالي کنترول او سم مالي مدیریت د سازماني واحدونو پر اساس د مخارجو له تصنیف سره لازم او تړلی دی. ځکه چې دولتي دستګاوې معمولاً وظیفې، اختیارات او د مسئولیتونو اصلي کرښې ټاکي. ددې تصنیف اصلي تفاوت له عملیاتي تصنیف سره په دې کې دی چې د هر سازماني واحد مسئولیت همېش ثابت او مشخص وي په داسې حال کې چې امکان لري یوه تصویب شوې وظیفه او پروګرام د څو دولتي سازمانونو په واسطه ترسره شي.

د دولتي سازمانونو د اعتباراتو د وړاندوینې د لزوم له علتونو څخه یو بل علت د دولت په بودجه کې دادی چې یاد سازمانونه د تعهداتو د منځ ته راتګ واحدونه او د پیسو د ورکړې انجام د تصویب شویو اعتباراتو په چوکاټ کې او په کلي ډول د بودجې اجرائیوي واحدونه حسابېږي. پردې سربېره لازمه ده هر یو له اعتباراتو نه د دولت په بودجه کې پېشبیني شي ترڅو د واقعي مسئولیت د میزان ټاکل او د ترسره شویو عملیاتو مقایسه له تصویب شویو وظایفو او اهدافو سره امکان ولري.

دا ډول تصنیف یا د بودجې تنظیم د ادارې یا مؤسساتي تنظیم په نوم هم یادېږي. له دې ډول تصنیف سره سم بودجه په وزارتونو وېشل کېږي. هر وزارت او یا مؤسسه د یوې ځانګړې بودجې لرونکی دی چې په هغه کې د هر وزارت د وظایفو ساحه منعکس کېږي. د افغانستان بودجه په همدې شکل تنظیم او تصنیف کېږي.

**۳- عملیاتي تصنیف:** په دې تصنیف کې د دولت او سازمانونو مخارج او اعتبارات د هغه اصلي اهدافو او مقاصدو ته په پاملرنې سره د وظایفو، پروګرامونو، طرحو او مختلفو فعالیتونو په صورت کې پېشبیني کېږي او د مخارجو د ترسره کولو وروستی حاصل، اصلي هدف او موخه بې له دې چې د مخارجو ډول او حقیقت ته پاملرنه وشي په پام کې نیول کېږي. له دې تصنیف نه په ګټه اخیستلو سره چې له عملیاتي او پروګرامي بودجې له پیدایښت څخه وروسته دود شوې ده دولت یا دولتي سازمان دا څرګندوي چې کوم عملیات په څه اندازه اعتبارات باید د خپلو تصویب شویو اهدافو او وظایفو لپاره ترسره کړي.

په کلي ډول ویلی شو چې د پروګرام شوې بودجې په روش کې  د محاسباتي مسئولیتونو له نظره د مخارجو تصنیف، د مخارجو برآورد، د دولت د مخارجو د تحلیل أثر، تجزیه او د مدیریت د لارو د بهبود او پرمختګ، د هېواد پر اقتصاد لازم او ګټور دی. په  هغه تصنیف کې چې تر بحث لاندې ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروګرامونه، فعالیتونه او متجانس عملیات چې په دولت او یا د دولت په سازمان پورې اړه لري او د مشابه کمي او کیفي (څومره والي او څرنګوالي) اهدافو او مقاصدو لرونکي دي. په هر یو ګروپ او کلي طبقو کې پېشبیني کېږي ترڅو دولت او قانون جوړونکې ادارې وکولای شي د لازمو اعتباراتو د میزان په هکله د مختلفو مخارجو لپاره د پروګرامونو د نه د ترسره کولو د ګټو، لومړیتوبونو او نتایجو په پام کې نیولوسره لازم تصامیم ونیسي.

د بودجې دا ډول تنظیم او تصنیف چې د وظیفوي تصنیف په نوم هم یادېږي، له مختلفو وظایفو او پروګرامونو سره سم ترسره کېږي. د مثال په توګه د اداري خدماتو بودجه، د صحي چارو بودجه، د زراعتي چارو بودجه، د ځنګل دارۍ بودجه او نور.

د بودجې دا ډول تصنیف په امتحاني ډول له ۱۳۸٦ کال راهیسې د افغانستان په څلورو ولایتونو کې پیل شوی دی او هیله ده چې په وروستیو کلونو کې بیا پراختیا ومومي.

**د عملیاتي تصنیف اصول:**

سره له دې چې په بودجه کې پېشبیني شوې دندې او پروګرامونه په مختلفو هېوادونو کې توپیر لري، په زیاتو هېوادونو کې د دولت عملیات، د خدماتو په اصلي طبقو او په عملیاتي تصنیف حاکم اصول سره ورته او په لاندې ډول دي: (٦٥:٦)

۱. دولت ټولې دندې، خدمات، فعالیتونه او اقتصادي او ټولنیز عمومي عملیات باید په عملیاتي تصنیف کې منظور شي. ځکه یوازې په دې صورت کې امکان لري چې دغه تصنیف په پروګرام جوړونه او مالي او اقتصادي تصمیم نیونه او د لومړیتوبونو په ټاکنه کې مرسته وکړي.

۲. د عملیاتو او دندو پر اساس تصنیف معمولاً په هرمي[3] ډول دی، چې د دولت کلي دندې په پورتنۍ برخه او جزئي دندې يې په لاندې برخه کې ترسره کېږي. په هغه ترتیب چې عملیات او وظایف په هره سطحه کې د عملیاتو د برخې په یوه اړخ او د پورتنۍ سطحې وظایف پورته او له بلې خوا د ګڼ شمېر وظایفو، متجانسو او مشابه عملیاتو لپاره لاندینۍ سطحې دي.

۳. په یاد تصنیف کې د دولت هغه ډله عملیات او خدمات چې نه شو کولای هغه ته په مشخصو پروګرامونو او فعالیتونو کې ارتباط ورکړو لکه داخلي کارونه، شخصي کارونه، اداري کارونه او نور معمولاً په بېلابېلو طبقو کې مثلاً د مالي، اداري او عمومي خدماتو تر عنوان لاندې تصنیف شي.

۴. په عملیاتي تصنیف کې د دولت د عمومي تأسیساتو اړوند اعتبارات د بېلې طبقې په شکل نه پېشبیني کېږي، بلکې د پروګرامونو له فعالیتونو سره په خوا کې چې باید له یادو تأسیساتو څخه ګټه وکړي، منظورېږي. ځکه هغه څه چې ارزښت لري د عمومي تأسیساتو د منځ ته راتګ اهداف او د هغې ګټې د مختلفو پروګرامونو لپاره دي.

---

[3]- هندسي شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- اقتصادي تصنيف:

دا ډول تصنيف د آثارو او اقتصادي پېښو په تحليل او تجزيه کې چې د بودجې له اجراء نه پيدا شوې وي رڼا اچوي. همدارنگه ور اغېزې د دولت د مخارجو په لوی حجم کې په ملي لاس ته راوړنو، سرې سر عايد، کاروبار، اقتصادي پرمختگ باندې واردوي. په اقتصادي تصنيف کې د دولت رول د يو هېواد په اقتصاد کې بررسي، تجزيه او تحليلوي. (۳٦۲:۱۰)

د دولت د اقتصادي اهدافو د تحقق موندنې په خاطر له بودجې څخه د سمې گټې اخيستنې په موخه د ټولنې په پروگرامونو کې تصنيف ښکاره رول لري. له شک پرته هغه اطلاعات چې لاس ته راغلي دي له اقتصادي تصنيف نه هغو دولتونو ته چې زياتې او ډول ډول دندې ور اوړې زيات اهميت پيدا کوي چې يو زيات شمېر مخ پر ودې هېوادونه په دې گروپ کې راځي. ددغه تصنيف زيات اطلاعات د اقتصادي حسابدارۍ له لارې تنظيم او برابرېږي. په اقتصادي حساب دارۍ کې ځينې مهم عنوانونه چې تر بحث لاندې دي هغه دا دي:

توليد، ملي ناخالص محصول، داخلي ناخالص محصول، ملي عايد او د سړي سر عايد (گټه)، په اقتصادي تصنيف کې د پولي سياستونو ترمنځ اړيکې، د دولت اقتصادي او مالي فعاليتونه په ملي ناخالص توليد کې په ښه کوي.

اقتصادي تصنيف عموماً د پروگرامونو او تصميم نيولو په موخه په سياسي او اقتصادي لوړو برخو کې گټور ثابتېږي او د بودجې د برابرولو او تنظيم رول په ټيټو برخو کې گټور نه ثابتېږي. د بودجې سياست د يوه هېواد په پراختيا او اقتصادي حالت په ښه والي کې د امکان تر حده د اطلاعاتو پر اساس د کارونو تأثير په اقتصادي چارو باندې له ټولنې سره سم نه جوړېږي. نو دلته دې نتيجې ته رسېږو چې اقتصادي تصنيف کولای شي د خپلو گټورو اطلاعاتو په باره کې د اقتصادي فعاليتونو اختيار له ځان سره ولري لکه څرنگه چې پروگرام جوړونکی خپل حسابونه د دولت د ناخالصو توليداتو په واسطه پوره کوي، په اقتصادي تصنيف کې د دولت جاري مخارج بايد له پانگه ييز مخارجو او وسايل او خدمات بايد له انتقالي دولت څخه جلا شي.

په دې تصنيف کې د دولت برخه له ځينو برخو څخه شمېرل کېږي او د پولي او مالي سياستونو په واسطه  کنترولېدلی شي. دغه ډول تصنيف په افغانستان کې لږ تر سترگو کېږي او يوازې دولتي مخارج له عادي او انکشافي مخارجو سره جلا کېدای شي. اقتصادي تصنيف په لوايحو او د بودجې په قوانينو کې نه ليدل کېږي. مگر تأثير يې د عوايدو په ترلاسه کولو او د ملي اقتصاد د مخارجو په ترسره کولو سره د هېواد په اقتصاد کې د پام وړ دی.

### د اقتصادي تصنيف اصول

۱. **جامع والی:** د دولت د عملياتو کړنې بايد د پام وړ وي (له ځينو پرته)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. **مالي دورې:** دغه تصنیف باید د دولتي حسابونو پر اساس او د مالي کال د واحدونو په پام کې نیولو سره وشي او په ترتیب سره دغه د بودجې تصنیف جاري کال، تېر کال او راتلونکی کال باید ټول په جدول کې شتون ولري ترڅو د مقایسې امکانات مساعد کړي.

۳. **د مخارجو پېژندنه او جلاوالی:** دلته د جاري مخارجو توپیر له پانګه ییز مخارجو څخه ضروري ګڼل کېږي.

۴. **د پانګونو د ډولونو ترمنځ توپیر:** دلته د مستقیمو او غیر مستقیمو پانګونو تفکیک مطرح شوی. (۷ :۲۳ ) مستقیمه پانګونه د دولت او غیر مستقیمه پانګونه بیا د پورونو (پورو) او مرستو په واسطه ترسره کېږي.

۵. **جاري حسابونه:** په جاري حسابونو کې مخارج په درېیو ګروپونو وېشل کېږي:

۱. کالي او خدمات ۲- انتقالي ورکړې ۳- او مرستې.

٦. **د دولت د سوداګریز مؤسسو حسابونه:** د دولت د سوداګریز مؤسسو حسابونه هم باید په جلا توګه د حساب په لست کې کنترول شي.

۷. **د عملیاتو د حسابدارۍ د اساس تعینول:** په دې رابطه کې له درې لارو څخه کار اخیستل کېږي، چې نقد حسابونه، ژمنې او یا همبستګۍ.

**د افغانستان د دولتي مخارجو بودجوي تصنیف**

د دولت مخارج په کارونو کې د آسانتیا راوستلو او تنظیم په موخه د بودجې کوډ بندي او تصنیف ټول رانغاړي. د افغانستان د دولتي مخارجو کوډ بندي په لاندې ډول ده:

۲۱- نقدي معاشونه او اجورې ۲۲- له اجناسو او خدماتو څخه ګټه اخیستنه ۲۳- لاس ته راوړنې ۲۴- اجتماعي مرستې، ګټې او برابروالی ۲۵- کار موندنې.

د سازماني واحدونو پر اساس په افغانستان کې د کوډ بندۍ او د مخارجو د تصنیف اصول: د سازماني واحدونو پر اساس په افغانستان کې د کوډ بندۍ او د مخارجو د تصنیف اصول، چې د افغانستان بودجه یې له مخې ترتیبېږي، په لاندې ډول دي:

۱۰- د دولتي ریاست دفتر ۱۱- ملي شورا ۱۲- د چارو اداره ۱۴- ستره محکمه ۱۵- د ولسمشر د محافظت ریاست ۲۰- د مالیې وزارت ۲۱- په پارلماني چارو کې د دولت وزارت ۲۲- د ملي دفاع وزارت ۲۳- د بهرنیو چارو وزارت ۲۴- د حج او اوقافو وزارت ۲۵- د سوداګرۍ وزارت ۲٦- د کورنیو چارو وزارت ۲۷- د پوهنې وزارت ۲۸- د لوړو زده کړو وزارت ۲۹- د کډوالو وزارت ۳۲- د کانونو وزارت ۳۴- د مخابراتو وزارت ۳۵- د اقتصاد وزارت ۳٦- د اطلاعاتو او کلتور وزارت ۳۷- د عامې روغتیا وزارت ۳۸- د ښځو چارو وزارت ۳۹- د کرهنې وزارت ۴۱- د انرژۍ او ابو وزارت ۴۲- د فواید عامې وزارت ۴۳- د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ۴۵- د ترانسپورت او هوایي چارو وزارت ۴٦- د قبایلو چارو او سرحداتو وزارت ۴۹- د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاري پرمختګ وزارت ۵۰- د عدليې وزارت۵۱- لويه څارنوالي ۵۲- د مخدره موادو پر ضد د مبارزې وزارت ۶۰- د ژوند د چاپېريال رياست ٦١- د علومو اکاډمي٦٢- د ملکي خدماتو او اداري اصلاحاتو خپلواک کمېسيون ٦٣- د المپيک ملي کمېټه ۶۴- د ملي أمنيت عمومې رياست ٦٥- د کارتوګرافي او جيودوزي رياست ٦٦- د تفتيش او کنترول رياست ٦٧- د حوادثو ضد اداره ٦٨- د اداري فساد ضد اداره ۷۰- د اړيکو د نظم اداره ۷۱- له هېواده بهر د مهاجرينو مشاوريت ۷٦- د کوچيانو د کارونو د انسجام رياست.

د افغانستان د ملي انکشاف ستراتيژيکي او پروژيي کوډونه په دې ډول دي:

۱۱- أمنيت ۲۱- حکومتولي، قانون او د بشر حقوق ۳۱- زېربناء او طبيعي منابع ۳۲-معارف ۳۳- روغتيا ۳۴- کرهنه او د کليو پراختيا ۳۵- ټولنيز ملاتړ ٣٦- د خصوصي سکتور د اقتصاد پرمختګ.

**۵- د دولت په بودجه کې د عايداتي منابعو تصنيف:**

الف: د دولت د عوايدو د مختلفو ډولونو ضرورت او حقيقت: دولتونه د خپلواجرائيوي چارو د ترسره کولو لپاره د سازمان او د خصوصي خدماتو د توليد او نورو وظايفو لپاره چې په غاړه يې لري عوايدو ته ضرورت لري. نو بناء د دولت د عوايدو راټولول د دولت دنده ده، چې بايد د ټولني د آرامۍ د زياتېدو سبب شي. همدارنګه د ټولنې د اړتياوو رفع کول د عمومې وسايلو په توګه د دولت په لاس ترسره کېږي. د دولتونو د مخارجو د تمويل په موخه دولت له مختلفو منابعو څخه ډول ډول عوايد راټولوي او د دولت عوايد کولای شو په دوه عمده برخو ووېشو:

۱- **مالياتي عوايد:** د دولت د مخارجو د تمويل يوه مهمه لاره د مالياتو را ټولول دي، چې د کاليو او خدماتو د وړاندې کولو د دوام تضمين کوي او د دولت مهمه منبع ده. د مالياتو ورکړه قانوني او اجباري اړخ لري او د شتمنۍ د زياتوالي بديله لاره ده يا په بله وينا دغې منبع ته د پرتلې په کتنه مهم مالي تمويل له نورو مالي منابعو سره کولای شو ووايو چې هر څومره د مالياتو ونډه د دولت د مخارجو په تمويل کې زياته شي نو نامطلوب اقتصادي تأثيرات کمېږي.

په پرمختللو هېوادونو کې د مخ پر ودې هېوادونو پر خلاف چې ماليات يې ناچيزه رول لري، تقريباً د دولت ټول مخارج له دغې لارې تمويلېږي. (۴:۱۴)

ماليات د مختلفو ډولونو لرونکي دي چې په بېل بحث کې به واضح شي.

(۱) جدول: د دولت د مخارجو او عوايدو ترمنځ د ناخالص داخلي توليد اړيکه په څو پرمختللو هېوادونو کې په ۲۰۰۰ ز کال کې په ګوته کوي. (۴:۱۴)

| د هېواد نوم | په داخلي ناخالص توليد کې د دولت د مخارجو ونډه | په داخلي ناخالص توليد کې د مالياتو ونډه |
|---|---|---|
| متحده ايالات | ۱۵ | ۲۰.۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| انګلستان | ۱۸.۷ | ۳۴ |
| فرانسه | ۲۳.۲ | ۳۷.۷ |
| آلمان | ۱۹ | ۲٦.٦ |
| ایټالیا | ۱۸.۳ | ۳۸.۵ |
| کاناډا | ۱۸.٦ | ۱۹.۸ |
| جاپان | ۱٦.۷ | ۱٦.٦ |

Source: World Bank ۲۰۰۴

پورتني جدول ته په کتو د پورتنیو هېوادونو د داخلي ناخالص تولید د مخارجو د سهم او د مالیاتو د سهم له مقایسې څخه کولای شو دا نتیجه واخلو چې ددغو هېوادونو مالیاتي سیستم د پورتنیو هېوادونو مخارجو ته په بشپړه توګه پوښښ ورکړی دی. په داسې حال کې چې دا ډول وضعیت په مخ پر ودې هېوادونو کې نه لیدل کېږي.

۲- **غیر مالیاتي عواید:** هغه عواید دي چې دولت یې له خپلو اقتصادي فعالیتونو څخه راټولوي. دغه عواید یا له مختلفو پانګونو څخه لاس ته راځي او یا د هغه کار مزد دی چې دولت یې له ډول ډول خدماتو څخه لاس ته راوي. ددې ډول عوایدو ځانګړتیاوې د مالیاتي عوایدو پر خلاف چې د هغوی ورکړه د خلکو له خوا اجباري شکل لري، د هغوی اختیاري والی دی یا په بله وینا ددغو مالیاتو اندازه د اخیستلو او یا نه اخیستلو له مخې معلومېږي. دا هر څه دولت ته د خلکو له خوا ارایه کېږي. پردې اساس دغه ډول عواید غیر منظم او نامطمئن دي چې ځینو برخو ته یې اشاره کوو:

الف: هغه ګټه چې د دولت له انحصاراتو څخه منځ ته راځي لکه نفت، د وسپنې پټلی، برېښنا او ټېلفون.

ب: د ډول ډول خدماتو لپاره د کار اجوره لکه هغه عوارض چې د دولتي مؤسسو په واسطه وړاندې کېږي.

ج: له عمومي املاکو څخه لاس ته راغلې ګټې لکه د هغوی پلورل او په اجاره ورکول.

د: له مؤسساتو، هېوادونو او پیسو لرونکو چارواکو څخه پور اخیستل.

لکه څرنګه چې مالیاتي عواید د دولت د مخارجو د تمویل لپاره کفایت نه کوي، نو دولتونه دغه تاوان د غیر مالیاتي ګټو په واسطه تأمینوي، چې ددې ډول غیر مالیاتي ګټو اقتصادي اغېزه د دولت د مالي مخارجو په تمویل کې په پوره ډول یو تر بله توپیر لري.

**د افغانستان په بودجه کې د عوایدو تصنیف:**

د عوایدو له مختلفو ډولونو څخه د آسانتیا او ښه تنظیم په خاطر د دولت بودجه کوډ بندي شوې ده. په افغانستان کې د وروستیو تغییراتو په رامنځ ته کېدو سره د عوایدو کوډ بندي په لاندې شکل سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصنيف کېږي:

**د دولت د عوايدو کوډونه:**

۱۱- مالياتي عوايد ۱۲- گمرکي محصول او پر وارداتو ماليه ۱۳- غير مالياتي عوايد ۱۴- متفرقه عوايد ۱۵- د ودانيو او ځمکو له پلورلو څخه لاس ته راغلي عوايد ۱۷- ټولنيزې سهميې ۱۸- پور ۱۹- د بهرنيو هېوادونو مرستې.

د افغانستان په بودجه کې د عوايدو او مخارجو تصنيف له عملي ستندردونو سره په مطابقت کې د دولت د امکاناتو او ضرورتونو په پام کې نيولو سره تنظيم شوی او د ممکنه آسانتياوو په غرض د بودجې جوړونې په پروسه کې ترې استفاده کېږي.

په افغانستان کې د جگړو او مشکلاتو په وجه مالي سيستم، په ځانگړي ډول دولتي بودجې په مالي ميدان کې ډېرې لوړې او ژورې زغملي دي. تردې چې په تدريجي ډول سره له ۱۳۸۱ کال نه راوروسته د هېواد د مالي وضعيت بهبود پيدا کړی. د افغانستان بودجه له تېرو وختونو راپه دې خوا په عادي او انکشافي بودجې سره د توپير وړ ده او د دولت د فعاليتونو ځانگړې ساحې تر پوښښ لاندې راولي.

۱- **اصلي بودجه:** چې عادي او ا نکشافي بودجه په کې شامله ده، چې د دولت د مراحلو د تطبيق او اجراء له لارې ترسره کېږي.

a-عادي بودجه: چې د دولت عادي مخارج په کې شامل دي. په عمده ډول عادي مخارج لکه د دولت د کار کوونکو معاشات، د شيانو د برابرولو مخارج او د دولتي ادارو لپاره خدمات په رانغاړي، چې په اصل کې بايد د داخلي منابعو له لارې تمويل شي. خو متأسفانه په افغانستان کې د داخلي جگړو او ورانيو څخه راوروسته تر ۱۳۸۱ کال او تر ننه هم دا امکان نه دی برابر شوی او حتی په ۱۳۸٦ کال کې د ٦٠٪ په حدودو کې عادي مخارج له داخلي منابعو څخه تمويل شوي وو او په ۱۳۸۷ کال کې دغه رقم ٪ ۸،٦۷ په ننبه کوي.

b- **انکشافي بودجه:** انکشافي بودجه چې د دولت په انکشافي پروژو پورې اړه لري او په حقيقت کې په مختلفو فرهنگي، اجتماعي او اقتصادي برخو کې د دولت د پانگونې منعکس کوونکې ده، چې ترميماتي مسئوليتونه، ودانۍ، بيارغونه او د ضروري او عام المنفعه پروژو منځ ته راتگ ټول په رانغاړي، چې متأسفانه په افغانستان کې يې تمويلي منابع اوس هم بهرنۍ مرستې او پور دي.

د افغانستان انکشافي بودجه په ۱۳۸٦ کال کې د اصلي بودجې په تناسب ٪ ۲،۵۸ او په ۱۳۸۷ کال کې ٪ ۱،۵۴ رقم جوړوي، چې د ملي بودجې په تناسب دغه رقم په ترتيب سره ۳۰٪ او ۱۷٪ دی. (۳۴:۱۲)

۲- **بهرنۍ بودجه:** په دې بودجه کې په عمده ډول د انکشافي بودجې فعاليتونه او يو څه برخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library




کې د عادي بودجې فعالیتونه شامل دي، چې په مستقیم ډول د مرستندویو هېوادونو او نړۍ والو مؤسساتو له خوا تمویل او اجراء کېږي.


د افغانستان دولت په تمویلي منابعو او د هغه په مصرفي استقامتونو باندې مستقیم کنترول نه لري. البته د ګڼ شمېر نړۍ والو کنفرانسونو په جریان کې د نړۍ والې ټولنې تعهدات د بهرنۍ بودجې تمویلي منابع به غاړه اخیستي دي. په مجموع کې اصلي او بهرنۍ بودجه د افغانستان ملي بودجه تشکیلوي، چې په لاندې ډول په نښه کېږي.

د افغانستان د دولت عایداتي منابع چې په اصلي بودیجه کې منعکس کېږي. د هېواد عایداتي سیستم جوړوي چې په عمده ډول متشکل دي له ۱- مالیاتي عواید ۲- د دولتي شیانو او خدماتو له عرضه کولو څخه عواید ۳- خارجي مرستې او پورونه ۴- د دولتي ملکیتونو او جایدادونو د خرڅلاو څخه عواید ۵- جریمې، فیسونه او نور عواید.

شکل (۲)ساختار بودجه ملی سال ۱۳۸۶(۱۱:۱)




شکل (۳)ساختار بودجه ملی سال ۱۳۸۷ (۳۴:۱۲)



(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډيز:**

د دولت اقتصادي پلان چې د دولت بودجه هم ورته ويلی شو. د دولتي اقتصاد د قانون د ضميمې او د بودجې د قانون په توګه او هر کال د پارلمان لخوا تأييديږي. دولتي بودجه د پيشبيني شويو مخارجو اعظمي حد دی. د هر يوه ثبت شوي هدف او د يوه بودجوي کال لپاره د ټولو متوقعه عوايدو مجموعه ده.

دولتي بودجه د دولتي فعاليتونو په څېر (د دولتي مخارجو تأثيرات) څرګنديږي او د حکومت د ټولو پروګرامونو استازيتوب کوي. د بودجې په تصويب سره اداري سيستم په خپلو فعاليتونو باندې پيل کوي او بودجه د دولتي دندو او مخارجو د پر مخ وړلو مسئوله ګرځي. په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د بودجې کلني تر تيبونه په ۱۲۹۸ کال کې رامنځ ته شوه او په۱۳۰۱ کال کې يې قانوني حيثيت پيدا کړ. د بودجې مفهوم او ماهيت کولای شو چې په ښه ډول د دولتي بودجې له دندو څخه په استفادې تشخيص کړو، چې په لاندې ډول دي:

۱- د ملي عايد د مجدد وېش دنده ۲- په اقتصادي پروژو او توليد کې د مداخلې دنده ۳- د دولتي ټولنيزو سياستونو دنده.

د دولت بودجه د حجم او لوی والې له مخې يو لوی مالي سند دی او د اهميت له مخې د ملي اقتصاد په کچه يو ډېر مهم او مستقل عامل دی، چې د هېوادونو د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ لپاره ترې کار اخيستل کېږي.

له مالي منابعو څخه سمه او مطلوبه استفاده د مالي مديريت موضوع تشکيلوي. د دولتي بودجې هدف له جامع مالي منابعو او امکاناتو څخه سمه ګټه اخيستنه ده ترڅو عمومي اهدافو ته ورسېږي. نو پردې اساس دولتي بودجه د دولتي مديريت يوه ځانګه ده، له معمول سره سم په عوايدو او مصارفو پورې د پيشبيني وړ اطلاعات په مختلفو ډولونو او بڼو سره د بودجې په لايحه کې وېشل شوي دي.

د لاندې اهدافو له مخې په بودجه کې تصنيف ترسره کېږي:

۱- په برنامه جوړونه او سياست جوړونه کې آسانتيا ۲- د مطلوبو منابعو تخصيص او د بيا ورکړې زياتېدنه ۳- د پايلو تحليل او تجزيه ۴- د بودجې د کنترول آسانتيا ۵- د مصارفو او عوايدو پرتله کول ٦- د مديريت بهبود.

د دولت د مخارجو تصنيف په بودجه کې ډېر پخوانی تصنيف دی، چې په مخارجو باندې دقيق او ژور نظارت ممکن ګرځي، چې د دولت د کار کوونکو په خوښه د مخارجو له ترسره کولو څخه مخنيوی کوي. د دولت د مخارجو تصنيف د ځانګړو موخو لرونکي دي، چې په لاندې توګه دي.

۱- د مصرفي موادو پر اساس وېش ۲- د سازماني واحدونو پر اساس وېش ۳ - عملياتي وېش ۴- اقتصادي وېش.

د مخارجو وېش له پخوا وختونو څخه د افغانستان په بودجه کې د اداري واحدونو او هم د مصرفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موادو پر اساس معمول و. نو په پای کې د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ پر اساس د برنامو د وېش یا د برنامو پر اساس بودجه، یا پروګرام پر اساس د نمونې په ډول په څو وزارتونو کې کار پیل کړ او هم د ولایتونو پر اساس د بودجې ترتیب د آزمایښت په شکل پیل شوې. پردې سربېره د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژۍ سره سم د بودجې مصارف په اتو سکتورونو وېشل شوې او د هر سکتور لپاره په عادي او هم په انکشافي برخه کې مصارف ځانګړي شوي او ترتیب شوي.

دولتونه د دندو د اجراء لپاره، د عمومي کالیو او خدماتو د تولید لپاره عوایدو ته اړتیا لري، چې دولتونه د خپلو مخارجو د تمویل لپاره مختلفو عوایدو راټولولو ته اړتیا لري.

دولتي عوایدو په عمده ډول په مالیاتي او غیر مالیاتي عوایدو باندې وېشل کېدای شي، د دولت عواید په بودجه کې وېشل شوي او په ځانګړي ډول کوډ بندي شوي دي، چې په بودجه کې د ښه تنظیم او په ښه شان سره له عوایدو څخه استفاده مساعدوي.

د افغانستان بودجه چې له پخوا څخه په انکشافي او عادي بودجه باندې وېشل شوې، چې اوس بهرنۍ بودجه هم پکې زیاته شوې او د افغانستان د ملي بودجې په نوم په مختلفو برخو کې د دولت فعالیتونه تر خپل پوښښ لاندې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. بودجه تعریف کړئ ؟

۲. بودجه بندي څه مفهوم لري؟

۳. کلنۍ بودجه جوړونه په افغانستان کې له کوم کال نه راپه دېخوا قانوني اړخ پیداکړی؟

۴. د بودجې مهمې دندې کومې دي؟

۵. مدیریت څه مفهوم لري او مالي مدیریت د مدیرت کومې ساحې تر خپل سیوري لاندې راولي؟

٦. په بودجه کې تصنیف ولې اړین کڼل کېږي؟

۷. په بودجه کې د ډلبندۍ اهداف کوم دي؟

۸. په بودجه کې د مصارفو د وېش موخې څه ډول توضېح کېدای شي؟

۹. د مصافو د وېش د ډولونو نومونه واخلئ؟

۱۰. د اداري واحدونو پر اساس وېش څه مفهوم څرگندوي؟

۱۱. د اقتصادي وېش اصول کوم دي؟

۱۲. د عوایدو د وېش په کومو عمده گروپونو وېشل کېدای شي؟

۱۳. د دولت غیر مالیاتي عوایدو کوم دي؟

۱۴. د افغانستان په بودجه کې عوایدو په کومو کوډونو وېشل شوي دي؟

۱۵. د افغانستان په بودجه کې د دولت د مصارفو کوډ بندۍ کومې دي ویې لیکئ؟

۱٦. د افغانستان ملي بودجه په کومو برخو کې شامله ده هر یو یې تشرېح کړئ؟

**مأخذونه:**


۱. حقایقی، عبدالله. (۱۳۸۱). سیاست بودجه. مطبعه بهیر، کابل.

۲. حبیبی، عبدالحی. (۱۳۴۹). تاریخ مختصر افغانستان جلد دوم. مطبعه دولتی، کابل.

۳. ردیو نو وه، و. ن. ( ۱۹۹۱). بودجه دولتي و رول ان در همآهنگی انکشاف اقتصادی. (متن روسی)، نشریه امور مالی و احصایه، ماسکو.

۴. صمیمی، جعفری. ( ۱۳۸۵) اقتصاد برخه عمومی (۱). چاپ مهر (قم)، تهران.

۵. عارف، عبد القیوم. (۱۳۷۴) رول بودجه دولتی و تأثیرات آن بر انکشاف اقتصادی. مجله علوم اجتماعی شماره ۲-۳، سال ۱۳۷۴ ، کابل

٦. فرج وند، اسفندیار. (۱۳۸۴) بودجه. انتشارات فروزش، تهران.

۷. فدایی، نژاد، محمد اسمعیل. (۱۳۸۲) اصول بودجه بندی سرمایوی. سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی، تهران.

۸. لووین شتاین. ( ۱۳۸۲) مبادی اقتصاد ملی (ترجمه، داکتر شهیدی). مطبعه والن، کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ . کتلر، گروسی. (۱۳۸۲) علم مالیات عامه یا دولتی. ( ترجمه نبی رفیع)، مطبعه والن، کابل.
۱۰. موسوی، حبیب. (۱۳۸۴) اصول تنظیم و کنترول بودجه دولتی. چاپ روشن (همدان)، تهران.
۱۱. وزارت مالیه. (۱۳۸٦) ریاست بودجه. بودجه سال ۱۳۸٦، کابل.
۱۲. وزارت مالیه. (۱۳۸۷) ریاست بودجه سال ۱۳۸۷، کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## دولت او د عوایدو وېش

د بازار په اقتصادي نظام کې د ټولنې د وګړو خپل عواید د هغو منابعو د عرضې په وسیله چې له هغو سره دي ترلاسه کوي، چې دغه منابع په درې ګروپونو وېشل کېږي.

1) انساني پانګه
2) مالي پانګه
3) فزیکي پانګه

انساني پانګه د کار په مقابل کې د مزد ترلاسه کول دي، مالي پانګه د مال په مقابل کې د ګټې ترلاسه کول او فزیکي پانګه لکه ځمکه یا کور، چې د اجارې یا کرایې په مقابل کې ورکول کېږي.

د هر وګړي عواید د هغه په منابعو پورې تړاو لري، چې له دغو منابعو څخه عواید ترلاسه کوي. د تولید د عواملو وېش په فزیکي یا پانګه ییز شکل د څو عواملو د تأثیر لاندې راځي لکه د ژوند په اوږدو کې د هغوی ذخیره کول او په ظالمانه ډول د ځمکو غصب، د بازار په اقتصادي نظام کې هغه څه دي، چې د تولیدي عواملو په غیر عادلانه وېش باندې یې تأثیر کړی. لکه څرنګه چې په انګلستان کې په کال ۱۹۹۰ز کې د تولید نیم عوامل د ۱۰٪ پانګوالو په لاس کې وو او پاته نیم عوامل د ۹۰٪ وګړو په لاس کې وو. (۱: ۲۰۴)

شتمني د انساني پانګې په شکل، یعنې انساني قوه د انسان په قدرت او وړتیا پورې ارتباط لري، چې د ژوند په اوږدو کې ترلاسه شوی، چې هم له ذاتي او هم له اکتسابي اړخه فرق لري. نړۍ وال واقعیتونه ښیي، چې فقر او بې عدالتي د اقتصادي انکشاف برعکس په هغو هېوادونو کې، چې د بازار اقتصادي نظام لرونکي دي، مخ پر وړاندې روان دي. علت یې دادی، چې د عوایدو وېش په دې ډول نظامونو کې له یوه اړخه په هغه شتمنیو او پانګو پورې چې (انساني، مالي او فزیکي پانګه) له خلکو سره دي، اړه لري او له بلې خوا هغه قېمتونه چې په دغو عواملو باندې وضع کېږي، یعنې هغه څوک چې زیاتې پیسې لري عواید یې زیات او له بلې خوا قېمتونه بیا نېستمن او شتمن کسان یو شان ورکوي چې د عوایدو د وېش نابرابري زیاتوي. ددغو مشکلاتو په پام کې نیولو سره، چې د عوایدو په وېش کې وجود لري او همدارنګه د بازار اقتصاد ورته پاملرنه نه کوي. نو علماء په دې عقیده شول او دا ضرورت پیدا شو، چې دولت د عوایدو د وېش په برخه کې مداخله وکړي. لکه څرنګه چې ماسګریو تأکېد کوي، چې دا ډېره واضح خبره ده، چې د وېش مسایل په سیاست او د سیاست په ټاکولو کې یوه حیاتي وسیله ده او وي به، او هېڅ داسې عصري اقتصاد به پیدا نه شي، چې د عوایدو وېش په مکمل ډول بازار ته پرېږدي. (۱۰:۶۹۳)

د دولت په وظایفو کې د عوایدو عادلانه وېش ځانګړی اهمیت لري او د هر سیاست له خاصو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهدافو څخه ګڼل کېږي او د عادلانه وېش په لوري حرکت يو منصفانه کړنه ده، مګر د انصاف معنا د مختلفو علمانو د کيش او کړپ سبب شوې ده. دولت بايد له دين او فلسفې سره سم د عدالت مفهوم او مطلب روښانه کړي او دا قضاوت وکړي، چې د بازار کړنې په کوم شکل دي.

د عوايدو وېش يو اقتصادي او سياسي هدف شمېرل کېږي،له اقتصادي اړخه د عوايدو په وېش کې تغييرات کولای شي، چې د سپما په نرخ، پانګونه، عرضه او تقاضا او داسې نورو متحولينو باندې منفي تأثير وکړي. له سياسي پلوه هم د عوايدو عادلانه وېش د رايې ورکوونکو لپاره ډېر مهمه دی. د عوايدو وېش د يوه هېواد د وګړو حالت بيانوي يا په بله وينا د يوه هېواد د وګړو ترمنځ د نابرابرۍ او بې عدالتۍ څرګندونه کوي. (۷:۱۵۴)

د دولت له مهمو دندو څخه ده ترڅو د بې عدالتۍ کنترول او مخنيوی وکړي. ځکه چې د وېش وظيفه دا حکم کوي ترڅو دولت د بې عدالتۍ د کمولو او کنترول لپاره هر ډول وسايل په کار واچوي او د هغوی مخنيوی لپاره تدابير ونيسي. په عامه اقتصاد کې د دولت د عوايدو او مخارجو له اهدافو څخه يو تر ټولو مهم هدف د ټولنې د افرادو، د اقتصاد د مختلفو سکتورونو او مختلفو سيمو ترمنځ په توليد او د عايد په وېش باندې د دولت د عوايدو او مخارجو تأثير دی. په دې څپرکي کې په لومړي سر کې د عوايدو منابع پېژندل شوي، وروسته د غير عادلانه وېش د اندازه ګيرۍ امکانات او هغه عوامل چې د بې عدالتۍ سبب ګرځېدلي، څېړل شوي دي.

همدارنګه په دې څپرکي کې د غير عادلانه وېش له لارې د عايد د عادلانه وېش د امکاناتو لپاره نظريات او په پای کې د موضوعاتو خلاصه، تمرينات او مأخذونه واضح شوي دي.

**۱- د عوايدو منابع:**

خلک، کورنۍ او ټول حکمي کسان معمولاً خپل عوايدو له درېيو لارو څخه ترلاسه کوي. (۴۹:۵)

- ✓ د لاس مزدوري.
- ✓ د عوايد د جايداد او ملکيت له لارې.
- ✓ د دولت له لارې.

**الف- د لاس مزودري:** له ارثي پلوه خلک د مختلفو استعدادونو او وړتياوو لرونکي دي. هر وګړی کولای شي، چې له خپل استعداد سره سم خپله پانګه ډېره کړي. د کار او پانګې جوړښت ماهره وګړو ته اړتيا لري. د لاس په مزدورۍ کې فرق د وګړو په کار پورې مثلاً د يوې ګل پلورنې په پرتله په کان کې کار کول ممکن زيات عوايد ولري. همدارنګه له ذاتي وړتيا پرته پانګه د کار ډول تبعيض، کورنۍ، موقعيت، رنګ، نژاد او داسې نور شيان هم کولای شي، چې د لاس په مزدورۍ باندې تأثير ولري همدارنګه هغه کورنۍ، چې زيات وګړي لري، زيات عوايد ترلاسه کوي.

**ب- د جايداد او ملکيت له لارې عوايد:** د نابرابرۍ عمده علت دادی، چې ځينې خلک د عوايدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتې منابع لري، پرته له دې چې د لاس مزدوري کوي او ځینې خلک صرف د لاس مزدوري کوي. یوه کورنۍ چې کوم عواید ترلاسه کوي په څو شیانو پوري تړاو لري. لومړی داچې شتمني لري او دوهم داچې څه ډول شتمني لري. ممکن وګړي خپله شتمني له اوږدمهاله او لنډمهاله پانګونې څخه چې په بانک کې یې لري، ترلاسه کړي او یا هم ځینې وګړي د شتمنۍ د سهم پر اساس ترلاسه کړي او یا هم ځینې وګړي خپله شتمني د سواګرۍ او صنعت پر اساس ترلاسه کړي اویا هم دجایداد اوملکیت له لارې دراییي ترلاسه کړي اوځینې وګړي چې کوم ډول شتمني ترلاسه کوي، د شخصي ملکیت پر اساس دي، یعنې ځینې خلک صرف یوکور لري پرته له دې چې اجاره ورکړي د کور د قېمت له لوړېدو څخه هم ګټه ترلاسه کوي.

**ج- د دولت له لارې عواید:** د دولت له لوري انتقالي ورکړې، هغه پیسې دي، چې پرته له دې چې یو کس کوم کار وکړي، د دولت له لوري ورکول کېږي. له دې ډول ورکړو څخه د دولت مرسته له هغه کورنیو سره چې زیان یې لیدلی وي. د دولت ورکړه وزګارو کسانو، معیوبینو او همدارنګه تقاعد شویو کسانو ته د دولت دومداره ورکړه چې د دوی له سپما څخه ورکول کېږي، دا د تقاعد پیسې د وګړو په کار، کاري تجربې او رتبې پوري تړاو لري.

**۲- د عاید غیر عادلانه وېش د اندازګیرۍ وسایل:**

د عوایدو وېش د یوه هېواد د وګړو په عاید پوري تړاو لري. بناء یو هېواد د وګړو د عوایدو معلومول د هماغه هېواد په ملي عاید پورې تړاو لري او هغه د ملي عاید په وسیله اندازه کېږي.

د عاید د غیر عادلانه وېش د اندازه کولو لپاره د یو هېواد ټول عاید د هېواد د ټولو وګړو په شمېر باندې له وېش څخه عبارت دی. معمولاً په پنځو ۲۰٪ ګروپونه او یا هم په۱۰ لسو۱۰ ٪ ګروپونو وېشل کېږي. د هر ګروپ په مقابل کې د هغوی سهم او فیصدي وجود لري، که چېرې ددغو ګروپونو په منځ کې فرق پیدا شي، نو دا په دې معنا ده چې بې عدالتي وجود لري. دغه اندازه ګیري د مهمو معیارونو پر اساس ترسره کېږي، چې په دې ډول دي: د لورنس منحني، جیني ضریب او اتکینسون ضریب، چې په ټولو کې لومړی معیار ډېر اهمیت لري.

**الف- د لورنس منحني:** دا یوه پخوانۍ طریقه ده، چې د هغه د کشفوونکي، یعنې لورنس په نامه په ۱۹۰۵ کال کې مشهوره شوې ده، چې د بې عدالتۍ لپاره ترې استفاده کوي. (۴: ۲۵۰)

د لورنس منحني په حقیقت کې یو هندسي تغییر دی، چې د یوه هېواد د وګړو عواید معلوموي. ددغه منحني د رسمولو لپاره لومړی د یوه هېواد وګړي او د هغوی له عوایدو سره سم له لاندې نه پورته خوا په څو ګروپونو وېشو.

ددغو ګروپونو شمېر معمولاً پنځه دی، چې په هر ګروپ کې۲۰٪ وګړي د هغوی له عوایدو سره سم له ښکته نه پورته خوا مشخص کوي او د هر ګروپ لپاره د هغوی عواید په فیصدي سره ښیي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library




ټول ملي عايد پر اساس يې محاسبه کوي. په دغه هندسي شکل کې د x محور د وګړو فيصدي د y محور د ملي عايد فيصدي ښکاره کوي. د مثال په ډول، په دې ځای کې د عوايدو د وېش حالت په امريکا کې په ۱۹۸۰ ز کې د لورنس په واسطه وېش کوو.

(۲) جدول: په ۱۹۸۵ ز کال په امريکا کې د عايد وېش (۳۵۰:۴)

| د نفوس د افرادو فيصدي | د عايد د سهم فيصدي | X د نفوس ټيټه فيصدي | Y په ټوليز ډول عايد فيصدي |
|---|---|---|---|
| لومړی ۲۰٪ (تر ټولو ټيټ) | ۴٦ | ۲۰ | ۴,٦ |
| دوهم ۳۰٪ | ۱۰,۹ | ۴۰ | ۱۵,۵ |
| دريیم ۲۰٪ | ۱٦,۹ | ٦۰ | ۳۲,۴ |
| څلورم ۲۰٪ | ۲۴,۲ | ۸۰ | ٥٦,٦ |
| پنځم ۲۰٪ | ۳۴,۴ | ۱۰۰ | ۱۰۰ |

د پورته جدول د ارقامو معلومات د لورنس د منحني په وسيله په لاندې ګراف کې ښودل کېږي.

(4) شکل: د لورنس منحني




د a منحني شکل کې د OA خط د کاملې وېش عوايد راښيي، په داسې حال کې چې په جدول کې معلومېږي، چې په کال ۱۹۸۵ ز کال په امريکا کې ۲۰٪ کم عوايد د هغه وګړو لپاره دي، چې د عوايدو اندازه يې ٦،۴٪ ده او د ٦۰٪ وګړو صرف ۳۲،۴٪ له ملي عايد څخه استفاده کوي.

شکل ته په کتو سره که هر څومره د لورانس منحني د OA خط ته نږدې شي، نو د عايد وېش عادلانه دی او هر څومره چې په خط باندې منطبق شي، نو کاملاً عادلانه وېش رامنځ ته کېږي.

**ب) د جيني ضريب:** دغه ضريب د لورنس له منحني څخه ترلاسه کېږي، چې د نابرابرۍ يو له مهمو پارامترونو څخه شمېرل کېږي. دغه ضريب د لورنس د منحني او کاملې وېش کرښې ترمنځ ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مساحت نسبت (OAB) دی. په پورته شکل کې د لورنس منحني او کاملې برابری کرښې ترمنځ مساحت په Q سره ښيو او دغه ضريب داسې ترلاسه کوو. (۵۲:۵)

$$\text{ضريب } G = \frac{SQ}{SOAB} = \frac{Q_{\text{مساحت}}}{OAB_{\text{مساحت}}}$$

په عادي حالت کې دغه ضريب د يوه او صفر تر منځ تغيير کوي. که چېرې د عوايدو وېش کرښه مکمله برابره وي، نو د لورنس منحني په ۴۵ درجو باندې منطبق او د جيني ضريب صفر کېږي او که چېرې د عوايدو کامله وېش نابرابره وي «يعنې ټول عوايد په يوه نفر پورې تعلق ولري» نو د لورنس منحني په OAB کرښې پورې تعلق لري او د جيني ضريب له يو سره مساوي کېږي، نو بناء هر څومره چې دغه ضريب صفر ته نږدې کېږي، په هماغه اندازه نابرابري له منځه ځي او برعکس هر څومره چې دغه ضريب يوه ته نږدې کېږي، په هماغه اندازه نابرابري زياتېږي. نو پردې اساس د لورنس له منحني سره د جيني د ضريب پرتله کول په ځانګړي ډول د عوايدو د وېش د نابرابری په انداز کولو کې د لورنس د منحني خلاف، د جيني ضريب کولای شي چې د عايد د نابرابری د شدت درجه دقيقه او په يوه شمېره کې په خلص ډول اندازه کړي.

پردې اساس دغه ضريب او د لورنس منحني له يو بل سره ارتباط لري او کولای شي د نابرابری اندازه معلومه کړي.

**ج) د اتکينسون ضريب:** اتکينسون کوشش وکړ، چې د ارزښت پر اساس قضاوت وکړي او د نابرابری اندازه معلومه کړي. نوموړي ددې مسئلې د حل لپاره د يوې ټولنې رفاه هم ورګډه کړه. د اتکنيسون ضريب په دې باندې ولاړ دی، چې د يوې ټولنې د رفاه زيان هم په نابرابری باندې تأثير لري. نوموړي اجتماعي رفاه د ټولو وګړو هڅې بولي او وايې، چې دغه هڅې په دوه عواملو پورې تړاو لري. (۱٦۵:٦)

1) د وګړو عوايد.

2) له نابرابری څخه د ټولنې ډډه.

که چېرې د عوايدو په برخه کې د نزولي کېدو فرضيه سمه وي، نو د عوايدو دوهم کلي وېش له شتمن څخه فقير ته، نو د ټولنې رفاه زياتېږي.

هغه خپل ضريب په کل يا ټول عايد کې د له لاسه تللي اندازې پر اساس، د زياتې برابری د ترلاسه کولو په موخه محاسبه کړې. دغه ضريب چې په حقيقت کې د معادلې وېش يو معيار دی داسې ښيي، چې ټولنه په کومه اندازه حاضره ده چې له خپل ټول عايد څخه د مساوي عوايدو هدف ته ورسېږي، له لاسه ورکړي.

که چېرې برابره وېش په Ye وښيو او جاري متوسط عايد په Yu و ښيو. کولای شو د اتکينسون ضريب په داسې ډول وليکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$A=(1-Ye/Yu)x100$$

د اتکینسون عددي مقدار د صفر او سلو ترمنځ تغییر کوي، کله چې A=0 سره وي نو برابري په کامل ډول وجود لري. ځکه چې Ye = Yu او که چېرې A=100 نو په کامله توګه نابرابري وجود لري. نو په همدې اساس ویلی شو چې هر څومره چې A لوړېږي په هماغه اندازه نا برابري زیاتېږي همدارنګه د یوې مشخصې وېش لپاره، په هره اندازه چې د اړتیاوو اندازه له نابرابرۍ څخه زیاته شي، په هماغه اندازه A لوړېږي. که چېرې A= 9.3 وي کولای شو یوازې ٪7 .90 کې د ټول موجود عاید په فعلي ټولنیزې رفاه په لاس ته راوړلو برلاسي شو. په دې شرط چې ټول خلک ددې عاید مساوي برخه د ځان لپاره ځانګړې کړې وي.

**۳- د عوایدو په نابرابره وېش کې مؤثره عوامل:**

د هېوادونو له تجربو او تاریخي شواهدو څخه د لاس ته راغلې پانګې د نابرابر وېش په هکله ښودل شوې چې د لاس ته راغلې پانګې په نابرابر وېش کې مختلف عوامل وجود لري، چې مشهور یې دادي:

**الف- د بازار شکل:** د پانګې د نابرابر وېش عمده برخه د اقتصادي کړنې پر اساس د بازار، خصوصاً د تولید او وېش په مرسته پېژندل کېږي.

د کوچنیو اقتصادي نظریو پر اساس د وېش په عملیه کې مهم عامل د بازار په نظام کې د تولیدي عواملو نهائي ارزښت دی. نو د بازار نظام پر اساس بازار او انحصار د وېش د نابرابري یو بل ستر عامل دی، چې په مختلفو هېوادونو کې په مختلفو بڼو څرګندېږي، چې باید پاملرنه ورته وشي.

**ب- د عاید ډول:** د وېش د نابرابرۍ یو بل لوی عامل د لاس ته راغلې پانګې د ډول او د ترلاسه کولو طریقه ده، چې د وګړو په مرسته ترلاسه کېږي. د مختلفو عواید و ترلاسه کول لکه ګټه، د ونډو ګټه، پانانګه بیزه ګټه، یعنې سود، میراث او نور کولای شي چې د خلکو په عواید باندې اغېزه ولري. که چېرې نوموړي عواید په وګړو باندې په مساویانه ډول ووېشل شي بیا به هم یو ډول نابرابري په هغو عوایدو کې چې له کار څخه ترلاسه کېږي موجوده وي. ځکه مختلف خلک د مختلفو شرایطو لرونکي دي لکه د هغوی د کار کولو توان، مهارتونه، د کار ډول، کار ته تمایل، خطر منل، د زده کړو کچه او نور کولی شي چې د خلکو د عوایدو په نابرابرۍ کې رول ولري.

**ج- تبعیض:** د نابرابر وېش یو بل عامل نژادي تبعیض او جنسي بېلوالی دی. تاریخي شواهد څرګندوي چې ځینې خلک د نژادي توپیر له مخې کار ته نه دي پرېښودل شوي او له عوایدو محروم پاته شوي. نو په نتیجه کې هغه مختلف خلک چې اقلیت دي د هغوی عواید ټیټ پاته شوي او همدارنګه ښځو ته د کمو مزدونو ورکړه یو بل لامل دی چې د نابرابري لامل ګرځي د مثال په توګه د خلکو په سرپرستیو د کورنیو زیاتوالی په دې وروستیو دوه لسیزو کې په امریکا کې د عوایدو د وېش د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابرابرۍ لامل ګرځېدلی دی.

**د- د اقتصادي انکشاف شرایط:** د نړۍ وال بانک او نورو محققینو څېړنو دا موضوع تأیید کړې ده چې د نابرابر وېش موضوع اکثراً په هغو هېوادونو پورې منحصره ده چې اقتصادې وده یې د صنعتي کېدو په لور روانه ده یا په بله وینا د لاتیني امریکا (پیرو، پانامې، برازیل او ونزویلا) هېوادونو په شدت سره د وېش له نابرابري سره لاس او ګرېوان دي.

د اقتصادي ودې په پیل کې نابرابر وېش ډېر زیات وي، چې ورو ورو د اقتصاد له قوي کېدو سره وېش مخلط کېږي او نابرابرۍ یې کمېږي.

**هـ- اقتصادي سیاستونه:** مختلف اقتصادي سیاستونه لکه مالي او پولي کولای شي د وېش د نابرابري مخنیوی وکړي (۷ :۳۷) مثلاً د کمو مزدونو لرونکو کاروبارونو زیاتوالی، د دولت د انتقالي مرستو کموالی، د سود د نرخ کموالی او په عوایدو باندې د مالیاتو کموالی د امریکا په اقتصاد کې په دوه وروستیو لسیزو کې په عوایدو کې د کم عاید لرونکو خلکو ونډه راکمه کړه او د زیات عاید لرونکو سهم یې زیات کړ او دا په دې ورستیو کلونو کې د عوایدو د وېش د نابرابرۍ لامل شوي.

د ځینو نامناسبو اقتصادي سیاستونو خپلولو په ځینو هېوادونو کې د عوایدو د وېش د نابرابرۍ زیاتېدو ته زمینه هواره کړه لکه د کرنیزو محصولاتو او د مصرفي موادو لپاره د قېمت ایښودلو سیاست او همدارنګه د مختلفو نظامونو شتون له قېمت څخه د ملاتړ لپاره او بې هدفه سبسایډۍ په پرمختیایي هېوادونو کې، نه یوازې داچې د عوایدو وېش یې متعدل و نه ساته، بلکې په دغو هېوادونو کې یې نابرابري نوره هم زیاته کړه.

**۴- د عاید د عادلانه وېش په اړه نظریات:**

د عاید د عادلانه وېش لپاره مختلفې نظریې وړاندې شوي دي یا په بله وینا سره له دې چې ټولو اقتصادپوهانو تل دا هڅه کړې چې د عوایدو د وېش په اړه مختلف نظرونه ورکړي، خو بیا هم نه دي برلاسي شوي چې د عوایدو د وېش په اړه یو مناسب نظر وړاندې کړي. د عوایدو په وېش کې د دولت د مداخلې بحث هم په مختلفو نظرونو باندې راڅرخي، چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

**الف- د عوایدو په مجدد وېش کې د دولت د عدم مداخلې د پلویانو نظریات:** یوه شمېر اقتصادپوهان په دې عقیده دي چې هر ډول لاس ته راغلي عواید چې له هر ډول عامل څخه وي (کار یا پانګې) دا عمل چې په هر بازار کې وي یو عادلانه عمل دی او د دولت مداخلې ته هېڅ ځای پکې نه پاته کېږي. نوموړی نظر دوو نامتو انګلیسي پوهانو هر یوه توماس هابر او جان لاک په اوولسمه پېړۍ کې څرګند کړ. دوی په دې نظر دي چې د بازار میکانیزم په خپله یو عادلانه عمل دی او هر څوک باید آزاد وي ترڅو په بازار کې له خپلو اقتصادي فعالیتونو څخه حاصل ترلاسه کړي.

د عوایدو په وېش کې د دولت د عدم مداخلې معاصر پلویان داسې څرګندوي، چې د مالیاتو وضع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول او د مالیاتو په شکل د عوایدو انتقال او د سبسایډي ورکول کم عاید لرونکو ته د هغو انګېزو د کموالي سبب ګرځي چې د بازار له امله رامنځ ته کېږي. د مالیاتي عوایدو انتقال فقیرانو ته د هغوی د کار کولو انګېزه هم کموي او په نتیجه کې له دواړو خواوو څخه په ملي تولید کې هم کموالی راولي چې دغه کموالی په خپله د عاید د مجدد وېش لپاره یو ډول تاوان دی.

کلارک د امریکا د نیوکلاسیک مکتب د مهم غړي په توګه د نوموړي مکتب اقتصادي اصول د نوموړي هېواد اقتصادي مجلسونو ته ښودل. کلارک د ویکستید په  څېر په دې عقیده دی چې که چېرې د هر تولیدي عامل ملي عاید د هغوی د خپلې نهائي ګټې په اندازه (نهائي محصول په اندازه) وي په رقابتي او د اوږدمهاله تعادل په شرایطو کې (د نهائي محصول نظریه) د تولید د عواملو عاید د ټاکنې او وېش څرنګوالی داسې مشخص کوي، چې ټول محصول کاملاً عادلانه وېشل کېږي (د نهائي محصول نظریه) د کلارک د نظر ا ساس جوړوي.

**ب- د عاید په مجدد وېش کې د دولت د مداخلې د پلویانو نظریات:** د عاید وېش د بازار په اقتصاد کې او د تولید د عواملو غیر عادلانه وېش  د خلکو ترمنځ په مختلفو ساختمانونو کې یوه داسې نتیجه لري چې هلته د خلکو ترمنځ زیات توپیر موجود وي په دې معنا چې د خلکو عواید غیر عادلانه وي، چې دغه تفاوتونه باید سیاسي اقتصادي او په ځانګړي ډول ټولنیز سیاست ته په کتو سره د امکان تر کچې باید د دولت د مداخلې په وسیله د عاید هغه برخع چې د بازار په نتیجه کې ترلاسه شوې له منځه یووړل شي او یا لږ تر لږه راکم کړای شي ترڅو د عوایدو مجدد وېش رامنځ ته شي.

دولت د نوي عاید د وېش په مرسته او د بودجې په وسیله کولای شي مختلف اهداف لاس ته راوړي مثلاً د عاید مجدد ېش د مختلفو سیمو ترمنځ د منطقوي انکشاف په خاطر، د خلکو ترمنځ د عوایدو وېش د اجتماعي سیاست د تأمین په موخه ترسره کېږي. (۵:۱۳۸)

له ۱۹۶۰ز کال څخه تراوسه پورې د عادلانه وېش موضوع د دولتونو او نړۍ والو سازمانونو ترمنځ د بحث اساسي محور  ګرځېدلی. د نوموړي بحث اصلي او اوږد مهاله هدف په هره برخه کې د ژوند د سطحې لوړول ترڅو هر اړخیزه پراختیا په ژوند کې تر سترګو شي. لکه څرنګه چې اقتصادپوهان د پرمختللو هېوادونو لپاره د د عاید عادلانه وېش په اوږد مهال کې د تطبیق وړ بولي خو پرمختیایي هېوادونه  چې همدا اوس له مشکلاتو سره لاس او ګرېوان دي نو باید زیاته هڅه وشي.

که څه هم د عاید عادلانه وېش موضوع له ډېر وخت راهیسې د ټولنپېژندنې او اقتصاد د متفکرینو او پوهانو له اساسي موضوعاتو څخه یوه ده، خو بیا هم د عاید نابرابر وېش موضوع د نوي نسل په مقابل کې په ټولو هېوادونو کې د یو لوی بحران په توګه او په ځانګړي ډول په پرمختیایي هېوادونو کې ګڼل کېږي. سره له دې چې د عوایدو د وېش موضوع د سیاسي نظامونو د سیاست جوړونې یوه عمده برخه هم جوړوي او احتمال لري چې دغه موضوع به په راتلونکي  کې هم د هېوادونو او ټولنو یوه اساسي او جدي موضوع وي، ځکه له یوې خوا داسې انګېرل کېږي چې د عوایدو د نابرابر وېش

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع اوږد مهال ته اړتيا لري او د يوې داسې ټولنې رامنځ ته کول چې په ډېره کمه اندازه د عوايدو غير عادلانه وېش پکې موجود وي د خلکو له همېشنيو ارمانونو او فکرونو څخه ده او له بلې خوا داسې ټولنه نه شو موندلی چې هلته دې د عايد د غير عادلانه وېش ويجاړونکي تأثيرات موجود نه وي.

څرنگه چې د وېش له نابرابرۍ سره مبارزه اوږد مهال ته اړتيا لري، نو نوموړې موضوع د بشري قوې پوهې او مهارت ته هم اړتيا لري ترڅو اقتصادپوهان په کليو او بانډو کې عامه پوهاوی رامنځته کړي چې نوموړې مبارزه د بري په لور گامونه واخلي.

کله چې د وېش نابرابري موجوده وي نو اجتماعي نابرابري به هم په خپل ځای باقې پاته وي. اوس د وېش د نابرابرۍ موضوع او په ټوله کې اجتماعي نابرابري پېچلی جوړښت ځان ته غوره کړی.

د امريکا او انگلستان څېړنو ښودلې ده چې په نوموړو هېوادونو کې د فردي عوايدو له ډېرښت سره بيا هم د عايد د وېش ستونزه په خپل ځای باقې پاته ده. خو د عايد په وېش کې نوموړې ستونزه په مخ پر ودې هېوادونو کې لا ډېره جدي ده، نو ځکه کله کله حکومتونه د خلکو له مظاهرو او اړتياوو سره مخ کېږي.

د مارکس په نظر د عايد وېش په پانگوال نظام کې غير عادلانه دی. نوموړی په دې عقيده دی چې په پانگوال نظام کې د عايد د عادلانه وېش نشتون د اجتماعي عدالت د نشتون په معنا دی او د نوموړو ستونزو د حل په موخه بايد مرکزي دولت قوانين او مقررات وضع کړي ترڅو د وېش له نابرابرۍ څخه مخنيوی وشي.

جان ستورات مېل په خپل کتاب (د سياسي اقتصاد اصول) کې نوموړې موضوع څېړلې ده او وايې چې (څرنگه چې پانگه وال نظام په فردي اصولو ولاړ نظام دی، نو ځکه د عايد په عادلانه وېش په کې نه ترسره کېږي. بايد دولت د خلکو په چارو کې ډېره مداخله وکړي ترڅو د حل يوه لار ورته پيدا شي ترڅو اجتماعي عدالت خوندي شي او ټولنيزه پراختيا رامنځ ته شي.

په هره ټولنه کې داسې وگړي شته چې پانگه لري. پر لومړنيو اړتياو سربېره نور څه هم په واک کې لري، خو ډېری بيا داسې خلک دي چې هېڅ نه لري. دا خپله د وېش نابرابري ده چې بايد جدي پاملرنه ورته وشي. نو په داسې حال کې د دولت مداخله ډېره مهمه ده ترڅو له يوې خوا کاريگرو ته د کار ساعتونه لږ کړي او مزد ورته ډېر کړي او بله دا چې ښه کارونه پيدا کړي ترڅو د وېش نابرابري له منځه لاړه شي او ټولنيز عدالت او ټولنيزه پراختيا دوامداره و ساتل شي.

د عايد په مجدد وېش کې د دولت د مداخلې پلويان داسې استدلال کوي چې د عايد وېش د دولت له لوري د کاريگرو د کار انگېزه نوره هم زياتوي او همدارنگه دغه د عوايدو انتقال په مختلفو ټولنو کې ترسره کېږي. په هره ټولنې کې داسې خلک هم وي چې د زياتو شتمنيو لرونکي وي او داسې خلک هم وي چې په فقر کې ژوند کوي. د هغو اقتصادپوهانو په مقابل کې چې د دولت د عدم مداخلې پلويان دي او وايي چې توليد او د کار کولو انگېزه کمېږي. د بوکنان په نوم يو اقتصادپوه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مقابل کې داسې وايي، چې فقیرانو ته د سبسایډیو انتقال نه شي کولای چې د کار کولو انګېزه راکمه کړي، بلکې امکان لري چې مهارت ترلاسه کړي او له مرستې څخه د ترلاسه شویو پیسو په واسطه پانګونه وکړي او په دې تشویق سره کېدای شي د خپل کاري استعدادونه نور هم زیات کړي.

د عوایدو په وېش کې د دولت د مداخلې مثالونه به د عوایدو په وېش کې د نابرابرۍ د تعدیل د امکاناتو تر عنوان لاندې موضوع کې چې په راتلونکو مخونو کې راځي، څرګند شي.

**ج- د عوایدو د بشپړ عادلانه وېش پلویانو نظریات:** د عوایدو له عادلانه وېش څخه د دفاع په موخه، ډېرى نظر ورکوونکي له ځینو محدودیتونو څخه پرته داسې نظر لري چې له قید او شرط پرته باید عاید ترلاسه شي د مثال په توګه ځینې يې داسې نظر لري چې له انحصاراتو څخه ترلاسه شوي عواید عادلانه نه ګڼي او په دې نظر دي چې له انحصاراتو څخه ترلاسه شوي عواید باید تر مالیاتو لاندې راشي او بله ډله بیا له دط هم زیات څه وايي. داسې نظر لري چې له کار څخه او پانګې څخه ترلاسه شوي عواید هم عادلانه نه دي او داسې نظر لري چې له پانګې څخه ترلاسه شوي عواید باید تر مترقي مالیاتو لاندې راشي او د دوی هغه پوهان چې د عادلانه وېش نظر لري ځینې بیا داسې وایي، چې له هر کار څخه ترلاسه شوي عواید هم عادلانه نه دي او د ترکیبي کار اصطلاح کاروي (له ساده کار څخه ترلاسه شوي عواید او له ماهر کار څخه چې په دغه کار باندې پانګونه شوې توپیر لري) په وړیا ډول د زده کړو او مهارتونو او یا کسبي زده کړو لپاره د ټولنې د ټولو خلکو لپاره کولای شي چې دغه نظر یو څه ترلاسه یا عملي شي خو په هر حال د داسې شرایطو پیدا کول چې ټول وګړي دې یو شان عواید ترلاسه کړي غیر عملي او غیر منطقي ښکاري.


**د- د نهائي مطلوبیت له اړخه د عاید د عادلانه وېش نظریه:** فکري زېربناء او نهائي مطلوبیت د عاید د عادلانه وېش په اړه په لاندې ډول څرګندېږي.

د یو فقیر په پرتله یو شتمن ته یو ډالر اضافي عاید کم ارزښت لري. ( ۳: ۸۴) یا په بله وینا شتمن افراد خپلې اضافي پیسې په لوکسو کالیو باندې لګوي د مثال په توګه په هوټل کې د یوه وخت ډوډۍ په داسې حال کې چې فقیر خپل اضافي عاید په ضروري کالیو لکه کالیو، خوراک او دوا باندې مصرفوي. دغه نظریه د عاید د نهائي مطلوبیت د فرضیې د نزولي کېدو پر اساس څرګنده شوه، یعنې د عاید په زیاتېدو سر د عاید اضافي واحد مطلوبیت کمېږي. په نتیجه کې له شتمنو څخه فقیرانو ته د عاید انتقال د ملي مطلوبیت زیاتوالی به له ځانه سره ولري. د جان ستوارت مېل په څېر پوهانو نظریه د ۱۸ پېړۍ په اواخرو کې دغه مسئله څرګندوي. هغوی د نهائي مطلوبیت پر نزولي فرض کېدو سربېره د مطلوبیت د تابع د یو شان کېدو د افرادو لپاره هم اضافه کوي. (٦ : ۵۴) په دې صورت کې که د A شخص له B شخص څخه زیات عاید ولري د عاید انتقال د A څخه B ته قطعاً د هغه مجموعي مطلوبیت دوه یا ټول ملي مطلوبیت زیاتوي. څرنګه چې د A عاید د مطلوبیت واحدونه چې له لاسه يې ورکړي، له هغه څخه کم مطلوبیته دي کوم چې B شخص يې ترلاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵) شکل: د نهائي مطلوبیت ارایه (٦: ۵۴)




پورتنیو شکلونو ته په کتو که له A شخص څخه چې زیات عاید لري د YH,YH په اندازه عاید ترې کم کړو او دغه عاید B شخص ته ولېږدو ترڅو عاید یې له YL څخه YL ته زیات شي، د A شخص مطلوبیت به د YH,FF,Y د مساحت په اندازه راکم شي چې د B د شخص په نسبت چې مطلوبیت یې (YL,EE,YL مساحت) په اندازه زیات شوی دی له A څخه به کم وي.

۵- د عاید په وېش کې د نابرابرۍ د تعدیل امکانات: یوه ډله علماء په دې نظر دي چې د بې عدالتۍ او اجتماعي تضاد یوازینی عامل اقتصادي نابرابري ده، خو ځیني یې بیا له اقتصادي انګېزو څخه بولي، چې په تولید او اقتصادي وده باندې زیات تأثیرات لري، خو په عامه اقتصاد کې د دولت له اجتماعي او اقتصادي دندو څخه د نابرابرۍ له منځه وړل او یا هم کنټرول دی، خو ځیني سیاستونه چې په دې اړه ترسره شوي کله کله یې سیاسي اړخ هم نیولی. په وېش کې د بې عدالتۍ د ختمولو لپاره لاندې نقطې په پام کې نیول کېږي. (۷ :۱۷۰)

۱. د عاید د وېش نابرابري امکان لري د مختلفو دلایلو له مخې رامنځ ته شي. پردې اساس د دولت د سیاستونو بشپړه بررسي د عاید په وېش باندې د تأثیر کولو لپاره ډېر سخت او پېچلی کار دی یا په بله وینا که چېرته دولت وغواړي هغه لاملونه چې نابرابري پیدا کوي له منځه یوسي، چې ددې په وسیله له هغې حربې څخه (د واقعي علاج له واقع کېدو نه مخکې) د نابرابرۍ د جرړو ویستلو لپاره ګټه پورته کړي، چې دغه کار د اقتصادي ودې لپاره له زمینې جوړولو سره مرسته کوي لکه څرنګه چې د زېربناوو په جوړولو، د پانګونو په زیاتونه، د استخدام د سطحې په لوړوالي، د عامه عاید او عامه رفاه له لوړولو څخه کولای شو په دې برخه کې د عاید د عادلانه وېش د اساسي تدابیرو په توګه ګټه پورته کړو. پردې اساس دغه ډول روش د نابرابرۍ د لرې کولو لپاره زیات مشکلات لري. ممکنه روش او سیاست چې دولت کولای شي تر لاس لاندې ونیسي هغه وخت دی چې د عاید د وېش له نابرابرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مخ وي يا په بله وينا وروسته د نابرابرۍ له واقع کېدو څخه بايد د تعديل او کنترول د لارو لپاره اقدام وکړي. په دې برخه کې د دولت په مختلفو تګلارو چې باندې کولای شي په مستقيمه توګه د عايد وېش تغيير کړي او د عايد د وېش د نابرابرۍ په کموالي کې په تغيير سره مرسته وکړي او په لنډ ډول اشاره ورته کېږي. دغه برنامې او مالي سياستونه له ډول ډول مالياتي برنامو سره، چې له دې جملې څخه په منفي عايد باندې د مالياتو نظام هم دی. پر مالياتو سربېره دولتي مصارف او د دولت بېلابېل انتقالي او رفاهي تاديات هم دي. که چېرې په سمه توګه عملي شي، کولای شي چې د عايد وېش په سمونه کې مؤثر واقع شي.

۲. د نابرابرۍ ختمول او کموالی د لږې مودې کار نه دی، دولت بايد د نابرابرۍ د ختمولو او کمولو لپاره اوږدمهاله پلانونه طرح او پروګرامونه تطبيق کړي.

۳. سره له دې چې په دې برخه کې د دولت د مالياتو او مصارفو تأثيرات د عايد په وېش باندې په جلا ډول تر بحث لاندې نيول کېږي. اړينه ده ددغو دوه مالي متغيرو د تأثيراتو د ژورې او بشپړې بررسي لپاره دواړه په هم مهاله ډول په پام کې ونيسو. ځکه چې راټول شوي ماليات د هغو خلکو د پېروډنې د قدرت د کموالي سبب ګرځي چې دولت د راټولو شويو مالياتو له لارې په خپلو انتقالي تادياتو سره، له هغو خلکو چې عوايد يې کم دي زيات کړي.

په نتيجه کې دغه ډول مالي سياستونه له يوې خوا د انتقالي مصارفو سره د کم عايد لرونکو خلکو په ګټه دي او له بلې خوا هغه ماليات د هغو افرادو په تاوان دي چې د هغوی په غاړه دي، چې ښه عايد لري. سره له دې چې له مصارفو څخه يې ترلاسه شوي ګټو او له مالياتو څخه د ترلاسه شوی بار بررسي کول يو ساده کار نه دی، خو بايد د دولت د سياست د دقيقه بررسي او ارزيابي دغه دوه عوامل بايد هم مهاله په پام کې ونيسو.

**الف- د عايد په وېش کې د مالياتو رول:** د عايد په وېش کې د دولت له مهمو سياسي برخو څخه يو هم ماليات دي. د مالياتو ټول ډولونه د ماليې لاس ته راوړلو (عايد) يو ډول دی او په يو نه يو ډول د خلکو د عايد پر وېش اغېز لري. د اهميت وړ ټکی دادی چې د عايد په وېش باندې د مالياتو د اغېزو د پايلو يوه برخه د نظري تحليل پر بنسټ ولاړه ده. په داسې حال چې په اوسنۍ نړۍ کې د مالياتو د لېږد، مالياتي تېښتې او نورو ستونزو له امله ليدل شوې عملي پايلي تر ډېره د عايد په وېش کې نظري پايلې او له تيوريکي اغېزې سره توپير لري. (۱۷۲:۷)

د عوايدو پر وېش باندې له اغېز لرونکو مالياتو څخه يو چې کولای شي نابرابری راکمه کړي په مترقي يا تصاعدي عايد ماليات دي. که څه هم دغه ماليات ډېری وخت په هغو کسانو دروند تمامېږي چې د عايد کچه يې زياته وي، خو د عايد د نابرابري په کمښت کې مؤثر دی. که په هره اندازه ددې ډول مالياتو نرخ ډېر لوړ وي، د عايد په وېش به يې اغېزه زياته وي. خو که د مالياتو نهائي نرخونه ډېر لوړ وي، نو په توليد، د کار په عرضه، سپما او نورو باندې ددې ډول عايد د ناوړه اغېزو له امله کېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي یوازې داچې د عاید وېش به غوره نه شي، بلکې نابرابري به نوره هم زیاته کړي. ځکه نو اړینه ده چې د مالیاتو سیستم په تصاعدي یا مترقي عاید باندې یو معتدل سیستم وي.

که مالیات د تصاعدي شرکتونو په عاید باندې وضع او بار یې په سهم لرونکو باندې واچول شي، کولای شي د عاید د وېش د نابرابرۍ په کمښت کې رول ولوبوي، خو که ددغو مالیاتو بار په مصرف کوونکو باندې د قېمت په لوړولو سره واچول شي، په دې صورت کې نزولي مالیات بلل کېږي او د عاید په وېش باندې ناوړه اغېز شیندي. په یادو مالیاتو سربېره نور مستقیم مالیات لکه په شتمنۍ مالیات، په میراث مالیات، په ډالیو مالیات، په لاس ته راغلیو عوایدو او پانګه ییز ګټو مالیات کولای شي د عاید د نابرابرۍ په کمولو کې مهم رول ولوبوي.

ایټالوي اقتصادپوه ریګنانو د عاید د وېش د غوره کولو لپاره په میراث باندې د مالیاتو د وضع کولو لپاره یو اصل وړاندې کړی، چې په عامه اقتصاد کې د ریګنانو د اصل په نوم یادېږي. (۱۷۳:۷) ددې اصل پر اساس په میراث باندې د مالیاتو اندازه باید د شتمنۍ د مودې پر اساس (د چې میراث څو ځله له یوه لاس نه بل ته تللي دي) تغییر وکړي، یعنې هر څومره چې د شتمنۍ عمر زیات وي، د مالیاتو اندازه هم باید زیاته وي. د مثال په توګه فرض کړئ چې یوه اندازه شتمني له A کس څخه B کس ته په میراث رسېدلې ده. په دې صورت کې باید په دغې شتمنۍ د معلوم نرخ له مخې مالیه وضع کړل شي. کله چې دغه شتمني د B کس له مرګ وروسته C کس ته لېږدول کېږي، نو باید د C کس لپاره د مالیاتو نرخ زیات کړل شي. همدارنګه ددغې شتمنۍ د مالیې نرخ په تدریجي ډول وخت په وخت زیاتېږي ترڅو نورو نسلونو ته لېږدول کېږي.

د عاید په وېش کې غیر مستقیم مالیات کم رول لري، ځکه په غالب ډول داسې مالیات تنازلي طبیعت لري. په نتیجه کې ددې ډول مالیاتو بار په داسې کسانو بارېږي چې عاید یې لږ وي. پردې اساس امکان لري چې دا ډول مالیات د عاید په وېش باندې ناوړه اغېز وشیندي. د مثال په توګه په عمومي اجناسو باندې مالیات په پام کې ونیسئ. دې ته په پام سره چې زیات عاید لرونکي کسان د لږ عاید لرونکو کسانو په پرتله د خپلې شتمنۍ لږه فیصدي مصرفوي. پردې اساس که له کوم توپیر پرته په دواړو ډلو یو ډول مالیات وضع شي نو د مالیاتو ډېر بار به په هغو کسانو واچول شي چې عاید یې لږ دی او د عاید په وېش به ناوړه اغېزه وشیندي، خو باید پام وشي چې دا ډول مالیات کله هم تنازلي مالیات نه شي بلل کېدای، ځکه چې په دې ډول مالیاتو کې د اجناسو نوعیت ډېر رول لري. د مثال په توګه زیات مالیات د شتمنو کسانو لخوا په مصرفي توکو ولګول شي او هغه توکي چې د کم عاید لرونکو کسانو له خوا کارول کېږي مالیه پرې وضع نه شي او یا لږه مالیه پرې وضع شي. دا ډول مالیات کولای شي د عاید د نابرابرۍ په له منځه وړلو کې رول ولوبوي (په زینتي او لوکسو اجناسو د لوړې مالیې وضع کول).

**ب- د عاید په وېش کې د دولت د مخارجو د ډولونو رول:** په عامله اقتصاد کې د دولت مخارج په

(c) ketabton.com: The Digital Library



معمولاً په دریو ګروپونو وېشل کېږي لکه جاري (مصرفي مخارج)، پانګونه او انتقالي مخارج (بلا عوضه مرستې). د دولت د دوو لومړنیو مخارجو مجموعه چې په اقتصاد کې د دولت پېرودنه ده کولای شي په ټولیز ډول د عاید په وېش کې په غیر مستقیم ډول اغېز ولري. دا ډول مخارج لکه د ښوونې اوروزنې مخارج، د کار زده کړې مخارج، عامه مخارج او د روغتیا او نورو کسانو د عاید د وېش وضعیت مخکې له دې چې بازار ته ننوځي، غوره کړي او په ضمني دول فرض کېږي چې د هغو کسانو په عاید کې زیاتوالی چې عاید یې کم دی، په ځانګړي ډول که د دولت دې ډول مخارجو ته پام وشي، د نابرابرۍ په له منځه وړلو کې مهم رول لیدل کېدای شي. دغه ټکی ډېر اهمیت لري چې په ډېرو پېښو کې هغه کسان چې عاید یې کم دی، د خپل عاید د زیاتوالي کومه وړتیا نه لري. ځکه د دولت انتقالي مخارج چې په حقیقت کې دغو کسانو او لږ عاید لرونکو ته یو اړخیزه ورکړه بلل کېږي، کولای شي پرته له دې چې د هغوی وړتیا ته پام وشي، په مستقیم ډول د عاید په وېش کې تغییر راولي. پردې اساس د دولت انتقالي مخارج د عاید په وېش کې د پام وړ رول لري. (۱۷۵:۷)

د کم عایده کسانو د عاید د جبران او د عاید د نابرابرۍ د له منځه وړلو په موخه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د دولت رفاهي او انتقالي پرورګامونه په دې ډول دي: د کم عایده کسانو لپاره د خوراکي موادو بېلابېل کوپونونه، د زړو او متقاعدو کسانو لپاره د اجتماعي ژوند تأمین، کاري بیمې، ارزان بیه کورونه، بېلابېلې بیمې، نقدي او غیر نقدي مرستې او نور. (۱٦۲:۲)

د اهمیت وړ موضوع چې باید اشاره ورته وشي داده چې په کاري عاید کې د دولت د انتقالي مخارجو د ګټو اندازه کول آسانه کار نه دی. د مثال په توګه حتی نه شو کولای چې د دولت ټولې رفاهي او انتقالي ورکړې د کم عایده کسانو په واسطه د ترلاسه شوې ګټې معادل وبولو. ځکه ددې ډول انتقالي ورکړو یوه برخه د دولت ددغو پروګرامونو اجراء کوونکو کاریګرو ته ورکول کېږي، چې په حقیقت کې دغه کار کوونکي د مرستې ترلاسه کوونکې ټولنې غړي نه بلل کېږي.

**ج- په منفي عاید باندې د مالیاتو سیستم:** د عاید مرسته او له کم عایده کسانو سره د ملاتړ یو پروګرام چې کولای شي د عاید په وېش کې مؤثر رول ولوبوي د یوه ټولیز او واحد پروګرام له لارې د نقدي مرستې وېش دی. د واحدې نقدي مرستې دغه پروګرام په منفي عاید د مالیې په نوم یادېږي. د مالیې ددغه سیستم مفهوم ډېر ساده دی. هغه شخص چې نسبتاً لوړ عاید ترلاسه کوي، باید د خپل عاید پر اساس دولت ته مثبت مالیات ورکړي او د عاید د زیاتوالي پر مهال اړ دي چې دولت ته لا زیات مالیات ورکړي، خو هغه شخص چې تر یوې معلومې اندازې کم عاید لري، نه یوازې داچې مالیه نه ورکوي، بلکې د خپل عاید د زیاتوالي په موخه له دولت څخه یوه اندازه مرسته ترلاسه کوي (منفي مالیات). (۱۷٦:۷)

پردې اساس نو د منفي مالیاتو د ترلاسه کولو شرط تر یوې ټاکلې اندازې د عاید کموالی دی. د عاید دغه ټاکلی حد چې کم عایده شخص له دولت څخه پرې منفي مالیات ترلاسه کوي او لوړ عاید

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکی شخص دولت ته مثبت ماليات ورکوي، د سر په سر ټکي او يا د فقر له کرښې سره برابر وي او يا په منفي عايد باندې د مالياتو په سيستم کې، هغه شخص چې عايد يې له سر په سر ټکي سره برابر وي له دولت څخه کوم عايد نه ترلاسه کوي او نه دولت ته کوم ماليات ورکوي. ځکه ددې ډول مالياتو د تشخيص لپاره اړ يو چې دوه ډوله معلومات ولرو:

۱. د فقر په کرښه کې د عايد معلومول او يا د هغه عايد معلومول چې په شرايطو برابر کسان له دولت څخه منفي ماليات پرې ترلاسه کولای شي.

۲. په منفي عايد باندې د مالياتو نرخ، چې د افرادو د عايد په بېلابېلو سطحو باندې د ورکول کېدونکې مرستې اندازه ټاکي، دغه نرخ ښيي چې که د شخص عايد د فقر له کرښې څخه کم وي، دولت يې د عايد د کسر څومره اندازه ورکړي. دولت د افرادو د جاري عايد ټول کسر او د فقر د کرښې عايد جبران کړي. نو ويل کېږي چې په منفي عايد ماليات ٪۱۰۰ دي. د مثال په توګه فرض کوو چې د فقر په کرښه کې د يوې پنځه کسيزه کورنۍ مياشتنی عايد ۱۲۰۰۰ افغانۍ دی. په دې صورت کې په ٪۱۰۰ مفني عايد باندې د کورنيو بېلابېل جاري منفي ماليې د لاندې جدول په مرسته ښودلی شو:

(۳) په جاري عايد سره د پنځه کورنيو د منفي مالياتو وېش (۷: ۱۷۶)


| شمېره | له مالياتو وروسته عايد | منفي ماليات | دوامداره ماليات |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۲۰۰۰ | ۱۲۰۰۰ | ۰ |
| ۲ | ۱۲۰۰۰ | ۶۰۰۰ | ۶۰۰۰ |
| ۳ | ۱۲۰۰۰ | ۴۰۰۰ | ۸۰۰۰ |
| ۴ | ۱۲۰۰۰ | ۳۰۰۰ | ۹۰۰۰ |
| 5 | ۱۲۰۰۰ | ۰ | ۱۲۰۰۰ |

(۳) جدول د پنځو کورنيو د منفي مالياتو وېش (۷:۱۷۶) دغه پورته ذکر شوی حالت کولای شو د ګراف په واسطه هم وښيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦) شکل: په پنځو کورنیو کې د منفي مالیاتو ارایه




پورته ګراف ته په کتو سره که نقدي مرستې او یا منفي مالیه شتون ونه لري، نو له مالیاتو د مخکې او وروسته عاید ترمنځ به کوم توپیر هم شتون ونه لري. په حقیقت کې OA کرښه له مالیاتو څخه وړاندې د عاید وضعیت څرګندوي، د منفي مالیاتو لپاره د ۱۰۰٪ نرخ په وضع کولو سره له مالیاتو وروسته د عاید کرښه په BA بدلېږي، له مالیو څخه د مخکې او وروسته عاید اندازه (د OBA ساحه) په حقیقت کې منفي مالیات راښیي، په دې حالت کې د یوه داسط شخص لپاره چې ښخي عاید ونه لري (عاید یې صفر وي) د منفي مالیې تر ټولو لوړه اندازه په میاشت کې۱۲۰۰۰ افغانۍ ورکول کېږي. د عاید په زیاتوالي سره په تدریجي ډول د منفي مالیاتو اندازه هم کمېږي. په دې ډول چې شخص ته د ۱۲۰۰۰ له افغانیو سره معادل عاید باندې هېڅ مالیه نه ایښودل کېږي. د ۱۰۰٪ په اندازه منفي مالیات چې په پوره ډول د فقر کرښه په پوره ډول جبرانوي، له شک پرته چې د کار د انګېزې د کمښت لامل کېږي، ځکه د منفي مالیاتو له ۱۰۰٪ نرخ سره په هره اندازه چې شخص کم کار کوي، د دولت له خوا ورته په زیاته اندازه عاید ورکول کېږي. له دې امله په عمل کې د منفي مالیاتو اندازه له ۱۰۰٪ څخه کمه ده. په دې مثال کې که د منفي مالیاتو نرخ د ۵۰٪ له مخکې وضع شي نو په لاندې جدول کې یې وضعیت ښودل کېږي:

(۴) جدول: د ۵۰٪ په صورت کې په منفي عاید باندې د مالیاتو نرخ

| شمېره | د تصرف وړ (له مالیاتو وروسته) عاید | منفي مالیات (د دولت له خوا ورکول کېدونکې مرسته) | جاري عاید (له مالیاتو مخکې) |
| --- | --- | --- | --- |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ١ | ٦٠٠٠ | ٦٠٠٠ | ٠ |
| ٢ | ٩٠٠٠ | ٣٠٠٠ | ٦٠٠٠ |
| ٣ | ١٠٠٠٠ | ٢٠٠٠ | ٨٠٠٠ |
| ۴ | ١٠۵٠٠ | ١۵٠٠ | ٩٠٠٠ |
| ۵ | ١٢٠٠٠ | ٠ | ١٢٠٠٠ |

پورته جدول ته په کتو دولت د ۵٠٪ کسر يوازې نيمه برخه جبرانوي. ځکه د دولت د مرستې لوړه اندازه ٦٠٠٠ افغانۍ ده. د مرستې اندازه د عايد په لوړوالي سره په تدريجي ډول کمېږي، څکه نو ويلی شو چې په په منفي عايد باندې د مالياتو سيستم د ۵٠٪ په نرخ سره يو تناسبي سيستم دی.

په ټوليز ډول بايد وويل شي چې په منفي عايد باندې د مالياتو د وضع کولو سيستم يو ساده او د پوهېدو وړ سيستم دی او کولای شي چې د کم عايد لرونکو لپاره يو څه عايد وساتل شي او د عايد په وېش کې  نابرابري راکمه کړي. له ١٠٠٪ څخه کم نرخ ته په کتو دغه سيستم نه شي کولای چې د خلکو هغه انگېزه چې د زياتو پيسو د گټلو لپاره يې لري، چې زيات کار وکړي تر ډېر تأثير لاندې راولي او د دولت د نورو رفاهي برنامو په پرتله دغه سيستم ډېر مؤثر او ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډیز:**

د عوایدو وېش د دولتونو په کاري دستورونو کې یو مهم اقتصادي او سیاسي هدف دی او د دولتونو د مهمو دندو له جملې څخه شمېرل کېږي. د عوایدو وېش په ملي عاید کې د افرادو د عوایدو د ونډې له څرنګوالي څخه بحث کوي.

په ټولنه کې د عوایدو اساسي سرچینې مزد، شتمني، ملکیتونه او دولت وي. د عوایدو نابرابري کولای شو چې د لورنس د منحني، د جیني ضریب او د اتکینسون په وسیله اندازه کړو، چې له دوه لومړنیو معیارونو څخه زیاته ګټه اخیستل کېږي او له همدې وجې اهمیت لري. مختلف لاملونه کېدای شي چې په عوایدو کې د نابرابرۍ لامل وګرځي، چې په عمده ډول د بازار شکل چې په خپله نابرابري رامنځ ته کوي، د عاید ډول، جنسي او نژادي توپیرونه، د اقتصادي پرمختګ شرایط او اقتصادي سیاستونه دي.

د عوایدو د وېش په اړه مختلف نظریات وړاندې شوي دي. یو شمېر اقتصادپوهان د عاید په مجدد وېش کې د دولت د عدم مداخلې د نظریاتو پلویان دي. یوشمېر بیا د عاید په مجدد وېش کې د دولت د مداخلې پلویان دي او یوه ډله بیاد عاید په بشپړه ډول د برابرې وېش پلویان دي. په داسې حال کې چې غوښتونکي د لاسه تللو غوښتنو او هغو غوښتنو چې د ټیټ عاید لرونکو او لوړ عاید لرونکو څخه را ایجاد شویو غوښتنو او عمومي غوښتنو ته په کتو او له هغوی سره په مقایسه خپل نظر څرګندوي.

په عامه اقتصاد کې د دولت یوه اقتصادي او ټولنیزه دنده داده چې د عاید نابرابري کنترول او د هغه تعدیل شمېرل کېږي. نو پردې اساس د نابرابرۍ د تعدیل لپاره دولت له مختلفو امکاناتو څخه استفاده کوي. د دولت په لاس کې مالیات یوه مهمه وسیله ده ترڅو د عوایدو په وېش کې مهم رول و لوبوي. د مالیاتو مختلف ډولونه چې عایداتي تأثیرات لري د عوایدو په وېش کې مؤثر دی، چې د هغوی له جملې څخه یو هم مترقي مالیات دي چې د هغوی زیات بار په زیات عاید لرونکو باندې وي خو د عوایدو د وېش په نابرابرۍ کې مؤثر دی. همدارنګه په شتمنۍ او ثروت، په میراث مالیات، ډالۍ، پانګه ییزې ګټې هم د عاید د نابرابري په کموالي کې مهم رول ادا کولای شي.

د دولت د مصارفو مختلف ډولونه لکه جاري مخارج، د دولتي پانګونو مخارج په غیر مستقیم ډول د عوایدو په وېش کې مؤثر دي. انتقالي مخارج هم له یوې خوا د تادیاتو په توګه په ټیټ عایدو لرونکو باندې په مستقیم ډول باندې د عاید په وېش کې مهم رول لري.

په منفي عوایدو باندې د مالیاتو سیستم یوه بله وسیله ده، چې دولت کولای شي ددغې وسیلې په مرسته هغه خلک چې ټیټ عاید لري، حمایه کړي او د عوایدو د نابرابرۍ د کموالي سبب و ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. د عاید د وېش او د عاید د عادلانه وېش مفاهیم توضېح کړئ؟
۲. د عاید منابع کومې دي او د دوی له جملې څخه د دولت له لارې کوم عواید ترلاسه کولای شو؟
۳. د دولت د عوایدو د وېش د نابرابرۍ د اندازه کولو معیارونه کوم دي؟
۴. د لورنس منحني د دولت د عوایدو د وېش د نابرابرۍ د اندازه کولو د یوه معیار په توگه توضېح کړئ؟
۵. د عوایدو په وېش کې د نابرابرۍ د راپیدا کولو د لاملونو نومونه واخلئ؟
۶. د عاید ډول په کوم صورت کې کولای شي د عوایدو په وېش کې د نابرابرۍ لامل وگرځي؟
۷. د عوایدو په مجدد وېش کې د دولت د عدم مداخلې د پلویانو نظریات په گوته کړئ؟
۸. د عوایدو عادلانه وېش د مطلوبیتونو له نظره څه ډول استدلال کېږي؟
۹. کوم ډول مالیه د عوایدو په وېش کې د نابرابرۍ په له منځه وړولو کې زیات رول لري؟
۱۰. غیر مستقیم مالیات په کوم صورت کې کولای شي چې د عوایدو د وېش د نابرابرۍ په کموالي کې مهم رول ولري؟
۱۱. د دولت کوم ډول مصارف کولای شي چې په غیر مستقیم ډول د عوایدو په عادلانه وېش کې مؤثر واقع شي؟
۱۲. د ولت د مخارجو له ډلې څخه د دولت انتقالي تادیات ولې د عوایدو د وېش د نابرابرۍ په کمولو کې مهم گڼل کېږي؟
۱۳. په منفي عوایدو باندې مالیات څه مفهوم لري؟
۱۴. د منفي مالیاتو د دقیق تشخیص لپاره د کوم ډول اطلاعاتو لپاره اړتیا لیدل کېږي؟

**مأخذونه:**


۱. الیارد، دنیس، الفرد فیل. (۱۳۸٦) مالیه بین المللی. ترجمه محمد علی مانی، نشر نی، تهران.
۲. بگ، دیوید، استانلی فیشر. (۱۳۸۵) علم اقتصاد. ترجمه محمد حسین تیز هوش، انتشارات جنگل، تهران.
۳. پژویان، جمشید. (۱۳۸۳) اقتصاد بخش عمومی. نشر جنگل، تهران.
۴. توکلی، احمد. (۱۳۸۰) بازار، دولت. شرکت چاپ و نشر لیلی، تهران.
۵. حقایقی، عبد الله. ( ۱۳۸۱) سیاست بودجه. مطبعه بهیر، کابل.
٦ . خراسانی، حسن. ( ۱۳۸۵) مالیه عمومی و تعین خط مشی دولت ها. انتشارات مهر اندیش، تهران.
۷. صمیمی، جعفری. (۱۳۸۵) اقتصاد بخش عمومی۱. چاپ مهر (قم)، تهران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. فرهنگ مهر، حسین. (۱۳۸۱) زمینه بودجه ریزی. دفتر پژوهش های فرهنگی تهران، تهران.

9 . SAMUELSEN P.A and W. A Nardhouse . (1989). Economics 6th -ed . USA . MC Graw – Hill .

10.Frank, R . ( 1997) . Microeconomics and Behaviar 3rd –ed .USA Irwin MCGraw – Hill.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

## مالي او مالياتي سيستمونه

مالي سيستم او مالياتي سيستم دوه بېلابېل مفاهيم دي او له يو بل نه تفکيک کېدای شي. لکه څرنگه چې مالي سيستم د دولت او ټولنې د اړتياوو د رفع کولو په خاطر د پولي او مالي وسايلو په راټولولو پورې اړوند برخو مجموعه ده، چې له تاريخي اړخه تر وسايلو، پولي او مالي مناسباتو لاندې او د دولت د وظايفو د پرمختگ د اغېزې او اړتياوو لاندې منځ ته راغلي او انکشاف يې کړی دی. مگر په مالياتي سيستم کې ټول د مالياتو ډولونه شامل دي چې په يوه هېواد کې لاس ته راغلي. د مالياتي سياست اهداف ته تنظيم او په معقول ډول يې يو تر بله يې موفقت لرلی وي.

مالي او مالياتي هر يو سيستم د مختلفو اقتصادي نظامونو تر شرايطو لاندې چې ځانگري خصوصيات لري، د ټولنو د پرمختگونو او تحولاتو تابع دي. مالي منجمنټ په حقيقت کې د مالي امکاناتو، مناسبو وسايلو معقوله رهبرۍ او اداره ده، ترڅو خپلو طرحه شويو اهدافو ته ورسېږي.

په دې څپرکي کې لومړی د مالي سيستم مفهوم تشرېح شوی، مالي منجمنټ ته په لنډ ډول کتنه شوې او وروسته بيا مالياتي سيستم له خپلو ځانگړتياو سره په مختلفو نظامونو کې له تاريخي لحاظه کتل شوی دی.

### ۱- د دولت د مالي سيستم  مفهوم او ماهيت:

مالي سيستم د مختلفو ساحو يا د مالي مناسباتو د کړيو مجموعه ده، چې هريو يې د پولي ذخايرو په منځ ته راتگ او استفاده کې د ځانگړو خصوصياتو لرونکی دی او د نوي توليد په پروسه کې جلا رول لوبوي. (۱: ۳۰)

### د دولت مالي سيستم:

د ټولنې د مالي سيستم يوه  برخه ده چې د عايد د مجدد وېش مسئوليت په غاړه لري. د دولت د مالي سيستم دوهم مهم خصوصيت د يو سازمان ترکيب دی چې د دولت د مالي اختصاصي مؤسساتو د مجموعې په شکل فعاليت لري او د دولت د عوايدو په راټولو او وېش کې مصروف دی. د مالي دولتي مؤسساتو فعاليت د دولتي قوانينو او مقرراتو پر اساس تنظيمېږي، ځکه چې د دولت پرېکړې د مالي جاري فعاليتونو، يعنې د دولت د مالي وسايلو د حصول او استفادې په برخه کې په يو ټاکلي وخت (يو کال) کې ترسره کېږي. همدارنگه د دولت د اوږد مهاله  فعاليتونو په هکله قوانين او مقررات شتون لري چې دولتي مالي چارې رهبري کوي.

له دې کبله د دولت مالي سيستم: ټولې هغې برخې دي چې له پولي وسايلو څخه په گټې اخيستنې او راټولو مکلف وي. ددې لپاره چې د ټولنې او دولت اړتياوې رفع شي، البته د دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرروتونو لپاره د مشخصو حدودو ټاکل، چې د يوې ټولنې په اقتصادي، فرهنګي، سياسي، او اجتماعي انکشافي سطحې پورې تړاو لري.

د دولت مالي سيستم د تاريخي ځانګړتياوو لرونکی دی، چې د جنسي او پولي مناسباتو په شرايطو کې د وظايفو او اړتياوو تر اغېزې لاندې منځ ته راغلی او انکشاف يې کړی. مالي سيستم په ځينو پرمختللو هېوادونو کې په عمده ډول له لاندې برخو څخه تشکيل شوی. (۲:۲۲)

۱- دولتي بودجه ۲- محلي مالي چارې ۳- ځانګړې دولتي ذخيرې ۴- د دولتي تصديو مالي چارې.

**۱- دولتي بودجه:** د مالي سيستم يوه برخه ده چې له لويو مرکزي پولي ذخايرو څخه چې د دولت په لاس کې دي تشکيل شوې ده. په دولتي بودجه کې د ملي عايد مهمه برخه شامله ده، چې د دولت په لاس کې سره يو ځای شوې ده او د دولت له لوري د هغې د مجدد وېش پر اساس د مالي ميتودونو په وسيله ترسره کېږي. دولتي بودجه په اقتصادي، اجتماعي او سياسي چارو کې د مداخلې په موخه د مصارفو او عوايدو له لارې د استفادې وړ ګرځي.

**۲- محلي مالي چارې:** د مالي سيستم دوهمه برخه محلي مالي چارې دي چې له اقتصادي او اجتماعي انکشاف سره يو ځای يې د هغې ونډې په مالي سيستم کې پراختيا موندلې. دغه د مالي چارو برخه د حکومت په تشکيل او د ادارې په طرز سره توپير کوي لکه څرنګه چې د امريکا په متحدو ايالاتو کې ۴۰٪، په جرمني کې تر ۵۰٪ او په انګلستان او ايټاليا کې تر ۳۰٪ دولتي عوايد دغه برخه تشکيلوي.

**۳- د مالي سيستم مستقله برخه:** همدرانګه د دولتي تصديو مالي چارې چې د دولت له فعاليتونو سره په ورته وخت کې په اقتصادي چارو کې پراختيا مومي. دغې برخې له دوهمې نړۍ والې جګړې نه وروسته انکشاف وکړ.

**۴- دولتي ځانګړې ذخيرې:** له دولتي بودجې نه جلا او مستقلې دي، چې د مرکزي يا محلي حکومت له خوا اداره کېږي، چې په دې کې عمومي ذخيرې، احتياطي ذخيرې او نورې شاملې دي؟ د روسيې د دولت مالي سيستم د مناسباتو د لاندنيو برخو لرونکی دی:

۱- دولتي بودجه ۲- غير بودجوي ذخيرې ۳- دولتي کرېډيټونه ۴- مالي مارکېټ ۵-د هغو تصديو او مؤسساتو مالي چارې چې د بېلابيلو ملکيتونو لرونکي وي.

د مالي سيستم پورتنۍ يادې شوې برخې په لاندې دوو لويو برخو کې تفکيک کېږي:

۲. عامه دولتي چارې چې د مجدد توليد تأمينوونکې دي د ملي اقتصاد په سطحه ټوليز شکل دي.

۳. د تصديو مالي چارې چې د مجدد توليد د پروسې د تأمين په موخه د پولي وسايلو په واسطه د تصديو او مؤسساتو په سطح سره جلا دي.

**۲- د مالي سيستم جوړښت:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مالي سيستم په تعريف کې له ټولو برخو څخه د منابعو په ټولو ډولونو کې لومړی هدف د يو هېواد د عايداتي منابعو د ټولو ډولونو راټولنه ده، چې په مختلفو اقتصادي نظامونو کې يې خپل خصوصيات لرلی او په شکلي تفاوتونو سره موجود دي. د دولتونو عايداتي منابع له معمول سره سم د عوايدو په داخلي او خارجي منابعو، له منظمو او غير منظمو منابعو څخه مالياتي عوايدو او غير مالياتي عوايدو او هم د پور په منابعو او د مرستې په منابعو سره بېلوو، چې په ټوله کې د يوه هېواد د عوايدو سيستم تشکيلوي. دوهم داچې د پولي وسايلو له ټولو برخو څخه ګټه اخيستنه، له موجوده امکاناتو او اړتياوو سره سم له مشخصو پلانونو څخه ګټه اخلي او په نتيجه کې د يوه هېواد مصرفي سيستم جوړوي.

**۳ - مالي مديريت:**

**الف- د مالي مديريت تاريخچه:** مالي مديريت د ۱۹۰۰ ز کال په شاوخوا کې د يوې خاصې څانګې په په توګه معرفي شو. د پانګې د جوړښت اهميت ته په کتو يې د مالي مديريت د مسئوليتونو په لوري ځای خپل کړ. د ۱۹۳۰ز کال په لسيزه کې د شرکتونو د لنډ مهاله فعاليت مسئله د مالي مديرانو دوهم لومړيتوب ګڼل کېده. د لوی اقتصادي بحران پر مهال افلاس او د شرکتونو د سازمان تجديد د مالي مديرانو د پام وړ وګرځېد. له ۱۹۵۰ز کال نه را په دېخوا تر ننه پورې مالي تأمين (د شتمنيو او پانګو پر جوړښت، د مديريت له پلوه) په ځانګړو تصاميمونو پورې يې تړون پيدا کړی دی، چې بايد له شيانو او روښونو څخه ګټه وکړي، چې له حقيقي پلوه تحليلي اړخ لري. هغه وسايل چې مالي مديران په اوس وخت کې ترې ګټه پورته کوي په دې ډول دي: حسابداري، د اقتصاد علم، د کمپيوټر علم، د څومره والي تجزيې او تحليلونه او نور.

د مالي مديريت د بشپړتيا مسير د لاندې دريو مهمو ځانګړتياوو لرونکی دی.

۱. مالي مديريت د مديريت د علم نسبتاً يوه نوې څانګه ده.

۲. مالي مديريت په تصميم نيونه ولاړ دی، چې د ارقامو او اعدادو په تحليل او تجزيه کې له کمپيوټر، اقتصاد او فکر څخه ګټه اخلي.

۳. د هغو د پرمختګونو سرعت چې زېری بخښونکی دی، هغه داچې مالي مديريت نه يوازې مهم رول لوبوي، بلکې ددغې رشتې د پرمختګ سرعت به نور هم زيات شي.

**ب- د مالي مديريت مفهوم او حقيقت:** مالي مديريت د مالي منابعو رهبري ده. له مالي سياستونو، ميتودونو، وسايلو او اشخاصو سره يوځای د رهبرۍ تصاميم نيسي او د پام وړ اهدافو د تحقق په موخه او د مالي ثبات د پرمختګ د تأمين په خاطر يې تطبيقوي. په مالي مديريت کې د ټولو مالي سيستمونو کړۍ شاملې دي. د جوړونکې او مهمې برخې په توګه د رهبرۍ جوړښت د بازار اقتصاد په شرايطو کې وړاندې کوي. مالي مديريت په ننني اقتصاد کې هغه تدابير دي چې يو تر بله سره تړلي او د راپيدا شويو ټولنيزو ستونزو حل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالي رهبري هغه ده چې د پانګې د منابعو او مصارفو رهبري په داسې ډول وي، چې د برخه اخیستونکو شتمنۍ په کې لوړ حد ته ورسېږي. مالي مدیریت او یا هم مالي رهبري د مالي چارو او سوداګرۍ مدیریت د بحثونو له ډلې څخه دی چې د اقتصادي مؤسساتو په اداره کې مؤثر رول لوبوي. د مالي مدیریت علم د پانګې د بازارونو له تحولاتو څخه په پیروي مالي بازارونه او هغه وسایل چې ورپورې تړاو لري د څومره والي او څرنګوالي له پراختیا څخه شتمن شوي دي.

همدارنګه د مدیرانو په تصمیم نیولو کې د مالي اطلاعاتو د څرنګوالي او څومره والي رول غوړېدل ددې سبب شوي چې د مالي مدیریت رول د مدیریت په تخصصي څانګو کې زیات شي. د سوداګرۍ او اقتصاد په ډګر کې پرله پسې تغییرات او تحولات ددې سبب شوي ترڅو مالي مدیریت له کمي او کیفي پلوه پراختیا ومومي. اوس د مالي مدیریت قلمرو د مالي مدیریت د مؤسساتو له ډګره لوړ او د ټولنې په سطح هم مطرح شوی او اجتماعي مسئولیت هم د مالي مدیریت په قلمرو کې وارد شوی دی. نو مالي مدیریت د عامو او خاصو وظایفو د ترسره کولو له لارې له منابعو څخه استفاده او مؤثره کارونه ده یا په بله وینا مالي مدیریت کولای شو د اقتصادي مؤسسې یا شرکت د اهدافو د تحقق په خاطر د پانګې او مصارفو د منابعو د مدیریت په توګه تعریف کړو.

**ج- د مالي مدیریت اهداف:** د کمي او کیفي (څومره والي او څرنګوالي) پراختیا په پام کې نیولو سره د اقتصادي مؤسساتو او شرکتونو په سطح د مالي مدیریت په ساحه کې د برخه اخیستونکو له ګټې څخه لوړې شوې دي. په دې ډول چې د لوی حد هدف ته رسېدلي. د برخه اخیستونکو شتمنۍ د تصمیم نیولو په چوکاټ کې د زیاتې ګټې وړ ګرځېدلي. ځکه چې د انتفاعي واحدونو د فعالیتونو دوام د سهم لرونکو د شتمنۍ د زیاتېدو له لارې تحقق مومي او د ډېرو ګټو په لاس ته راوړلو کې یې مخکې والی موندلی دی. پردې سربېره ګټه لنډ مهاله هدف دی او ګټه د پیسو مالي ارزښت په پام کې نه نیسي. نو د مالي مدیریت اصلي هدف د یو شرکت په سطح د برخه اخیستونکو د شتمنۍ ډېرول دي یا په بله وینا د شرکت ارزښت دی. د برخه اخیستونکو د شتمنۍ ډېرول په حقیقت کې د شرکت د شتمنۍ ډېرول دي. د برخه اخیستونکو د ارزښت زیاتېدل د شرکت او سهم لرونکو په شتمنۍ باندې مستقیم أثر لري. مالي سیاست د مالي مدیریت اساس تشکیلوي چې د مالي منابعو د مؤثرې ګټې اخیستنې د فکتورونو پر بناء په لنډ مهال او اوږد مهال کې د مالي فعالیتونو د استقامت ټاکونکی دی.

**د- د مالي چارو د رهبرۍ سیستم:** د مالي چارو د رهبرۍ سیستم په نني اقتصاد کې د هغې د انکشاف او د وظایفو د اجراء په موخه ټاکونکی دی. معاصر پرمختللی د بازار اقتصاد نه شي کولای چې له مالي رهبرۍ پرته له معقول سیستم څخه په بریالۍ توګه فعالیت وکړي. د دولتي مالي رهبرۍ سیستم په لاندې شکلونو بڼه غوره کولای شي:

A) د رهبرۍ دغه شکل د پرنسپونو، طرحو، پروګرامونو، اقتصادي سیاست طرحو او میتودونو د رفع کولو په واسطه بڼه غوره کړې ده او د قوانینو وضع، نورماتیفونه او د پولي او مالي سیاستونو په مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تطبیقي اړخ پیدا کوي.

B ) د تصدي اقتصاد مالي رهبري په غیرې مستقیم میتود:

دغه د رهبري شکل په لاندې شکلونو سره عملي کېدای شي:

۱. د تشویقي تدابیرو منځ ته راتګ او ملاتړ کول او په بازار کې له انحصار نه مخنیوی.

۲. د قیمتونو د تعین په مرسته رهبري.

۳. د ټرل شویو قراردادي مناسباتو منځ ته راوړل او ساتل.

۴. د قیمتونو د استقرار په موخه له دولتي پانګونو څخه ګټه او د عرضې او تقاضا ترمنځ د توازون ساتل.

۵. د مؤثر ګمرکي محصول په مرسته د بهرني اقتصاد د مالي فعالیتونو رهبري.

٦. د بیمې د فعالیتونو پرمختګ او ملاتړ.

هـ- په تصدی اقتصاد کې د دولت د مستقیمې مالي رهبری شکلونه:

۱. د پانګونې د فعالیتونو لپاره د لایسنس ورکړه، راجستر او ثبتول او په غیر ضرروي تولیداتو او فعالیتونو باندې د محدودو میتودونو رفع کول.

۲. د دولتي تصدیو رهبري کول او په هغوی باندې د جدي کنترول وضع کول.

۳. د ټولنې د اړتیا وړ او خاصو تولیداتو سره مرسته.

۴. په ځینو تولیداتو باندې د دولت د مالي انحصاراتو رفع کول.

۵. له هغو قشرونو څخه ټولنیز ملاتړ او دفاع کوم چې ټیټ عواید لري.

٦. د ژوند د چاپېریال ساتنې په موخه د تدابیرو نیول.

۷. ځینو تولیداتو ته مالیاتي امتیازات ورکول.

۸. د هغو کسانو جریمه کول چې مالیاتي قوانین ماتوي.

**۴- د مالیاتي سیستم ځانګړتیاوې:**

د مالیاتي سیستم په چوکاټ کې ټول هغه مالیات چې په یو هېواد کې لاس ته راځي په پام کې نیول کېږي. په دې شرط چې په معقول ډول یو تر بله مطابقت ولري او د مالیاتي سیاست په چوکاټ کې تنظیم شوي وي دا ډول مالیاتي سیستم د معقول مالیاتي سیستم په نامه یادیږي. د مالیاتو مختلفو ډولونو ته په کتو او د هغه ډول ډول تأثیرات ته په پاملرنې سره یو مطلوب مالیاتي سیستم هغه سیستم دی چې د مساعدو او مطلوبو اقتصادي تأثیراتو لرونکی وي.

د کلاسیک مکتب مشهور اقتصادپوه «آدم سمېت» څلور عمده اصله د مطلوب مالیاتي سیستم د اصولو په توګه بیان کړي دي چې په دې ډول دي. (٦:٢٢١)

۱- **عدالت او برابري:** له دې اصل سره سم باید د مالیاتو بار په عادلانه ډول د خلکو ترمنځ ووېشل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او د خلکو د ورکړې توان ته هم وکتل شي. آدم سمېت متناسب ماليات عادلانه ماليات بولي که څه هم چې په نويو مالياتي اصولو کې ددې لپاره چې وکولای شي د منابعو د نابرابرۍ په کموالي کې مهم رول ترسره کړي بايد په تصاعدي شکل وي. ځينې اقتصادپوهان لکه کلدور په دې باور دي چې د خلکو د منابعو پر ځای د مالياتو د ورکړې په توانايي کې عدالت ته د رسېدو په موخه ماليات بايد د مصارفو پر اساس اندازه شي.

۲- **معين والی:** د آدم سمېت له نظره په خلکو وضع شوي ماليات بايد په دقيق ډول سره د وخت، د ماليې د ورکړې له لارې او د مالياتو د اندازې له نظره په دقيق دول ټاکلي او مشخص وي يا په بله وينا خلک او په ځانګړي ډول ماليه ورکوونکي بايد په خپلو ماليه ورکولو کې له حيرانتيا سره مخ نه شي.

اوس لکه څرنګه چې د مالياتو اندازه په هغو عوايدو چې له پانګونې څخه پيدا کېږي مشخصه نه ده. امکان لري پانګونه له کموالي سره مخ شي.

۳- **آسانتيا:** د مالياتي سيستم د اجراء له مهمو اصولو څخه د خلکو د نسبي رضايت لاس ته راړل او د مالي د ورکړي لپاره د مختلفو آسانتياوو برابرول دي د مثال په توګه د ماليې د ورکړې وخت او ډول بايد داسې وي چې په ماليه ورکوونکو فشار او مشکل وارد نه شي. ځکه د ماليې ورکولو د آسانتيا نه شتون د مالياتي فرار سبب کېږي. نو د ماليې اخيستل کله د عايد د لاس ته راوړلو او کله په قصدي توګه اخيستل کېږي، ترڅو د ماليه ورکوونکو رضايت راجلب شي.

۴- **پاسره (صرفه جويي):** په مالياتي اصولو کې له سپما څخه مطلب دادی چې د مالياتو په راټولو کې بايد په زياته اندازه پاسره وشي. ددغو اصولو اقتصادي نظر د يوه نظام د مالياتي مسايلو يوه تر ټولو مهمه غوښتنه ده، چې بايد پاملرنه ورته وشي. په دې وروستيو کلونو کې دغه موضوع چې د مالياتو د راټولولو مصرف د مالياتي عوايدو په پرتله په ټيټه اندازه کې دی. نو په مختلفو هېوادونو کې دغه موضوع د مالياتي سيستم د اصلاح لپاره يو مهم دليل ګڼل کېږي. مګر اوس په اقتصاد کې د دولت د رول د زياتېدو او د عمومي برخې په پرمختګ سره څه په هغو هېوادونو کې چې مخ په ودې دي او څه په هغه هېوادونو کې چې پرمختللي دي د مطلوب مالياتي سيستم په تنظيم کې نورو نويو اصولو ته هم پاملرنه شوې ده، چې په دې ډول دي:

**الف- د مالياتو ببرته ورکړه:** له دې اصل سره سم مالياتي سيستم بايد وکولای شي چې د دولت لپاره د پوره عوايدو زېږوونکي واوسي. لکه څرنګه چې دولت په دې برلاسی نه وي چې د مالياتو له لارې خپل مصرف تأمين کړي. امکان لري له سياست سره په يو ځای کېدو په کسري بودجه مجبور شي، چې دغه کسر له نورو لارو چې د اقتصادي تأثيراتو لرونکی دی تأمين کړي.

**ب- انعطاف پذيري:** د مالياتي سيستم له مهمو اصولو نه يو بل مطلوب اصل دادی چې دغه سيستم بايد وکولای شي د احتمالي تغييراتو او اصلاحاتو له نظره له انعطاف پذيرۍ څخه برخمن وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې بې له دې چې سخت اقتصادي مشکلات رامنځ ته شي تجدید نظر وکولای شي، اصلاحات ترسره شي او په مختلفو اقتصادي شرایطو کې هم انعطاف پذیري وي، یعنې دغه سیستم وکولای شي زیات مالیاتي عواید لاس ته راوړي او د اقتصاد د وضعیت په ټیټیدو سره په خلکو باندې لږ بار تحمیل کړي او په خپل شکل داسې کار وکړي ترڅو خپله اندازه له اقتصادي وضعیت سره سمه کړي.

**ج- مالیاتي تنوع:** په یو مطلوب مالیاتي سیستم کې لازمه ده چې مالیات له مختلفو منابعو څخه راټول شي. د مالیاتو ډېره تنوع د دولتي مالیاتي عوایدو د ثبات او اطمنیان سبب کېږي او دولت کولای شي په زیات قدرت سره خپلې اقتصادي دندې ترسره کړي د مثال په توګه که چېرې مالیات له ډول ډول منابعو څخه راټول شي نو د یوې منبع د عوایدو کمېدل د دولت په مالیاتي عوایدو باندې د پام وړ تأثیر نه لرې، خو که د دولت د مالیاتي عوایدو منابع کمې او محدودې وي نو په مالیاتي منبع کې په لږ بدلون سره د دولت په عوایدو کې ډېر تغییر راځي.

**د- د اضافي بار کمول:** د مالیاتي سیستم یو بل مطلوب اصل دادی چې دغه سیستم باید اقتصادي ضرر لیدونکي آثار څومره چې امکان لري راکم کړي، یعنې مالیاتي سیستم باید په اقتصادي تصامیمو کې انحرافات او ګډوډۍ راکمې کړي. یو مالیاتي سیستم باید له مختلفو تبعیضاتو څخه مخنیوی وکړي او د سپما «ذخیزه» او پانګونې د کموالي سبب نه شي.

**هـ- له نورو اقتصادي اهدافو سره موافقت:** یو مالیاتي سیستم باید د پام وړ له نورو اقتصادي اهدافو سره موافق وي د مثال په ډول لکه څرنګه چې اقتصادي ثبات او پرمختګ (د انفلاسیون کنترول او د وزګارتیا له منځه وړل) هدف وي. مالیاتي سیستم باید ددې هدف د ترلاسه کولو لپاره چې له مناسب مالي سیاست څخه ګټه اخیستل دي امکان برابر کړي.

**و- اجرائیوي ضمانت:** یو مالیاتي نظام له اجرائیوي پلوه باید اجرائیوي ضمانت ولري. په دې معنا چې هغه مالیات چې راټولول یې ممکن نه دي، نه وضع کوي. بله دا چې یو مالیاتي سیستم باید د یوه قوي اجرائیوي کدر، کارنده او د خلکو د منلو وړ وي.

**۵- د اسلامې مالیاتي سیستم ځانګړتیاوې:**

**۱- د مالیاتو ورکړه عبادت او وظیفه ګڼل:** په اسلامې اقتصاد کې د خلکو په اقتصادی فعالیتونوباندې د اسلام تأثیر ته په پاملرنې سره د مالیاتو ورکړه په هېڅ وجه د نورو نظامونو په څېر نه ګڼل کېږي، بلکې د مالیې ورکړه د یوې شرعې وظیفې او عبادت په توګه د انسان د کمال سبب کېږي. (٦:٢٢٦)

**۲- د مالیاتو نه انتقالول:** په اقتصاد کې د مالیاتو وړ طرحه او مهمه مسئله د مالیاتو انتقال دی، چې یو بار ګڼل کېږي او خلک کوشش کوي چې په یوه نه په یوه لار خپل مالیات نورو ته انتقال کړي. لېکن په اسلامې اقتصاد کې دې ته په پاملرنې سره چې د مالیاتو ورکړه یوه شرعي دنده ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي نه پېښي، په هېڅ وجه د مالیاتو د انتقال مسئله نورو خلکو ته د خلکو په ذهنونو کې ځای نه نیسي.

**۳- د مالیاتو د راټولولو کمه اندازه:** په اسلامې اقتصاد کې له نورو مالیاتي سیستمونو سره په پرتله خلک په خپله خوښه د ثابتو او د سرې سر مالیاتو ورکړه لکه (جزیه او فطریه) او په مختلفو شتمنیو مالیه ورکول لکه زکات او نور هم شتون لري، چې د مختلفو نصابونو د حد شتون ته په پاملرنې سره کولای شو ووایو چې ځینې دغه مالیات هم له نزولي ډول څخه دي.

**۴- د ټاکلو مصارفو مالي تأمین:** د اسلامې اقتصاد د مالیاتي سیستم د مالي مصارفو د تأمین له نظره د عوارضو رول د نورو سیستمونو په څېر ترسره کوي یا په بله وینا په مختلفو مالیاتي سیستمونو کې د مالیاتو او عوارضو فرق دادی چې مالیات په مجموعي ډلو د دولت د شتمنۍ خزانې ته تحویلېږي او دولت له دې لارې خپل مختلف مصارف تمویلوي په داسې حال کې چې راټول شوي عوارض یوازې باید په ټاکلو ځایونو کې ترې ګټه واخیستل شي. په اسلامې اقتصاد کې هره راټوله شوې مالیاتي منبع په دقیق ډول په خاصو ټاکل شویو ځایونو کې باید مصرف شي.

**۵- مالیاتي ظرفیت:** په اسلامي اقتصاد کې په مستقلو مالیاتو (لکه خمس او زکات چې مقدار یې له وړاندې نه په دقیق ډول مشخص شوی د) سربېره دولت کولای شي تابعي مالیات (هغه مالیات چې د اقتصادي وضعیت پر اساس ممکن دي) هم وضع کړي.

**٦- مالیاتي عدالت:** په اسلامې مالیاتي سیستم کې د نصابونو د حد ټاکل ددې سیستم د عدالت په ترسره کولو یو دلیل دی.

**۷- تاریخې مالیاتي سیستم:** له معمول سره سم د عوایدو د مالیاتو په سیستمونو کې (د واقعي جنس مالیات) په اشخاصو مالیات او شخصي مالیات سره بېلېږي. په دې وروستیو کې د نویو انکشافي تمایلانو پر اساس د مالیاتو له یوه سیستم څخه د خرڅلاو په دوران او په مصرف باندې د مالیاتو خبرې هم کېږي. د هېوادونو اوسني مالیاتي سیستمونه په زیاته اندازه مختلط شکلونه په ګوته کوي، ځکه چې په دغو سیستمونو کې په مصرف باندې د مالیاتو د سیستمونو توکي، د خرڅلاو په دوران کې مالیات او په خلکو باندې مالیات ډېر اهمیت لري. د مالیه ګذارۍ د اساس د منځ ته راتلو تر وخته د مالیې له وس او قدرت سره سم د ۱۹ پېړۍ په دوهمه نیمایي کې په عوایدو باندې د مالیاتو سیستم مسلط و. په عوایدو د مالیاتو سیستم په صورت کې هغه اجناس چې د عوایدو منځ ته راوړونکي وو لکه ځمکه، کور، پانګه او نور وسایل بې له دې چې شخصي شرایط په پام کې ونیسي. د مالیه ګذارۍ تابع ګرځي.

د دا ډول مالیاتي سیستم غوره والی دادی چې له یوې خوا په شخصي ساحه کې نه داخلېږي او له بلې خوا مالیاتي مقاومتونو نه په زیاته اندازه ډډه کولای شي. پردې سربېره داچې د مالیه ګذارۍ وړ موضوعات ښکاره او څرګنده دي، نو په خلکو د مالیاتي سیستم او په عوایدو د مالیاتو سیستم په راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره په  تدریجي ډول خپل لومړنی اهمیت په زیاته اندازه له لاسه ورکړ.

په ګوښي ملکونو کې پر خلکو د مالیاتي سیستم انکشاف په ډېر توپیر سره ترسره شوی دی، په خلکو د مالیاتي سیستم په صورت کې زماني عاید تثبیت کېږي، چې په مالیې مکلف شخص پورې اړه لري. د دا ډول مالیاتي سیستم لوی مشکل له یوې خوا د مالیاتي عاید په تعریف او له بلې خوا د مالیه ګذارۍ وړ عاید په تثبیت کې قرار لري. د عاید له منبع سره سم د مالیې اخیستلو میتود مالیاتي تقلبات مشکل او حتی ناممکن ګرځولي دي.

د دولتونو د مالي احتجاج د زیاتوالي پر اساس دولتونو د نورو مالیاتو غوښتنه هم وکړه چې پر دې اساس پر مؤسساتو مالیات منځ ته راغلل.

۸- **معقول مالیاتي سیستم:** د یوې تنظیم شوې مالیاتي مفکورې  پر اساس یو معقول مالیاتي سیستم د اقتصادي او مالي سیاست د اهدافو له مخې بناء شوی دی. لکه څرنګه چې مالیاتي مفکورې د وخت په تېرېدو سره د تحولاتو تابع ګرځېدلې دي له دې وجې اوس غیر معقولو مالیاتي سیستمونو ته ډېر انکشاف ورکړل شوی دی.

**الف- د یوه معقول مالیاتي سیستم نه غوښتنې:** د یوه معقول مالیاتي سیستم طرحه هغه وخت بریالۍ او امکان منونکې وي، چې د ملي اقتصاد د ځانګړو خصوصیاتو له قناعت بخښونکي شکل په هغه کې په پام کې ونیول شي. یو مالیاتي سیستم د ټاکلو اهدافو له مخې خپل جوړښت تنظیموي چې دغه اهداف؛ مالي هدف، د عاید د مجدد وېش هدف، د کانژانکتوري سیاست او د عوایدو د هدف سیاست، دا هر یو مالیاتي سیستم کېدای شي په یو یا څو پورتنیو اهدافو تنظیم شوی وي. له یوه مالیاتي سیستم څخه دا غوښتنه کېږي ترڅو هغه تأثیرات چې د مالیې یو ډول یې په اقتصاد واردوي باید د مالیاتو بل ډول له منځه یو نهوړل شي. پردې سربېره د یوه مالیاتي سیستم منفرد مالیات د اهدافو د تأمینېدو لپاره یو تر بله مطابقت وکړي او خپل تأثیرات په متقابل شکل بشپړوي.

**ب- د یوې واحدې مالیې عدم کفایت:** د یوه معقول مالیاتي سیستم د منځ ته راتګ په غرض په مکرر ډول هڅه شوې ترڅو واحده مالیه منځ ته راشي. لکه څرنګه چې فرانسوا کېني ددې دلیل پر اساس داسې غوښتنه وکړه چې زراعتي اجاره نیوونکي او تولیدوونکي د هېواد یوازینۍ تولیدونکې طبقه ده. نو په دې وجه باید تر یوې واحدې مالیې لاندې ونیول شي.

لمپي: پر عوایدو مالیات په یوه مالیاتي سیستم کې د یوې  مالیې په توګه وړاندې کړل.

پلکي: د پلورنې په دوران کې د مالیې لپاره د یوې مالیې اهمیت ته قایل شو. هغه نظرونه چې د یوې مالیې پر ضد شتون لري د واحدې مالیې د نواقصو په دلیل کې راوړي چې د واحدې مالیې تر ټولو مهم نوقص په دې ډول خلاصه کېږي.

۱. د واحدې مالیې په صورت کې د مالیې فشار ډېر زیات دی. په داسې حال کې چې د ګڼو مالیو په موجودیت کې خپل فشار په نورو مالیو د وېشلو په واسطه کموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. د واحدې مالیې په شتون کې دا امکان کم وي ترڅود مالیې د مکلفینو چې اوس په صنعتي هېوادونو کې په ځانګړي ډول په عوایدو باندې د مالیاتو په هکله په پام کې کېږي په نظر کې ونیول شي.

۳. واحده مالیه په مشکل سره کولای شي چې خپل ځان د ډینامیک اقتصاد له شرایطو سره برابر کړي. نو ضرور ګڼل کېږي ترڅو د مالیاتي اهدافو د لوړولو لپاره په یوه مالیاتي سیستم کې ګڼ مالیات ترلاسه کړي.

**ج- په یوه مالیاتي سیستم کې د اهدافو تضاد:** مالي هدف او د مالیاتو د مجدد وېش کوونکی هدف اقلاً دوه ډوله تضاد د یادولو دي. د مالیې د شتمنۍ مبلغ چې مالیه وربخښي او همدارنګه پر عوایدو د مالیاتو درجه بندي چې د مجدد وېش د دلایلو له مخې مطلوب ګڼل کېږي، د دولت د مالیاتي عوایدو لپاره پام وړ کموالي سبب کېږي او په نتیجه کې مالي هدف زیانمنوي. نو دلته د اهدافو یو تضاد چې د اجتماعي سیاست او مالي هدف ترمنځ راځي واقع کېږي.

همدارنګه د مالي سیاست اهدافو او کانژانکتوري سیاست ترمنځ هم تضاد راځي د مثال په توګه کله چې د مالیې پایې ته د کانژانکتوري سیاست د دلایلو له مخې تغییر ورکړل شي نو په دې صورت کې د تصدیو براّورد او تدابیر د یوه نه منل کېدونکي اساس له مخې اطمینان ترسره کېږي. د هیله مندۍ تر تأثیر لاندې راځي د مثال په توګه د مالیاتو د لوړولو په صورت کې د پانګونې فعالیتونه کمېږي او په نتیجه کې په پانګونه او د تصدیو په تولید باندې ناوړه منفي اغېزې کوي چې ورسره د دولت عواید کمېږي.

همدارنګه د کانژانکتوري سیاست او د مجدد وېش په اهدافو کې له یو بل سره لوی توپیر منځ ته راوړي. دلته داسې په ګوته کېږي چې مجدد وېش د خلکو د حالت په ښه کولو کې چې حالت یې ډېر ټیټ وي، مجدد وېش چې د مخارجو او مصارفو په بهبود کې هڅه کوي، په لومړي سر کې له نورو ډولونو سره له توپیر څخه رامنځ ته کېږي لکه په کانژانکتوري سیاست کې هغه تأثیرات چې د خصوصي مصارفو په مالیاتو باندې لګول کېږي، د نورو هغو په پرتله زیات وي د مثال په توګه په شتمنیو او میراث مالیه لګول په دې ډول سیاست کې منع شوې دی. په داسې حال کې چې دغه یو زیات شمېر پانګې دي چې زیات تخفیف ورته شوی دی، یعنې لوړو کسانو خپلو پانګو کې زیات تخفیف راوستی دی او په دې ترتیب سره د دوی وېش اهداف په خدمت رسوي.

**۸- د مرکزي پلان اقتصاد مالیاتي سیستم:** د تولید د اکثرو وسایلو د دولتي کولو په نتیجه کې د ټولنې د محصولاتو لویه برخه مستقیماً د دولت پورې مربوطېږي.

د ټولنیز محصول وېش د نفوسو لپاره د دولت له لوري په ټاکل شوي عاید سره ترسره کېږي او نرخونه په منظم ډول د دولت لخوا تنظمېږي. دولتي فعالیتونه د خپلې اړتیا وړ پولي وسایلو د محصولاتو د خرڅلاو او د دولت د اقتصادي پلانونو پر اساس لاس ته راوړي. د بېلګې په توګه غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمونیستي هېوادونه اداري غونډې او مکتبونه، توکي د خرڅلاو لپاره نه ټاکي. پردې اساس کمونیستي هېوادونه اړ دي چې لازم پولي وسایل د خپلو مستخدمینو د معاش ورکولو په موخه یا د خپلو دولتي مامورینو د معاش او احتیاجاتو د رفع کولو لپاره د خلکو څخه په مالیه اخیستلو او یا په مستقیم ډول له دولتي مالیاتو څخه پوره کړي. په مالي کمونیستي اقتصاد کې مستقیم مالیات له دولتي کار کوونکو څخه د دولتي عوایدو د ملا تیر په توګه رامنځ ته کېږي. (۳۷۱:۹)

دغه مالیات د دوه کانالي سیستم په بناء را منځ ته کېږي یا په بله وینا مالیات له دوه ځایونو څخه منځ ته راځي، یعنې له دولتي تصدیو او خدماتو (سوداګریز، ملي او تیاتر) څخه منځ ته راځي.

د مالیې د اساس معلوموللو لپاره دولتي صنایع، د دولتي وسایلو تولیدونکي په پراخ ډول د مالیې له ورکولو څخه معافېږي. پر دغو دوو ډولونو سربېره یو بل ډول مالیه، پر ګټو مالیه وضع کول هم د یادولو وړ ده. له دې کبله کمونیستي مالیات د دوه کانالي مالیاتو په نامه یادېږي. پر ګټو باندې مالیه وضع کول له ټولې ګټې څخه د مالیې بېلول د اقتصادي پلانونو او تدابیرو په پام کې نیولو سره اخیستل کېږي. په داسې حال کې چې خصوصي اقتصاد د ګټې اخیستنې د اقتصادي معاملې اساس ګڼي او د اقتصادي رهبرۍ پر اساس د امکان تر حده د اعظمي ګټې اخیستنې طریقه ښودل کېږي. په کمونیستي اقتصاد کې د ګټې اخیستنې غوښتنه یو تقاضا ده چې په مرسته یې دولتي ارګانونه تقویه کېږي. د دولت د مالیې ډېره برخه باید د دوه کانالي مالیې پر اساس پوره شي.

د مالیې د کمونیستي او غیر کمونیستي اقتصاد ترمنځ توپیر په دې کې دی، چې په غیر کمونیستي اقتصاد کې د خلکو عواید د بازار او په کمونیستي اقتصاد کې د دولت لخوا ټاکل کېږي. (۵:۱۸٦)

څرنګه چې Hed Kamp هیډ کامپ یادونه کړې. په مالي کمونیستي اقتصاد کې مالیه په قېمتونو باندې تأثیر نه کوي، بلکې لوړ قېمتونه مالیات معلوموي. د عوایدو د قېمت ټاکل د تولید تر اندازې پورې ټاکل کېږي. له دې ځایه معلومېږي چې د غیر کمونیستي هېوادونو مالیات په غیر اجتماعي ډول تأثیر نه کوي، ځکه چې د مالیه ورکوونکو تأثیرات د مصرف کوونکو موادو په ټاکلو او د مراعات کېدونکو قېمتونو وضع کول پکې ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډيز:**

مالي سيستم د مالي مناسباتو مختلفې ساحې دي چې هر يو يې بېل خواص لري، چې د پولي ذخايرو په رامنځ ته کولو او همدارنګه له پولي ذخايرو څه د استفادې لپاره کار کوي او د مجدد ټولنيز توليد په پروسه کې مختلف رول ترسره کوي. په ځينو پرمختللو هېوادونو کې مالي سيستم د دولتي بودجې، محلي مالي چارو، خاصو دولتي ذخايرو او دولتي تصديو په مالي چارو کې دخيل وي. د مالي سيستم په جوړښت کې اساساً د يوه هېواد د مختلفو عايداتي منابعو راټولونه او د هغوی هېواد عايداتي سيستم جوړوي او همدارنګه له دغو پولي وسايلو څخه استفاده او يا د هغوی عايداتي توزېعي يا مصرفي منابعو پولي وسايلو برخې په يوه هېواد کې ښکاره کوي.

د مالي مديريت د مالي منابعو د رهبرۍ سيستم دی او يا هم مالي رهبري د پانګې د منابعو او مصارفو رهبري ده لکه په يوه شرکت کې چې د سهم لرونکو سهم زيات شي او يا په يو ټولنه او هېواد کې د ټولنيزې رفاه کچه لوړه کړی شي.

مالي بازارونه هغه بازارونه دي چې هلته د مالي وسايلو عرضه کوونکي، مالي وسايل عرضه کوي. تأمينوونکي مالي وسايل د مالي وسايلو تقاضا کوونکو ته او مصرف کوونکي د مالي منابعو راکړه ورکړه ترسره کوي.

مالي سيستم چې په يوه هېواد کې په يوه وخت کې د ټولو مالياتو ډولونو ته شامل دی، چې د هر اقتصادي نظام په پرتله د ټاکلو ځانګړتياوو لرونکی دی، چې په اسلامي اقتصاد کې جلا ځانګړتياوې لري.

تاريخي مالياتي سيستم، معقول مالياتي سيستم او د مرکزي پلان اقتصاد کې مالياتي سيستم کې د بېلابېلو ځانګړتياوو لرونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. مالي سیستم تعریف کړئ؟
۲. مالي سیستم د کومو دوه خصوصیاتو لرونکی دی؟
۳. په پرمختللو هېوادونو کې مالي سیستم د کومو څانګو لرونکی دی؟
۴. د مالي سیستم جوړښت څرګند کړئ؟
۵. مالي مدیریت توضېح کړئ؟
٦. د مالي مدیریت اهداف کوم دي؟
۷. د مالیاتي سیستم مشخصا ت کوم دي؟
۸. د اسلامي مالیاتي سیستم مشخصات کوم دي توضېح یې کړئ؟
۹. تاریخي مالیاتي سیستم د کوم ډول مالیاتو لرونکی دی؟
۱۰. معقول مالیاتي سیستم څه ډول یو سیستم دی؟
۱۱. د واحدې مالیې نواقص کوم دي؟
۱۲. په مرکزي پلان اقتصادي نظام کې د دوه کاناله مالیاتي سیستم څه مفهوم افاده کوي؟

**مأخذونه:**


۱. ارخیکوت ا. ی. (۲۰۰۴) امور مالی پول وکریدت (متن روسی). چاپ پروسپکت، ماسکو.
۲. با الدیرو، ب. گ. (۱۹۹۰) امور مالی سرمایه داری (متن روسی). چاپ فینانس و ستاتیستیک، ماسکو.
۳. پی ریموند، نوو. (۱۳۸۵) مدیریت مالی جلد دوم (ترجمه علی جهانخانی). انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی، تهران.
۴. پی ریموند، نوو. (۱۳۸۵) مدیریت مالی جلد اول (ترجمه علی جهانخانی). دفتر نشر فرهنگ اسلامی، تهران.
۵. تفضلی، فریدون. ( ۱۳۸۵) تاریخ عقاید اقتصادی. نشر نی، تهران.
٦. صمیمی، جعفری. ( ۱۳۸۵) اقتصاد بخش عمومی (۱) چاپ مهر (قم)، تهران.
۷. فردوستون و یو جین بریگام. ( ۱۳۸۰) مدیریت مالی (ترجمه حسین عبده تبریزی). چاپ و صحافی دید آور، تهران.
۸. فردین. ( ۱۳۸۲) . کلیات مدیریت مالی. انتشارات جنگل، تهران.
۹. لوشین. (۲۰۰۷) امور مالی دولت و شاروالی ها (متن روسی) اکونومېست، ماسکو.
۱۰. تالایی، مهدی. ( ۱۳۸۵) تجارت بین المللی و سیستم مالی. مؤسسه چاپ دانشگاه فردوسی، تهران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

## ماليات

ماليات د دولت د عوايدو اصلي منبع ده چې خپلې دندې د هغې په وسيله ترسره کوي. اقتصادي نظريات داسې څرګندوي چې په عامو شرايطو کې د دولت اقتصادي کړنې د اقتصادي مؤثريت د کمېدو سبب ګرځي، ځکه هغه عوايد چې دولت يې له اقتصادي کړنو څخه ترلاسه کوي ډېر کم دي او په ځانګړې ډول د يو ځو ډوله خدماتو او اجناسو د توليد سبب ګرځي او بس. ځکه چې د هغو ډلو ملاتړ چې لږ عايد لري دولت نه شي کولای چې د خپل ټولو عامه اجناسو او خدماتو قېمت وټاکي او خپل مصارف له دغو استفاده کوونکو څخه ترلاسه کړي. په هر حال د ځينو عمومي کاليو د قېمت ټاکنه هم ناممکنه او يا هم په ډېره لوړه بيه ترسره کېږي. نو ځکه د مالياتي عوايدو برخه په مختلفو هېوادو نو کې له نورو عوايدو څخه په غالب ګومان زياته ده. لکه څرنګه چې ماليات د اقتصادي سياست د مهمو وسايلو له ډلې څخه دي او همدارنګه له عمده متغيراتو څخه دي، چې له مالياتو څخه په استفادې نه يوازې د لوی اقتصاد په متحولينو لکه اقتصادي ودې، انفلاسيون، وزګارتيا او نورو باندې اغېزه کوي، بلکې ددې تر څنګ د منابعو تخصيص او د عوايدو په وېش باندې هم ډېر عمده تأثير کوي.

له ناخالص ملي توليد څخه د مالياتو ترلاسه کولو ونډه هم کولای شي چې په اقتصاد کې د مالياتي سياستونو د تأثيراتو يوه برخه ښکاره کړي. (۱:۱۲) په هر حال د مالياتو هر ډول مقدار يا اساس چې دولت يې په پام کې لري دا ټول د تاديه کوونکو ماليات دي. نو ځکه مالياتي سياست ته د زياتو خلکو پام ور اوښتی دی.

په دې څپرکي کې د مالياتو په اصولو، د مالياتي سيستم په قواعدو، د مالياتو په انتقال، مالياتي تعلق او د مالياتو په نرخونو بحث شوی او په دې اړه لازم بحث ترسره شوی او په پای کې د موضوعاتو لنډيز، د پوښتنې او همدارنګه منابع او مأخذونه ورکړل شوي.

**۱- د مالياتو مفهوم او ماهيت:**

د مالياتو په اړه زيات شمېر تعريفونه وجود لري چې ځينې يې دلته ذکر کېږي.

ماليات يوه لازمي ورکړه ده چې د دولت د مالي اساس د پياوړتيا او د عامه رفاه د لوړوالي لپاره د کوم متقابل خدمت له ترسره کولو پرته يا له حکمي او حقيقي اشخاصو څخه د جنس له اراېې پرته د قانوني حکم له مخې اخيستل کېږي يا ماليات هغه مقدار پيسې دي چې د خلکو لخوا دولت ته ورکول کېږي ترڅو دولت د هغې په وسيله خپل کاري چارې تمويل کړي يا دولت ته د خلکو د عوايدو د يوې برخې انتقال دی. (۱:۳)

د اکسفورډ ډيکشنري ماليات داسې راپېژني: «ماليات يو ډول اجباري ونډې دي چې پر اشخاصو، شتمنيو، عوايدو، اجناسو او نورو شيانو باندې د دولت د مالي ملاتړ په خاطر له خلکو اخيستل کېږي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مالیاتو عام تعریف:**

مالیات یو ډول اجباري ورکړې دي، چې دولت پرته له دې چې د هغې په مقابل کې خلکو ته یو خصوصي کار اجراء کړي د ټاکل شویو نورمونو او مقرراتو پر اساس یې له خلکو څخه ترلاسه کوي. نو پردې اساس مالیات د دولت د عوایدو اصلي منبع ده ترڅو د هغې په وسیله خپل کارونه ترسره کړي. کلاسیکانو مالیات یوازې د هغو عامه کارونو او دولتي دندو د مخارجو د جبران په خاطر منل څکه دغه د دولت دندې او عامه کالي او خدمات د آزاد بازار د شتون او دوام لپاره ډېر اړین وو.

کېنز بیا په خپلو نظریاتو کې په اقتصادي چارو کې د دولت ګډون ترڅو اقتصادي ثبات تأمین شي اقتصادي سیاست ته زیات اهمیت ورکړ یا په بله وینا د هغه په نظر مالیات نه یوازې داچې د عامه کالیو او خدماتو د مخارجو لپاره زیات اړین دي، بلکې د اقتصادي سیاستونو لپاره هم زیات مهم دي. په انفلاسیوني حالاتو کې کله چې د خلکو پر عوایدو مالیات زیات شي نو د هغوی د تصرف وړ عاید د کموالي سبب ګرځي، چې ورسره د انفلاسیوني فشار هم کېدای شي، خو د رکود په حالت کې د مالیاتو کموالی کولای شي چې د تقاضا زیاتوالی له ځانه سره ولري. (۲ :۸٦)

مالیات یو ټاکلي مقدار پیسې دي چې د یوې ټاکلې فیصدۍ پر اساس پر عوایدو یا شتمنۍ باندې وضع کېږي یا په بله وینا مالیات هغې ورکړې دي چې دولت یې د خپلو مخارجو د تکافو په خاطر په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول پرته له کوم مقابل کار څخه ترلاسه کوي چې دې تعریف ته په کتو مالیات درې ځانګړتیاوې لري. (۸: ۴٦)

**الف- حتمي والی:** چې په دې اړتباط کې مالیات هغه ورکړې دي چې د دولت له لوري وضع کېږي او اختیاري حالت لرونکي نه دي.

**ب- د مالیې قطعي والی:** دغه ځانګړتیا د دولتي پورونو خلاف ده. سره له دې چې استقراض هم د دولتي منابعو له ډلې څخه یوه مهمه منبع ده، د مالیاتو په ډول په ټاکلي وخت کې ورکړل شوې پیسې پور ورکوونکي ته بېرته نه ورکول کېږي.

**ج- له کوم عوض پرته:** دا په دې معنا چې سره له دې چې مالیات دولت ته ګټه رسوي، په مستقیم ډول هماغه شخص ته چې مالیه ورکوي هېڅ کوم عوض نه وکول کېږي.

**۲- د مالیاتو اصول:**

د مالیاتو مصرف د مؤثرو اهدافو ترسره کولو، عدالت او اخلاقو په برخه کې ترسره کېږي. نو ویلی شو چې د مالیاتو هغه برخه چې اخیستل کېږي د اهمیت لرونکې ده. د مالیاتو ډولونه او د هغوی د اخیستلو طریقه د پورته ذکر شویو درې اهدافو د اندازې په څرنګوالي باندې مؤثر دي. په عمل کې په هره اندازه مالیات د بېلابېلو طریقو په وسیله د ترلاسه کولو وړ دي. د مالیاتو د ترلاسه کولو طریقې او پر تولید، د استخدام پر کچې د عوایدو په نابرابري باندې د هغوی د ونډې بېلابېلې اغېزې لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه د خلکو په رویه او روش باندې زیات اغېز لري او سیاسي فرهنګ هم اغېزمن کوي او په اقتصادي متغیراتو کې په غیر مستقیم ډول دغه تأثیرات راڅرګند او منعکس کېږي.

هغه بنسټیز اصول چې پر اساس یې مالیات اخیستل کېږي چې په اسلام کې، اوسني او مخکني سیاسي فلاسفه، د لاربښوونې لازم معلومات په دې برخه کې وړاندې کوي، چې دغه اصول د ګټورتیا اصل او د ورکړې د وړتیا اصل دي. (۳ :۱۹۲)

**الف- د ګټورتیا اصل:** د ګټورتیا اصل په دې قضاوت بنا شوی چې هغه مختلف افراد چې له عامه کالیو او خدماتو څخه چې په کومه کچه ګټه پورته کوي باید په هماغه کچه مالیات هم ورکړي او په خصوصي اجناسو باندې د هغوی د مصرف زیاتېدل هغوی دې ته هڅوي چې زیات مالیات ورکړي، ځکه په همدغو مصرف شویو اجناسو کې په خپله مالیات شامل دي او که چېرې له عامه کالیو څخه زیاته استفاده کوي په هماغه کچې باید زیات تادیات وکړي. مګر هغه منابع چې د دولت له کړنو او فعالیتونو څخه ترلاسه کېږي د مختلفو افرادو لپاره یو شان نه دي او د عامه کالیو ارزښت هم د مختلفو افرادو لپاره مختلف وي. نو په همدې دلیل د مالیاتو د ارزښت یا مقدار ټاکل چې هر فرد له کومو کالي، څخه څومره ګټه اخیستې ډېره ستونزمنه ده او همدارنګه له دولتي کړنو څخه ګټه اخیستنه د مالیاتو په طریقې او ځای پورې هم متفاوته ده، په دې معنا چې د دولت له لورې مالیاتو ترلاسه کوي او د هغوی بېرته مصرفول هم د خلکو په غوښتنو پورې تړاو لري، یعنې کېدای شي مالیات له ټولو افرادو واخیستل شي خو د یوې سیمې د افرادو اړتیا زیاته او د بلې سیمې کمه وي.

د مالیاتو د ترلاسه کولو د ګټورتوب د اصل پر اساس د دولت د مهمو وظایفو له ډلې څخه دي، چې په عین حال کې د خلکو د عوایدو ترمنځ نابرابري کموي او عدالت رامنځ ته کوي. په ډېرو وختونو کې د دولتي کالیو او خدماتو عرضه کول د نابرابرۍ د له منځه وړلو په موخه ترسره کېږي لکه تعلیم او عامه روغتیا.

**ب- د ورکړې د وړتیا اصل:** د ورکړې د وړتیا اصل داسې څرګندوي چې په هره اندازه چې څوک مالیات ورکوي په هماغه اندازه باید د هغوی شتمنۍ او عاید زیات شوی وي، په دې معنا چې هر څومره چې عاید لوړېږي نو مالیات هم ورسره لوړېږي. دغه اصل هم د فلسفې له انده، هم په نړۍ واله توګه او هم د اسلامي مالي احکامو له مخې دقیق ښکاري.

اسلام داسې یوه عقیده ده چې عدالت د خلکو فطري حق دی او همدارنګه دولت او خلک دې ته هڅوي او مکلفوي یې چې عدالت تأمین کړي او اسلامي احکام او اعتقادات هم همدې لورې ته هدایت کوي.

که چېرې ټولو خلکو یو شان بالقوه حق لرلی، یو شان قدرت یې لرلی، د ځمکې پر سر محدودې منابع به هم د دوی ترمنځ یو شان وېشل شوې وای. نو لکه څرنګه چې د دوی وس یو شان نه دی نو د هغوی بالفعل ونډه به هم یو شان نه وي. باید په یاد ولرو چې د ځمکې منابع محدودې دي که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې يو ډله خلک په نسبي ډول محروم او غريب وي نو بله ډله به د خپل وس پر بنسټ د امکان تر حده زيات څه ترلاسه کوي. همدغه زياته وړتيا د وړتيا لرونکو خلکو لپاره نوي مسئوليتونه راپيدا کوي. د ټولنې په اداره کې دغه يوه ګډه ستونزه شتون لري. د خلکو اقتصادي پياوړتيا ترڅو خپل اقتصادي حقوق په موجوده منابعو کې ترلاسه کړي، په درې ډوله شتمنيو باندې ولاړه ده ۱- ځمکه او نورې طبيعي منابع ۲- انساني شتمنۍ لکه د هغوی ځيرکتيا او جسمي توان ۳- مناسب سياسي، ټولنيز، فرهنګي او اقتصادي ارګانونه. د خلکو مختلف عوايد د هغوی د مختلفو قدرتونو له امله مختلف دي، په دې معنا چې هر څومره چې د هغوی جسمي او مالي قدرت زيات وي نو په ټولنه کې برخه يې هم په هماغه اندازه زياته ده او برعکس. اسلامي مالي احکام هم موږ هماغې پايلې ته رهنمايي کوي.

۱- ثابت اسلامي ماليات يعنې خمس او زکات، په هغو کسانو وضع کېږي چې له ټاکلې کچې څخه زياته شتمني ولري او د هغوی د شتمنيو په زياتېدو سره ماليات هم په هماغه کچه زياتېږي.

۲- هغه افراد چې ثروت او عوايد يې د نصاب حد ته ونه رسېږي (په زکات کې) او يا د هغوی عوايد د هغوی د ژوند کورني لګښتونه پوره کولای نه شي (خمس) له مالياتو څخه معاف دي.

۳- د زکات او خمس مصرفي موارد چې د هغه په وسيله عامه کالي او خدمات ترسره کېږي، په ډاګه کوي چې د مالياتو ورکړه د کومې مستقيمې ګټې له انازې سره مستقيمه رابطه نه لري. لکه څرنګه چې ناکافي عايد لرونکي، له عامه کاليو او خدماتو څخه ګټه پورته کوي، خو ماليات نه ورکوي.

۴- د زکات او خمس مخارجو له مهمو برخو څخه د عايد د نابرابرۍ په راکمولو او د طبقاتو ترمنځ د فاصلې راکمولو په خاطر استفاده کېږي، چې په عمل کې له شتمنو څخه غريبو ته د عايد انتقال دی.

د ورکړې د وس اصل د ګټورتوب له اصل څخه په زياته کچه د عدالت په موضوع کې رول لوبوي او د عايد د بيا وېش مسئله تر خپل پوښښ لاندې راولي. په عين حال کې د ګټورتوب اصل بيا د دولت د مخارجو د سياست تر څنګ ماليات هم په پام کې نيسي او ډېر ګټور او د اتکاء وړ هم دی. که چېرې د ګټورتيا اصل په بشپړ ډول له پامه و غورځوو نو د ورکړې د وړتيا اصل ته نږدې کېږو، ځکه چې د ټولنيزو نهادونو د عوايدو د زياتوالي يوازينی عامل دی او ددغو نهادونو په سمه توګه د فعاليتونو ترسره کول د عوايدو په زياتوالي کې دخيل دی. نو هر څومره چې هغه افراد چې زيات عايد ترلاسه کوي دا په حقيقت کې له اجتماعي نهادونو او دولت څخه زياته ګټه ترلاسه کوي. په همدې اساس طبيعي ده چې د توليد په مخارجو کې هم زياته برخه (د نهادونو کړنې او بقاء) په خپله غاړه واخلي لکه هماغسې چې د بازار په جوړښت کې داسې ويل کېږي، چې په هره کچه ګټه ترلاسه کېږي. نو ورکړه هم بايد زياته شي ورکړه او ګټه د يو بل لازم او ملزوم دي.

**ج- د مالياتو د ورکړې د وس معيارونه يا د مناسبو مالياتي پايو ماليات:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- مصرف د مالیاتو د مناسبې پایې په توگه:** د مصارفو پر اساس د مالیاتو نظر مخکې له دې چې د آدم سمېت لخوا د اقتصاد علم معرفي شي موجوده و. توماس هابز انگلیسي فیلسوف په۱۷پېړۍ کې داسې نظر درلود، چې خلک باید په هغه اندازه مالیات ورکړي چې دوی یې مصرفوي نه د هغوی د عوایدو پر اساس. د هابز د بحث تر څنگ موږ داسې ویلی شو چې د ژوند د رفاه زیاتېدل د مصارفو په زیاتوالي پورې اړه لري. همدارنگه فېشر د۲۰پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې داسې څرگندوي چې پر عوایدو مالیات یو ډول مضاعف مالیات دي او د پانگې اچونې د انگېزې د کموالي سبب گرځي. (۳ :۷۷)

**۲- عاید د مناسب مالیاتي اساس په توگه:** پر عوایدو باندې د مالیاتو د نظر پلویان داسې څرگندوي، چې مالیات باید د عوایدو د ترلاسه کولو پر امکاناتو باندې وضع شي. ددغه مالیاتي اساس پلویان معتقد دي چې پر عوایدو باندې مالیات د عوایدو د نوي او مناسب وېش سبب گرځي. (۱۰:۱٦٥)

**۳- شتمني د مالیاتي اساس په توگه:** ډېری پوهان په دې آند دي چې د اشخاصو مالي توان نه شو کولای چې د هغوی د یوه کال د عاید په توگه و ټاکو، بلکې د هغوی هغه ټوله شتمنۍ او شته چې دوی یې مالکان دي، د ورکړې د یوه ښه معیار په توگه پېژندلی شو. په بل اړخ کې پر شتمنۍ باندې د مالیاتو د وضع کولو مخالفین داسې څرگندوي چې شتمنۍ یو ډول پاته شوې سپما ده چې د مالیاتو او مصارفو له ورکړې څخه وروسته باقي پاته کېږي چې مالیات یې پخوا ورکړل شوي. نو ځکه پر شتمنۍ مالیات داسې یوه کړنه ده چې مالیات یې یو ځل ورکړل شوي او د دوهم ځل لپاره بیا ترې وضع کېږي. لکه څرنگه چې ویل کېږي چې د مناسبې مالیاتي پایې په اړه د نظر اختلاف موجود دی. دغه د نظر اختلاف په اصل کې د سپما او عوایدو د وېش په دوه موضوع گانو کې د اقتصادپوهانو د نظر اختلاف دی. ښکاره ده چې په هغو شرایطو کې چې د یوې ټولنې د سپما اندازه په ټیټه کچه وي او مصرف کوونکي د خپل عاید کمه برخه سپما کوي. نو په مصرف مالیات ښه دي. په داسې حالت کې چې هلته د عوایدو او شتمنیو نابرابري موجوده وي نو مالیات پر عوایدو او شتمنیو باندې زیاتې اړتیا وړ دي. په هر صورت په هغه حالت کې چې سپما زیاته پانگه اچونه له ځانه سره د ملي عاید زیاتوالی ولري او له ملي عاید سره د افرادو عواید هم لوړېږي. په دې وروستیو کلونو کې په مصرف باندې مالیات زیات دود شوي دي.

**۳- د مالیاتي سیستم قواعد:**

که چېرې د پورته ذکر شویو دوه اصولو پر اساس مالیات وضع او واخیستل شي، نو دا یو ډول د مالیاتو یو مقدار ترلاسه کول دي. د قواعدو رعایت کول ډېر اړین دي ترڅو یو مناسب مالیاتي سیستم رامنځ ته شي. په اصل کې غوره مالیاتي مدیریت هغه نه دی چې زیات مالیاتي عواید ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه مسئله ډېره مهمه ده چې دغه عواید څه ډول باید ترلاسه شي، یعني د هغوی اغیز پر مالیاتي عدالت، په دولت باندې د هغوی سیاسي پایلې او همدارنګه د اقتصادي رفاه پر کچې باندې د مالیاتو اغېزه هم زیات اهمیت لري. په دې اړه لاندې مهم قواعد تر بحث لاندې نیسو. (۳:۱۹۸)

**الف- مالیاتي مؤثریت او عدالت:** عموماً مالیات د دوه معیارونو پر اساس ارزیابي او وضع کېږي «د مؤثریت معیارThe efficiency criterion او د عدالت یا برابرۍ معیار (The equity criterion). د مؤثریت معیار په لاندې ډول څرګندېږي:

له خصوصي سکتور څخه عامه سکتور ته د منابعو انتقال او هلته ځای پرځای کول مختلف مالیات د بازار په اقتصاد کې مختلف خنډونه پیدا کوي. دغه خنډونه له زیانونوارزښتمن پاریتو څخه له ځان ساتنې څخه ترڅو رفاه په یوه اقتصاد کې ترلاسه شي او یا د له لاسه وتلو مصارفو ( deadweight lossoe) له وجې رامنځ ته کېږي.

کېدای شي چې له دغه مالیاتي سیستم څخه چې یوه تاکلي مقدار عوامل په دولتي سکتور کې ځای پرځای کوي او یا هغه مصارف چې په ټولنه کې ترسره شوي راکمول وي. د مؤثریت معیار د ترسره شویو مصارفو د نسبت پر اساس چې پر یوه واحد باندې ترسره شوي او څومره مالیات پرې وضع شوي ارزیابي کوي. هغه مالیات چې د لاسه تللو یا ورک شویو مصارفو باندې په یوه اقتصاد کې کم تحمیل شي، په اقتصادي مفهوم سره زیات مؤثریت ولري.

د عدالت معیار بیا داسې دی چې تر مختلفو مالیاتي سیستمونو لاندې څه ډول کولای شي چې مالیاتي بار کم او همدارنګه هغه تولید چې ټولنه ترسره کوي څه ډول د ټولنې ترمنځ وېش او تخصیص ورکړي. دغه فشار او بار د هغو مالیاتو له وجې چې وضع شوي له دې سره سره او د هغو د انتقال شویو منابعو له ارزښت څخه رامنځ ته کېږي. د عدالت دوه ډوله مفاهیم موجود دي چې باید له یوه بل څخه تفکیک شي. افقي عدالت ( Horizontal equity) عمودي عدالت (Vertical equity)

مالیات هغه وخت د افقي عدالت جنبه لري چې له یو شان خلکو سره یو شان رفتار ولري. په دې معنا چې که چېرې دوه کسان له مالیاتو څخه دمخه یو شان رفاه ولري نو د مالیاتو له وضع کولو څخه وروسته هم باید یو شان رفاه ولري. ددې لپاره چې د افقي عدالت له معیار څخه په هر مالیاتي سیستم کې کار واخلو، هر شخص باید ددې وس ولري چې په ښکاره ډول یې مشخص کړي چې په کوم وخت کې دوه کسان د رفاه یو شان کچې لري یا په بله وینا له افقي عدالت څخه هدف دادی ترڅو هغه خلک راپیدا کړو چې یو شان عواید او شرایط ولري او عمودي معیار بیا داسې دی چې مالیاتي سیستم باید له هغو خلکو سره څه ډول رفتار وکړي چې د رفاه مختلفې کچې لري. ددې ارزول چې یو مالیاتي سیستم تر کومې اندازې پورې عمودي عدالت لرونکی دی، هر شخص باید په دې پوه شي چې له مختلفو خلکو سره چې د رفاه مختلفې کچې لري باید څه ډول رفتار وکړي یا په بله وینا د خلکو په مطلوبیت کې په نسبي ډول کمښت چې مطلوبیت یې مختلف دی، څومره دی. ددې پوښتنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوابولو لپاره لازمه ده چې د فردي مطلوبیت ترمنځ باید یو مقایسه رامنځ ته شي او دا یو ډول (د ارزښت قضاوت) دی یا په بله وینا عمودي عدالت د توان پر اساس د تادیې اصل دی. دا په دې معنا چې په هره اندازه چې د مالیې مودي شتمني زیاته وي نو باید په هماغه اندازه مالیات هم زیات ورکړي چې دغه شکل د ورکړې کېدای شي چې صعودي، ثابت او یا نزولي وي.

**ب- د مالیه ورکوونکو د رضایت راجلبول:** مالیات له مؤلدو قوتونو څخه اخیستل کېږي. هغه کسان چې تولید یې له خپلو اړتیاوو څخه لوړ وي او په همدې دلیل سره کولای شي چې له دغې زیاتې برخې څخه یوه برخه تادیه کړي (د مالیاتو په ډول) ترڅو د دولت او همدارنګه د عمومي کالیو او خدماتو بقاء تضمین کړي.

د مالیه ورکوونکو د رضایت راجلبول هغه وسیله ده چې د هغې په وسیله کېدای شي چې پر دولت او مالیاتي سازمانونو باندې د هغوی باور زیات شي. دغه اعتماد او اطمینان د مالیاتو د تشخیص او ترلاسه کولو او همدارنګه شکایتونو ته درسېدو لپاره یوه مؤثره لاره ده. لکه څنګه چې د مالیاتو په ورکړه کې صداقت مالیات نور هم تحکیموي. د مالیاتو تشخیص آسانه کوي او د مالیاتو د ترلاسه کولو مصارف هم راکموي. دغه مثبتې نښې کولای شي چې د مالیاتي چارو اداري مصارف هم راکم کړي.

د مالیه ورکوونکو رضایت مالیاتو ته د هغوی لېوالتیا نوره هم قوي کوي او همدارنګه د مالیاتو د اندازې، یعنې هغه چې ترلاسه شوي او هغه مالیات چې د ترلاسه کولو امکان یې زیات دی لوړېږي. د مالیاتي سیستم د مدیریت سموالی د اندازې لوړوالی ښیي او همدارنګه د مالیه ورکوونکو د لېوالتیا د زیاتوالي او همدارنګه له مالیاتو څخه د تېښتې او لرې والي د کموالي سبب ګرځي.

**ج- د مدیریت سموالی او مؤثریت او مالیاتي سازمان:**

مالیاتي سیستم پنځه ارکان لري:

۱. مالیه ورکوونکي

۲ . مالیه اخیستونکي

۳. مالیاتي قوانین او مقررات

۴. مالیاتي مدیریت

۵. فرهنګ او هغه علاقه چې مالیه ورکوونکي او حکومت (مالیه اخیستوونکي) چې یو له بل سره یې تړي. په هره اندازه چې مالیاتي قوانین ساده او مدیریت متعهد، متخصص، حکومت مشروع او په قانون باندې د خلکو باور ډېر وي، قانون جوړونکي او د هغوی تطبیق کوونکي قوي وي مالیاتي سیستم به په هماغه کچه مؤثر وي. د مالیاتي مدیریت اهمیت په وروستیو لسیزو کې په زیاته کچه ښکاره شوی. که چېرې خلک حکومت مشروع وګڼي، هغه په خدمت کولو کې مؤثر وګڼي یا په بله وینا هغه د خلکو او عادلانه وګڼي او همدارنګه په خپله خلک متعهد او متدین وي، زیاته لېوالتیا ښکاره کوي او مالیاتي لرېوالی او مالیاتي تېښته راکموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- د مالیاتو انتقال:**

**الف- د مالیاتو د انتقال مفهوم او اهمیت:** د مالیاتو وضع کول په په اصل کې د خصوصي منابعو د یوې برخې انتقال دی. دولتي سکتور او همدارنګه دولتي بودجې ته چې د مالیاتي بار سبب ګرځي چې کولای شو په دوه برخو یې ووېشو؛ پولي بار (monetary burden) واقعي بار (real burden).

پولي بار: پولي بار په اصل کې یوه اندازه پیسې دي چې د یوه مکلف شخص په وسیله د مالیاتو په ډول ورکول کېږي.

واقعي بار یا د مالیاتو نهائي بار: هغه بار دی چې یو شخص مخکې ورکړی وي نو بیا په هغه باندې نه وضع کېږي.

په اکثرو وختونو کې کېدای شي چې د مالیاتو لومړي تادیه کوونکي (پولي بار) او د مالیاتو نهائي تادیه کوونکي (واقعي بار) جلا اشخاص وي. په دې حالت کې داسې ویل کېږي چې مالیات انتقال شوي دي. نو له دې څخه داسې څرګندېږي چې د مالیاتو انتقال په اصل کې د پیسو انتقال په اصل کې نورو ته د پیسو د انتقال جریان دی.

یوه تر ټولو مهمه موضوع د مالیاتي سیاستونو اغېز دی. ټول هغه اشخاص چې د مالیاتو نهائي او واقعي ورکوونکي دي باید تشخیص شي، یعنې نه یوازې داچې لومړني تادیه کوونکي مشخص شي، بلکي باید د مالیاتو د انتقال امکانات نورو ته او همدارنګه د احتمالي او واقعي مالیاتو ورکوونکي باید معلوم شي. ځکه که چېرې د مالیاتو د انتقال موضوع تشخیص نه شي، نو د لومړني تادیه کوونکي او نهائي یا واقعي تادیه کوونکي مالیات به یو شان وي او دا عدالت نه دی. د بېلګې په توګه، شرکتونه باید د قانون پر اساس مالیات ورکړي. دغه قانوني بار د هغوی پر غاړه دی، خو لکه څرنګه چې دغه شرکتونه حقوقي شخصیتونه دي، نو په همدې اساس هغه اشخاص یا کورنۍ چې ددغو شرکتونو خاوندان دي د مالیاتو دغه بار چې د شرکت پر عوایدو باندې وضع کېږي، کنه. دغه مالیات به له نامساعد اقتصادي حالت سره مخ شي. همدارنګه که د مالیاتو له وضع څخه وروسته شرکتونه مجبور شي، چې خپلو سهم لرونکو باندې خپله ګټه د ورکړل شویو مالیاتو په اندازه کمه کړي. نو دغه به پر سهمدارانو یو دروند بار وي. کله بیا شرکتونه له خپلو مزدورانو څخه دغه مالیات اخلي، یعنې د هغوی له معاش څخه د مالیاتو په کچه پیسې راکموي. نو پر دې اساس په شرکتونو باندې د مالیاتو له وضع کولو څخه چې دغه بار رامنځ ته شوی په اصل کې پر مزدورانو وضع کېږي.

دربیم حالت هم شتون لري. هغه داسې چې شرکتونه کولای شي چې په هغه اندازه یې چې مالیات ورکړي، د خپلو اجناسو او خدماتو قېمتونه لوړ کړي. نو په دې صورت کې اصلاً د مالیاتو بار په مصرف کوونکو باندې تحمیل شوي دي. د عمومي اقتصاد په برخه کې چې کله مالیات د تولید د عواملو په خاوندانو لکه کاریګرو، د خامو موادو عرضه کوونکو او نورو ته انتقال شي. داسې ویل کېږي چې مالیات مخکنیو عواملو ته انتقال شوي دیاو ددې پرعکس کله چې د اجناسو قېمتونه په زیاتوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره وروستي پړاو او په نهایت کې مصرف کوونکو ته انتقال شي، ویل کېږي چې مالیات وروستیو عواملو ته انتقال شوي دي، یعنې د مالیاتو یو مخکنی انتقال او بل د مالیاتو وروستی انتقال د مالیاتو د انتقال دوه مختلف شکلونه بلل کېږي. که چېرې د مالیاتو په تحلیل او بررسۍ کې وروستیو تأثیراتو ته پام ونه شي او یوازې یو حالت ته پام وشي، یعنې مخکنیو حالاتو ته پام وشي نو دې ډول بررسۍ ته د جزئي تعادل تحلیل ویل کېږي یا په بله وینا په دا ډول تحلیل کې یوازې دا تحلیل کوي چې مالیات څه ډول وضع شي او د هغوی وروستیو تأثیراتو ته پام نه کېږي. باید پام وشي چې د مالیاتو نهائي انعکاس نه شو کولای چې د جزئي تعادل د تحلیل پر اساس بررسي کړو د مثال په توګه لکه څرنګه چې د شرکتونو خاوندان د زیات عاید لرونکي دي او کاریګر د کمو عوایدو لرونکي دي. که چېرې مالیات د شرکتونو له خاوندانو څخه کاریګرو ته انتقال شي نو د عوایدو وېش به په یوه اقتصاد کې تر ډېر تأثیر لاندې راولي.

همدارنګه دې ته په پام سره چې زیات عاید لرونکې ډلې، د کم عاید لرونکو ډلو په پرتله مختلف کالي پېري. پورتني مالیات ددغه ډول کالیو د تولید او تقاضا په طریقو او نورو مسایلو باندې هم اغېز کوي. سربېره پردې د هغو تأثیراتو کامله بررسي چې د مالیاتو د تغییر او وضع کولو څخه سرچینه اخلي یو مغلق او پیچلی کار دی. د عمومي تعادل په حالت کې د ړومبنیو آثارو سربېره د مالیاتو دوهمو او اوږد مهاله آثارو ته هم پام کېږي یا په بله وینا په دې ډول تحلیل کې د مالیاتو تأثیر او د هغه انتقال د عاید پر وېش، د تولید قېمت او نورو باندې تجزیه او تحلیل کېږي.

**ب- د مالیاتو د انتقال مؤثر عوامل:**

د مالیاتو انتقال د عامه اقتصاد یو له اړینو موضوعاتو څخه دی. د مالیاتو په انتقال کې ډېر زیات فکتورونه دخیل دي، چې د نظر وړ مالیاتي سیستم مشخصاتو ته په پام سره به متفاوت وي، چې دلته ددغو فکتورونو یوه برخه تر بحث لاندې نیسو.

۱- **د مالیاتو مقدار**: هرڅومره چې د مالیاتو مقدار زیات وي، د مالیاتو د انتقال انګېزه زیاتوالی پیدا کوي او څرنګه چې د مالیاتو مقدار یو کوچنی عدد او د پام وړ نه وي د مالیاتو انتقال نسبتاً په لږه اندازه تر پاملرنې لاندې نیسي.

۲- **په مالیاتي سیستم اعتقاد**: د مالیاتو او د هغه د انتقال یو له مهمو مسایلو څخه د مالیاتو او د هغه د اهدافو په تړاو د وګړو عمومي فرهنګ او عقیده ده، چې د اخلاقو او مالیاتي ذهنیت په نوم هم یادېږي. څرنګه چې وګړي د مالیاتو پرداخت یوه دنده وبولي او له دغې لارې وغواړي د عمومي کالیو او خدماتو په مالي تأمین کې چې د دولت له خوا وړاندي کېږي ځان شریک وبولي. د مالیاتو د انتقال انګېزه بــه په پام کې ونه نیسي. بالمقابل په دې چې د مالیاتو ورکړه په واقعیت کې یو دروند بار بلل کېږي افراد د نسبتاً کم بار د زغملو په موخه هڅه او هاندکوي چې د امکان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې خپل ماليات نورو ته انتقال کړي.

۳- **د مالياتو ډول**: د مالياتو انتقال د مالياتو په ډول پورې تړاو لري د مثال په ډول معمولاً د مستقيمو مالياتو انتقال (لکه د اشخاصو پر عايد ماليات) د غيرمستقيمو مالياتو لکه د خرڅلاو مالياتو او د اضافي ارزښت له مالياتو څخه مشکل دی. ځکه د دالتون په قول قېمت د موتور په حقيقت کې د مالياتوانتقال دی. پردې اساس غير مستقيم ماليات د قېمت د زياتوالي د امکان له امله کېدای شي د توليدونکو له خوا مصرف کوونکو ته منتقل شي. په خرڅلاو د مالياتو د مثال لپاره په دقيق ډول په ځانګړي صورت محاسبه کېږي او د کاليو د خرڅلاو پر مهال د هغوی د پېرودلو په فکتور باندې مشتريان اضافه کېږي.

پردې اساس ددې ډول مالياتو انتقال پېرودونکو ته حتمي دی. همدارنګه پر اضافي ارزښت د مالياتو په برخه کې مصرف کوونکو هم دغه ماليات د کاليو او خدماتو د قېمت د يوې برخې په توګه بللي دي،د هغه بار پورته کوي. پردې اساس هرکله چې دغه ماليات په ټولو کاليو او خدماتو کې شامل شي، په دې صورت کې له يوې خوا نزولي ماليات بلل کېږي، ځکه د کم عايد لرونکې ډلې ونډه له دغو مالياتو څخه په يوه نسبت زياتېږي. له بلې خوا د مختلفو کاليو او خدماتو د قېمت په لوړېدو سره ممکن دغه ماليات په ناخالص ملي توليد کې د مصرفي مخارجو د ونډې د زياتوالي او د انفلاسيون د پيدا کېدو لامل وګرځي. په ټاکلي وضعيت کې له مالياتو څخه پيدا کېدونکي عوارض به د هغه له ډول او مبنا سره يوه نژدې اړيکه ولري. د مثال په توګه هغه ډول چې وبه يې وينو د سړي سر مالياتو تأثير د توليد په هر واحد باندې، د انتقال له پلوه په سود باندې ماليات،د توليدوونکي لپاره چې د انحصاري وضعيت په فرض کولو سره فعاليت کوي، متفاوت به وي.

۴- **د عرضې او تقاضا ارتجاعيت**: په مختلفو کاليو باندې د مالياتو د انتقال له ډېرو مهمو عواملو څخه دغو کاليو ته د هغوی د قېمت په پرتله د عرضې او تقاضاد ارتجاعيت مسئله ده. د مثال په توګه هماغه ډول چې وبه يې وينو، کله چې د کاليو لپاره تقاضا ارتجاعي وي، په دې صورت کې د مالياتو کامل انتقال مصرف کوونکو ته ممکن نه دی او که چېرې تقاضا د کاليو لپاره غير ارتجاعي وي توليدوونکي په آسانۍ سره کولای شي په دغو کاليو باندې وضع شوي ماليات مصرف کوونکو ته انتقال کړي. همدارنګه که چېرې د کاليو عرضه غير ارتجاعي وي، د مالياتو زيات بار د توليدوونکو پر اوږو بارېږي او برعکس کله چې د کاليو عرضه ارتجاعي وي، توليدوونکي به د عرضې د کمولو له لارې د مالياتو له وضع کولو وروسته وتوانېږي چې د مالياتو بار د کاليو د قېمت په لوړولو سره مصرف کوونکو ته منتقل کړي. همدارنګه پر حقوقو او مزد باندې د مالياتو په برخه کې هم بايد پام وشي، نور ارتجاعيتونه لکه د قېمت په نسبت د توليد د عواملو ارتجاعيت، همدارنګه د توليد د عواملو قايم مقام ارتجاعيت هم د مالياتو د عوارضو او انتقال په بررسي کې ټاکونکی نقش ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- **زماني دوره:** په دې فرض کولو سره چې د تولید ځینې عوامل ثابت دي، د کالیو عرضه به هم ثابته وي. په نتیجه کې به د مالیاتو د بار انتقال په لنډمهال کې له مشکلاتو سره مخ شي. په مقابل کې په اوږدمهال کې په تولید کې د زیاتې انعطاف پذیرۍ امکان ته په پام سره په مختلفو کالیو باندې د مالیاتو انتقال نسبتاً آسانه ترسره کېږي.

٦- **د بازار جوړښت:** هرکله چې په کالیو باندې مالیات په تولیدونکي باندې چې په یوه رقابتي بازار کې فعالیت کوي وضع شي، قادر نه دی چې لږ تر لږه په لنډمهال کې مالیات مصرف کوونکي ته انتقال کړي. ځکه د تقاضا منحني د ټولو تولیدوونکو لپاره په دې بازار کې کاملاً ارتجاعي ده. پردې اساس هرکله چې تولیدوونکي وغواړي د کالیو قیمت لوړ کړي ترڅو وتوانېږي خپل مالیاتي بار مصرف کوونکو ته انتقال کړي، ممکن د خپلو تولیداتو لپاره د تقاضا له کمښت سره مخ شي. په نتیجه کې به د پام وړ زیان ګالونکی شي. په داسې حال کې چې په رقابتي بازار کې د عرضې او تقاضا ارتجاعیت مختلفو شرایطو ته په پام سره، دا امکان وجود لري چې مالیات په اوږدمهال کې مصرف کوونکو ته انتقالېږي. همدارنګه په انحصاري حالت کې، تولیدوونکي د خپل تولید او کالیو د خرڅلاو قیمت په تغییر سره کولای شي په آسانۍ سره د خپلو مالیاتو بار مصرف کوونکي ته انتقال کړي.

۷- **جغرافیایي سیمه:** هرکله چې مالیات په مختلفو کالیو باندې په یوه محدوده جغرافیایي سیمه کې وضع شي او نورې سیمې په مالیاتو کې شاملې نه شي، په دې صورت کې ددې ډول مالیاتو د انتقال امکان مصرف کوونکو او تولیدوونکو ته مشکل دی. ځکه هغه کولای شي د مالیاتو غیر شاملو سیمو ته په مراجعه کولو سره خپل مالیاتي بار راکم کړي.

۸- **اقتصادي سیاستونه:** د دولت مختلف اقتصادي سیاستونه لکه د قیمتونو او د لاس اجورو د کنترول سیاستونه، او که د دولت مختلف قوانین په بریالیتوب سره ترسره شي، وبه توانېږي چې د پام وړ شکل سره د مالیاتو له انتقال څخه مخنیوی وکړي.

۹- **مالیاتي تعلق:** د مالیاتي تعلق مطالعه ددې مطلب د روښانه کولو لپاره یوه هڅه ده چې څوک مالیات ورکوي. دغه تحلیل د ټولو اقتصادي تحلیلونو په څېر هڅه کوي ترڅو توضیح کړي چې منابع څه نمونه او څه ډول تخصیص پیدا کوي او یا د مالیاتو په نه شتون کې د عوایدو وېش او سوکالی باید څه ډول وي. د مختلفو مالیاتو د تعلق په اړوند ترسره شوې وړاندوینې زیاتره پردې فرضیې اتکاء لري چې اقتصاد څه ډول عمل کوي. ددې موضوع په اړوند د اقتصادپوهانو ترمنځ اختلاف او تضاد وجود لري او د مالیاتي تعلق مطالعه په هغه اندازه چې اقتصادي تیوري ګانو پراختیا پیدا کړې ده، پراخوالی موندلی. له هغه ځایه چې د مالیاتو وضع په اقتصاد کې نسبي قیمتونه متأثره کوي، پردې اساس د ایجاد شویو قواوو د منابعو په تخصیص او قیمتونو کې د تغییراتو لامل ګرځي. مثل شوې ده چې فرد، کورنۍ او یا اقتصادي واحد باید قانوناً مالیات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لزوماً داسې فرد نشته چې ماليه ورکوي او د هغه بار ګالي. کېداى شي ماليات د قېمت د تغيير له لارې کورنۍ او يا کوم بل اقتصادي واحد ته انتقال شي مثلاً شرکت بايد پر عايد ماليات ورکړي، د مالياتو قانوني تعلق وګالي. په دې توګه ټوله ماليه د شرکت لخوا ورکول کېږي.

هرکله چې دغه شرکت د مالياتو يوه برخه د خپل محصول لپاره په نسبتاً لوړو قېمتونو سره مصرف کوونکو ته انتقال کړي، په دې صورت کې ويل کېږي چې شرکت څومره ماليات د قېمت له لارې مصرف کوونکي ته انتقال کړي دي. پردې اساس د مالياتو نهائي تعلق هم پر مصرف کوونکي دی او هم پر اقتصادي واحد. کېداى شي چې په هغه وخت کې شرکت په نسبتاً لږې ورکړې سره يو څه ماليات له نورو عواملو سره د کار قوې ته انتقال کړي.

د توليد په عواملو يا په کاليو د مالياتو د مشخص تغيير پر اساس ممکن د توليد د عواملو په قېمت کې د قېمتونو د کارکرد د سيستم له لارې تغيير راوړي. هغه تحليل چې په هغه کې هڅه کېږي ترڅو پر ټولو قېمتونو د مالياتو د تغيير اغيز وښيي د (کلي تعادل د تحليل) په نوم يادېږي. که چېرې په نورو ځايونو کې د مالياتو تأثير کم وي. غالباً کافي ده يوازې په بازار کې وضع شوي د مالياتو د تغيير اغېز ته پام وکړو. د مالياتو د تغيير د اوليه او کلي اغېز تحليل په مالياتو کې د شاملو کاليو پر بازار د (جزئي تعادل د تحليل) په نوم يادېږي. (۹ :۱۲۲)

**الف- د مالياتي تعلق ډولونه:**

**۱.قانوني تعلق، اقتصادي تعلق او د مالياتو انتقال:** د مالياتو ورکړه داوطلبانه نه ده، بلکې د مالياتي انواعو ورکړه چې قانوناً تصويب شوه ده، اجباري اړخ لري. که څه هم په نهايت کې مالياتي قانون د ټولنې د تمايل منعکس کوونکی دی،لېکن کله چې تصويب شو د ټولنې وګړي د هغې دنه ورکړې او يانورو ته د هغې د انتقال ميلان پيدا کوي. دغې موضوع ته په پام سره چې څوک واقعاً ماليات ورکوي، بايد د قانوني تعلق نه پرته، يعنې له يوه فرد پرته چې قانوناً ماليات په هغې پورې تعلق نيسي پام وشي. په هر حال په دې موقع کې بايد دوه نقطو ته پام وشي: لومړی داچې افراد بايد ټول مالياتي مصارف تحمل کړي، که څه هم ممکن له اقتصادي واحدونو ماليات ترلاسه شي اما په نهايت کې افراد بايد مالياتي بار د هغه ظرفيت او موقعيت ته په پام سره د اقتصادي واحدونو د صاحبانو په توګه کار کوونکي او مصرف کوونکي تحمل کړي. دوهم داچې ممکن د مالياتو نهائي وېش له هغه څه متفاوت وي چې قانون د افرادو او اقتصادي واحدونو لپاره په پام کې نيولی دی. پر اقتصادي واحدونو سربېره افراد د خپل پېر او پلور په تعديل سره د نورو پر موقعيت اغېز کوي.

ممکن قانون ګذار له دې موضوع څخه خبر وي مثلاً پر غير الکولي مشروباتو باندې د مالياتو د وضع کولو پر مهال له توليدوونکو څخه قانوناً ماليات اخيستل کېږي، خو قانون ګذار مصرف کوونکو ته د هغې له انتقال څخه خبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې د مالیاتو د ترلاسه کولو موخه په خپله له تولیدوونکي څخه وای، قانون ګذار د اقتصادي واحد پر ګټو مالیات وضع کول. په هر حال د مالیاتو د حصول د سهولت اصل ته په پام سره تولیدوونکي د مالیاتو د ترلاسه کولو لپاره په پام کې دي. پردې اساس د مالیاتي فشار د وېش دقیق تعین د اقتصادي تعدیل تحلیل ته ضرورت لري یا په بله وینا د مالیاتو انتقال د مالیاتو له لومړني برخورد څخه هغه ځوک چې قانوناً باید مالیات ورکړي د مالیاتو نهائي برخورد نقطې ته ځوک چې له اقتصادي پلوه مالیات ورکوي معمولاً د مالیاتو انتقال وایي.

منل شوې ده چې باید د مالیاتو وېش ته د هغه له انتقال نه وروسته هم پام وشي. که چېرې داسې هوډ په منځ کې وي چې قانون ګذار باید یو داسې فورمول او میتود چې د مالیاتي تعلق رضایت بخښونکې پایلې منعکس کوونکی وي، ترلاس لاندې ونیسي. قانون ګذار باید په کلي ډول د عاید په وېش باندې د مالیاتو د وضع کولو د أثراتو په مطالعې او بررسۍ سره د مالیاتو اقتصادي تعلق ته په پام سره د مالیاتو په تصویب اقدام وکړي. البته د مالیاتو د اقتصادي تعلق ټاکل حتی د اقتصادپوهانو لپاره ساده کار نه دی. که څه هم ممکن قانون ګذار د دولت په واسطه زیات پام د مالیاتو د اندازې ترلاسه کولو ته ولري، خو په کلي ډول تمه لري چې د هر مالیاتي قانون د تصویب پر وړاندې د مالیاتو د وېش پر اړخونو باندې کافي علمي او عملي مطالعه او بررسي ترسره شي.

**۲- د مخارجو تعلق:** همدارنګه ممکن د دولت د مخارجو برنامه د خصوصي برخې د عاید او رفاه توزیع ته تغییر ورکړي. د هغه دلیل کېدای شي داسې وي چې د دولتي برخې په بودجه کې ټول منعکس شوي دولتي خدمات ممکن د ټولنې د افرادو په منځ کې همغږي او یو شان منافع ایجاد نه کړي. د همېشنۍ زده کړې دېلګې لپاره زیاتو ماشومانو لرونکو کورنیو ته د کمو ماشومانو لرونکو کورنیو په نسبت زیاته ګټه رسوي. همدارنګه د دولت انتقـالي ورکړې د فقیر او بې وسه وګړو د تصرف وړ عاید د نورو ډلو د عاید د کموالي په مقایسه زیاتوي. په هر حال دې ته په پام سره چې نه شو کولای د ټولنې ټولو افــرادو ته د دولتي خدماتو مستقیمې منافع اندازه کړو، له دې امله د مستقیم مجدد وېش د أثراتو معلومول او مشخص کول له دولتي مخارجو نه ډېر ممکن نه دی. دغه اشکال له دې امر سرچینه اخلي چې دولتي خدمات لکه دولتي مدارس، أمنیت، د پولیسو خدمات چې په ډله ییز شکل ترې کار اخیستل کېږي، نه شو کولای اندازه کړو. پردې سربېره دولتي مخارج هم د مشابه عاید په وېش باندې هغه څه چې په مالیاتـو کې مطرح کېږي أثرات لري.

ټول دولتي فعالیتونه خاصتاً په عمومي بودجه کې د تولید پر عواملو خاصه تقاضا لري، چې هغه هم په خپل وار سره د خصوصي برخې د لاسرسي وړ تولید عواملو او د کالیو نسبي قېمت ته تغییر ورکړي. له عمومي بودجې څخه پیدا کېدونکې ځانګړې تقاضا د اقتصاد په قلمرو کې په عرضه او تقاضا باندې دوهمي أثرات لري. له دې امله د کالیو د نسبي قېمت د زیات تغییر سبب کېږي مثلاً که دولت د ملي دفاع د خدماتو په برخه کې زیات مقدار فولادو ته اړتیا ولري د فولادو قېمت زیاتېږي او په نتیجه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولید شوي کالي د فولادو په پرتله قېمته تمامېږي او د دا ډول محصولاتو مصرف کوونکي په خپل واقعي عاید کې د کموالي احساس کوي یا که چېرې دولتي فعالیتونه د خصوصي برخې په پرتله د کار زیاتې قوې ته اړتیا ولري، دولتي مخارج د کار قوې قېمت ته د تولید د نورو عواملو په پرتله زیاتوي او د کاریګرو د واقعي عاید زیاتېدل به د تولید د نورو عواملو د مالکانو په نسبت له ځان سره ولري.

**۳- د تعلق نور مفاهیم:** اړینه ده چې په اقتصاد کې د کورنیو په منځ کې د رفاه او عاید په وېش کې د دولت د فعالیتونو د رول په هکله سم او دقیق اطلاعات ولرو.

له هغه ځایه چې د هرې کورنۍ رفاه د هغې په واقعي عاید پورې اړه لري، ممکن په واقعي عاید کې تغییرات اندازه شي. د عاید په وېش باندې د مخارجو سیاستونه او د پیشنهاد شویو مالیاتو د اټکل أثر کولای شي د دولت د فعالیتونو د ماهیت په اړوند خلکو ته ښه پراخ نظر ورکړي.

د طبیعت، دولتي مخارجو او مالیاتي سیاستونو کمي اټکل اجازه ورکوي، چې افراد دولت ته د خپلو ورکړو واقعي مخارج او هغه خالصه ګټه چې د دولت له خدماتوڅخه یې لاس ته راوړي، له یو بل سره مقایسه کړي. په هر حال که څه هم مخارج باید د عاید د وېش په تعلق کې په پام کې ونیول شي، خو د عرف پر بناء په تعلق پورې مربوط مسایل، مالیاتو ته په پام سره ترسره کوي. «د مالیاتو مطلق تعلق، تفاضلي تعلق او بودجوي تعلق» نور مفاهیم دي چې د مالیاتو د تعلق په مسئله کې ورته پام کوي.

**الف- د مالیاتو مطلق تعلق:** د توزیعي أثر د څېړنې یوه طریقه ده. د دولتي مخارجو په ثابت فرض کولو سره د خاصو مالیاتو وضع کول دي. په دې معنا چې د مالیاتي عاید زیاتېدل په مخارجو کې د تغییر یا له جبراني تغییر پرته په هم مهاله ډول په نورو مالیاتو کې په پام کې نیسي. د توزیعي نتایجو په تعین کې داسې تغییر په مشکل سره کولای شي هغه لوی أثرات چې په عمومي تقاضا کې له کموالي څخه پیدا کېږي، په پام کې ونیسو. په دې په فرض کولو سره چې د اقتصادي ثبات په موخه د دولت سیاست ترسره شي، په مصرف کوونکو باندې په ډله ییز شکل هېڅ ډول فشار نه واردېږي، لېکن پوښتنه داده چې څه ډول د اقتصادي ثبات د مختلفو سیاستونو توزیعي نتایج متفاوت دي؟

لکه څرنګه چې هېڅ ډول جبراني اقدام نه ترسره کېږي. اقتصادي وضعیت ته په پام سره ممکن د مالیاتو تغییر په وزګارتیا، د قېمت د سطحې په لوړوالي او د انفلاسیون د نرخ په کموالي تمام شي. هرکله چې له دغوڅخه نه په خپلو خاصو توزیعي نتایجو تمامېږي او نه شو کولای هغه نتایج چې په خپله د مالیاتو له تغییر څخه سرچینه اخلـي ترې جلا کړو. له دې امله د مالیاتو د مطلق تعلق د ملاحظې په اړوند هر ډول هڅه زیاتو ځانګړو ملاحظاتو ته اړتیا لري او دغه روش په خوښېدونکو نتایجو نه ختمېږي.

**ب- د مالیاتو تفاضلي تعلق:** په دې روش کې له دغو اشکالو څخه د مخنیوي په موخه په هغه صورت کې چې ټول عاید او مخارج ثابت پاته شي د نورو ځای ناستو مالیاتو څخه پیدا کېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



توزیعي تغییرات بررسي کوي. د مثلل په توگه ممکن دولت په عوایدو یو ملیارد ترلاسه شوي عواید په همدې اندازه له مالیاتو سره د سګرټ په مصرف باندې ځای پرځای کړي. دا ډول یو سیاست د عمومي برخې د مخارجو په موخه منابع نه انتقالوي. په مالیاتي بار پورې مربوطو مسایلو څخه په صرف نظر کولو او له دې امله هېڅ ډول فشار په خصوصي برخې باندې نه واردوي، لېکن یوازې د کورنیو ترمنځ مجدد وېش پیدا کوي.

هغه کورنۍ چې په عاید باندې یې مالیات کم شوی دی گټه لاس ته راوړي، خو ددې په مقابل کې هغه کورنۍ چې د سګرټ مصرف کوونکي دي او حتی تولیدوونکي او د سګرټ کارخانې هم تاواني کېږي. په دې ترتیب تولیدوونکي هغه محصولات چې له مالیاتو څخه د معاف شویو وګړو د عوایدو له لارې پېري ګټه لاس ته راوړي. د وېش په موقعیت کې حاصل شوی تغییر د «مالیاتو د تفاضلي تعلق» په نوم یادېږي.

د «مالیاتو تفاضلي تعلق)» مفهوم هم هغه وخت چې د عاید د زیاتېدو او کمېدو متفاوت روشونه پرتله کوو، په کاروړل کېږي. د مالیاتو د تعلق دا ډول نظر عملاً په هغه علت چې معمولاً د مالیاتي سیاست تصامیمو دا ډول مسایل رانغاړي، ګټور دی.

**ج- بودجوي تعلق:** د بودجوي تعلق د مسئلې د تحقیق بله طریقه د مالیاتو او مخارجو د تغییراتو د اغېزو ترکیب ته په پام سره د کورنیو د موقعیت د تغییراتو کتل کول دي. د خصوصي مخارجو لپاره د مشخصې کورنۍ د لاسرسي وړ عاید نه یوازې د مالیاتو تر اغېزې لاندې راځي، بلکې په مالیاتو پورې اړوند اقداماتو څخه هم متأثره کېږي. د ورکړو په مسئله کې د عاید وېش د خصوصي برخې په عـاید باندې د هغې د اغېزو له امله تأثیر کوي. په ځانګړي ډول د دولت په مټ د همېشنیو خدماتو د وړاندې کولو په حالت کې فقط د بودجې مخارج لکه مالیات چې د افرادو په عاید تأثیر کوي.

**٦- د مالیاتو نرخونه**


د مالیاتو نرخ کېدای شي چې متناسب (Proportional tax )، متزاید (Progressive tax) او یا تنازلي (Regressive tax ) وي. (٧ :٩١)

**الف- د متناسبو مالیاتو نرخ:** هغه مالیات دي چې په هغه کې د مالیاتو نرخ په ټاکلې فیصدۍ سره ثابت وي او په هممهاله زیاتوالي او کموالي سره د مالیې د سنجش اساس تغییر نه کوي. د مثا ل پّ توګه که چېرې د مالیاتو د سنجش اساس ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ وي ٪۵ مالیه ترې اخیستل کېږي او که چېرې د مالیې د سنجش اساس له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو څخه کم او یا زیات شي بیا هم هماغه ٪5 مالیه اخیستل کېږي، د مالیې په فیصدۍ کې کوم تغییر نه واقع کېږي.

د مالیاتو د متناسب نرخ په صورت کې که څه هم د مالیې فیصدي ثابته وي خو د دولت عواید په متناسب ډول د مالیې د سنجش اساس په کموالي او زیاتوالي سره زیاتېږي او کمېږي.


(c) ketabton.com: The Digital Library






(۷) شکل: د متناسبو مالياتو نرخ

**ب- د مترقي مالياتو نرخ:** که چېري د ماليې فيصدي يا د ماليې نرخ د ماليې د سنجش د اساس په لوړېدو سره زيات شي، د مترقي مالياتو د نرخ په نوم يادېږي. مثلاً کله چې د سنجش اساس ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ وي له هغه نه ۵٪ ماليات اخيستل کېږي او که چېرې د ماليې د سنجش اساس ۲۰۰۰۰۰ افغانيو ته زيات شي، يعنې ۱۰۰٪ زيات شي، د ماليې نرخ هم ۱۰٪ ته زياتېږي، چې د مترقي مالياتو د نرخ خطي گراف لاس ته راځي. البته د ماليې د نرخ فيصدي کېداى شي د ماليې د سنجش اساس له زياتوالي څخه په زياته اندازه او يا د ماليې د سنجش اساس له زياتوالي څخه په کمه اندازه زيات شي چې په هغه صورت کې سريع مترقي نرخ او بطي مترقي نرخ ورکوي.





(۸) شکل: د مترقي مالياتو نرخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ج- د نزولي مالياتو نرخ**: د نزولي مالياتو د نرخ په صورت کي د ماليې د سنجش اساس په لوړېدو سره د ماليې نرخ يا د ماليې فيصدي نزول کوي. له لاندې ګراف سره سم البته د ماليې نزولي نرخ ممکن سريع يا بطي وي.




(۹) شکل: د نزولي مالياتو نرخ

**د- د قېمت ترکيب يا د مالياتو نرخ**: د مالياتي نرخ ترکيب په يوه محاسباتي زمان کې د ذخيره شويو مالياتو رابطې او د مالياتو اساس ته وضاحت ورکوي. له يو بل سره د مالياتو د ارزيابۍ په وخت کې د اقتصادي اساساتو په ځېر لکه عوايد، د مالياتو قېمت د مالياتو له نسبت څخه چې د مختلفو قېمتونو لپاره ياد شوی اساس ورکول کېږي، محاسبه کېږي.

د متوسطو مالياتو قېمت (ATR) د مالياتو د اساس پر قېمت باندې د ذخيره شويو مالياتو د قېمت مجموعه ده.

$$\text{Average Tax Rate(ART)} = \frac{\text{ټول ورکړل شويماليات}}{\text{د ماليې اساس قېمت}} = \text{د مالياتو متوسط قېمت}$$

د مالياتي مالياتو حاشيه يي يا نهائي قېمت (MTR) اضافي ماليات دي، چې په اضافه شويو مبالغو باندې د مالياتي اساس د زياتوالي په وخت کې د مالياتو د اساس په قېمت کې وضع کېږي.

$$\frac{\Delta\ \text{ټول ورکړل شوي ماليات}}{\Delta\ \text{مالياتو د اساس قېمت}} - \text{د مالياتو حاشيه يي قېمت}$$

$$= \frac{\text{د ورکړل شويو مالياتو په مجموع کې تغيير}}{\text{د مالياتو په اساس قېمت کې تغيير}}$$

MRT=(Marginal Tax Rate)

(c) ketabton.com: The Digital Library



متوسط مالياتي نرخ د متناسبو مالياتو په صورت کې د نهائي مالياتي نرخ په صورت کې د مالياتو نرخ د متوسطو مالياتو له نرخ څخه زيات دی او په نزولي نرخ کې، متوسط او نهائي نرخ د مالياتو د اساس په اندازه کموالی پيدا کوي او د مالياتو نهائي نرخ تل د مالياتو له متوسط نرخ څخه کمېږي. د مالياتو متناسب نرخونه، د مالياتو تصاعدي او نزولي نرخونه د لاندې ځانګړو جدولونو په لړ کې له مثالونو سره توضيح کېږي.

(۵) جدول: د متناسبو مالياتو نرخ ( MRT=ATR )

| د نرخ ډول | د مالياتو مبلغ | د مالياتواساس | د مالياتو متوسط نرخ | د مالياتو نهائي نرخ |
|---|---|---|---|---|
| تناسب | ۱۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | ATR=٪۲ | |
| متناسب | ۲۰۰۰ | ۱۰۰۰۰۰ | ATR=٪۲ | MRT=٪۲ |

(٦) جدول: صعودي نرخ (MTR>ATR)

| د نرخ ډول | د مالياتو مبلغ | د مالياتو اساس | د مالياتو متوسط نرخ | د مالياتونهائي نرخ |
|---|---|---|---|---|
| صعودي | ۱۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | ATR = ٪۴ | MRT= ٪٦ |
| صعودي | ۴۰۰۰ | ۱۰۰۰۰۰ | ATR = ٪۴ | |

(۷) جدول: نزولي نرخ (MTR<ATR)

| د نرخ ډول | د مالياتو مبلغ | د مالياتو اساس | د مالياتو متوسط نرخ | د مالياتو نهائي نرخ |
|---|---|---|---|---|
| نزولي | ۱۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | ATR = ۲٪ | |
| نزولي | ۱۵۰۰ | ۱۰۰۰۰۰ | ATR = ٪۵.۱ | MRT = ٪۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډيز:**

ماليات هغه بلا عوضه او اجباري ورکړه ده چې له دولتي اصولو او مقرراتو سره سم له حقيقي او حقوقي اشخاصو څخه اخيستل کېږي. هغه بنسټيز اصول چې د مالياتو د اخيستلو په وخت کې بايد په پام کې ونيول شي د ګټې او د ورکړې د توان اصل دی چې ددغو اصولو له مخې ماليات اخيستل کېږي.

د مالياتو د ورکړې د وس معيارونه کېدای شي چې مصرف، شتمني او عايد وي. د مالياتي سيستم قواعد مالياتي مؤثريت، مالياتي عدالت، د ماليه ورکوونکو د رضايت راجلبول او د مالياتو سمونه، مؤثريت مديريت او سازماندهي دي.

د توليدي عواملو په قېمت د مالياتو مخکنی انتقال او د مالياتو د خرڅلاو په قېمت وروستی انتقال او توليداتو عملي کېږي. د مالياتو په انتقال کې مؤثر عوامل د مالياتو په سيستم اعتقاد، د مالياتو ډول، د عرضې او تقاضا ارتجاعيت، مهال او وخت، د بازار جوړښت، جغرافياوي موقعيت او په اقتصادي سياستونو پورې مر بوط دی.

مالياتي تعلق داسې وضاحت ورکوي چې کوم خلک بايد ماليات ورکړي، چې دغه ډول تحليلونه کولای شو د کلي تعادل او جزوي تعادل په تحليل باندې ونوموو. مالياتي تعلق د قانوني تعلق په شکل، اقتصادي او د مالياتو انتقال، د مخارجو تعلق او نورو اشکالو پورې تعلق لري.

مالياتي نرخونه کېدای شي چې په عمده ډول په درې ډولونو مطالعه شي، چې متناسب مالياتي نرخونه، مترقي مالياتي نرخونه او نزولي مالياتي نرخونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. د مالیاتو مفهوم او ماهیت توضیح کړئ؟
۲. د مالیاتواساسي ګټې کومې دي؟
۳. د مالیاتو اساسي اصول کوم دي واضح یې کړئ؟
۴. د مالیاتو د ګټې اصل څه مفهوم لري؟
۵. د مالیاتو د وس اصل توضیح کړئ؟
٦. د تادیې د وس مناسب معیارونه کوم دي؟
۷. د مالیاتي سیستم قواعد څه ډول کېدای شي؟
۸. د مالیاتو مؤثریت څه مفهوم لري؟
۹. مالیاتي عدالت توضیح کړئ؟
۱۰. سلامت او د مدیریت مؤثریت او مالیاتي سازمان د مالیاتي سیستم د یوې قاعدې په توګه توضیح کړئ؟
۱۱. د مالیاتو انتقال څه مفهوم لري؟
۱۲. د مالیاتو مخکنی او وروستی انتقال څه ډول ترسره کېږي؟
۱۳. د مالیاتو د انتقال مؤثر عوامل کوم دي؟
۱۴. د مالیاتي تعلق مفهوم څرګند کړئ؟
۱۵. د مالیاتي تعلق ډولونه کوم دي؟
۱٦. مطلق، بودجوي او تفاضلي تعلق تفکیک کړئ؟
۱۷. معمول مالیاتي نرخونه کوم دي؟

**مأخذونه:**


۱. باتلر، ایمون. ( ۱۳۷۷) اندیشه های اقتصادی مېلټن فرېډمن (ترجمه فریدون تفضلی). نشر نی، تهران.
۲. پژویان، جمشید. (۱۳۸٦) اقتصاد بخش عمومی (مالیات) انتشارات جنگل، تهران.
۳. توکلی، احمد. (۱۳۸۴) مالیه عمومی. سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی، تهران.
۴. خراسانی، حسن. (۱۳۸۵) مالیه عمومی تعین خط مشی دولت ها. انتشارات مهر اندیش، تهران.
۵. ریکاردو، دیوید. (۱۳۷۴) اصول اقتصاد سیاسی مالیات ستانی (ترجمه حبیب الله تیموری) چاپ مهارت، تهران.
٦. صمیمی، جعفری. (۱۳۸۵) اقتصاد بخش عمومی (۱). چاپ مهر (قم)، تهران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. فولکرس، کی. (۱۳۸۵) اقتصاد عامه (ترجمه سخی اشرفزی، سمیع نور) مؤسسه همکاری های اکادمیک آلمان، کابل.

۸. معروفی، محمد موسی. (۱۳۸۴) سیر انکشاف حقوق مالی و مالیات عامه در افغانستان. مؤسسه نشراتی شوخک، کابل.

۹. مقیم، جواد پور. (۱۳۸۷) اقتصاد بخش عمومی. نشر نی، تهران.

۱۰. وکیلی، فرد، حمید رضا. (۱۳۸۵) حسابداری مالیاتی. انتشارات جنگل، تهران.

۱۱. وزارت عدلیه. ( ۱۳۸۷) قانون مالیات بر عایدات. ۱۳۸۷، کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم څپرکی

## د افغانستان مالياتي سيستم

مالياتي سيستم په يوه زماني محدوده او مقطع کې د يوه هېواد د مالياتو په ټولو مروجو او جاري ډولونو کې شامل دی چې په مختلفو هېوادونو کې ممکن مالياتي سيستمونه د دوی د حاکم اقتصادي نظام د فلسفي او اقتصادي، اجتماعي وضعيت او شرايطو سره په مطابقت کې تفاوت ولري.

په افغانستان کې مالياتي سيستم په عمده ډول د پورته ذکر شوي تعريف لاندې د دوه عمده برخو څخه تشکيل شوی دی چې د مستقيمو او غير مستقيمو مالياتو له مختلفو ډولونو څخه دی. ددغه دوه ډوله مالياتو کلي تقسيم بندي چې اوس يي څه د عملي ليدلوري او څه د نظري ليدلوري زيات اهميت ترلاسه کړی له مختلف نقطه نظره ترسره کېږي.

**الف: د ماليې د حصول د تخنيک له نقطه نظره:**

مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې په متواتر او دوامداره ډول او د لستونو مطابق ترلاسه کېږي لکه په ځمکه ماليات، په شتمنۍ ماليات، په عوايدو ماليات او داسې نور. غير مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې له تفويض او سپارل شويو وقايعواو د تعرفې مطابق حاصلېږي لکه په توليداتو ماليات، په خرڅلاو ماليات، گمرکي محصول او داسې نور.

**ب: د ماليې د موضوع له نقطه نظره:**

مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې مالي قدرت يا د ماليې مکلف مالي استطاعت مستقيماً درک کېدای شي لکه په عوايدو ماليات او په شتمنۍ ماليات. غير مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې مالي استطاعت په غير مستقيم ډول چې د ظاهري مشخصاتو او علايمو له مخې د درک وړ وي لکه په مخارجو ماليات.

**ج: پرقېمتونو د مالياتو د انتقال د قابليت له نقطه نظره:**

له دې نقطه نظره مستقيم ماليات هغه ډول ماليات دي چې قانون گذاز په هغه کې د ماليې ورکوونکی او د ماليې موخه عين شخص پېشبيني کوي يا داچې ماليه د انتقال وړ نه ده.

غير مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې په هغه کې قانون گذار د ماليې ورکوونکی او د ماليې موخه عين شخص نه وي پېشبيني کـړی. بناء د انتقال قابليت يې لرلی وي. د پوتنيو توضېحاتو په پام کې نيولو سره او د هغو مشکلاتو پر بنسټ چې په دغه رابطه ددغه دوه ډوله مالياتو د توپير او تفکيک لپاره موجود دي کولای شو په دقيق ډول هغې ته په لاندې تعريفونو قايل شو: مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې اکثره وخت د انتقال وړ نه دي او غير مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې اکثره وخت د انتقال وړ وي. ددغه دوه ډوله مالياتو تاريخي ملاحظه ښيي چې د غير مستقيمو مالياتو ونډه د مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ودې هېوادونو په مجموعي عوايدو کې مخ په زياتېدو ده. د ريچارد ګوډ (Richard Goode) له نظر سره سم په دې ارتباط تر ټولو عمده عوامل: (۲:۸۷) تبادلوي اقتصاد کثرت، د اکثريت نفوس بې سوادي، د حسابي چارو نيمګړې کيفيت، منفي مالياتي ذهنيت او داسې نور.

په دې څپرکي کې لومړی د مستقيمو مالياتو مفهوم او ماهيت توضيح شوی وروسته د مستقيمو مالياتو ډولونه په افغانستان کې د هغې د مجموع سره د ۱۳۸۲-۱۳۷۸ کلونو په اوږدو کې بررسي او له هغه وروسته د غير مستقيمو مالياتو ډولونو ته د مستقيمو مالياتو مفهوم او ماهيت توضيح او ټول غير مستقيم ماليات ارزيابي کېږي. د موضوعاتو د لنډيز په پای کې پوښتنې او مأخذ په پام کې نيول شوي دي.

### ۱- د مستقيمو مالياتو مفهوم او ماهيت:

مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې اکثراً په قېمتونو او نورو اقتصادي عاملينو باندې د انتقال وړ نه دي يا مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې حقوقي او حقيقي ورکوونکي مشابه اشخاص دي. مالياتي مسئوليت نه شي کېدای چې نورو اشخاصو ته منتقل شي. د حقيقي ورکوونکي او ماليې د اداري ترمنځ مستقيمه اړيکه وجودلري يا په بله وينا مستقيم ماليات هغه ماليات دي چې ورکوونکی هغه مستقيماً دولت ته ورکوي چې په دې صورت کې د ماليې متحمل او د ماليې تاديه کوونکی عين شخص دی. مستقيم ماليات د انفرادي اشخاصو پر عوايدو باندې ماليات، شرکتونو، ګټه، د کرايې سهم، د اسهامو ګټه، موضوعي، د اجتماعي أمنيت سهميې، ځمکه او تعميرات (حقيقي شتمنۍ)، د املاکو خالص ارزښت، ميراث، تحايف او د ملکيتونو په انتقال باندې مشتمل دي.

### د مستقيمو مالياتو ښېګڼې:

۱. مستقيمه ماليه له هغو کسانو څخه اخيستل کېږي چې د هغې د ورکړې وس لري او له دې امله د مالياتي عدالت پرنسيپ رعايت پرې په آسانۍ سره تطبيق کېږي.

۲. مستقيم ماليات د انعطاف پذيرۍ قابليت لري چې دولت ته د هغې د ورکړې چې د عايد په حالت او يا مشخصه شتمنۍ کې د تغييراتو د واقع کېدو مطابق تغيير منونکي دي.

۳. د تاديه کوونکي لپاره د ماليې اندازه په دقيق ډول اټکل او معلومېدای شي.

د مستقيمو مالياتو نيمګړتياوې:

۱. ځينې وخت د مستقيمو مالياتو له تاديې څخه د تېښتې امکانات برابرېږي.

۲. هرکله چې مالياتي ورکړې په يوه وخت کې ترسره کېږي په تاديه کوونکو باندې يو زيات رقم د درونډوالي او نفرت سبب کېږي.

### ۲- په افغانستان کې د مستقيمو مالياتو ډولونه:

**۱. د اجتماعي مصؤنيت په موخه سهميې:** د اجتماعي أمنيت د مصؤنيت څخه موخه داده چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر هېواد کې د يوه هېواد أمنيتي خدماتو ته د ورکړې په خاطر يو ډول ماليه تاديه کوي، چې د اجتماعي أمنيت د مصئونيت په نوم يادېږي، چې دغه ماليه د اشخاصو د شتمنۍ څخه د محافظت او مراقبت په خاطر او د اشخاصو د اقتصادي فعاليتونو د پرمختګ د زمينې د برابرولو په خاطر اخيستل کېږي، چې کولای شي اقتصادي فعاليتونو ته سرعت وروبخښي. له بده مرغه چې تردې مهاله پورې دغه ډول ماليه په افغانستان کې وجودنه لري چې اوسمهال په افغانستان کې ددې ډول ماليې شتون کولای شي زياته ګټورتيا منځ ته راوړي.

**۲. ميراث او تحايف:** لکه څرنګه چې له نوم څخه يې معلومېږي، چې د اشخاصو له تحايفو او ميراث څخه اخيستل کېږي. لکه څرنګه چې مخکې مو په افغانستان کې په ميراث باندې يو ډول ماليات لرل لېکن اوس مونږ په افغانستان کې په ميراث باندې په فعلي مالياتي قانون کې هېڅ ډول ماليه نه لرو. پر عوايدو باندې د مالياتو قانون ۱۴ مادې پر تحايفو او ميراث باندې ماليات رد کړي او همدارنګه پر عوايدو باندې د مالياتو د قانون د ۲۳ مادې له دوهم بند سره سم د منقولې او غير منقولې شتمنۍ له انتقال څخه هر ډول ترلاسه کېدونکې ګټه چې له ميراث څخه سرچينه اخلي له ماليې څخه معاف دی. لېکن په ځينو هېوادونو کې دغه ډول ماليه موجوده ده.

**۳. د ملکيتونو انتقال:** د ملکيتونو د پېر او پلور په معنا دی، چې د شتمنيو په انتقال يا پلورلو کې نوی مالک يا د شتمنۍ پېرودونکی د ماليې تابع کېږي. په داسې حال کې چې پلورونکی شخص د هېڅ ډول ماليې تابع نه ګرځي، خو د افغانستان په فعلي مالياتي قانون کې بل ډول دی او هغه داچې هغه اشخاص چې خپله شتمني پلوري داچې هغوی کولای شي زيات عايد لاس ته راوړي او يا داچې هغوی د مالي پانګې څښتن کېږي او همدارنګه کولای شي د تيرو کلونو په پرتله چې ده شتمنۍ پېرودلې وه نسبتاً په اضافه نرخ سره وپلوري، چې دا په خپله يو ډول ګټه ده. په دې صورت کې د ماليې قانون د پلورونکي شخص د شتمنۍ تابع ګڼي چې بايد له هغه څخه ماليه واخيستل شي، چې پر عوايدو باندې د افغانستان د ماليې قانون له مخې پېرودونکی شخص د ماليې تابع نه شمېرل کېږي. داچې پېرودونکی شخص په واقعيت کې خپلې روپۍ له لاسه ورکړې دي او تردې مهاله يې کوم عايد لاس ته نه دی راوړی، په همدې لحاظ د ماليې تابع نه دی، چې دغه ډول ماليه د مختلفو معيارونو لرونکې ده:

**-په خرڅلاو او د غير منقولو ملکيتونو په انتقال ماليات:** د ميراث له لارې د ملکيت انتقال له عوايدو پرته د ماليې د قانون د۳۰ مادې د لومړي بند مطابق د هغه اموالو قېمت چې د خرڅلاو د غير منقولو اموالو د انتقال له لارې حاصلېږي. په عوايدو د مالياتو پرځای د ملکيت د انتقال په وخت کې د يو فيصد ثابتې ماليې د ورکړې تابع ګرځي.

**- په خرڅلاو او د منقولو ملکيتونو په انتقال ماليات:** په عوايدو د ماليې د قانون د ۳۲ مادې د دوهم بند مطابق هغه اموال چې د خرڅلاو يا د منقولو اموالو د انتقال او د نقليه وسايطو د ډولونو له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ته راځي په عوایدو د مالیاتو پرځای د ملکیت د انتقال پر مهال د دوه ثابتې مالیې د ورکړې تابع گرځي.

**۴. پر عوایدو مالیات:**

**الف- د حقوقي (حکمي) اشخاصو پر عوایدو مالیات:** د حقوقي اشخاصو پر عوایدو مالیات لکه شرکتونه چې په هغه کې سهامـي، محدود المسؤلیت شرکتونه یا نور حکمي شخصیتونه شامل دي، په مالي کال کې د هغه ٪۲۰ د مالیې وړ عواید دي.

**ب- د حقیقي اشخاصو پر عوایدو مالیات د لاندې جدول له مخې سنجش او اخیستل کېږي. (۱۰ : ٦)**

| د مالیې وړ عواید | د مالیې مقدار |
|---|---|
| له صفره تر پنځه زره افغانیو پورې | صفر (معاف) |
| له پنځه زره او یوځخه تر دوولس زره پنځه سوه افغانیو مبلغ پورې | ٪۲ |
| له دولس زره پنځه سوه او یو څخه تر سل زره افغانیو پورې | د ۱۵۰- افغانیو ثابت مبلغ پر ٪۱۰ سربېره |
| له سل زره او یوې افغانۍ پورته | د۸۹۰۰ افغانیوثابت مبلغ پر ٪۲۰ سربېره |

**ج- د مالیې تابع عواید:**

۱. لاندې تر لاسه عواید پر عوایدو د مالیاتو تابع گرځي:

۱,۱ معاش، مزد، فیس او کمېشن.

۱,۲ د ټولو سوداگریزو، صنعتي، ساختماني او نورو اقتصادي فعالیتونو عواید.

۱. ۳د منقول او غیر منقول ملکیت له خرڅلاو څخه ترلاسه شوي عواید.

۱,۴ پولي ټېکټ، د سهم گټه، حق الامتیاز، جوایز، مکافات، د قرعې او بخششونو له لارې عواید.

۱. ۵ د تضامني شرکتونو له عاید د شریک سهم.

۱,٦ له کار، پانگې یا اقتصادي فعالیتونو څخه نور ترلاسه شوي عواید.

۱,۷ نور حالات چې په قانون کې تصریح شوي دي.

۱,۸ نور عواید چې په قانون کې پېشبیني شوي نه دي.

۲. د سهم گټه: د هر ډول عوایدو وېش دی چې د شرکت له خوا د پیسو، شتمنۍ یا د دوی اسهامو ته هر ډول متناسبو گټو سهم لرونکو ته ترسره شوي او لاندې موارد پکې شامل دي:

۲,۱ هر ډول ملموسې او غیر ملموسې شتمنۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲,۲ په شرکت کې سهم.

۲,۳ له شرکت څخه په هر ډول پېرودنه کې تخفیف.

۲,۴ سهم لرونکو ته پور.

۲,۵ د یوه شرکت له هر ډول شتمنۍ څخه استفاده.

۳. که چېرې په افغانستان کې د غیر مقیم شخص غیر مستقله نماینده ګي ددغه قانون د ۸ مادې له مخې غیر مقیم شخص یا هر بل شخص چې په هغه پورې مرتبط وي، یو مبلغ ورکړي یا د هغه له ورکړې سره مخ شي یا د مبلغ د سهم د ګټو په توګه ګڼل کېږي.

**۵. پر ګټې مالیه:**

پر ګټو مالیه کېدای شي له مختلفو لارو لکه د سوداګریزو یا حقوقي شرکتونو پر ګټو مالیات، انفرادي یا حقوقي اشخاصو او نورو څخه لاس ته راشي، چې په دې ځای کې مونږ په انتفاعي مالیه بحث کوو.

اشخاص او حقوقي یا سوداګریز شرکتونه چې فعالیت کوي په هغه صورت کې د هغې له مجموعي خرڅلاو څخه د مستقیمې مالیې (انتفاعي مالیې) په توګه د تصفیې د حاصل د وضع کولو یا د هغه د مخارجو وروسته البته د هغه له خالصې ګټې څخه دوه فیصده مالیه اخیستل کېږي، د مستقیمو مالیاتو له جملې څخه شمېرل کېږي. خو په هغو اشخاصو او نهادونو چې خدمات عرضه کوي لکه هوټلونه رستورانتونه، مخابراتي شرکتونه او نور د هغوی له مجموعي خرڅلاو څخه د حاصل د تصفیې دوضع کولو یا د هغه له مخارجو وروسته په خالصو ګټو باندې د ٪۱۰ مالیې تابع کېږي او یا داچې په یوه میاشت کې یې ۱۰۰۰۰۰ خالص عاید وي په هغه صورت کې ٪۱۰ مالیه وضع کېږي.

**۶. د کرایې سهم:**

د مستقیمو مالیاتو له ډلې څخه ده چې د خاصواو مشخصو معیارونو لرونکي دي په دې ځای کې د هغو تعمیرونو او ساختمانونو چې د سوداګریزو فعالیتونو یا کاري دفاترو په موخه حکمي یا حقیقي اشخاصو ته په کرایه ورکول کېږي په عوایدو باندې د مالیې د قانون د۵۹ مادې مطابق ویلی شو. په هغه صورت کې چې د تعمیر میاشتنۍ کرایه ۱۵۰۰۰ افغانۍ وي. په هغه صورت کې د مالیې له ورکړې څخه معاف دی لېکن که چېرې د تعمیر میاشتنۍ کرایه له ۱۵۰۰۰ افغانیو څخه اضافه وي په هغه صورت کې د کرایې د ټولو پیسو څخه ٪۲۰ مالیه اخیستل کېږي.

**۷. د ګټو سهم:**

په هغو اشخاصو پورې مربوط ده چې له خپل سهم څخه د عاید لرونکي دي، چې په عوایدو د مالیې د قانون د ۴٦ مادې مطابق د پولي ټیکټ له عوایدو، سهم ګټه او حق الامتیاز ٪۲۰ مالیه د هغې له مجموعي ګټو څخه اخیستل کېږي، چې په اکثرو هېوادونو کې د سهم ګټه لکه مالیه د انفرادي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوقي اشخاصو په عوایدو اخیستل کېږي، چې کېدای شي د مختلفو مالیاتي معیارونو لرونکي وي.

**۸. موضوعي مالیات:**

موضوعي مالیه هغه مالیه ده چې په عوایدو باندې د هغه په منبع کي وضع کېږي. دغه قسم مالیه د یو دریېمې جناح په واسطه چې د تادیاتو د مختلفو نوعو د مالیې د وضع کولو مسئول دي، ترسره کېږي او د دولت خزانې ته تسلیمېږي. له موضوعي مالیاتو څخه هدف دادی چې مونږ باید د مالیې مکلف او تادیه کوونکی وپېژنو، یعنې په شخص او د مالیې تادیه کوونکي فرد باندې د مالیې وضع او په بل فرد باندې د مالیې مکلفیت دی. لکه د منزلونو او ساختمانونو کرایه چې دلته د مالیې مکلف په کرایه اوسېدونکي دي او تادیه کوونکی د مالیې هغه څوک دی چې دکور څښتن دی او یا همدارنگه د حقوقي شرکتونو په معاشاتو مالیات او نور چې د مالیې مکلف متصدي یا د شرکت څښتن دی او د مالیې تـــادیه کوونکي دهماغه شرکت کارکوونکي دي چې دمالیې مکلف شخــص باید د خپلو کار کوونکو له معاشاتو څخه د هغه معیار مطابق چې ورکړ شوي مالیه وضع کړي او په دسته جمعي شکل هغه پیسې د مالیې اخیستلوارگان ته تحویل کړي. په عمومي ډول دغه مالیه په عاید باندې هغه وخت وضع کېږي د هغه د ترلاسه کوونکو څخه د مالیې د تحصیل په برخه کې اطمینان وجود ونه لري.

مزد، معاش، گټه، د سهم گټه، امتیازات، سوداگریز کرایې او د مشورو فیس د عوایدو منابع دي، چې معمولاً د موضوعي مالیې تر تابعیت لاندې راځي. موضوعي مالیه کېدای شي مؤقتي یا نهائي وي. هرکله چې موضوعي مالیه مؤقتي وي په هغه صورت کې موضوعي شوي مبلغ د کرېډت شوي تادیه کوونکي د نهائي مالیاتي مسئولیت په وړاندې او له هغـه سره په مطابقت کې اصلاح کېږي. هرکله چې موضوعي مالیه نهائي وي په هغه صورت کې هېڅ ډول بعدي اصلاح نه ترسره کېږي.

**۹. ثابت مالیات:**

د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د مالیاتو اساس پر عوایدو مالیات دي، چې د مجازو مخارجو له وضع کولو وروسته له ټولو عوایدو څخه وضع او ترلاسه کېږي، خو په هغو منابعوکې چې عواید د ځینې مجبوریتـونو پر اساس نه شو کولای په سم ډول عواید او مخارج د هغه په واقعي شکل تثبیت کړو ناعلاجه یو ثابته مالیه چې یوه اټکلي مالیې ده، د اټکل پر اساس تطبیق او عملي کړو. د ثابتې مالیې مفکوره د لومړي ځل لپاره په ایټالیا کې منځ ته راغله او اوس د نړۍ په ټولو هېوادونو کې تطبیقېږي.

**د ثابتو مالیاتو ډولونه:**

ثابت مالیات په افغانستان کې پر عوایدو د مالیاتو د قانون په مطابقت کې لاندې ډولونه لري:

۱. د وارداتي اموالو ثابته مالیه

۲. د صادراتي اموالو مالیه

۳. د عراده جاتو مالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. قراردادي ماليه

۵. د ژرندو، پايكوبونو او ځينې نورو ماشينونو ماليه

٦. د کار او فعاليت د محل (د اصنافو ماليه).

۷. د ډاکترانو ماليه.

۸. د کار او فعاليت د محل څخه پرته د اشخاصو ماليه.

۹. د کار او فعاليت له محل څخه پرته د نمايشاتو ماليه.

۱۰. د کمېشن کارانو او دلالانو ثابته ماليه.

**۱. د وارداتي اموالو ثابته ماليه:**

د وارداتي اموالو ثابته ماليه له هغه ډول مالياتو عبارت دي چې په وارداتي اجناسو باندې وضع کېږي، يعنې کله چې جنس د يوه هېواد په سرحد کې داخل شو دغه ډول ماليه اخيستل کېږي، چې دغـه ډول ماليه په لاندې کټګوريو پر عوايدو د مالياتو د قانون د ۷۰ مادې مطابق اخيستل کېږي:

۱. هغه اشخاص چې د سوداګريز جواز لرونکي دي او په تورید (د اموالو په واردولو) کې لاس لري د وارداتي اموالو د تمام شد قېمت پر اساس د هغه د ګمرکي محصول په شمول د ۲٪ ثابتې ماليې تابع کېږي.

۲. هغه اشخاص چې د سوداګريز جواز د لرلو پرته په تورید او د سوداګريزو اموالو په تجارت کې لاس لري د وارداتي اموالو د تمام شد قېمت پر اساس پر عوايدو د ماليې په عوض د هغه د ګمرکي محصول په شمول د ۳٪ ثابتې ماليې تابع ګڼل کېږي.

۳. هغه اشخاص چې مؤقت سوداګريز جواز لري او په تورید او د سوداګريز اموالو په تجارت کې لاس لري او د کال په اخير کې مالياتي اظهارنامه د ماليې وزارت ته نه ورکوي، د وارد شويو اموالو د تمام شد د قېمت پر اساس د هغه د ګمرکي محصول په شمول د درې فيصـده ۳٪ ثابتې ماليې د ورکړې تابع ګرځي.

**۲. د صادراتي اموالو ثابته ماليه:**

دغه ماليه له يوه مملکت څخه بل مملکت ته د يوه جنس په صادراتو باندې وضع کېږي. البته د ګمرکي محصول په شمول لکه څرنګه چې پر عوايدو باندې د مالياتو د قانون ۷۱ ماده داسې توضېح کوي:

۱) هغه اشخاص چې د سوداګريز جواز لرونکي دي او اموال صادروي د ګمرکي محصول په شمول صادراتي اموال د تمام شد قېمت پر اساس د ۲٪ ثابتې ماليې تابع دي، چې دغه تاديه شوې ماليه د دوی پر کلنيو عوايدو باندې د مخکې ورکړل شويو مالياتو په توګه ګڼل شوي او دغه تاديات د ذکر شوي شخص د مالياتي مکلفيت په مقابل کې په پام کې نيول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲) هغه اشخاص چې د سوداگريز جواز څخه پرته د اموالو په صدور کې لاس لري پر عوايدو باندې د مالياتو په عوض د گمرکي محصول په شمول د اموالو په تمام شد قېمت د ۲٪ ثابتې ماليې د ورکړې تابع دي.

۳) هغه اشخاص چې مؤقت سوداگريز جواز لري او اموال صادروي او مالياتي اظهارنامه د ماليې وزارت ته نه وړاندي کوي. په گمرکي محصول د تمام شدقېمت پر اساس پر عوايدو باندې د مالياتو په عوض د ۲٪ ثابتې ماليې تابع دی.

**۳. د عراده جاتو ثابته ماليه:**

دغه ډول ماليه په هغو نقليه وسايطو باندې چې د اموالو او اشخاصو د انتقال لپاره ورځخه کار اخيستل کېږي وضع کېږي چې دغه ډول ماليه معمولاً د درې کلونو لپاره اخيستل کېږي، يعنې کله چې د وسايطو جواز سير تجديد کوي د جواز سير د نوي کولو څخه وړاندې د ماليې په ورکولو مکلف گڼل کېږي په دې مورد کې پر عوايدو باندې د مالياتو د قانون ۷۲ ماده داسې توضېح کوي:

هغه اشخاص چې د نقليه وسايطو په ذريعه په سوداگريز فعاليت کې لاس لري د اموالو انتقال او د اشخاصو حمل و نقل کوي د جواز سير د تجديد وړاندې د کلنۍ ماليې د ورکړې مکلف گڼل کېږي. دغه ډول ماليه په مختلفو معيارونو اخيستل کېږي، يعنې وسايط په مختلفو گروپونو وېشي او له هريوه څخه مختلف ماليات اخلي.

**۴. قراردادي ثابته ماليه:**

دغه ډول ماليه معمولاً د هغو اشخاصو له عوايدو څخه چې له سوداگريز جواز پرته له يوې مرجع څخه اموال او اجناس اخلي او پر يوه دفتر يا شرکت يې پلوري اخيستل کېږي، چې په دې اړه پر عوايدو د مالياتو د قانون ۷۳ مه ماده داسې وضاحت ورکوي: هغه اشخاص چې سوداگريز جواز نه لري مواد، لوازم، خدمات يا ساختماني چارې له دولتي ادارو سره منعقد کړي د قرارداد د مجموعي ارزښت پر اساس پر عوايدو باندې د مالياتو پر ځای د ۷٪ ثابتې ماليې په ورکړې مکلف گڼل کېږي. ثابته ماليه د ماليې د قابليت له مخې وضع کېږي. پر عوايدو باندې د ماليې د قانون د ۷۳ مندرجې مادې له مخې ماليه د حقيقي او حکمي اشخاصو له عوايدو چې په افغانستان کې سوداگريز جواز نه لري مواد، لوازم او يا خدمات له قرارداد سره سم دولت ته تهيه کوي او يا هغه اشخاص چې ساختماني چارې له قرارداد سره سم ترسره کوي اخيستل کېږي.

همدارنگه اشخاص مکلف دي ترڅو پر عوايدو باندې د مالياتو په پرځای د ذکر شويو فعاليتونو له درکه ماليه د قرارداد د تړون په وخت کې او يا د خپلو مبالغو د ترلاسه کولو په مهال ورکړي. دغه ډول ماليه د قرارداد شويو اجناسو د اصلي قېمت پر اساس اخيستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵. د نمایشاتو ثابته مالیه:**

پر عوایدو د مالیاتو د قانون د ۷۴ مادې د نمایشاتو ثابته مالیه داسې تشریح کوي: حکمي اشخاص چې په غیر انتفاعي معاملاتو باندې د مالیاتو د ورکړې تابع نه دي او یا هغه اشخاص چې د دوی کسب د سینما ګانو، تیاتر او داسې نورو اداره ده د ټیکټ د خرڅلاو له درکه د دوی عواید د ۱۰٪ ثابتې مالیې د ورکړې تابع دي چې پر عوایدو باندې د مالیاتو پر ځای اخیستل کېږي. د ټیکټ د خرڅلاو د عوایدو میاشتنۍ ثابته مالیه د راتلونکې میاشتې د شپږمې ورځې وړاندې د مربوط محل د مالیې دفتر ته ورکول کېږي. که د خپلې مالیې ورکړه له شپږمې ورځې څخه وځنډوي په یوه ورځ کې د هغه د مالیې له مبلغ څخه ۰,۱٪ جریمه اخیستل کېږي. د سینماګانو، تیاتر، ندارو، جشنونو او نورو تفریحي ځایونو په اړوند ځینې ټکي وجود لري چې د مالیې د تعین په وخت کې باید په پام کې ونیول شي، په لاندې ډول بیانېږي:

الف: هغه اشخاص چې فقط د یوې سیمې مالک دی لېکن هغه نورو ته په کرایه ورکوي فقط د دوی په شتمنیو باندې د کرایې له درکه پر عوایدو باندې د مالیې تابع دی.

ب: د سیمو او جایدادونو مستأجر چې پر عوایدو باندې د مالیاتو د قانون په ۷۴ ماده کې یې یادونه شوې ده پر عوایدو باندې د مالیاتو قانون د ۷۴ مندرجې مادې له مخې د مالیې تابع دی.

ج: هغه شخص چې پر عوایدو باندې د مالیاتو د قانون د ۷۴ مندرجې مادې له مخې د سیمو او جایداد مالک دی او په عین حال کې په ذکر شوو سیمو کې په فعالیت بوخت دي له ۷۴ مادې سرهه سم د ټیکټونو د خرڅلاو له درکه فقط د ثابتې مالیې تابع دي.

**٦. د ژرندو، پایکوبونو، د تېل کشۍ او حلاجي ماشینونو ثابته مالیه:**

دغه ډول مالیه معمولاً پر غیر خالصو عوایدو باندې اټکل او یا داچې پر ماشین آلاتو باندې د ماشین د قدرت پر اساس وضع کېږي، چې پر عوایدو باندې د مالیاتو د قانون ۷۵ ماده داسې رڼا اچوي:

۱) د ژرندو، پایکوبونو، د تېل کشۍ دستګاوو، ګني حلاجي او نورو مالکان د ۱۰٪ ثابتې مالیې تابع او د کلنیو غیر خالصو اټکلي عوایدو څخه پر عوایدو د مالیاتو پرځای سنجش کېږي او د سیمې د مالیې دفتر ته ورکول کېږي.

۲) د ژرندو او پایکوبونو مالکان، د تېل کشۍ، حلاجي (پنبه وهنې)، ګني او نور چې د برق د قوې، نفتو او یا نورو مشابه انرژیو په واسطه کار کوي په کال کې د في هارس پاور ۴۰۰ افغانیو پر اساس د ثابتې مالیې تابع دي چې پر عوایدو باندې د فعالیت پرځای د اړوند سیمې د مالیې دفتر ته ورکول کېږي. په ژرندو او نورو باندې دوه ډوله ثابته مالیه د تطبیق وړ ده.

مالیه نظر دې ته چې ذکر شوي تأسیسات په کوم ترتیب په کار اچول کېږي، ټاکل کېږي. بناء د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنمو او وريجو د ژرندو مالکان، د حلاجي، ګني او تېل کشۍ ماشينونه د اوبو په قوه، باد او حيواناتو کار کوي. د ذکر شوې شتمنۍ له درکه د غير خالصو کلني، اټکلي عوايدو څخه د ۱۰٪ ماليې په تاديې سره پر عوايدو باندې د مالياتو پرځای د پورته ذکر شوې شتمني له درکه مکلف دی. پر عوايدو باندې د ماليې د قانون له ۴ مادې سره سم ياد شوي اشخاص له دا ډول شتمنيو څخه د ترلاسه شويو عوايدو له درکه پر عوايدو باندې د ماليې د تاديې مکلفيت نه لري. ذکر شوې ماليه د سيمې د ماليې دفتر ته چې پورته ياده شتمنۍ هلته موقعيت لري، ورکول کېږي.

**۷. د کار او فعاليت د ځای (د اصنافو ثابته ماليه):**

هغه اشخاص چې د کار او فعاليت په ثابت ځای کې د اجناسو او خدماتو په خرڅلاو بوخت دي، پر عوايدو باندې د مالياتو پرځای د هغو مالياتو تابع دي، چې پر عوايدو باندې د مالياتو د قانون د ۷۷ مادې د حکم پر اساس تثبيت او د مالک او يا مالکانو په واسطه د تجارت او يا کسب د فعاليت او سيمې د ماليې دفتر ته ورکول کېږي.

بناء هغه اشخاص چې د کار او فعاليت په ثابتو سيمو او ځايونو کې په فعاليت بوخت دي مجبور او مکلف دي چې خپله ماليه په ربعوار شکل تاديه کړي او د هرې ربعې تاديات بايد د راتلونکې ربعې د لومړۍ مياشتې تر پنځلسمې ورځې ترسره  شي او که چېرې له پنځلسمې ورځې څخه زياتېږي، مجبور دی چې هره ورځ د خپلې ماليې د مبلغ ۰،۱٪ د جريمې په توګه دولت ته ورکړي. ثابته ماليه پر عوايدو باندې د مالياتو پرځای د اجناسو او خدماتو د خرڅلاو له درکه پر عوايدو د مالياتو د قانون د ۷۷ مندرجې مادې پر بنسټ ورکول کېږي. هرکله چې حقيقي شخص چې پر عوايدو باندې د مالياتو د قانون د ۷۷ مادې سره سم ماليه ورکوي.

د داسې فعاليتونوله درکه د عايد لرونکی وي چې پر عوايدو د مالياتو پر ځای د ثابتې ماليې لاندې ترسره کېږي. ياد شخص د ماليې د وضع کولو په موخه عوايد بايد په عوايدو باندې د مالياتو قانون د ۴ مادې د جدول د معيار مطابق راپور ورکړي. په عوايدو د مالياتو د قانون د ۷۷ مادې عوايد، په عوايدو ماليات او ثابته ماليه چې ددغې مادې مطابق تاديه کېږي په ياد راپور کې ذکر نه شي. سهامي شرکتونه، محدود المسؤليت او نور اشخاص چې له پانګونې څخه د ملاتړ په اداره کې په افغانستان يا د تجارت په وزارت کې ثبت وي، اجناس او خدمات د کار او فعاليت له ثابت محل څخه په خرڅوي. په عوايدو د کلنۍ ماليې د تاديې مکلف دي او دغه ډول اشخاص ددغې مادې د حکم مطابق د ثابتې ماليې تابع نه دي.

**۸. په ډاکترانو ثابته ماليه:**

دغه ماليه په هغو ډاکترانو چې غواړي په شخصي معاينه خانو کې فعاليت وکړي اخيستل کېږي. لکه څرنګه چې په عوايدو د مالياتو قانون ۷۸ ماده داسې څرګندوي؛ هغه ډاکتران چې له دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتون نه بهر ناروغان معاینه کوي په عوایدو د مالیاتو پرځای په لاندې ډول د کلنۍ ثابتې مالیې په تادیې مکلف دي:

۱) هغه ډاکتران چې تر لس کلونو د طبابت تجربه ولري ۶۰۰۰- افغانۍ.

۲) هغه ډاکتران چې له لسو څخه تر شل کلونو تجربه ولري ۱۰۰۰۰- افغانۍ.

۳) هغه ډاکتران چې له شل کلونو زیاته تجربه ولري ۱۵۰۰۰- افغانۍ.

ددغو مادو مندرجو اجزاوو ثابته مالیه د طبابت د اجزاوو د صدور او تجدید په وخت کې د مالي کال په اوږدو کې د عامې روغتیا وزارت د مربوطه څانګو له خوا اخیستل کېږي. هرکله چې د تادیه کوونکو ډله چې په پورته ډول ترې یادونه وشوه په ټاکلې موده کې مربوطه مالیات تادیه نه کړي، د هغوی کلینیک یا معاینه خانه د مالیاتي حسابونو د تصفیې تر وخته د مالیې وزارت د مسئولینو له خوا تړل کېږي. البته دغه ډول مالیه د هر کال لپاره ده.

**۹. د کار له سیمې او فعالیت پرته اشخاصو ثابته مالیه:**

لکه څرنګه چې وینو چې په هر ښار او د هېواد په اطرافو کې زیات شمېر اشخاص په اقتصادي فعالیتونو بوخت دي، چې له هغه درکه کولای شي خپل ژوند ته دوام ورکړي. لېکن دغه اشخاص مشخص او نسبتاً دایمي ځای نه لري، چې د هغوی اقتصادي فعالیتونه ارزیابي شي او د هغه په مقابل کې مالیه ترې واخیستل شي. په دې چې له اقتصادي اړخه دولت پرې مصرف کړی. له دې امله دولت باید له هغه څخه یو مقدار پیسې ترلاسه کړي، چې د هغوی دغه پیسې د ثابتې مالیې په نوم یادېږي چې د هغوی معیار ۱۲۰۰ افغانۍ دی، یعنې لاس پلورونکي، د کراچیو خاوندان باید هر کال دولت ته ۱۲۰۰ افغانۍ د ځای د مالیې دفتر ته ورکړي.

هغه اشخاص چې د کار او فعالیت ثابت محل نه لري او د نورو معیارونو له مخې چې په دې قانون کې اټکل شوي دي، ددغه قانون د 81 مادې له حکم سره سم د ثابتې حرفوي مالیې د ورکړې تابع ګرځي. حرفوي مالیه د هستوګنځي تر ټولو نږدې مالیاتي دفتر ته د ورکړې وړ ده.

**۱۰. د کمېشن کارانو او د دلالانو ثابته مالیه:**

مخکې له دې چې د کمېشن کارانو او دلالانو د ثابتې مالیې په اړوند معلومات ترلاسه کړو دا به ضرور وي چې باید د کمېشن کار او دلال په اړوند مختصر معلومات ترلاسه کړو. کمېشن کار هغه څوک دی چې د سوداګرۍ وزارت له خوا د کمېشن کارۍ جواز ترلاسه کوي او د پلورونکي او پېرودونکي ترمنځ د منځګړي دنده ترسره کوي او یا داچې کمېشن کار معامله په خپل نوم او د نورو په ګټه اجراء کوي. د کمېشن کار او دلال تر منځ توپیر دادی چې دلال د دولت له خوا د جواز سند لرونکی نه وي. هغه اشخاص چې له ثابت محل پرته په دلالۍ، کمېشن کارۍ، لیلام او د هغه په څېر په نورو بوختیاوو مصروف دي، د هغو معیارونو مطابق چې د مالیې وزارت له خوا ټاکل کېږي، له

هغوی څخه مالیه اخیستل کېږي. د مالیې وزارت په هغو اشخاصو باندې چې د کار او فعالیت ثابت محل نه لري، ثابت مالیات په لاندې دوه طریقو وضع کوي:

لومړۍ طریقه داده چې ثابته مالیه په هغه معیار چې د مالیې وزارت له خوا تاکل شوی په ټولو هغو اشخاصو باندې چې یو ډول په ځانګړي ډول سوداګري او یا کسب لري د عوایدو په پام کې نیولو پرته چې یاد اشخاص یې د سوداګرۍ او یا کسب څخه ترلاسه کوي، وضع کېږي.

دوهمه طریقه داده چې ثابته مالیه په مختلفو معیارونو سره چې د مالیې وزارت له خوا ټاکل شوې ده په ټولو هغو اشخاصو باندې چې یو ډول په ځانګړي ډول سوداګري او یا کسب لري د لاندې عواملو په پام کې نیولو سره وضع کېږي:

۱. د جنس نوعیت او خدمات چې عرضه کېږي.

۲. د کار او فعالیت اټکل شوې اندازه.

۳. د کار او فعالیت موقعیت.


۴. ورځني، میاشتني او کلني اټکل شوي خالص عواید.

| کلونه | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د | ۷۱۴،۴<br>۰۷۷۲۷ | ۲,۰۰۱<br>۳۰۱۷۴۷ | ۲،۸۴۶۹۹<br>۸۶۹۸۸۷ | ۱۲،۳۱۸۲۲<br>۴۱۴۷،۲۵ | ۱۳۳۴۴<br>۰۰۰۰۰۰ | ۱۷،۵۹۲<br>۰۰۰۰۰۰ |
| د دولت د | ۱۰۳۵۱<br>۷۲۵۲۶۳ | ۱۲۸۱۱<br>۲۵۹۵۹۲ | ۲۲۶۵۵۸<br>۸۸۵۳،۸۷ | ۲۵۲۲۰۰۰<br>۰۰۰ | ۳۵۷۷۳<br>۰۰۰۰۰۰ | ۴۴۳۷۵<br>۰۰۰۰۰۰ |
| مستقیم | ٦,۹٪ | ۱۵,٦٪ | ۱۲,۵٪ | ۳۹٪ | ۳۷,۳٪ | ۳۹٪ |

له ۱۳۸۲ څخه تر۱۳۸۷ کاله پورې په افغانستان کې د مستقیمو مالیاتو مجموعه


(c) ketabton.com: The Digital Library






پورته شکل اوجدول د ۱۳۸۲-۱۳۸۷ کلونو په اوږدو کې د مستقیمو مالیاتو مجموعه ښيي.

لکه څرنګه چې لیدل کېږي چې مستقیم مالیات په نوموړو کلونو په اوږدو کې صعودي سیر لري، چې له ۷,۰ میلیارده افغانیو څخه له ۱۳۸۲-۱۳۸۷ کلونو پورې نږدې ۱۸میلیاردو ته پورته شوی دی.




په هېواد کې د مستقیمو مالیاتو د دولت د عایداتي منابعو په جمله کې له ۱۳۸۲-۱۳۸۷ کال پورې په جدول کې ښودل شوي دي. په ۱۳۸۲ کال کې د مستقیمو مالیاتو له درکه د دولت عواید ۹,٦٪ وو، په داسې حال کې چې په ۸۳ کال کې ۱٦,۱۵٪ ته زیات شوي وو او په ۱۳۸۴ کال کې دغه رقم ۵۸,۱۲٪، په ۱۳۸۵ کال کې تر ټولو لوی رقم، یعني ۳۹٪ او په ۱۳۸٦ کال کې دغه فیصدي ۳۷,۳٪ ته رسېدلې ده، چې تر یوې اندازې پورې د مستقیمو مالیاتو له درکه د دولت د عوایدو له صعودي سیر څخه نماینده ګي کوي او بالآخره دغه فیصدي په ۱۳۸۷ کال کې د دولت مجموعي عوایدو ۳۹٪ ته زیات شوي ده.

**۳- د غیر مستقیمو مالیاتو مفهوم او ماهیت:**

غیر مستقیم مالیات هغه مالیات دي چې اکثره وخت په قیمتونو او نورو اقتصادي عاملینو باندې د انتقال قابلیت ولري. په داسې حال کې چې مستقیم مالیات پر عوایدو او شتمنۍ باندې وضع کېږي. غیر مستقیم مالیات هغه وخت د تادیې وړ ګرځي، چې د عاید او یا شتمنۍ څښتن هغه مصرفوي د بېلګې په ډول هغه وخت چې یو شخص یو جوړه بوټونه اخلي، تعمیر ودانوي، په رستورانت کې ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوري. د الوتکې ټېکټ پېري په ټولو يادو حالاتو کې په حقيقت کې ده ماليه هم ورکړې ده لېکن دغه ماليه غير محسوسه ده او يا په بله وينا غير مستقيمه ماليه هغه ماليه ده چې د مالياتي مسئوليت بار کېدای شي نورو اشخاصو ته منتقل شي. د غير مستقيمو مالياتو ورکوونکي مشخص او ټاکلی نه دی او د هغه تحقق د اقتصادي فعاليتونو او د افرادو د عملياتو په يوه برخه پورې تړاو لري او د هغې د انتقال قابليت ډېر زيات دی يا په بله وينا ماليه په غير مستقيم ډول د اشخاصو په مصرفي توکو او کاليو باندې وضع شوي او د مصرف کـوونکو څخه حاصلېږي. غيرمستقيم ماليات هم ښېګڼې او هم نواقص لري.

**د غير مستقيمو مالياتو ښېګڼې:**

۱) څرنګه چې غير مستقيم ماليات په يوه وخت کې او د يوه لوی رقم په توګه نه تاديه کېږي، تاديه کوونکی د ورکړې زحمت نسبتاً کم احساس کوي.

۲) په دې چې غير مستقيمه ماليه د مصرف پر اساس ورکول کېږي، لهذا د ورکوونکي هوډ او تصميم نيونه او توانايي اساسي او بنسټيز رول لري.

۳) ددغه ډول ماليې په پرداخت کې هر مصرف کوونکي د خپل مصرف په تناسب د هغه په ورکړې مکلف دي لهذا مالياتي مساوات او عدالت په هغه کې رعايت کېږي.

۴) په غير مستقيمه ماليه کې د ماليې له ورکړې څخه تېښته تقريباً ناشونې ده چې د هغه جمع کوونکي د دولت نماينده نه، بلکې عرضه کوونکي شخص دی.

۵) غير مستقيمه ماليه يوه ښه او مؤثره وسيله ده چې له دولت سره د ګټورو اقتصادي او اجتماعي تګلارو او پاليسيو په طرح او تطبيق کې مرسته او همکاري کوي.

**د غير مستقيمو مالياتو نواقص:**

۱) په دې چې غير مستقيم ماليات په ټولو مصرف کوونکواو يا په دې صورت کې مصرف کوونکو باندې په هم نواخت ډول او د هغوی اقتصادي او مالي حالت له رعايت پرته وضع کېږي. نو نادار او بېوسه افراد ددغه بار دروندوالی له شتمن څخه زيات په غاړه اخلي، چې په حقيقت کې يو ډول غير عادلانه ماليه تعبيرېږي.

۲) بهرنيان چې د ډېر لنډمهال مثلاً د يوې يا دوه ورځو لپاره په يوه هېواد کې ژوند کوي هم بايد غير مستقيم ماليات او حتی مضاعف ماليات ورکړي، چې دغه امر ځينې وخت د يوه خارجي تابعيت لرونکي په حق کې د انصاف د عدم رعايت لامل ګرځي.

**۴- د غير مستقيمو مالياتو ډولونه:**

الف- ګمرکي محصولات

ب- پر خرڅلاو او انتفاعي او خدماتي معاملاتو ماليات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج- پر اضافي ارزښت ماليات

**الف- گمرکي محصولات:** گمرکي محصول هغه قیمت دی چې په گمرکي تعرفه کې د مندرجو اندازو او طبقه بندۍ مطابق په صادراتو او وارداتو باندې وضع کېږي. گمرکي محصولات د غیر مستقیمو مالیاتو په کټگورۍ پورې اړه لري او له یوه سـرحد څخه د شیانو او توکو د انتقال او عبور په وخت کې تادیه کېږي. په دې چې گمرکات د یوه هېواد خارجي اقتصاد تر تأثیر لاندې راوستی او له دې امله اوس د بهرنۍ سوداگرۍ د سیاست له وسایلو څخه د یوې مهمې وسیلې په توگه په کار وړل کېږي.

گمرک یوه دولتي اداره ده چې د صادراتي، وارداتي او ترانزیټي اموالو، د پردیسیانو او مؤظفینو اموال او پوستي پارسلونو گمرکي چارې د گمرکي تقنیني اسنادو مطابق اجراء او کنټرولوي.

گمرک د هر هېواد صادراتو، وارداتو او انحصاراتو د کنټرول لپاره د ځمکنیو عوارضو د حصول او نظارت دستگاه ده او په بهرنۍ سوداگرۍ کې د نظارت وسیله او د دولت د عوایدو د منابعو د لړۍ یوه منبع ده.

### ۱- د گمرکي محصول ډولونه

**الف- د امتعې د حرکت له لوري سره سم:**

وارداتي گمرکات: په دې کې هغه عواید شامل دي کوم چې په ځینو اموالو او اجناسو باندې چې هېواد ته د استفادې او یا خرڅلاو په موخه واردېږي، له وضع شویو گمرکي محصولاتو څخه لاس ته راځي. هغه دلایل چې په وارداتو مالیات د هېوادونو د تر ټولو مهمو مالیاتي عوایدو په توگه توضیح کوي، په لاندې ډول دي:

- د هېوادونو له کورنیو محصولاتو څخه ملاتړ.
- د تجملي او غیر ضروري توکو له ورود څخه مخنیوی.
- د دولت لپاره عاید لاس ته راوړل.
- اداري او اجرائي مسایل.

د نظر خاوندان په دې باور دي، هغه هېوادونه چې د وارداتو د تعویض سیاست د اجراء له لارې د صنعتي کېدو پړاو ته رسېدلي دي، غالباً په وارداتو يې ماليات د داخلي محصولاتو د اندېښنې په توگه په لاره اچولي دي. پر تجملي او غیر ضروري توکو باندې د گمرکي مالیاتو د وضع کولو دروندوالی، په حقیقت کې ددې عدالت اجراء د مالیه ورکوونکو د ورکړې د قدرت اصل تـه زیاته پام درلود او له بلې خوا دولت ته د عاید د حصول په توگه شمېرل کېږي او ددې ډول مالیاتو معقولیت او د نورو مالیاتي اقلامو په پرتله د هغې د اجراء سهولت دی.

صادراتي گمرکونه: په دې کې هغه عواید راځي چې په ځینو اموالو او اجناسو باندې له وضع شویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګمرکي محصولاتو څخه چې د استفادې او یا خرڅلاو په موخه صادرېږي لاس ته راځي.

ترانزیتي ګمرکونه: دغه ډول ګمرکي محصولات د امتعې د انتقال پر مهال د یوه هېواد له سرحد څخه ترلاسه کېږي. په داسې حال کې چې امتعه د هېواد په داخل کې نه ده پلورل شوې، بلکې نورو ممالکو ته انتقالېږي.

**ب- د حصول له هدف سره سم ګمرکونه:**

**مالي ګمرکونه:** د مالي ګمرکونو اساسي هدف لکه څرنګه چې له نوم څخه یې څرګنده ده د دولت لپاره د عایداتي منابعو لاس ته راوړل دي.

حمایوي ګمرکونه: د حمایوي ګمرکونو اساسي هدف دادی ترڅو د لوړو ګمرکي محصولاتو په وضع کولو سره د بهرنیو هېوادونو د مشابه شیانو اخلال کوونکی رقابت له منځه یوسي او د هغه په واسطه د هېواد په داخل کې د مشابه شیانو د تولید تقویت او انکشاف ته زمینه برابره کړي

**ج- د محصولاتو له ټاکلو او ارزیابۍ سره سم:**

**ارزشي ګمرکونه:** دغه ډول ګمرکي محصولات د امتعې ارزښت د محصول د سنجش اساس نیسي او د هغه له مخې ګمرکي محصولات ټاکل کېږي. د هغه ښېګڼه د قېمت صعود او نزول ته زیاته انطباق منونکې ده او لوی ضرر یې د تقلب او درغلۍ د امکاناتو زیاتول دي.

**نوساني ګمرکي محصولات:** دغه ډول ګمرکي محصولات د ارزشي ګمرکونو یو پرمختللی شکل دی او د ګمرکي محصولاتو اندازه د خارجي قېمتونو د لوړېدو په صورت کې کمېږي. برعکس دغه ډول محصولات هغه وخت لوړېږي چې د امتعې قېمتونه په خارجي بازارونو کې راولوېږي. له دې ډول محصول څخه هدف دادی ترڅو د خارجي شیانو د قېمتونو د لوړېدو او راښکته کېدو څخه مخنیوی وشي.

**اختصاصي ګمرکونه:** دغه ډول ګمرکي محصول د محصول وړ امتعې علایم او مشخصات خپل اساس ګرځوي او ګمرکي محصولات د تعداد، وزن، حجم او د امتعې د نورو مشخصاتو پر اساس ترلاسه کېږي.

**۲- د ګمرکونو اهداف:**

۱. د دولت د عوایدو تأمین.

۲. د کورنیو تولیداتو ملاتړ.

۳. د سیاحت په چارو کې آسانتیاوې.

۴. په تجارت کې آسانتیاو او پراختیا.

۵. له مضره دوا او درملو، نشه یي توکو، فرهنګي محصولاتو او نورو څخه د ټولنې ساتنه.

٦. د ژوند د چاپېریال ساتنه (تخریبي او کېمیاوي توکي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. د خارجي تجارت احصائيه، د اطلاعاتو راټولنه او د هغوی تجزيه او تحليل.
۸. د تجارت په عرصه کې په کنوانسيونونو پورې د اړوند مقرراتو او د نړۍ والو موافقتنامو، تړونونو او لفظنامو په پام کې نيول.

### ۳- د گمرکي محصولاتو اغېزې

ا- **د گمرکي محصولاتو په مجدد وېش باندې د گمرکي محصولاتو اغېزې:** په دې چې د گمرکي محصولاتو اغېزې له يوې خوا د گمرکي محصول پايې ته په کتو او له بلې خوا د محصول شوې امتعې نوعيت او ډول ته په کتو فرق کوي. پردې اساس لومړی بايد د امتعې د درجه بندۍ ترمنځ تفکيک او توپير وشي.

**لومړی- پانگه ييز شيان:** چې له توليدي شيانو څخه متشکل دي. د هېواد په داخل کې د توليد وړ او د هېواد په داخل کې د توليد وړ نه، خام او نيم کاره محصولات (د هېواد په داخل کې د توليد وړ او د هېواد په داخل کې د توليد وړ نه).

**دوهم- استهلاکي شيان:**

الف- د ژوند د ضرورت وړ استهلاکي شيان. په داخل کې د توليد وړ او په داخل کې د توليد وړ نه.
ب- د ژوند لړ د ضرورت وړ استهلاکي شيان يا نيمه تجملي شيان. په داخل کې د توليد وړ او په داخل کې د توليد وړ نه.
ج- تجملي استهلاکي شيان او په داخل کې د توليد وړ او په داخل کې د توليد وړ نه د ژوند د ضرورت وړ استهلاکي توکي په پورته درجه بندۍ کې داسې شيان دي چې هغه اکثره کم عايد لرونکې طبقې اشخاص پېري او مصرفوي يې.

تجملي استهلاکي شيان داسې شيان رانغاړي چې د لوړ عايد لرونکې طبقې او د بهرنيانو له خوا مصرفېږي. په يوه اقتصاد کې چې د اقتصاد طرز شخصي مصرف زيات معمول او مروج وي، يعنې توليدوونکي د خپلو محصولاتو زياته برخه مصرفوي او يا طبيعي تبادله رايج وي، د دولت لپاره مشکل گرځي چې ماليه لاس ته راوړي، په دې چې د توليد يوه برخه بازار ته راوړل کېږي. پردې اساس د اقتصاد په دې شکل کې داسې نتيجه لاس ته راځي چې د نفوس هغه برخه او خاصتاً غريب او کم عايده طبقې چې تقريباً خپل ټول احتياجات د شخصي توليد له لارې رفع کوي د ماليې تر فشار لاندې نه دي راغلي، بلکې د ماليې ټول فشار هغه کسان گالي چې د دوی احتياجات د پولي اقتصاد له لارې رفع کوي. په دې چې د شخصي مصرف اقتصاد اوس استثنائي حالت لرلی دی او تقريباً ټول اقتصادي عاملين په کمه او زياته اندازه په پولي اقتصاد کې شامل دي. پردې اساس هر څوک د خپل مصرف له سهم سره مطابق د ماليې د بار تر فشارلاندې راځي. د مثال په توگه په افغانستان کې د گمرکي محصولاتو جوړښت او ساختمان له ۱۳۴۸ څخه تر۱۳۵۰ کاله پورې څرگندوي چې ددغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلونو په اوږدو کې د ۴۰٪ په شاوخوا کې ګمرکي عوايد د ژوند د ضرورت وړ استهلاکي شيانو د وارداتو له لارې او له ۵۵٪ څخه زيات د ژوند د ضروري او نسبتاً لږ ضروري شيانو له لارې لاس ته راغلي دي. په دې چې د ذکر شويو شيانو زياته برخه کم عايده وګړي مصرفوي. پردې اساس ويل کېږي چې په پورته ذکر شويو کلونو کې د ګمرکي محصولاتو تر ټولو زيات فشار کم عايده وګړو ګاله. د ګمرکي محصولاتو پايه د ضروري شيانو لپاره زياته ده. له ۳۰٪ او د ګمرکي محصول وسطي پايه د استهلاکي ضروري شيانو لپاره چې د هېواد په داخل کې توليد کېدای نه شي۴۰٪ ده، چې د ګمرکي محصول دوه برابره پايه داسې شيان دي، چې د هېواد په داخل کې توليد کېدلی شي، چې د حمايوي ګمرکي سياستونو له پلوه دغه موضوع يو ډول تضاد ښيي. له (۱۰٪) څخه کم سوداګريز واردات په پورته ذکر شويو کلونو کې تجملي شيان دي چې له تفاوت پرته آيا دغه ذکر شوي شيان د هېواد په داخل کې توليد کېدای شي که نه؟ ٦۰٪ تابع ګمرکي محصولات ګڼل کېږي. د پانګه ييزو شيانو لپاره لکه څرنګه چې مخکې هم يادونه وشوه د داخلي صنايعو د د ملاتړ او تقويې په موخه امتيازات او معافيتونه ورکول کېږي.

**II – د ګمرکي تعرفې د سيستم حمايوي تأثيرات:** د ګمرکي محصول هدف کېدای شي دا وي ترڅو د دولت لپاره عوايد برابر کړي او يا داچې خپلې داخلي صنايع تقويه او ملاتړ يې وکړي. له دې سره سم ياد ګمرکي محصولات لومړی مالي او دوهم حمايوي هدف لري. په دې صورت کې د اهدافو ترمنځ د رقابت يو حالت پيداکېږي، په دې معنا چې د يوه هدف تعقيب د بل هدف د عدم تحقق لامل ګرځي. په دې په اړوند چې په کوم حالت او تر کومو شرايطو لاندې يو ګمرکي محصول د مالي هدف او په کوم حالت کې د حمايوي هدف لپاره په کار وړل کېږي لاندې نقطه نظرونه د پاملرنې وړ ګڼل کېږي.

يو ګمرکي محصول په عمومي ډول هغه وخت د مالي هدف لپاره خدمت کوي چې ګمرکي محصول له داسې شيانو او امتعې څخه ترلاسه کېږي چې د هېواد په داخل کې توليد نه شي. که په دې صورت کې د ګمرکي محصولاتو تعرفې هر ځومره صعود او نزول وکړي د هغه تأثيرات صرف د دولت په عوايد واردېږي. يوازې مينلا (Manla) ددغه نظر ملاتړ کوي. دغه استدلال د ګمرکي محصولاتو د تأثيراتو يو ساده شکل ښکاره کوي، خو عوضي تأثيرات چې محصول شوې امتعه يې واردوي له ياده باسي. هر کله چې ګمرکي محصولات له دغو شيانو او امتعې څخه ترلاسه شي، چې د هېواد په داخل کې توليدېږي. په دې صورت کې ګمرکي محصولات د صنعتي سياست د يوې وسيلې په توګه په کار اچول شوي دي او ګمرکي محصولات د حمايوي هدف لپاره خدمت کوي. د هغه په واسطه ګمرکي محصولات مالي او حمايوي اړخ لرلي، خو د عمل په ساحه کې له پورته دوه اهدافو څخه يوه ته د لومړيتوب حق ورکول کېږي.

**III- د صادراتي ګمرکي محصول تأثيرات:** په دې اړوند چې آيا صادراتي ګمرکي محصولات د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صادراتو حجم او اندازه تر منفي تأثير لاندې راولي (د صادراتو د مقدار کمول) او که نه. لومړی دغه مسئله د صادر شوې امتعې په وړاندې د بهرني یا واردوونکي هېواد د تقاضا په ارتجاعیت پورې تړاو لري. د تقاضا دغه ارتجاعیت د تقاضا کوونکو په وړاندې د صادرونکي هېواد د انحصار د درجې لپاره یو مقیاس دی. په نهائي حالت کې کله چې د تقاضا ارتجاعیت له صفر سره مساوي وي (Σ=0) په دې صورت کې په صادراتو باندې د ګمرکي محصول په زیاتوالي سره نه یوازې د صادراتو حجم کمېږي، بلکې همدارنګه په بهرني هېواد باندې د محصول د تحمیلولو له لارې د دولت عواید زیاتېږي. پردې اساس هر څومره چې د صادراتي امتعې لپاره د بهرني هېواد د تقاضا ارتجاعیت لوړ وي، په هماغه پیمانه په خارجي هېواد باندې د ګمرکي محصولاتو د تحمیلولو امکان کمېږي. له دې سره سره کله چې په لومړۍ مرحله کې د ګمرکي محصولاتو مالي اړخ ته پاملرنه وشي، د ګمرکي محصولاتو په نشتوالي باندې د امتعې لپاره د بهرني هېواد د تقاضا ارتجاعیت کوم دلیل نه شي کېدای. د مثال په توګه، فرض کېږي چې د تقاضا ارتجاعیت په لایتناهي ډول دی او په دې ترتیب صادروونکی هېواد د نړۍ والو بازارونو په قېمتونو باندې تأثیر واردولی نه شي. په دې صورت کې د ګمرکي محصول بار باید د داخلي اقتصادي عاملینوله خوا یووړل شي. ځکه په دې صورت کې د صادراتي امتعې قېمت باید د ګمرکي محصول په اندازه نزول وکړي. پردې اساس تر دغو شرایطو لاندې صادراتي ګمرکي محصول د صادروونکو د ګټې د کموالي لامل ګرځي او په هغه صورت کې چې د دوی ګټه په عمومي ډول له منځه لاړه نه شي مجبور دي ترڅو مالیه د خپلوګټو له یوې برخې څخه تادیه کړي. خو په هغه صورت کې چې ګمرکي محصول د هغوی ګټه په کلي ډول له منځه یوسي په دې صورت کې کوشش کوي ترڅو صادراتي شیان په ټیټ قېمت وپېري چې په دې ترتیب د صادراتي موادو په عرضه کوونکو او مؤلدینو باندې صادراتي ګمرکي محصول ته مخکنی انتقال ورکول کېږي.

د انتقال د عدم امکان په صورت کې طبعاً د صادراتو حجم کمېږي (د هغه لامل دادی چې په داخل کې وګړي ترې استفاده وکړي).

**IV- په افغانستان کې د ګمرکاتو د عصري کولو او اصلاحاتو اړتیا:** د افغانستان د ګمرکي عوایدو د راټولولو د ناآرامیو، مشکلاتو او خنډونو سره سره ګمرکي عواید له هغه سره د دولت د عوایدو عمده منبع ده، د (۴۰٪) په شاوخوا کې د افغانستـان داخلي عواید له دې لارې ترلاسه کېږي، چې د افغانستان په پراختیا او بیارغونه کې مهم رول لوبوي.

د افغانستان په ګمرکاتو کې اصلاحات او د ګمرکي خدماتو پراختیا عواید په دقیق او مؤثر ډول راټول تمام شوي دي. مؤثق او قوي اطلاعات حاصل او ټولنه د غیر مجازو موادو او خطرناکو امتعو له ورود څخه خوندي کېږي، چې د هغه نتیجه د زیاتو ګمرکي عوایدو ترلاسه کول او په هېواد کې د ګمرکاتو کارنده او اړین رول ترسره کول دي.

له ګمرکي اصلاحاتو څخه هدف او مرام د تجارت او پانګونې لپاره د سهولتونو جمع آوري او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان لپاره د یوې سالمې او د اقتصادي او ټولنیز انکشاف تضمین کوونکې فضاء منځ ته راوړل دي.

د افغانستان ګمرکات له یوې خوا د افغانستان په تجارت باندې د حاکمو مغلقو قوانینو او مقرراتو چې پر کلاسیکو او برحالو میتودونو او روشونو باندې اتکاء لري د اجراء مسئول دي او له بلې خوا په نړۍ وال سوداګریز سازمان (WTO) او د ګمرکاتو په نړۍ وال سوداګریز سازمان (WCO) کې موجودو سیاستونو ته په پام سره په الکترونیکي شکل د ګمرکي تشریفاتو او پروسیجرونو د ساده کولو په رابطه اړین دی. د ګمرکي اموالو د تصفیې د مراحلو کمپیوټري کول د ګمرکاتو د تجدید او اصلاحاتو د پروګرام له اساسي عناصرو څخه دی چې د مالیې وزارت د اسیکوډا نړۍ وال کمپیوټري سیستم تطبیق او نصب د افغانستان د ګمرکاتو په چوکاټ کې په لاره اچول کېږي. د اسیکوډا د سیستم په منځ ته راتلو سره په ټوله نړۍ کې د ګمرکاتو د اتومات کولو لپاره یو سیستم او یو ځانګړی پروګرام نه و. په ۱۹۸۱ز کال کې د ځینو پرمختیایي هېوادونو د وړاندیز له مخې د تجارت د انکشاف لپاره د ګمرکي چارو د کمپیوټري کولو له امله د ملګرو ملتونو له خوا د اسیکوډا سیستم رامنځ ته شو، چې په همدې اساس د سوداګرۍ سازمان او د ملګرو ملتونو انکشاف په غوښتونکو هېوادونو کې د اسیکوډا سیستم د تطبیق کولو مسئولیت په غاړه لري. دغه سیستم تر دې دمه د نړۍ په ۸۴ هېوادونو کې د یادې ادارې له خوا تطبیق او کارول شوی دی.

د مالیې وزارت د افغانستان د ګمرکاتو د کمپیوټري کولو لپاره د اسیکوډا د سیستم تطبیق او نصب یادې ادارې ته پېشنهاد او د اسیکوډا د سیستم د تطبیق مراحل او پړاوونه له ۱۳۸۴ کال راپدېخوا د افغانستان په ګمرکاتو کې پیل شوی دی. د اسیکوډا نړۍ وال سیستم د ګمرکي اسنادو له مراحلو څخه تېر شوی، چې د بهرنۍ سوداګرۍ ټول پروسیجرونه او طرزالعملونه (صادرات، واردات، ترانزیټ، ګودامداري او نور) تر پوښښ لاندې راولي او هم په ګمرکي اظهارنامې پورې مربوطې چارې، ترانزیټ، محاسبه او مالیات د کمپیوټر په ذریعه په سهولت، سرعت او دقت سره سرته رسوي.4

**د اسیکوډا د سیستم ښېګڼې:**

۱. په ګمرکي چارو کې زیات سرعت، سهولت او دقت.

۲. د عوایدو له فرار څخه مخنیوی.

۳. د ګمرک د مراجعینو او کار کوونکو د وخت د ضایع کېدو مخنیوی.

۴. له استفاده جویۍ، جعل کاري او تذویر څخه مخنیوی.

۵. په ګمرک کې د اموالو د تصفیې پر مهال د اضافي اوراقو او کاري مراحلو کمښت.

٦. په دولتي ادارو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ او کمپیوټر د فرهنګ ترویج.

---

4 -www.mof.gov.af/tax

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. د ټولو گمرکي پروسیجرونو لپاره له یوې واحدې اظهارنامې (SAD) څخه استفاده.
۸. د تجارت او داخلي تولیداتو د انکشاف لپاره د احصائیې تولید او دقیق سوداگریز ارقام.
۹. له ټولومشهورو گمرکونو څخه مرکز ته په چټک او دقیق ډول د مالي راپورونو ارایه او وړاندیز.
۱۰. د کمپیوټر او انټرنټ له لارې د گمرکي اظهارنامې خانه پُري کول.
۱۱. د کمپیوټر له لارې د دولتي ادارو او د نړۍ له نورو هېوادونو سره د گمرکي ارقامو او اطلاعاتو د تبادلې امکان.

**د اسیکوډا د سیستم گټور خصوصیات:**

۱. د گمرکي پروسیجرونو ټولې چارې لکه صادرات، واردات، ترانزیټ، گودامداري او نور کمپیوټري کېږي.
۲. د گمرکي اموالو نړۍ وال او داخلي ترانزیټ په هدف او مبداء کې د کمپیوټر په ذریعه کنټرولېږي.
۳. د هېواد ټول گمرکات د مصنوعي قمر د شبکې له لارې له یو بل او مرکز سره وصلېږي.
۴. گمرکي تعرفه، د اسعارو قېمت او د تجار او کمېشن کارانو اطلاعات او معلومات تهیه او مهیاء دي.
۵. له سیستم څخه استفاده ډېره ساده ده. کار کوونکي، د گمرک د سوداگرو نماینده گان او کمېشن کاران په آسانۍ سره کولای شي د سیستم د استفادې په میتود او طریقه باندې وپوهېږي.
٦. د اسیکوډا پروگرام په کمپیوټر کې په پښتو او دري ژبو باندې د گمرک د کار کوونکو او کمېشن کارانو لپاره مهیاء دی.
۷. محصول او ټول وضع شوي مالیات دسیستم له لارې په اتومات ډول په کمپیوټر کې محاسبه کېږي.
۸.په آینده کې د استفادې لپاره گمرکي اطلاعات او معلومات په کمپیوټر کې ذخیره کېږي.
۹.له ټولو کوډونو او نړۍ والو پېژندل شویو سټنډرډونو او معیارونو څخه په سیستم کې استفاده کېږي.
۱۰.د کار په دفتر کې د گمرکي اموالو د اظهار امکان او یا د تجار منزل په سیستم کې وجود لري.
۱۱. د کار له ختمېدو وروسته هره ورځ د یوه او یا ټولو گمرکونو د عوایدو صورت حساب د ساده مالي راپورونو په شکل مهیاء او برابرېږي.
۱۲. د اډوانس یا پېشکي ورکړې په شکل د گمرکي محصول د ورکړې امکان دبانک له لارې تجار ته برابرېږي.
۱۳. گمرکي اموال د مراحلو او پړاوونو د طي کولو پر مهال په اتومات شکل په زرغون، شین، ژېړو او سرو چینلونو او نښو سره معرفي کېږي.

**ب- پر خرڅلاو، انتفاعي او خدماتي معاملاتو مالیه:**

مفهوم: مالیات د خرڅلاو پر دوران باندې د تصدیو او فعالیت ځایونو له شیانو او خدماتو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کېږي. په دې ځای کې د مالیې مؤدي یا تادیه کوونکی په ټولو مراحلو او اقتصادي عملیو کې خصوصي او دولتي تصدي ګانې دي.

**د مالیې حامل:** وروستي مصرف کوونکي او مستهلکین دي او په دې ترتیب د مالیې ډول د غیر مستقیمو مالیاتو له ډلې څخه دی او په مستهلکینو باندې د قیمت له لارې انتقالیږي. په دې چې دغه ډول مالیه ټول مصرفي شیان احتواء کوي له دې امله په عمومي مخارجو د مالیاتو په نوم هم یادیږي. په عمومي مصرف باندې ددغو مالیاتو په وړاندې په خاص مصرف مالیات وجود لري، چې یوازې ټاکلي مصرفي شیان د مالیه ګذارۍ تابع ګرځوي.

**۱. د خرڅلاو په دوران د مالیاتو ډولونه:**

**د خالص خرڅلاو په دوران مالیات:** دغه ډول مالیه د ارزښت زیاتېدل د مالیې تابع ګرځوي. د ارزښت د پیدا کېدو هدف د په کار وړل شویو موادو د قیمت او د خرڅلاو د قیمت تفاوت دی.

**د غیر خالص خرڅلاو په دوران مالیات:** په دې ډول مالیاتو کې د خرڅلاو ټول مقدار تر مالیې لاندې راځي. د غیر خالص خرڅلاو په دوران مالیات د مرحلو پر اساس په څو ډولونو وېشل شوي دي.

**د هر غیر خالص مرحله یي خرڅلاو په دوران مالیات:** د هر مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو په صورت کې په ټولو تولیدي مراحلو کې د شیانو او خدماتو د خرڅلاو دوران تر هغه وخته پورې چې شیان د مستهلکینو لاس ته نه وي رسېدلي د مالیه ګذارۍ تابع ګرځي. مالیات چې د خرڅلاو د دوران په مخکنیو مراحلو کې ترلاسه کېږي د خرڅلاو د دوران  په وروستیو مراحلو کې هم شاملېږي. داچې په دې صورت کې د مالیې بار د خرڅلاو په دوران په مکمل ډول انتقالیږي، په قیمتونو باندې د هغه تأثیرات هم قوي دي.

**د هر مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو ښېګنه:** د حصول ساده والی او د مالیاتو راټولول دي، یعنې د مالیې مکلفین مجبور او مکلف دي ترڅو غیر خالص خرڅلاو څرګند او د هغه له مخې خپل مالیاتي مکلفیت تادیه کړي.

**د هر مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو لوی نقص:** د مالیې د بار تراکم تأثیرات دي چې له یو پړاو څخه بل پړاو ته زیاتېږي. په دې چې هر مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو په صورت کې د تصدیو داخلي خرڅلاو د مالیه ګذارۍ تابع شوي نه دی، بلکې خرڅلاو یوازې په بازار کې د مالیه ګذارۍ تابع ګرځي. له دې امله د تصدیو تمایل د تصدیو تمرکز ته قوي کېږي ترڅو د هغه په واسطه مالیه سپما کړي، چې په دې صورت کې هر مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو د تمرکز له تشویقي تأثیراتو څخه خبرې کېږي او په نتیجه کې د کار وېش په ملي اقتصاد کې زیانمن کوي.

څو مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران مالیات: څو مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالیات یوازې ټاکلي اقتصادي مراحل د مالیه ګذارۍ تابع کوي. د مثال په توګه د خرڅلاو دوران یوازې د پرچون او عمده پلورونکې سوداګرۍ د مراحلو پر وړاندې د مالیې تابع ګرځي. په دې صورت کې هغه مشکلات چې له تخنیکي پلوه منځ ته راځي دادي چې ځینې وخت د هرو دوه دورو ترمنځ د سرحد ټاکل مشکلات ایجادوي.

- د څو مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو ښېګڼه په دې کې ده چې د مالیې د مکلفینو شمېر محدودېږي، چې په دې صورت کې له ټولو مراحلو څخه مالیه ترلاسه شوې نه ده، بلکې له یوه شمېر محدودو اقتصادي مراحلو څخه مالیه ترلاسه کېږي.

- د څو مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو نقص دادی چې د یوه ټاکلي مالي احتیاج په صورت کې باید د مالیې پایه هم د هغه مطابق لوړه شي.

یو مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران مالیات: د خرڅلاو په دوران د مالیاتو په دې شکل کې یوازې یوه اقتصادي یا د تولید مرحله د خرڅلاو په دوران د مالیې تابع ګرځي. د مثال په توګه د خرڅلاو په دوران مالیات یوازې د تولید له مرحلې یا د عمده او پرچون تجارت له مرحلې څخه ترلاسه کېږي. یو مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو ضرر دادی چې د مالیې پایه ډېره لوړه ده، ځکه په دې صورت کې یوازې یوه مرحله مالیه ګذاري شوې ده او د هغې مطابق د مالیې پایه هم لوړه ده.

۲. د خرڅلاو په دوران د منفردو مالیاتو د ډولونو ښېګڼې او نواقص: د هر مرحله یي غیر خالص خرڅلاو په دوران د مالیاتو یوه ښېګڼه داده چې د مالیې د سنجش د اساس تثبیتول نسبتاً ساده دي. بله ښېګڼه یې داده چې د مالیې راټولونه د نسبتاً کم تمام شد مصرف لامل شوی ده او په نتیجه کې د مالیې نافعیت لوړوي. بالآخره بله ښېګڼه یې داده چې په اقتصادي مراحلو باندې د مالیې د تقسیم په نتیجه کې د مالیې پایه نسبتاً ښکته ده او له رواني اړخه کم منفي تأثیرات واردوي. له اقتصادي اړخه یې اساسي نقص دادی چې د مالیاتي مکلفیتونو یا د تصدیو د مالیې د بار متراکم کېدل ځینې وخت ددې لامل کېږي ترڅو د تصدي الحاق منځ ته راوړي.

۱. د یو مرحلوي خرڅلاو پر دوران د مالیاتو ضرر دادی چې دمالیې پایه زښته زیاته ده ځکه په دې صورت کې یوازې یوه مرحله مالیه ګذاري شوې ده او د هغې مطابق د مالیې پایه لوړه ټاکل کېږي.

۲. د هغه بل ضرر له دادی چې د مالیې د پایې د لوړوالي په نتیجه کې په نهائي مصرف کوونکو باندې د مالیې د انتقال امکان مشکل دی.

- د خرڅلاو په دوران باندې د مالیاتو ښېګڼه په عمومي ډول چې پورته درې ډوله امکانه احتواء کوي د هغه په نه محسوس والي کې راځي، چې له دې وجې دغه ډول مالیه د غیر محسوسې مالیې په نوم یادېږي. ځکه مستهلکین اصلاً په دې په اړه فکر نه کوي چې د استهلاکي شیانو په قېمت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالیه هم شامله ده. په دې چې ټول عاید ترلاسه کوونکي په عین حال کې مستهلکین هم دي. له دې امله د خرڅلاو په دوران د مالیات ټول وګړي تر تأثیر لاندې راولي او هغه اعتراض چې د خرڅلاو په دوران د مالیاتو په اړه د اجتماعي سیاست له لیدلوري واردېدلی شي، هغه دادی چې دغه ډول مالیه نامطلوب ټولنیز تأثیرات واردوي، ځکه کم عایده وګړو د هغه وګړو په نسبت چې لوړ عایدلري د مالیې په  په ورکړه کې زیاته ونډه لرلې ده، په دې معنا چې ټیټ عاید لرونکي یوه برخه یا خپل ټول عاید د مصرفي اهدافو لپاره په کار اچوي. دغه نقص کېدای شي تر یوې اندازې پورې د ژوند د ضروري شیانو لپاره د مالیاتي معافیتونو په واسطه له منځه یوړل شي. په واقعیت کې په هغه سربېره ځینې اقتصادي ساحې لکه کرهنه او کوچنۍ تولیدي او سوداګریزې تصدۍ د اړتیا په وخت کې د خرڅلاو په دوران له مالیې څخه معافېږي. البته دغه ډول مالیاتي معافیت د رقابت شرایط تر تأثیر لاندې راولي، یعنې له مالیې څخه ځینې معاف شوې تصدۍ د مالیې د لوړوالي په اندازه ګټه لاس ته راوړي او په دې ترتیب له نورو تصدیو سره د رقابت په صورت کې ښېګنې پیدا کوي. همدارنګه اکثره وخت چې سوداګر او یا تولیدونکي یوه حداقل ونه پلورل شي هم د مالیې له ورکړې څخه  معافېږي.

- که څه هم د خرڅلاو په دوران مالیات د متناسبو مالیاتي تعرفو لرونکي دي، لېکن په ځینو مواردو کې مالیاتي معافیت د شیانو له نوعیت سره سم په متفاوت ډول تشکیل شوي دي. په دې ترتیب د ژوند د اړتیا وړ شیانو لپاره مالیاتي پایه د تجملي شیانو په پرتله لږ ټاکل کېږي.

په عمومي مخارجو باندې د مالیاتو د عمومي خرڅلاو په دوران ددغو مالیاتو پر وړاندې په خاص مصرف مالیات وجود لري. په خاص مصرف مالیات یو شمېر ټاکلي مصرفي شیان د مالیې تابع ګرځوي. له څو سلیزو را پدېخوا او په ځانګړي ډول د آدم سمېت له وخته دغې مالیې ته ډېر پام شوی. په ځانګړي مصرف د مالیاتو د وضع کولو دمخه لومړی باید په دې په هکله تصمیم ونیول شي چې آیا د مالیه ګذارۍ وړ یو شی د ژوند د اړتیا وړ دی او که یو تجملي شی. پردې اساس د شي اړین والی د مالیاتي مکلفیت لپاره یو قوي استدلال تشکیلوي. دغه استدلال اوس هم تر یوې اندازې پورې خپل اهمیت ساتلی او پر هغه سربېره ځینې نور دلایل هم په دې اړه وجود لري، چې په لاندې ډول دي:

۱. په هغه صورت کې چې د اړتیا وړ شیان کنټلوي وي. همدارنګه د اجتماعي صحت د پام وړ نقاط هم په پام کې نیول کېږي، چې د هغه د لاس ته راوړلو لپاره روغتیا ته په مضرو شیانو باندې لوړ مالیات وضع کېږي. د مثال په توګه په الکولي مشروباتو، سګرټو او نورو باندې د فوق العاده لوړو مالیاتو وضع کول پر دې دلیل ولاړ دي.

۲. په خاص مصرف باندې د مالیاتو د وضع کولو په واسطه د دولت مالیاتي عواید په زیاته پیمانه له هغو کسانو څخه ترلاسه کېږي، چې لوړ عوایدو ولري او له دغو خاصو مصرفي شیانو څخه استفاده کوي. په اوسني مالیاتي سیستم کې په ځانګړي مصرف مالیات په مکمل ډول په عمومي مخارجو باندې مالیات پېژندل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ج- په اضافي ارزښت ماليات:**

**۱- په زيات ارزښت د مالياتو تاريخچه:** په اضافي ارزښت ماليه د شلمې سليزې د دوهمې نيمايي تر ټولو مهم نوښت او هم د شلمې سليزې يو ابتکار دی. له نړۍ وال اړخه بايد وويل شي چې دغه ډول ماليات په ۱۸۸۱ز کال د "فون زيمنس" په وسيله او له نړۍ والې جګړې څخه منشاء اخيستونکو مسايلو باندې د بريالیتوب په موخه طراحي شو، خو تر۱۹۵۴ز کال پورې په رسمي ډول په هېڅ هېواد کې په کار نه دي وړل شوي او په دې کال و چې فرانسې دغه ماليات "د توليد په مرحله کې په مصرفي کاليو د مالياتو" په توګه په کار يووړل. تر ۱۹۵۹ز کاله پورې د فرانسې په محدوده کې پاته شول او په ۱۹۷۰ز کال په اضافي ارزښت ماليې په نړۍ وال کېدو پيل وکړ چې همدا اوس هم د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې اجراء کېږي. (۳:٦۰)

**۲. په اضافي ارزښت د مالياتو د اجراء ضرورت:** دې ته په پام سره چې ماليات د دولت د مالي سياست د تر ټولو مهمو وسايلو په توګه شمېرل کېږي. نو دولتونه د خپلو مخارجو د تأمين په موخه د مالياتي منابعو په پراختيا کې د مناسبو او نويو طريقو او ميتودونو موندلو ته ضرورت لري. ددې ډول منابعو پراختيا د محصول د مصرف له کمښت سره، د مالياتي فرار کمښت، د بالقوه او بالفعل مالياتي عوايدو ترمنځ انحراف له منځه وړلو سره يوځای دی.

په مستقيمو مالياتو کې د يادو اهدافو تحقق د پراختيا په دليل، اداري کاغذ پراني، پر محصول مصرف، د تشخيصي چارو پېچلتيا او محصول ممکن نه دی. ددې موخې لپاره دولتونه د مالياتي سيستم د تحويل له امله د هغه ډول ته په کتو تغيير کړی. په خرڅلاو ماليات په ارزښت باندې د زياتوونکو مالياتو په نوم يادېږي. له هغه ځايه چې په اضافي ارزښت ماليه فقط د ارزښت په اضافه کېدو سره د توليد او وېش د پروسې په هره مرحله کې وضع کېږي. کېدای شي يو ډول نوښت يا ځوابوينه د هغه په خرڅلاو ماليات وي. په اضافي ارزښت باندې د مالیې لپاره اساس د هغه ارزښت يا قېمت اضافه کول دي چې د اموالو او خدماتو د توليد او وېش په پروسه کې رامنځ ته کېږي (د پېر او پلور د قېمت له تفاوت څخه لاس ته راځي) د مثال په توګه يو سوداګر خام مواد د ۱۵۰ افغانۍ نرخ پر اساس له يوه بهرني هېواد څخه د يوه جنس د جوړولو په خاطر واردوي. سوداګر وارد شوي مواد په ۱۰۰ افغانۍ پلوري او مؤلد ياد مواد د اجناسو د جوړولو لپاره په کاروړي. وروسته دغه توليد شوي مواد په عمده پلورونکي باندې په ۱۲۰ افغانۍ پلوري. عمده پلورونکی دغه متاع په پرچون پلورونکي باندې په ۱۳۰ افغانۍ پلوري.

له۱۳۸۳-۱۳۸۷ کاله پورې د دولت په مجموعي عوايدو کې د غير مستقيمو مالياتو مجموعه


(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰) جدول

| کلونه | د غیر مستقیمو مالیاتو مجموعه | په فیصدۍ سره د مرستو په پام کې نه نیولو سره په مجموعي عوایدو کې د غیر مستقیمو مالیاتو ونډه |
|---|---|---|
| ٪۵۶ | ۸۵۰۸۲۱۰۲۱۲ | ٪۵۶ |
| ۱۳۸۳ | ۷۲۷٦٦۰۵۸۳۲ | ٪۵٦ |
| ۱۳۸۴ | ۱۱۱۸۸۲۴۳۴۵۳ | ٪۴۹ |
| ۱۳۸۵ | ۱۱۵٦۲۹۸۰۰۳۲ | ۳۷.٪۲ |
| ۱۳۸٦ | ۱۵۹۸۵۸۰۳۸۷۲ | ۴۴.٪٦ |
| ۱۳۸۷ | ۱٦۲۹۹۰۰۰۰۰۰ | ۳٦.٪۷ |

(۱۲) شکل: د ۱۳۸۲ -۱۳۸۷ کلونو په اوږدو کې د غیر مستقیمو مالیاتو د مجموعې لوری




جدول او پورتني شکل ته په کتو لیدل کېږي چې له داخلي منابعو هم د خارجي مرستو په ګډون له داخلي منابعو څخه عواید د افغانستان د مالیاتي عوایدو په اړخ کې غیر مستقیم مالیات خاص ځای لري. لکه څرنګه چې د غیر مستقیمو مالیاتو له درکه عواید په ۱۳۸۲ کال کې ۸,۵ ملیارده وو، چې د دولت ٪۵٦ عواید له داخلي منابعو تشکیلوي. په ۱۳۸۳ کال کې د غیر مستقیمو مالیاتو عواید ۲,۷ ملیارده افغانۍ ښودل دی او دغه رقم په ۱۳۸۷ کال کې ۲,۱٦ملیارده افغانیوته زیات شوی دی چې ٪۷,۳٦ داخلي عواید او ٪۹,۲۳ عواید له داخلي منابعو او خارجي مرستو تشکیلوي.

**۵- په افغانستان کې د مالیاتي سیستم اصلاح ته ضرورت:**

په افغانستان کې د مالیاتو مختلف ډولونه وضع کېږي. په دې چې پر عوایدو مالیات، ګمرکي محصول، له سوداګریزو عوایدو څخه مالیات او له جایدادونو او ملکیتونو څخه نور مالیات په اوس وخت کې د مالیاتو عمده برخه له ګمرکي محصولاتو څخه تأمینېږي. نور مالیات پر عوایدو باندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالیاتو په ګډون، د مجموعي عاید چې پر عوایدو له مالیاتو څخه سرچینه اخلي له دریېمې برخې څخه لږه حصه تشکیلوي. د مالیاتو او ناخالصو داخلي محصولاتو (GDP) نسبت د نړۍ والو معیارونو په پرتله ډېر ښکته دیږ دغه ښکته والی د ملي عاید سطح څرګندوي، چې بایدد هېواد مالیاتي سیستم ته جدي پام وشي ترڅو له دې لارې وکولای شي مالیاتي عواید لوړ کړي او په نړۍ واله سطح انکشاف ورکړي.

**۱. د مالیاتو د اصلاح په اړه ابتکارات:** په دې اړه مخکې له مخکې یو لړ اقدامات ترسره شوي دي د مثال په توګه د کرایې له عوایدو څخه د مالیاتو د وضع کولو یو نوی سیستم طرح او په کار اچول شوی. ددې سیستم له مخې عواید د کرایه دار په واسطه راټولېدل. په دې سیستم کې مالیه د مالک د کلنیو عوایدو په واسطه برابرېدل. په همدې طریقه له سوداګریزو عوایدو څخه د مالیې په وضع کولو کې اصلاحات منځ ته راغلي. نور اصلاحات په مزد او معاش د وضع شوې مالیې د بیا معرفي کولو په ګډون منځ ته راغلي دي. د وضاحت، شفافیت، ساده کولو او په عوایدو باندې د مالیاتو په قانون کې د زیاتې پراختیا په خاطر منځ ته راغلي دي. د مثال په توګه له فردي عوایدو څخه د مالیې نرخ په معقول او منطقي شکل ترتیب شوی. د فرد له عوایدو څخه مالیه په دوه شکلونو ٪۱۰ او ٪۲۰ وضع کېږي او مالیه د شرکت له عوایدو څخه په ثابت نرخ٪۲۰ ټاکل شوې ده.

په عوایدو باندې د مالیې د پراختیا په خاطر، د مالیاتي روښونو آسانه کول او اصغري حد ته د تقلب او لاسوهنې رسولو تشویقي روش اصلاح او تجدید شوی دی. د عمومي رخصتۍ په ورځو کې په کار او عوایدو مالیات بر طرفه شوي دي. پر ځای یې د پانګونې او تجارت د اسانه کولو په خاطر سریع او چټک استهلاک معرفي شوی دی. په همدې طریقه د خسارې د انتقال یوه مقرره له یوې دورې نه بلې دورې ته معرفي شوې ده. د خساراتو د نوي سیستم پر اساس یو شرکت په خارجي یا داخلي پانګونه کې چې د قانون له مخې ثبت او راجستر شوي وي تر هغه وخته انتقالېدای شي ترڅو په مکمل ډول دیون ورکړل شوي نه وي.

**۲. معاصر مالیاتي اصلاحات:** معاصر مالیاتي اصلاحات په اکثره مخ پر ودې او نورو هېوادونو کې د اقتصاد د کلي برنامې یو مهم او اړین جزء دی. د مالیاتي اصلاحاتو برنامه په هرو دوه عرصو؛ اصلاحاتو، یعنې مالیاتي سیستم او مالیاتي مدیریت کې شامله ده. د مالیاتي سیستم نوي عمده اصول په لاندې ډول دي. (۱:۱۲۱)

a) **د مالیاتي اساس پراختیا:** د مالیاتي اساس پراختیا په ټوله نړۍ کې د نویو مالیاتي اصلاحاتو یو مهم عنصر دی. د مخصوصو مقرراتو له منځه وړل، د مالیاتو له ورکړې څخه معافیت، په مالیاتي تعطیلاتو کې تخفیف او تر مالیاتي پوښښ لاندې د ټولو معاملاتو راوستل د مالیاتي سیستم د زیات مؤثریت، تساوي او شفافیت په موخه ډېر پام ورته کېږي.

b) **په شرکت او فرد باندې د مالیاتو په نرخ کې کمښت (حقیقي او حقوقي اشخاص):** د ۱۹۸۰ز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلونو له نیمايي لسیزې راپدېخوا په شرکتي او فردي عوایدو باندې د مالیاتو د نرخ د تخفیف لپاره یوه غوښتنه تر سترګو کېږي. ولیدل شو چې په عوایدو باندې د مالیاتو لوړو نرخونو د اقتصاد لپاره زیات ضرر درلود، ځکه چې دغه زړه سړونکي نرخونه د کار، سپما او پانګونې په هکله دي او په عین حال کې د مالیاتو نه ورکړه د مالیه ورکوونکو تشویقوونکې ده. ددغې مسئلې په ځواب کې پخوا په ټوله نړۍ کې د مالیاتو نرخ کم شوی دی.

c) **په فردي عوایدو باندې د مالیاتو ثابت نورم:** د۱۹۸۰ ز کلونو تر نیمايي لسیزې پورې د ټولنیز عدالت د لاس ته راوړلو لپاره په فردي عوایدو باندې د مالیاتو د متعددو نرخونو د وضع کولو لپاره یوه غوښتنه تر سترګو کېږي. لېکن دغه غوښتنې د۱۹۸۰ ز کلونو له نیمايي لسیزې څخه تغییر کړی. له هغه وروسته اکثرو هېوادونو په فردي عوایدو باندې د مالیاتو د نرخونو شمېر په پرتله ییز ډول کم کړی دی. اوسمهال یو شمېر اقتصادیون حتی په فردي عوایدو باندې د مالیاتو یو ثابت نورم او معیار پېشنهادوي او یوې ډلې هېوادونو د تاجکستان او جمیکا په ګډون په فردي عوایدو باندې د مالیاتو یو ثابت نرخ معرفي کړی دی.

d) **له (VAT) څخه استفاده:** له VAT څخه په ټوله نړۍ کې استفاده مخ په زیاتېدو ده. دغه مالیات په ۱۹۵۴ز کال د لومړي ځل لپاره د فرانسې لخوا معرفي شول. له هغه ځایه چې دغه مالیات بې طرفه، شفاف او په ټولیز شکل یې موضوعات رانغاړل، د منلو وړ ګرځېدلي او په ټوله نړۍ کې د پراختیا په حال کې دي. دغه مالیات اوس له ۱۳۰ څخه په زیاتو هېوادونو کې د تطبیق وړ دي او په نورو هېوادونو کې هم مطالعه شوي دي.

e) **د ګمرکي مالیاتو د جرړې کموالی:** له هغه ځایه چې د ګمرکي مالیاتو تنظیم آسانه دی او په څو مرکزي نقطو کې راټول شوی دی. له اقتصادي پلوه د ګټې اخیستو وړ نه دی. په نتیجه کې په هغه ځای کې چې له نورو کارېدونکو مالیاتو څخه د عوایدو د تولید امکانات وجود ولري، هېوادونه په دغو مالیاتو باندې لږه تکیه لري. پردې سربېره دغه مالیات د منطقوي اقتصادي اتحادیو د تأسیس او انکشاف، د نړۍ وال سوداګریز سازمان او نړۍ وال کېدو پر مهال ناڅیز اهمیت لري.

f) **شفافیت:** په وروستیو کلونو کې شفافیت ته خاص پام شوی. د یوه شفاف مالیاتي سیستم په پام کې نیولو سره مالیات زیاتېږي او د ځورولو او فساد کړۍ تنګوي. نوي مالیاتي اصلاحات د مالیاتي سیستم د عملکرد او جوړښت په ساده ګرځولو باندې تأکید کوي.

g) **په ځان ارزولو تأکید:** یو مخ په زیاتیدو تمایل د نوي مالیاتي سیستم لاندې د ځان ارزولو روش د وضع کولو لپاره تر سترګو کېږي. د ځان تر ارزونې لاندې مالیه ورکوونکی د مالیاتو په ارزیابي د مالیاتي اظهارنامې په وړاندې کولو او د خپل مالیاتي پور په ورکولو باندې مکلف دی. د مالیه ورکوونکو حسابونه او اظهارنامې په هغه صورت کې چې مغایرتي مالیات د مالیاتي حسابرسۍ په جریان کې کشف نه کړي په اسمي ارزښت سره منل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



h) **په اجتناب کولو تأکید**: د مالياتي سيستم د ساده ګرځولو او شفافولو لپاره هڅه او د هغه ارزيابي د ځان ارزيابي تر نظام لاندې په جريان کې ده، خو د اجتناب کولو د تدابيرو د معرفي کولو لپاره د يوې ډلې بې پروا ماليات ورکوونکو په واسطه له آزاد مالياتي سيستم څخه د استفادې له پلوه د مخنيوي په موخه يو تمايل تر سترګو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډيز:**

د افغانستان مالياتي سيستم له مستقيمو او غير مستقيمو مالياتو څخه رامنځ ته شوی. مستقيم ماليات چې اکثراً د انتقال وړتيا نه لري لکه د ټولنيز أمنيت ونډې، ميراث او تحفې او د ملکيتونو په انتقال، عوايدو، ګټې، د کرايې په ونډه، د ګټې په اندازه، موضوعي، ثابت ماليات او نور.

غير مستقيم ماليات چې اکثراً د انتقال وړتيا لري، ګمرکي ماليات، په خرڅلاو انتفاعي معاملاتو، په خدماتو ماليات او په اضافي ارزښت ماليات. البته د نورو غير مستقيمو مالياتو په پرتله د ګمرکي محصولاتو برخه کې په داخلي عوايدو کې زيات دی. د غير مستقيمو مالياتو ونډه د مستقيمو مالياتو په پرتله صعودي شکل لري او د مستقيمو مالياتو په پرتله غير مستقيم ماليات په داخلي عوايدو کې لويه برخه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. مالیاتي سیستم تعریف او د افغانستان په مالیاتي سیستم کې څو ډوله عمده مالیات شامل دي توضیح یې کړئ؟
۲. مستقیم مالیات تعریف او د هغوی نواقص او ګټې په ګوته کړئ؟
۳. غیر مستقیم مالیات تعریف او د هغوی نواقص او ګټې څرګندې کړئ؟
۴. د مالیاتو د موضوع د نوعیت له نظره د مستقیمو او غیر مستقیمو مالیاتو توپیر ښکاره کړئ؟
۵. په پرمختیایي هېوادونو کې د غیر مستقیمو مالیاتو د اندازې د زیاتېدو لاملونه په ګوته کړئ؟
۶. د غیر مستقیمو مالیاتو د ډولونو نومونه واخلئ؟
۷. د حقیقي او حقوقي اشخاصو په عوایدو مالیات تفکیک کړئ؟
۸. د ثابتو مالیاتو نومونه واخلئ؟
۹. په مجموعي داخلي عوایدو کې د مستقیمو او غیر مستقیمو مالیاتو ونډه په درېیو کلونو کې را وښیئ؟
۱۰. د امتعې د حرکت د لوري له مخې ګمرکي محصولات توضیح کړئ؟
۱۱. په مجدد وېش باندې د ګمرکي محصولاتو اغېز څرګند کړئ؟
۱۲. د خرڅلاو په دوران باندې د مالیاتو نواقص او ګټې واضح کړئ؟
۱۳. په اضافه شوي ارزښت مالیات څه ډول مالیات دي؟
۱۴. په مجموعي داخلي عوایدو کې د غیر مستقیمو مالیاتو ونډه په درېیو کلونو کې څرګنده کړئ؟

**مأخذونه:**

۱. ټینګار، سید محمد. (۱۳۸۸) انکشاف تاریخی مالیات و زمینه پیدایش آن در افغانستان. مجله علوم اجتماعی شماره اول سال ۱۳۸۸.
۲. عارف، عبدالقیوم. (۱۳۸۷) مبادی علم مالی، مطبعه خصوصی تمیم، کابل.
۳. صمیمی جعفری. ( ۱۳۵۸) اقتصاد بخش عمومی ۱. چاپ مهر (قم)، تهران.
۴. معروفی، محمد موسی. (۱۳۸۴) سیر انکشاف حقوق مالی و مالیه عامه در افغانستان، مرکز نشراتی شوخک، کابل.
۵. وزارت عدلیه. (۱۳۸۴) جریده رسمی شماره ۸٦۷ قانون مالیات بر عایدات ۱۳۸۴، کابل.
٦. وزارت مالیه. (۱۳۸۷) معلومات ریاست عواید. ۱۳۸۷، کابل.
۷. وزارت مالیه. ( ۱۳۸۵) بودجه سال ۱۳۸۵، کابل.
۸. وزارت مالیه. (۱۳۸٦) بودجه سال ۱۳۸٦ کابل.
۹. وزارت عدلیه. (۱۳۸۴) جریده رسمی شماره۸۴۷ د ګمرکاتو قانون سال ۱۳۸۴، کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. وزارت عدلیه. ( ۱۳۸۷) جریده رسمی شماره ۹۷٦ قانون مالیات بر عایدات سال ۱۳۸۷، کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم څپرکی

## غیرې مالیاتي عواید او د دولت پورونه

غیر مالیاتي عواید هغه عواید دي چې دولت یې له اقتصادي فعالیتونو او په خپل واک کې له موجودو منابعو څخه لاس ته راوړي. دغه عواید له مختلفو پانگونو د منشاء اخیستونکو عوایدو په شکل دي چې په قسمي ډول د دولت د تشبثاتي عوایدو نتیجه ورکوي یا د هغو عوایدو ترلاسه کول دي چې د دولت د ډول ډول شیانو او خدماتو له عرضې څخه دولت ته په لاس ورځي. د مالیاتي عوایدو پرخلاف ددې ډول عوایدو ځانگړنې د هغه اختیاري والی دی یا په بله وینا دغه عواید د دولت له خوا د وړاندې شویو مختلفو تولیداتو او خدماتو او د وگړو له پېرودنې او نه پېرودنې سره تړاو لري. پردې اسا دغه عواید نامنظم او تر یوې اندازې پورې نامطمین دي.

ځینې دغه عواید په لاندې ډول دي:

الف: د دولت د انحصاراتو سود لکه برېښنا، گاز، نفت او نور.

ب: د دولتي ادار وپه واسطه د ډول ډول خدماتو له عرضې څخه د خدماتو بدله.

ج: له عامه ملکیتونو سره د عامه املاکو عواید، خرڅلاو یا اجاره.

د: د دولتي تشبثاتو عواید.

هـ: پورونه او داخلي او خارجي مرستې.

په هغه صورت کې چې مالیاتي عواید د دولت د مالي مخارجو د تأمین لپاره کافي نه وي لازمه ده ترڅود غیر مالیاتي عوایدو له لارې دغه کسر تأمین کړي. البته غیر مالیاتي عوایدو مختلفو ډولونو اقتصادي تأثیرات د دولت د مالي مخارجو په تأمین کې له یو بل سره کاملاً متفاوت دي.

باید یادونه وشي چې د افغانستان داخلي عواید په ۱۳۸٦ کال کې په مجموعي ډول ۷۷۳,۳۵ ملیارده افغانۍ وو. له هغه جملې د هېواد مالیاتي عواید ۹,۲۷ملیارده افغانۍ او په هغه کې د غیر مالیاتي عوایدو ونډه ۸ ملیارده افغانۍ وه، چې په حقیقت کې د غیر مالیاتي عوایدو ونډه ۳,۲۲٪ او د غیرمالیاتي عوایدو ونډه په هغه کال په مجموعي داخلي عوایدو کې ۷۷,۷٪ وه.

### ۱. دولتي تشبثاتي عواید او د دغې برخې خصوصي کول:

د دولت تشبثاتي عواید له هغه عوایدو تشکیل شوي دي، چې په دولتي او په مختلطو تصدیو کې د دولت له اشتراکاتو څخه لاس ته راځي. دولت پردې سربېره چې د دولتي تصدیو او دولتي اشتراکاتو څخه یوه برخه مالي احتیاجات تأمینوي، د داخلي تولیداتو د حجم په لوړولو، د بشري ځواک لپاره د کار د محل چمتو کول، د مشابه خارجي امتعې د وارداتو محدودول ، له خصوصي تشبثاتو سره د رقابت له لارې د قېمتونو په استقرار او ثبات کې عمده رول لرلي. (۱:۱۹۲)

د تمویل د یوه بدیل په توگه د عامه تشبثاتو په صورت کې استفاده د مالیاتو له لارې د مؤلدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منابعو د استفادې د مؤثریت د بهبود باعث شوی او د ټولنې د مالیاتي بار یا مکلفیتونو د کموالي لامل کېږي. د دولت تشبثاتي عواید د دولت لپاره د یوې مناسبي عایداتي منبع په توګه شمېرل کېږي. البته ددغې عایداتي منبع سهم په متفاوتو اقتصادي نظامونو کې له یو بله توپیرلري.

په افغانستان کې د اقتصادي فعالیتونو په تېرو نظامونو کې دولتي تصدیو د دولت تر کنترول لاندې قرار درلود او له دغه سالانه مدرک څخه تشبثاتي عوایدد دولت لپاره عاید ګرځېدل. د دولت فعالیت او مداخلې په مختلفو عرصو کې په اقتصادي چارو کې وجود درلود. د مؤقت حکومت له ایجاد وروسته په ۱۳۸۱ کال کې او له هغه وروسته د دولت پالیسي خصوصاً د افغانستان د اساسي قانون له لسمې مادې سره په مطابقت کې وخت تغییر شوی. د خصوصي سکتور تقویه او وده او په نهایت کې د بازار اقتصادي نظام ایجاد جداً طرفداري کېږي. بناءً د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ناڅیزه اقتصادي مؤثریت پر بنا د دولتي تصدیو په فعالیت کې په پام کې لري ترڅو دولتي تصدۍ چې تر دې مهاله د دولت د اقتصادي واحدونو په توګه د مالیې وزارت په چوکاټ کې په مختلفو عرصو کې په فعالیت بوختې دي په قانوني شکل هغه د خصوصي سکتور ولکې ته سپارل شوي او د خصوصي سکتور د تقویې په خاطر لازم تدابیر نیسي.

**الف- د دولتي تشبثاتو د خصوصي کولو مفهوم او ماهیت:** خصوصي کول او د دولت له تسلط څخه د وظایفو عدم تنظیم هغه امکانات دي چې د هغه په واسطه کېدای شي د دولت رهنمایي او د رهبرۍ طاقت د تولیدکوونکو له تولیدي وسایلو څخه په استفادې محدود کړي. د شتمنۍ او ملکیتونو خصوصي کول له یوې خوا او له بلې خوا د تولیدوونکو د تولیدي وسایلو دولتي کول دوه مخالف قطبونه تشکیلوي، چې د دوی حرکت په دوه مخالفو جهتو دی. د دولتي کولو په صورت کې دولت په پېرودنه یا د پانګه ییزو شیانو په ترلاسه کولو سره واضح وي، چې په ځومره پیمانه په اقتصاد کې د دولت نفوذ ته ضرورت دی او په ځومره پیمانه یوه ملي اقتصاد ته د مؤلدې پانګې تأثیر د دولت په واسطه د خصوصي تولیدي ملکیتونو په اخیستلو سره ارتقاء کوي. په مقابل کې یې له خصوصي کولو څخه په مطلق ډول هغه وخت خبرې کېږي، چې دولت یوه دولتي تصدي او یا د یوې تصدۍ برخې په انفرادي اشخاصو او یا خصوصي تصدیو خرڅوي او یا داچې د خصوصي کولو له لارې د تولید عمده برخې کموي. د تولیدي تصدي له اداري څخه پرهیز او په دې ترتیب د تولید کولو له دندې څخه صرف نظر وکړي او د ډله ییزو شیانو تدارک د هغه په اخیستلو سره له آزاد بازار څخه رفع کوي. (۵: ۳۷)

له خصوصي کولو څخه په قسمي ډول هغه وخت خبرې کېږي، چې د یوه ملي اقتصاد په مؤلده پانګه کې د دولت سهم او یا په دولتي تصدیو کې د دولتي پانګې اندازه کمه شي.

د خصوصي کولو یو بل شکل په شکلي او یا حقوقي ډول بنه بدلول د یوې دولتي تصدۍ د انفرادي حقوقو په شکل دی. په دې صورت کې د پانګې کوم ډول انتقال د دولت او اشخاصو او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانفرادي تصديو ترمنځ نه دی ترسره شوی، بلکې یوه دولتي تصدۍ له عامه قانوني شکل څخه په یوه خصوصي قانوني شکل، اکثراً د سهامي او مختلط شرکت په شکل تغییر کوي.

د دولتي مؤسساتو د خصوصي کولو تمایل په هغو ساحاتو کې وجود لري چې په دغو ساحو کې دولت بریالی نه شي ترڅو له مساعدو مخارجو سره مخصوصاً ضمني مخارج، د تولیدي طریقو همغږي کول (تولیدي مؤلدیت) او د مؤلدې پانګې له انسجام څخه استفاده وکړي.

**ب- د خصوصي کولو لاملونه:** ټول هغه وظایف چې دولت یې په غاړه لري په هېڅ وجه یوه ثابته او تغییر منونکې اندازه نه ښیي، بلکې د وخت په تېرېدو سره نوې ساحې نور فعالیت بازار یا خصوصي سکتور ته تسلیمولی شي. خصوصي سکتور ته د دولت د مربوطو وظایفو دغه ډول انتقال د خصوصي کولو په نوم یادېږي (د دولت د محدودولو حالات). د انتقال دا ډول پروسو لپاره کېدای شي مختلف لاملونه وجود ولري:

لومړی داچې په تېرو وختونو کې دولتي تصدۍ د عامه برخې په واسطه د اضافي عوایدو د ایجاد په خاطر تأسیس شوي وي. په دې چې دولتي تصدۍ اکثره فعالیتونه له متوسط حد څخه ښکته ترسره کوي، باید خصوصي شي.

دوهم داچې تخنیکي پرمختګ ددې لامل کېږي چې د ټاکلو دندو د ترسره کولو لپاره د دولتي فعالیت بله مشخصه د عامه شتمنۍ په توګه مطابقت ونه لري او هم د یوه طبیعي انحصار د ثبوت وړاندې کولو ګنجایش نه لري.

درېیم باید یادونه وشي چې د عامه ملکیت طرح د ملاحظه کوونکو ترمنځ یو تفاهم لازموي، چې آیا په یوه ټاکلي فعالیت کې د یوه عامه ملکیت خصلت له یوه خصوصي ملکیت سره توپیر لري که نه!

خصوصي سکتور ددې ډول فعالیتونو په منلو کې هغه وخت لېوال کېږي، چې د هغه په نتیجه کې د دوی د شتمنۍ په عوایدو کې د ملاحظې وړ وده رامنځ ته شي. له بلې خوا په انتقال پورې د تولید مربوط فکتورونه (خصوصي کول) کېدای شي په کاربرو او ګټه راوړونکو امکاناتو بدل شي. په خصوصي کولو پورې مربوطو تأثیراتو کې د لاندې درې خصوصیاتو توقع کېږي:

لومړی داچې تردې مهاله پلان شوی دولتي فعالیت په زیان اړوونکي شکل له کاره غورځېدلی او دغه جنس خصوصي سکتور ته د انتقال په ترڅ کې وساتلی شي.

دوهم داچې د خصوصي سکتور د فعالیت په ترڅ کې له یوه زیان اړوونکي فعالیت څخه یوه ګټه راوړونکې معاملاتي ساحه انکشاف وکړي.

درېیم داچې دولتي فعالیتونه تردې مهاله ګټه راوړونکي دي. د خصوصي کولو په واسطه کېدای شي د ګټې له ډېر زیاتوالي څخه برخمن شي.

**ج: په افغانستان کې د دولتي تشبثاتو د خصوصي کولو پالیسي:**

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د وزیرانو شورا لاندې پالیسي د خصوصي کولو او د هغې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمایت په رابطه منظوره کړې ده:

د افغانستان دولت د خصوصي سکتور د انکشاف په هڅه کې دی، چې د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د ماشین په څېر ګڼل شوی او په اوږدمهال کې د افغانستان د پرمختګ او د فقر د کمولو یو مهم جزء تشکیلوي. د افغانستان دولت یاد سکتور ته د دولت د جایدادونو د انتقال له لارې د یاد سکتور انکشاف ته په مؤثر ډول او د وخت له تقاضا سره سم متعهد دی. دغه ډول انتقال په خلاص، مناسب او شفاف ډول ترسره کېږي، چې ددغې برنامې د اهدافو مطابق د دوی له خرڅلاو څخه د د عوایدو زیاتېدل، د کار کوونکو د وظایفو ساتل، د پانګوالو تشویق، پرمختګ او د ټکنالوژۍ عصري کول دي.

د مالیې وزارت خپل فعالیت د مجدد ساختار لپاره د پېشنهادونو تهیه کولو، انحلال او د دولتي تصدیو د خصوصي کولو په موخه پیل کړی دی. ددغې پروسې یوه برخه د دولتي تصدیو شتمنۍ او فعالیت ته بیا کتنه او جدي مطالعه وه، چې د ۱۳۸۳ کال د حمل په میاشت کې پیل شوه او د همدې کال د عقرب په میاشت کې ختمه شوه او ټولې دولتي تصدۍ په لاندې دوه کټګوریو ګروپ بندي شوي دي:

**۱. هغه تصدیګانې چې د دولت تر ادارې لاندې په تلوار سره پېشنهاد شوي دي:** دغه ګروپ تصدۍ مهم عامه خدمات لکه عامه ترانسپورت، د اوبو تهیه، د انرژي تولید او وېش، تادیبي او رهایشي خدمات او نور ترسره کوي. ځینې نورې دولتي تصدۍ د قانون له مخې د دولت تر ادارې لاندې پاته شي.

۲.**هغه تصدیګانې چې د خصوصي کولو لپاره پېشنهاد شوي دي:** په دې ګروپ کې هغه تصدۍ شاملې دي چې له انتقال، کنترول او ملکیت څخه به خصوصي سکتور ته ګټه یوسي او هغه تصدۍ چې محدود اقتصادي قابلیت او یا هېڅ نه لري او د دولت په عوایدو باندې د اوږو بار وي، دغه تصدۍ باید د دولت له لوري خصوصي شي. په هغو تصدیو کې چې د خصوصي کولو لپاره پېشنهاد شوي دي، خصوصي سکتور ته د دولتي تصدیو د انتقال لپاره د مختلفو طریقو او میتودونو ارزیابي لکه د شتمنیو انتقال، په شرکتونو کې د اسهامو خرڅلاو، د اجارې اوږدمهاله قراردادونه او یا له کار کوونکو سره قراردادونه ترسره کېږي، چې بالآخره د خصوصي کولو ډول چې د هرې تصدۍ لپاره انتخابېږي، خاصتاً د هغې تصدي په وضعیت او خصوصیت پورې مربوط دی.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو شورا د پورته پالیسۍ په منظورولو سربېره د دولتي تصدیو په قانون کې لازم تعدیلات د مختلفو میتودونو د تطبیق په خاطر چې د خصوصي کولو په پالیسۍ کې هغې ته اشاره وشوه تصویب کړل. د ټولنیز مصؤنیت پروګرام د خصوصي کولو د برنامې په اوږدو کې چې له بېځایه شویو کار کوونکو څخه د حمایت لپاره ترتیب شوی، هم تصویب شو.

**۲- د پانګه ییزو شتمنیو د خرڅلاو او له طبیعي شتمنیو څخه عواید:** د دولت د شتمنیو یوه برخه فزیکي پانګې لکه ساختمان او ماشین آلات یا طبیعي پانګې لکه ځمکه او معدني ذخایر تشکیلوي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت د اقداماتو یوه برخه ددغو پانګو راکړه ورکړه ده. د پراختیا د طرحو ترسره ایجاد، د اقتصادي زېربناوو ایجاد یا د خصوصي برخې د عملیاتو د تکمیلولو لپاره د تولیدي شرکتونو تأسیس د دولت له وظایفو څخه دي. دغه اقدامات د دولت پانګه ییزې شتمنۍ زیاتوي.

ددغو شتمنیو د تملک لپاره د لازمو منابعو تأمین کېدای شي د دولت له عوایدو تأمین شي یا د موجودو پانګو په خرڅلاو او یا د هغه تبدیل په زېږونکو پانګو ترسره شي. معدني ذخایر شنډه پانګه ده چې که چېرې په زېږونکو پانګو لکه بندونو، کارخانو، د برق انرژي او جادو تبدیلې شي له اقتصادي پلوه د دفاع وړ دي. خام نفت یا نور معدني ذخایر د دوی په ټولو تسهیلاتو پورې تعلق لري. د هغه خرڅلاو او مالي تأمین، د خالصو ګټو طرحې لرونکي دي او د نن او سبا ورځې نسل په دوامداره ډول برخمن کوي، یعنې ثروت زیاتوي، شغل او بوختیا ایجادوي اود آینده لپاره د دولت مالیاتي عواید لوړوي او په دې ترتیب د دولت د پانګه ییزې شتمنۍ له زیاتېدو سره په عین حال کې د دولت دوامدارو عوایدو ته هم وده ورکوي او له دې لارې هم د دولت ثروت زیاتوي. په افغانستان کې ددې برخې عوایدو په ۱۳۸۳ کال کې لاندې شکل لري:

۱. د افغانستان د دولت د شتمنیو د خرڅلاو له درکه عواید چې د غیر منظمو عوایدو په ډله کې شمېرل کېږي، چې په ۱۳۸۳ کال کې (۱/۹۱۳۲۸۴۹۰۸) افغانیو ته رسېدلي دي، چې دغه مبلغ د دولت د مجموعي عوایدو ۱۵٪ تشکیلوي.
۲. همدارنګه د طبیعي منابعو د خرڅلاو عواید په ۱۳۸۳ کال کې (۴۹/۸۳۳۹۱۱) افغانیو ته رسېدلي دي چې د دولت ۳۹,۰٪ مجموعي عواید جوړوي.
۳. له دولتي ملکیتونو څخه د استفادې عواید په ۱۳۸۳ کال کې (۳۳۳۸۷۱۴۲٦)
افغانۍ وو، چې د مجموعي عوایدو ٦۱٪/۲ تشکیلوي.
۴. د منقولو شتمنیو د کرایې عواید (۷/۷۹۲۳۲۳) افغانۍ.
۵. په یاد کال کې د دولت د غیر منقولو شتمنیو د کرایې عواید (۲۲۲/۴۹۵۴۷۵) افغانۍ وو.
٦. له محصول او د ځمکې او ساختمان د خرڅلاو له مالیاتو څخه ترلاسه شوي عواید په ۱۳۸۳ کال کې (۱۱/۸٦۸۵۲۷) افغانۍ وو.

**۳. دولتي پورونه د دولت د مخارجو د تمویل د یوې منبع په توګه:**

**الف) د ملي پورونو اهمیت او ضرورت:** کله چې د دولت عواید د مخارجو کم وي، ممکن د پورونو ترلاسه کولو سره د خپلو عوایدو کسر تأمین کړي. پردې اساس د ملي یا عمومي پور ټول دولتي پورونه له مرکزي بانک، سوداګریزو بانکونو او سازمانونو او د هېواد له وګړو او همدارنګه له بهرنیو هېوادونو څخه ترلاسه کېدونکي پورونه دي. پردې اساس کېدای شي د هېواد پورونه په کلي ډول په داخلي او خارجي پورونو ووېشل شي یا په بله وینا هماغه ډول چې د خصوصي برخه په اقتصاد کې افراد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرکتونه د مالي تأمین لپاره د خپلو مخارجو یوه برخه بالخصوص د پانگونې په برخه کې مجبورېږي چې له بانکونو څخه پور ترلاسه کړي. کله کله دولت هم د خپلو مخارجو د مالي تأمین لپاره ممکن له نورو لارو څخه د استفادې پرځای د پورونو (داخلي یا خارجي) له لارې د خپلو منابعو کمبود جبران کړي. البته دغه خصوصي پورونه (د خصوصي برخې پور) او عمومي پورونه (د عمومي برخې پور) له اقتصادي نقطه نظره هم تفاوتونه وجود لري، د تاریخ په اوږدو کې د هېوادونو د ملي پورونو په زیاتوالي کې مختلفو عواملو نقش لرلی، چې له هغې جملې نه کولای شو لاندې عواملو ته اشاره کړو:

۱.جگړه او نظامي مخارج.

۲.د ټولنیزو تعهداتو ترسره کول.

۳. د اقتصادي ثبات ایجاد د وزگارتیا کموالی او د قېمتونو ثبات د داخلي یا خارجي منابعو د تجهیز له لارې.

۴. د بودجې د کسر تأمین.

۵. اقتصادي وده او انکشاف (۴ :۲۴۳).

پردې اساس د ملي پور د اقتصادي آثارو ارزیابي ددغو پورونو ایجاد په علتونو او د هغه پرتله د دولت د مخارجو د مالي تأمین له نورو لارو سره تړاو لري یا په بله وینا که چېرې دولت وتوانېږي د پورونو له لارې راټولې شوې پیسې، بالخصوص راکدې پیسې په سم ډول په مؤلده پانگونه کې په کار واچوي د پورونو اصل او فرع د ایجاد شویو پورونو له لارې د پانگونې په طرح کې تأمین کړي. په اوږدمهال کې د تولید د زیاتوالي او د اقتصادي ودې لامل کېږي. خو که چېرې پورونه د غیر مؤلدو مخارجو لکه د مصرفي او غیر تولیدي مخارجو د مالي تأمین په موخه وي نامساعد اقتصادي تأثیرات ایجادوي، یعنې په دې ډول مخارجو کې نه یوازې عواید نه شي ترلاسه کولای، بلکې د گټې ورکړې ته په پام سره د پور پاڼو لرونکو ته د پور د خدماتو له لارې د پور اصل او د هغه گټه په ټولنه باندې د بار په ډول تحمیل کېږي، معمولاً د جگړې په کلونو کې پورونو د پام وړ ډول سره په هېوادونو کې زیات شوي دي. البته په پرمختللو هېوادونو کې د پورونو عمده رقم داخلي پورونه دي. په داسې حال کې چې مخ پر ودې هېوادونو کې، په اکثراً خارجي پورونه دي. د مثال په توگه په امریکا کې له زیاتوالي سره سره د هېواد ټول ملي پورونه د وخت په اوږدو کې (د مثال په ډول په ۱۹۸۲ کال کې دغه رقم ۱۲۰۰ ملیارده ډالرو ته رسېدلی) چې یوازې د هغه۱۰٪ خارجي پورونه دي. د هغه باقیمانده ۹۰٪ د دولت پورونه (داخلي پورونه) دي. البته ددې هېواد د خارجي پورونو رقم د۱۹۸۰ لسیزو په آواخرو کې د پام وړ زیاتوالی موندلی دی. لکه څرنگه چې اقتصادپوهانو پېشبیني کړې وو چې د۱۹۸۰ لسیزو په آخر کې ددې هېواد خارجي قروض۷۵۰ ملیارده ډالرو ته رسېدل. په مخ پر ودې هېوادونو کې په خارجي پورونو پورې مربوط رقم د پام وړ دی. د مثال په توگه د مخ پر ودې هېوادونو ټول خارجي پورونه د ۱۹۸۸ کال په پای کې د ۱۳۲۰ ملیارد ډالرو معادل رقم ته رسېده، چې دغه رقم ددغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو د ټول ناخالص ملي تولید نیمایي برخه تشکیلوله، ددغو هېوادونو د خارجي پورونو ټول رقم په ۱۹۸۷ کال کې ۱۲۸۱ ملیارده ډالرو ته رسېدلی دی چې دغه رقم د ۱۹۸٦ کال په پرتله د ۱۱٪ معادل د ودې نرخ لرلی دی. (۳ :۲)

عمومي استقراض یا پورونه په حقیقت کې د مرکزي دولت او خصوصي پور د خصوصي برخې په اقتصاد کې د حقیقي او حقوقي افرادو د پور اندازه ده. د لوی اقتصاد په سطح د خصوصي پور اندازه له عمومي پورونو څخه زیاته ده، خو ډېر لږ تر سترګو کېږي چې وګړي د خصوصي پور پر وړاندې غبرګون وښیي. د خصوصي او عامه اقتصاد ترمنځ زیات تفاوتونه وجود لري.

د خصوصي او عمومي برخو د پورونو ترمنځ له زیاتو شباهتونو سره سره د هغو دوه اقتصادي تأثیرات له یو بل سره کاملاً متفاوت دي. د خصوصي برخې په اقتصاد کې د مخارجو د تمویل له مهمو لارو څخه یوه د خصوصي شرکتونو پانګونه، له بانکي سیستم څخه پور، یعنې د پور ترلاسه کول دي، خو باید پام وشي هغه څه چې د یوه فرد یا یوه شرکت لپاره په خصوصي برخه کې د مثال په ډول د بودجې کسر مناسب یا نامناسب تشخیص شي لزوماً نه شي کېدای د عمومي برخې او یا لوی اقتصاد لپاره دغه ډول وي. پردې اساس د عامه اقتصاد او خصوصي برخې اقتصاد د وظایفو او اهدافو ترمنځ له تفاوتونو سره سره د پور موجودیت، اهداف، اهمیت او د هغه اقتصادي تأثیرات به د عمومي او خصوصي برخې په اقتصاد کې له یو بل سره متفاوت وي.

**ب- له بهرنیو منابعو څخه د ګټې اخیستنې اړوند نظریات:**

په کلي ډول له خارجي منابعو څخه د استفادې په اړوند درې نظرونه وجود لري:

**لومړۍ نظریه:** په هغو نظریاتو کې شامله ده چې خارجي منابع د اقتصادي ودې او پرمختیا په موخه مهمې بولي. ددغې نظریې مطابق پرمختیایي هېوادونه د پانګې له اړخه د لږې سپما او د کمې پانګونې له اړخه په فقیرو اقتصادونو مشهور دي، په داسې حال کې چې د پرمختللو هېوادونو په ناخالص ملي تولید کې ناخالصه پانګونه د ۲۰٪-۱۵ پورې رسېږي او په پرمختیایي هېوادونو کې د ناخالصې پانګونې نرخ د ۵٪-٦ پورې وي. نو دغه هېوادونه ډېر په مشکل سره کولای شي چې د استهلاک مصارف یا د موجوده پانګه ییز کالیو تعویض حفظ کړي. پردې سربېره د پرمختیایي هېوادونو علمي کمزوري ددې لامل ګرځي چې حتی له موجوده منابعو څخه هم په سم ډول استفاده نه شي کولای. همدارنګه له دې سره سره پرمختیایي هېوادونه د پانګونې د کموالي له امله د اجتماعي پروژو په برخه کې تر فشار لاندې دي. لېکن خصوصي برخه د اوږدمهاله بېرته ورکړې په دلیل د پانګونې په برخه کې او ددغو موجوده طرحو او غیر مستقیمو منافعو په برخه کې ډېرې مهمې نه دي.

د دوهمې ډلې د نظریاتو مطابق بهرني مالي جریانونه د پرمختګ او ودې له عواملو څخه جلا کېدونکي نه دي. کله چې د انکشاف لپاره دغه ډول لازم عوضي شرایط موجود وي، اقتصادي او اجتماعي پروژې ترسره شوې وي، نو په دې صورت کې پرمختګ او وده له بهرنیو مالي منابعو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته امکان لري او که چېرته پورته شرایط موجود نه وي نو اقتصادي پرمختګ د بهرنیو مالي منابعو په موجودیت کې هم امکان نه لري او دغه منابع بېځایه ضایع کېږي.

د درېیمې ډلې نظریات د هغې ډلې په نظریاتو کې شامل دي، چې په هغه کې بهرنۍ مالي منابع د اقتصادي ودې لپاره کافي شرط نه دی. لېکن د سم مدیریت په صورت کې ددغو منابعو مصرف اقتصادي وده او پرمختګ ممکن ګرځوي. په دې مدیریت کې د هغو پورونو ځانګړې کول شامل دي چې د صادراتي کالیو د تولید لپاره اخیستل کېږي خصوصاً د صنعت په برخه کېد ترلاسه شویو مرستو له ائتلاف څخه مخنیوی او نور شامل دي. باید یادونه وکړو چې د عواملو څلور ګروپونه د بهرنیو مرستو د توازون په ټاکلو کې مؤثر دي.

**لومړی عامل:** په عرضه کوونکو هېوادونو کې د پانګې د مازاد د توازون منبع.

**دوهم عامل:** د حاصلوونکو هېوادونو په واسطه د بهرنیو مالي منابعو د جذب ظرفیت. په دې برخه کې د ترمیم او انکشاف نړۍ وال بانک په خپل څوارلسم کلن راپور کې لیکلي، چې په پرمختیایي هېوادونو کې په عمراني پروژو کې د محدودیت مهم لامل د پیسو او مالي ذخایرو کمبود نه، بلکې د هغو د اجراء لپاره د مناسبو پروژو عدم موجودیت دی. په حقیقت کې په کافي مقدار سره د اجتماعي او اقتصادي سهولتونو عدم موجودیت هم د ظرفیت په جذب باندې د محدودیت او فشار لامل دی.

**درېیم عامل:** د طبیعي او انساني منابعو عدم موجودیت دی.

**څلورم عامل:** د پور اخیستونکو هېوادونو د بیا ورکړې ظرفیت دی.

### د ګرېفېن بولز نظریه *(kerth Griffin)* :

ګرېفېن په۱۹۷۰ز کال کې د احصائیوي بررسیو په ترسره کولو سره دې نتیجې ته ورسېده، چې ۲۵٪ بهرني پورونه یوازې د ودې په اړونده چارو کې مصرف شوي دي یا په بله وینا ۷۵٪ بهرني پورونه یوازې مصرفي مخارجو ته ځانګړي شوي دي. دده مطالعاتو وښودله چې په پرمختیایي هېوادونو کې د بهرنیو مرستو جریان ددې پرځای چې مکمل داخلي منابع وي هغوی د ځای ناستي په ډول عمل کوي.

دغه کړنې په دواړو برخو، یعنې په عامه او خصوصي برخو کې لیدل کېږي. د دولت په برخه کې د بهرنیو مرستو په زیاتېدو سره عملاً اوسني او راتلونکي مخارج زیاتېږي.

پاول بولز (paul boles): پاول بولز په ۱۹۸۷ز کال کې په خپله مقاله کې (په لړ پرمختللو هېوادونو کې بهرنۍ مرستې او کورنۍ سپماوې) تر عنوان لاندې وښودله چې د بهرنیو مرستو په موجودیت کې باید د رود دومار لومړنی ماډل چې له G=s/v سره مساوي دی دې ډول G=S+a/v بنې ته اصلاح شي، چې a پکې تولید ته د بهرنیو مرستو نسبت دی، چې دغه نظریه د تولید په لیونتیف تابع باندې اتکاء لري، چې په هغه کې د s د سپما ثابت نرخ او v د پانګې او تولید نسبت او g د کار د قوې وده (g)،د

(c) ketabton.com: The Digital Library



G=s/v په صورت کې یو متعادل شرط ارایه کوي او کله چې s,g اوv ثابت وي نو د متعادلې ودې احتمال ډېر لږ وي. نو په همدې دلیل دغه شرط د چاقو د څنډې (Knife-edge) په نوم مشهور دی. نو د عدم تعادل په صورت کې تعادل ته د بیا ورتلو په موخه هېڅ کار او فعالیت وجود نه لري. نو په دې ترتیب کله چې د بهرنیو مرستو د زیاتوالي په صورت کې سپما کمه نه شي نو خارجي مرستې به په اقتصادي وده مثبت تأثیر وکړي. نو په دې ډول لکه د بولز (Boles) نظریه کله چې د بهرنیو مرستو او سپما رابطه مثبته وي نو په اقتصادي وده باندې د خارجي مرستو د مثبت تأثیر امکان موجودېږي.

یوه ډله عقیده لري، که چېرې دولت په راتلونکې کې د پورونو د ورکړې په موخه مالیات لوړ کړي، نو د افرادو د پېرودنې قدرت به دولت ته انتقال شي، چې په نتیجه کې په لوی اقتصاد کې کوم خالص بار او هېڅ ډول تغییر به د خصوصي برخې په  تولید، البته د بیا تادیې په وخت کې رامنځ ته نه شي. ددې ډلې په  نظر، پورونه به په راتلونکي کې په خالص ډول هېڅ ډول بار وارد نه کړي.

**جیمز بوکنان** (James M .Buchanan): د امریکا یو نامتو اقتصادپوه چې د نوبل جایزې گټونکی هم دی په ۱۹۸٦ ز کال کې یې داسې استدلال کاوه، چې د ملي پورونو بار کېدای شي چې راتلونکي نسل ته ولېږدول شي. د بوکنان د نظر پر بنسټ، له دولت څخه د پورونو د ترلاسه کولو په وخت کې هېڅوک د پور تر بار لاندې نه راځي، ځکه هغه خلک چې دولتي پور پاڼې ترلاسه کوي دغه عمل په داوطلبانه ډول ترسره کوي او په همدې دلیل د خپلو مصارفو د ځنډ په وجه چې ترڅو دغه مخارج په راتلونکي کې ترسره کړي، نو له دولت څخه د سود په ډول پیسې یا عوض هم ترلاسه کوي او یا په بله وینا د پور پاڼو لرونکي دې ته ترجېح ورکوي چې  په اوس وخت کې د مصرف پرځای دولتي پور پاڼې له ځان سره وساتي. په پای کې دغه اشخاص د کوم بار لاندې نه راځي او گټه هم  نه ترلاسه کوي. (۹:۴۲ )

دې ته په پام سره چې د پور پاڼو لرونکي کومه گټه نه ترلاسه کوي، خو مالیه ورکوونکي له زیان سره مخ کېږي. نو دلته کولای شو په کلي ډول ووایو چې دولتي پورونه کولای شي په راتلونکو نسلونو باندې خالص بار وي. نو پردې اساس ملي پورونه کېدای شي د عوایدو او شتمنیو د نابرابرۍ سبب وگرځي.

**ج- د پورونو او نورو طریقو له مخې د دولت د مصارفو پوره کول:**

د عمومي اقتصاد په برخه کې کله چې د دولت عواید له مصارفو څخه کم وي، نو دولت کولای شي چې د بودجې کسر او د عوایدو کمښت د لاندې طریقو له مخې پوره کړي.

الف: د مالیاتو او د دولت د عمومي عوایدو زیاتېدل.

ب: له خلکو څخه پور اخیستل.

ج: له بانکي سیستم او مرکزي بانک څخه پور اخیستل.

د: بهرني پورونه یا په بله وینا دولت کولای شي چې د مالیاتو یا پورونو (کورنیو او بهرنیو) له لارې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو عوایدو کمښت جبران کړي.

د مالیاتو او پورونو ترمنځ یو اساسي توپیر دادی چې د مالیاتو له لارې د عوایدو د کمښت پوره کول په حقیقت کې یو خالص مالي سیاست دی یا په بله وینا کله چې دولت د بودجې کسر د مالیاتو له لارې تمویل کړي نو د دوراني پیسو د سیالیت په درجه او حجم کې هېڅ ډول زیاتوالی نه راځي. په داسې حال کې که چېرې د بودجې کسر د پورونو له لارې تمویل شي له دې پرته چې د پورونو ډول په پام کې ونیول شي د دوارني پیسو په حجم کې تغییر (معمولاً زیاتوالی) لیدل کېږي. نو له دې امله د بودجې د کسر تمویل د پورونو له لارې په یو خالص مالي سیاست نه شي اطلاق کېدلی.

**د- د ملي پورونو دندې او له هغوی څخه د استفادې اهداف:**

په اساسي ډول پورونه د تمویل په موخه کولای شي لاندې دندې ترسره کړي.

۱. په لنډ مهال کې د عوایدو د نوساناتو د مساواتو دنده (د دولتي کسې د تقویي لپاره پورونه).

۲. په منځ مهال کې د بودجې د تقویې دنده (د لویو پانګه ییزو پروژو د پرمخ بیولو په موخه).

۳. ځانګړې دنده لکه د فوق العاده مصارفو د پوره کولو لپاره پورونه او یا خصوصاً هغه پورونه چې له یوې نه اټکل شوې واقعې لپاره ترسره کېږي.

۴. د اقتصادي نوسان په حالت کې تشویقي دنده، اضافي مصارف او د عوایدو کموالي ته د یو منظم سیاست په واسطه تعادل وربخښي او په دې ډول یو بد اقتصادي حالت د یو بهتر اقتصادي حالت په لوري رهنمائي کوي.

۵. د مختلفو اجتماعي طبقو ترمنځ د عدالت د راوستلو دنده مثلاً د ځوان او زوړ نسل ترمنځ د رفاه تعادل (د ټولنیز بار د تغییر لپاره پورونه).

له ملي پورونو څخه ممکن د دوه اهدافو لپاره استفاده وشي:

الف- د دولتي عوایدو د کمښت د تمویل او د نورو مالي احتیاجاتو لپاره.

ب- د مالي او پولي سیاست د ترسره کولو لپاره.

الف- د عوایدو د کمښت د تمویل لپاره له پورونو څخه استفاده ممکن د جاري مصارفو، د پانګونې د مصارفو او بالآخره د فوق العاده مصارفو لپاره ترسره کېږي، چې له دغو مواردو څخه هریو په لنډ ډول تر څېړنې لاندې نیسو:

**۸. د جاري مصارفو د ورکړې لپاره له پورونو څخه استفاده:** یو کلي اصل چې په عمومي ډول د اقتصادپوهانو ترمنځ د موافقې وړ دی، د هغې پلي کول نه یوازې د دولتونو لخوا، بلکې د افرادو لخوا هم لازم او حتمي دی. هغه داچې له پورونو څخه باید په هېڅ ډول د احتیاجاتو د رفع کولو او جاري اړتیاوو د پوره کولو، خصوصاً په عادي اقتصادي شرایطو کې استفاده ونه شي. لېکن په مختلفو اقتصادي شرایطو کې عمومي د عوایدو ماهیت ته په کتو او د دولتونو د حصول په اندازه کې د کامل نظم نه موجودیت ته پام سره د مؤقتي مالي ضعف د رفع کولو په موخه له پورونو څخه استفاده، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عوایدو او مصارفو کې د نه اټکل شویو تغییراتو له امله او یا د مالیاتو له حصول څخه وړاندې د عوایدو د کمښت د جبران لپاره مجاز لري. له پورونو څخه په دې برخه کې استفاده باید لنډ مهاله وي. البته امکان لري ځینې دولتونه له دې چې د پور پاڼې نشر کړي دغه ډول مؤقتي اړتیا له بانکي نظام څخه د اعتبار پر اساس رفع کړي.

B. **د عمراني مخارجو (پانګونو) د ورکړې لپاره له پورونو څخه استفاده:** دولتي پانګونې کولای شو په دوه برخو ووېشو. لومړی په هغو پروژو کې چې ډېره سوداګریزه بڼه لري او ترلاسه کېدونکي عواید يې د پانګونې د مخارجو يوه برخه يا ټول د استهلاک په موده کې پوره کوي. که چېرته په دې برخه کې د دولت له مداخلې څخه صرف نظر وشي، نو بیا له پورونو څخه استفاده مجاز ده. په دې برخه کې د عوایدو حداکثر او هغه زمان چې له دغې پانګونې څخه پکې عواید حاصلېږي باید د ځانګړې پاملرنې وړ وګرځي او د پورونو د استهلاک موده باید له دې حد څخه کمه وي. په دې برخه کې له پورونو څخه د استفادې تر ټولو ښه مثال د اوبو، برېښنا او ټېلفون د تأسیساتو د ایجاد په موخه له هغوی څخه استفاده ده. له پورونو څخه استفاده په هغو پروژو کې چې عواید ونه لري د پروژې د پراخوالي له امله يې د مخارجو تادیه د بودجې له جاري عوایدو څخه امکان نه لري او د اقتصادي مصلحتونو خلاف کار دی لکه دولتي ودانۍ، عمومي پارک او داسې نور چې باید د نویو مالیاتو د ترلاسه کولو پر اساس يې مخارج تادیه شي.

C. **د غیر مترقبه پېښو او جګړې د مصارفو د ورکړې په موخه له پورونو څخه استفاده:** د غیر مترقبه پېښو په موخه له پورونو څخه استفاده لکه د ساري ناروغیو خپرېدل، سیلاب، سوځېدل، زلزله او داسې نور چې دې ډول عوایدو ته اړتیا فردي بڼه هم لري، مجاز ګڼل شوي دي. د جنګ مصارف هم په ځانګړي ډول د جګړې په شروع کې په بېړني لحاظ لکه غیر مترقبه پېښې چې هېڅ مالیاتي سیستم په دې قادر نه دی چې په دومره کم وخت کې د دولت مالي اړتیاوې او د نظامي عملیاتو مصارف پوره کړي.

**ب- د مالي سیاست د اجراء په موخه له پورونو څخه استفاده:**

له پورونو څخه استفاده په اقتصادي شرایطو باندې د تأثیر په موخه په ځانګړي ډول د نړۍ په لوی اقتصادي بحران ۱۹۲۹-۱۹۳۳ز کې له پورونو څخه استفاده د دولتونو زیاته پام وړ وګرځېده. ملي پورونه د مالي سیاست د اجراء لپاره د دولتونو د تر ټولو مهمو وسایلو له جملې څخه دي. مثلاً که دولت و غواړي د پورونو له لارې د بودجې کسر تمویلولی شي چې د نویو پیسو د نشر په نسبت به کم انبساطي تأثیرات ولري.

**هـ- د افغانستان په اقتصاد کې د ملي پورونو او مرستو ونډه:**

افغانستان هم د یو مخ پر ودې هېواد په توګه په ځانګړي ډول د ۱۳۳۵ کال، یعنې د لومړني اقتصادي پلان په پیل کې له بهرنیو مرستو څخه په زیاته اندازه استفاده کړې ده، چې د لومړني پنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلن پلان تطبیق د زیاتو مالي وسایلو غوښتنه کوله چې له داخلي منابعو څخه یې تمویل امکان نه درلود. څرنگه چې په لومړني پنځه کلن پلان کې د دولتي پانگونې مجموعه ۱۰,٦میلیارده افغانیو ته رسېده چې ۷۵٪ یې له بهرنیو هېوادونو څخه د پور او مرستې په بڼه او یوازې ۲۵٪ یې له داخلي منابعو څخه تمویل شوې ده. په دوهم پنځه کلن پلان کې د دولت مجموعي پانگونه ۲۵ میلیارده افغانۍ وه، چې ۷۵٪ د بهرنیو مرستو له لارې تمویل شوې ده. په دریيم پنځه کلن پلان کې د دولت مجموعي پانگونه ۲۰ میلیارده افغانۍ وه، چې په تمویل کې یې د بهرنیو مرستو اندازه د لومړي او دوهم پنځه کلن پلان په پرتله کمه وه. د بهرنیو مرستو د کموالي اساسي علت دا و چې د وخت په تېرېدو سره بهرنیو مرستو خپل شکل او ماهیت له لاسه ورکړ او د پور ورکونکو هېوادونو لپاره یې سوداگریزه بڼه غوره کړه.

څرنگه چې افغانستان د داخلي جگړو په نتیجه کې چې تر۱۳۵۷-۱۳۸۰ کلونو، یعنې د ۲۳ کلونو په دوران کې ډېرې مادي او معنوي خسارې گاللي دي چې مختلفې اقتصادي، اجتماعي او فرهنگي برخې یې نوې جوړولو ته اړتیا درلوده. نړۍ والې ټولنې په سیمه کې د أمنیت د تأمین اهمیت ته په کتو او د سولې او دیموکراسۍ ثبات او له نړۍ څخه د تروریزم او نارکوتېزم (نشه یي توکو) د خطرونو د له منځه وړلو په موخه یې د افغانستان حکومت ته د همکارۍ لاس ورکړ. په ۱۳۸۱ کال کې یې د انتقالي حکومت په ایجاد سره د افغانستان د خلکو د مشکلاتو په حل کې عمده رول ولوبوه. څرنگه چې د ۱۳۸۱ کال په بودجه کې د بهرنیو مرستو ونډه ۸۲,۷٪ ته رسېده او د ۱۳۸۲ کال بودجه ۹۱,۲٪د بهرنیو مرستو پر اساس تمویل شوې وه. د ۱۳۸۳ کال بودجه د ۵۰٪ په شاوخوا کې له بهرنیو منابعو څخه او د ۱۳۸۴ کال بودجه د ۸۲,۲٪ په حدودو کې د بهرنیو مرستو پر اساس تمویل شوې ده، په داسې حال کې چې د ۱۳۸۵ کال په بودجه کې د بهرنیو مرستو ونډه ۷۷٪ او په ۱۳۸٦ کال کې یې ۷۲٪ په پام کې نیول شوی و او د ۱۳۸۷ کال په بودجه کې د بهرنیو مرستو ونډه ٦٦,۲٪ ته رسېده، چې په کلي ډول په نړۍ والو کنفرانسونو لکه د ټوکیو ۲۰۰۲، برلین ۲۰۰۴، لندن۲۰۰٦، پاریس ۲۰۰۸ او یا هم په منفرد ډول ویلی شو، چې نړۍ والې ټولنې د ۲۰۰۹- ۲۰۰۲ پورې له افغانستان سره ٦۲,۰۳۵ میلیارده ډالرو ژمنه کړې وه، چې له هغې جملې ۳۵,۴۵ میلیارده ډالر یې افغانستان ته ورکړي دي. ( ۱۲:۴۴)

د پورته ذکر شویو مرستو زیاته برخه بلاعوضه مرستې تشکیلوي او یوه کمه اندازه یې پورونه دي چې ددغو پورونو شرایط په لاندې ډول دي:

۱. **نړۍ وال بانک:** په یو زیات شمېر پروژو کې یې په مجموعي ډول 611911203$ پور ورکړی.

**د پور شرایط:** د پور سود ۰.۷۵٪، د تعهد شوي سود ۰,۳٪ د بیا ورکړې د وخت پیل ۱۰ کاله او د ختم وخت یې۴۰ کاله دی.

۲.**د آسیا پرمختیایي بانک:** په یو زیات شمېر پروژو کې یې په مجموعي ډول 787295552$ پور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړی.

**د پور شرایط یې:** د پور سود یې ٪۱، د تعهداتو سود یې ٪۰ د بیا ورکړې د وخت پیل ۱۰ کاله او د ختم وخت یې ۴۰ کاله دی.

۳. **اسلامي پرمختیایي بانک:** په دوه پروژو کې یې په مجموعي ډول 29783600$ ډالره پور ورکړی.

**د پور شرایط یې:** د پور سود یې ٪۰ او د بیا ورکړې د وخت پیل ۸ کاله او د ختم وخت یې ۳۰ کاله دی.

۴. **د سعودي پرمختیایي صندوق:** مجموعاً 51998700$ پور ورکړی دی.

**د پور شرایط یې:** د پور سود یې ٪۰ او د بیا ورکړې د مودې پیل یې ۷ کاله او د مودې ختم یې ۲۵ کاله دی.

پورته څلور ډوله پورونه له ۱۳۸۱ څخه د ۱۳۸۵ د قوس تر پایه پورې ورکړل شوي دي، چې له 1480989055$ سره مساوي دي. (۱۰ :۴۳)

۴. **د افغانستان دولت له داخلي او خارجي منابعو څخه ترلاسه شویو عوایدو د بدلون په ۱۳۸۱-۱۳۸۷ کلونو کې:** د عوایدو شتون او د عایداتي منابعو موجودیت د دولتونو د شتون اساس او د هغې د بقاء او دوامداره فعالیت لپاره موقع مساعدوي. د دولتونو د مخ په زیاتېدونکو دندو اجراء او په مختلفو برخو کې د ټولنو د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي اړتیاوو پوره کول ددې غوښتنه کوي ترڅو دولتونه په منظم ډول مصرف کړي او په هره اندازه چې د دولتونو د مخارجو سطحه لوړېږي نو ټولنې ته د ډېر فعالیت او خدماتو د عرضه کولو مفهوم افاده کوي، نو د دولت دندې او د مخارجو زیاتېدل دولتونه عوایدو ته مجبوروي.

له بده مرغه څرنګه چې دوه لسیزو جګړو د افغانستان دولت ته نه جبرانونکې صدمه رسولې، نو عایداتي منابع یې هم له منځه تللي او یا یې کموالی موندلی. نو له ۱۳۸۱ کال څخه تر اوسه د مؤقتې ادارې ایجاد او بیا د انتخابي حکومت جوړښت، دولت د هېواد د مالي وضعیت په برخه کې د نړۍ والې ټولنې همکاري جلب کړه او د هېواد د مالي وضعیت د بهتروالي او د نویو عایداتي منابعو کشف او بالآخره د اقتصادي او اجتماعي چارو د بیا جوړولو په برخه کې یې د نړۍ والې ټولنې مرستې جلب او په تدریج سره یې د هېواد د مالي وضعیت د بهبود لپاره موقع مساعده کړه، چې دغه موضوع تر ۱۳۸۱-۱۳۸۷ کاله پورې د بودیجوي اعدادو او ارقامو د ملاحظې پر اساس بررسي کړل.

الف: **د افغانستان د دولت د مجموعي داخلي عواید مسیر په ۱۳۸۱-۱۳۸۷ کلونو کې (مبلغ په افغانیو):**


(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۱)جدول

| کلونه | له مرستو څخه پرته د دولت مجموعي عواید |
|---|---|
| 1381 | 6,641,356,311 |
| 1382 | 10,351,725,263 |
| 1383 | 12,811,259,592 |
| 1384 | 22,645,588,853.87 |
| 1385 | 25,220,000,000 |
| 1386 | 35,773,000,000 |
| 1387 | 44,375,000,000 |

(۱۳) شکل: له ۱۳۸۱- ۱۳۸۷کاله پورې د دولت د داخلي منابعو مجموعي عواید.




د تېرې صفحې جدول او شکل د هېواد د عوایدو مسیر له ۱۳۸۱-۱۳۸۷ کاله پورې ښکاره کوي چې صعودي مسیر لري، چې په دې موده کې د افغانستان د داخلي عوایدو مقدار له ٦,٦ میلیارده افغانیو (۱۳۸۱) څخه ۴۴,۳۷ میلیارده افغانیو ۱۳۸۷ ته پورته شوی دی.

ب: **په داخلي عوایدو کې د مالیاتو ونډه له۱۳۸۱-** ۱۳۸۷ کاله پورې د دولتي مصارفو د پوره کولو مهم او معمول روش د مالیاتو د ترلاسه کول دي. مالیات د دولت د دندو او مسئولیتونو د اجراء لپاره د خلکو اجباري او قانوني تادیات دي. البته مالیات له اقتصادي منابعو څخه د استفادې په برخه کې د افرادو قدرت چې د خصوصي مصارفو لپاره یې په اختیار کې لري، کموي. له مالیاتي عوایدو څخه د لازمو تولیدي عواملو د اخیستلو لپاره، د عامه اجناسو او خدماتو د عرضه کولو او یا د خلکو ترمنځ د پېرودنې قدرت د وېش لپاره استفاده کېږي. ( ۱ :۷۸)

په افغانستان کې هم مالیات د پخوا وختونو څخه رواج لري، چې د وخت د حکومتونو لخوا له خلکو څخه راټولېدل او د هېواد خلکو هم د خپلو دیني، مذهبي او ملي عقایدو له مخې دغه اجتماعي وجیبه په جنسي یا نقدي، یعني په هر شکل چې یې وجود درلود تادیه کړې ده. (۳:۵۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library




په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان مالیاتي سیستم له دوه عمده برخو څخه تشکیل شوی دی، چې مستقیم او غیر مستقیم مالیات دي، چې هریو يې د ډول او شکل له مخې د تفکیک وړ دي او په کلني ډول دولت د مالیاتو له درکه د عوایدو یو لوی رقم حاصلوي چې د خاص اهمیت لرونکي دي. دلته په داخلي عوایدو کې د مالیاتو د ونډې د وښ لپاره د ۱۳۸۱-۱۳۸۷ کلونو مستندو اعدادو او ارقامو ته مراجعه کوو.

د دولت په مجموعي عوایدو کې د مستقیمو او غیرمستقیمو مالیاتو رول د ۱۳۸۲-۱۳۸۱ پورې:

په مجموعي داخلي عوایدو کې د مستقیمو او غیر مستقیمو مالیاتو ونډه د لاندې شکل لرونکې ده.

(۱۴) شکل له ۱۳۸۲-۱۳۸۷ کاله پورې د مستقیمو او غیر مستقیمو مالیاتو د مجموعي سهم ښودونکی دی.

**(۱۴) شکل: د ۱۳۸۲-۱۳۸۷ کلونو په اوږدو کې د مرستو له پام کې نیولو پرته په ټولو داخلي عوایدو کې د مستقیمو او غیر مستقیمو مالیاتو ونډه**




**ج: په۱۳۸۱- ۱۳۸۸لمریز کلونو کې په اصلي بودجه کې د بهرنیو مرستو ونډه:**


(۱۲) جدول: په اصلي بودجه کې د بهرنیو مرستو ونډه له ۱۳۸۱- ۱۳۸۸لمریز کاله پورې ښکاره کوي.

| ۱۳۸۱ | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٪۷.۸۲ | ٪۲.۹۱ | ٪۵۰ | ٪۲.۸۲ | ٪۸۲ | ٪۷۲ | ٪۲.٦٦ | ٪۲۸.۵۲ |

(۱۵) شکل په اصلي بودجه کې د بهرنیو مرستو ونډه د۱۳۸۱- ۱۳۸۸ کاله پورې ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د هېواد په اصلي بودجه کې د بهرنيو مرستو ونډه په ۱۳۸۱او۱۳۸۲لمريز کلونو کې په ترتيب سره ۲۸,۷٪ او ۹۱,۲٪ وه او په ۱۳۸۳ لمريز کال کې يې نزول کړی چې ۵۰٪ ته راټيټه شوې ده، خو په ۱۳۸۴- ۱۳۸۸ لمريز کلونو کې په منظم ډول نزولي مسير لري. نو بناء بهرنۍ مرستې په وروستيو پنځو کلونو کې په تدريجي ډول کمې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډیز:**

غیر مالیاتي عواید هغه عواید دي چې دولت یې له اقتصادي فعالیتونو او ځینو نورو منابعو څخه چې دولت یې په لاس کې لري د پانگې اچونې له لارې او یا هم هغه اجناس او خدمات چې په اختیاري ډول یې په لاس کې لري ترلاسه کوي. دغه ډول عواید کېدای شي په مختلفو هېوادونو کې مختلف وي، له دا ډول عوایدو څخه په هغه وخت کې گټه اخیستل کېږي چې له مالیاتو څخه لاسته راغلي عواید د بودجې د کسر د له منځه وړلو لپاره بسنه ونه کړي او په داسې حالاتو کې د بودجې کسر پرې تأمینوي.

په ۱۳۸٦ لمریز کال کې د دولت غیر مالیاتي عواید د داخلي ملي عوایدو ۳،۲۲٪ و. د دولت تشبثاتي عواید ددې ډول عوایدو یو ډول دی چې د دولتي تصدیو او همدارنگه هغه اشتراکات چې دولت یې په مختلطو دولتي تصدیو کې لري، ترلاسه کوي چې د هېواد د تولیداتو د حجم په لوړوالي، د استخدام کچې، د مشابه وارداتي اموالو د وارداتو اندازې محدودول او همدارنگه د قېمتو په ثبات کې مهم رول لوبوي.

د پانگه ییزو شتمنیو خرڅلاو او همدارنگه د طبیعي زېرمو خرڅلاو هم د غیر مالیاتي عوایدو یو ډول دی، چې په اوس وخت کې د افغانستان په داخلي عوایدو کې ډېره کمه ونډه لري لکه څرنگه چې په ۱۳۸۳ کال کې د داخلي عوایدو ۰,۳۹٪ یې جوړوله. داسې تمه کېږي چې په راتلونکي کې ددې ډول عوایدو کچه به پرمختګ وکړي او د هېواد له دغو سرشاره طبیعي منابعو څخه د گټې اخیستنې لپاره داسې آسانتیاوې برابرې شي ترڅو د ټولنې هغه ټولې اړتیاوې چې موجودې دي ددغو عوایدو په وسیله رفع شي.

پور اخیستنه د افغانستان په گډون د زیاتو پرمختیایي هېوادونو د مخارجو د تمویل یوه مهمه منبع ده. له معمول سره سم د تاریخ په اوږدو کې زیات هېوادونه د پور ښکار شول، چې لاملونه یې په دې ډول دي: جگړه او نظامي مخارج، د ټولنیزو تعهداتو ترسره کول، د اقتصادي ثبات ترلاسه کول، د بودجې د کسر تأمین، اقتصادي وده، د خارجي پورونو او مرستو د ترلاسه کولو د څرنگوالي په اړه مختلف نظرونه وجود لري. د بودجې کسر کېدای شي د لاندې لارو په مرسته تمویل شي. د مالیاتو زیاتېدل او د دولت د نورو عمومي عوایدو د زیاتوالي له لارې، له خلکو څخه پورونه، له مرکزي بانک او خصوصي بانکونو او همدارنگه له خارجي بانکونو څخه پورونه. له ملي پورونو څخه د دوه موخو لپاره گټه اخیستل کېږي: په عوایدو کې د کموالي پوره کول او د دولت نورې مالي اړتیاوې او د پولي او مالي سیاست د ترسره کولو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱. غیر مالیاتي عواید له کومې لارې څخه ترلاسه کېږي او له مالیاتي عوایدو سره څه توپیر لري؟
۲. د عمده غیرې مالیاتي عوایدو نومونه واخلئ؟
۳. په افغانستان کې غیر مالیاتي عواید د داخلي عمومي عوادو څو فیصده جوړوي؟
۴. دولت تشبثاتي عواید څه ډول ترلاسه کوي؟
۵. د پانګه ییزو شتمنیو او د طبیعي منابعو د خرڅلاو څخه ترلاسه شوي عواید د کومو عوایدو یو ډول دی؟
٦. د طبیعي منابعو د خرڅلاو څخه په ۱۳۸۳ کال کې ترلاسه شویو عوایدو څو فیصده د عمومي عوایدو جوړول؟
۷. د تاریخ په اوږدو کې د هېوادونو د پورنو د زیاتوالي لاملونه کوم دي؟
۸. د خارجي مرستو د اندازه ترلاسه کولو مؤثر لامونه کوم دي؟
۹. د استقراض په اړه د جیمز بوچنان نظر توضېح کړئ؟
۱۰. د بودجې کسر یا د عوایدو کموالی د کومې لارې څخه تأمینېږي؟
۱۱. په ځانګړي ډول د کومو اهدافو لپاره له قرضې څخه استفاده کېږي؟
۱۲. د افغانستان په بودجه کې د بهرنیو مرستو کچه له ۱۳۸۱ -۱۳۸۷ کاله پورې څومره او په کومو فیصدیو وې؟
۱۳. له ۲۰۰۱ کال څخه وروسته بهرنیو مرستو د ورکړې وعده په کوم کنفرانس کې وشوه؟
۱۴,۲۰۰۱ کاله وروسته کومو مؤسساتو او هېوادونو په ټولیز ډول څومره روپۍ افغانستان ته ورکړې؟
۱۵. غیر مستقیم مالیات په ۱۳۸۷ کال کې د دولت په عوایدو کو څو سلنه وو؟
۱٦. د ۸۱ -۸۷ کلونو کې مستقیمو مالیاتو څه ډول لوری لري؟
۱۷. غیر مستقیمو مالیاتو د ۸۱-۸۷ پورې څه ډول لوری لري؟
۱۸. بهرنیو مرستنهو له ۱۳۸۲-۱۳۸۷ پورې څه ډول لوری لرلی دی؟

**ماخذونه:**

۱. حقایقی، عبدالله. (۱۳۸۱) سیاست بودیجه، مطبعه بهیر، کابل.
۲. رولف هاسه. هیرمن شنایدر. (۱۳۸٦) فرهنگ اقتصاد بازار با اصول اجتماعی. ترجمه دکتور حمیدالله نور عباد و دوکتور بهبود، کابل.
۳. عارف، عبدالقیوم. (۱۳۸۷) ضرورت قرضه و کمک ها به حیث یک منبع عاید. مجله علمی پوهنتون کابل، شماره دوم سال ۱۳۸۷.
۴. صمیمی، جعفری.(۱۳۸۵) اقتصاد بخش عمومی (۱) چاپ مهر (قم)، تهران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. کلتر، گروسی. ( ۱۳۸۲) علم مالیات عامه یا دولتی. ترجمه محمد نبی رفیع ۱۳۸۲، مطبعه والن، کابل.

٦. منکیو، گریگوری. (۱۳۸۷) مبانی علم اقتصاد ترجمه حمید رضا ارباب، نشر نی، تهران

۷. مقیم، جواد پور. (۱۳۸۷) اقتصاد بخش عمومی، نشر نی، تهران.

۸. وزارت مالیه. (۱۳۸۳) ریاست بودجه، بودجه ملی افغانستان سال ۱۳۸۳، کابل.

۹. وزارت مالیه. (۱۳۸۵) ریاست بودجه، بودجه ملی افغانستان سال ۱۳۸۵، کابل.

۱۰. وزارت مالیه. (۱۳۸٦) ریاست بودجه، بودجه ملی افغانستان سال ۱۳۸۵، کابل.

۱۱. وزارت اقتصاد. (۱۳۸۸) معلومات ریاست ANDS سال. ۱۳۸۸.

۱۲. وزارت مالیه. ( ۱۳۸۸) بودجه سال ۱۳۸۸، کابل.

۱۳. وزارت مالیه. (۱۳۸۷) ریاست بودجه. بودجه ملی افغانستان سال ۱۳۸۷، کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم څپرکی

# د دولت مخارج

د دولت مخارج د دولت د اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي سیاستونو منعکس کوونکي دي یا په بله وینا د عامه مخارجو څخه د عامه دندو د ترسره کولو په موخه استفاده کېږي. ددې لپاره تصمیم نیونه چې کوم اجناس او خدمات، په کوم مقدار او کیفیت او د چا لپاره تولید شي د دولت د مصارفو د هغو صورت حسابونو له لارې چې د مختلفو دندو او سیاستونو د اجراء لپاره ترسره کېږي، روښانه کېږي. ددې ډول مصارفو ترسره کول یو لړ منابع متأثره کوي او هم د عوایدو وېش ته تغییر ورکوي. په اقتصادي سیستم باندې د دولتي تصامیمو د تأثیر مفهوم په کافي اندازه پراخ دی، چې دغه موضوع په دوه برخو کې له یو بل څخه د تفکیک وړ ده. (۱:۲۷۱)

**الف**- هغه تصامیم چې د اجناسو او خدماتو د برابرولو لپاره د مخارجو په ترسره کولو او یا د عوایدو په انتقال باندې تمامېږي، چې دغه د مصارفو د لویو اقلامو له جملې څخه شمېرل کېږي او د دولت په بودجه کې په انفرادي یا جمعي ډول څرګندېږي، یعنې هغه ارقام چې د عمومي صورت حساب په برخه کې درج کېږي.

**ب**- دولتونه د اقتصادي، سیاسي او فرهنګي چارو د نظارت او ادارې لپاره قوانین او مقررات وضع کوي چې د عامه اقتصاد لپاره د پام وړ مخارج نه لري لکه په مختلفو برخو کې د دولت د سیاستونو تطبیق او قانونګذاري. (۲:۳۶۹) خو دغه تصامیم په خصوصي برخه باندې عمده او د پام وړ تأثیرات لري. د مثال په توګه دولت کولای شي چې د مقرراتو په وضع کولو سره مېلمستونونه او د خوراکي موادو د تهیې او خرڅلاو ځایونه د چاپېریال ساتنې لپاره د یو ټاکلي حد په رعایتولو مؤظف کوي، چې دغه تصامیم د دولت لپاره د پام وړ مخارج نه لري، خو په پورته ذکر شویو برخو باندې د پام وړ مخارج قبلوي، چې دغه مخارج به د خصوصي برخې د منابعو په تخصیص او د عوایدو په وېش تأثیر ولري.

**۱. په تاریخي لحاظ دولتي مخارجو ته کتنه:**

مالي علم زیات وخت د دولت مخارج په ضمني ډول څېړلي، چې د هغې په کتنو او څېړنو کې د وسایلو د تهیې (د دولت عواید) ډېر مسایل شامل دي او په دې ترتیب د دولت د مالي اقتصاد په چوکاټ کې مالیاتي نظریاتو ته پام شوی دی. څرنګه چې د دولت د مخارجو تأثیرات پخوا هم موجود وو او د وخت په تېرېدو سره دغه موضوع ډېره د پام وړ وګرځېده او اوس د دولتي مخارجو تأثیرات په فردي او مجموعي اقتصاد باندې د مالي علم یو مهم بحث تشکیلوي.

د مرکانتلستانو یا سوداګرو مکتب په دې نظر و چې دولتي مخارج د اقتصادي مؤلدیت په لوړولو کې ډېره ونډه لري. له همدې امله و چې مرکانتلستان په اقتصادي چارو کې د دولت د قوي او هر اړخیزې مداخلې طرفدار وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلاسیکو اقتصادپوهانو په ځانګړي ډول ریکارډو هم د دولت د مخارجو په هکله نظریات وړاندې کړي دي، چې د دوی نظریات د مرکانتلستانو پر خلاف دي. دوی د دولت مخارج استهلاکي او غیر مؤلد (په مستقیم ډول) ګڼي او په دې عقیده دي چې د دولت استهلاکي مخارج په اقتصاد کې رفاه محدودوي. په دې برخه کې د دوی استدلال دادی چې مالي او پولي وسایل باید د مؤلدو کارونو لپاره په اقتصاد کې په کار واچول شي. نو کله چې دولت په اقتصاد کې خپل مخارج لوړ کړي نو دولت مجبور دی چې د اړتیا وړ مالي او پولي وسایل د مالیاتو له لارې له افرادو څخه ترلاسه کړي. نو څرنګه چې افراد د ذکر شویو وسایلو په پکار اچولو سره په اقتصاد کې د تولید په لوړوالي کې ونډه لري، په داسې حال کې چې دولت یې د استهلاکي چارو لپاره په کار اچوي. نو په دې ډول د اجتماعي محصول د کموالي سبب ګرځي او په نتیجه کې په اقتصاد کې د رفاه د محدوېدو سبب ګرځي. نو پردې اساس کلاسیکانو د دولت دندې ډېرې محدودې او په ځانګړي ډول یې د هېواد په نظامي او أمنیتي چارو پورې محدودې ګڼلې. اوس د کلاسیکانو دغه نظریات رد شوی دی. ځکه چې د دولت مصارف یوازې استهلاکي او غیر مؤلده بڼه نه لري، بلکې په مستقیم ډول مثلاً په دولتي تصدیو او شرکتونو کې د اجناسو او خدماتو تولید مستقیماً د اجناسو او خدماتو د تولید د لوړوالي سبب ګرځي او یا په غیر مستقیم ډول مثلاً په زېربنائي چارو کې د دولت مخارج. دغه مخارج مؤلده بڼه لري. نو پردې اساس د هېواد په داخل کې د رفاه د لوړوالي سبب ګرځي.

په ۱۹ پېړۍ کې د کلاسیکو علماوو د نظریاتو یو اړخیزوالي یو زیات شمېر مؤلفین دېته وهڅول چې د دولتي اقتصاد او د بازار د تبادلوي اقتصاد ترمنځ رابطه تر څېړنې لاندې ونیسي.

لورنس فون شتین او شیفلي د هغو کسانو له جملې څخه دي، چې د دولتي مصارفو مؤلدوالی تاییدوي. دې ډول څېړنو تر۱۹۲۰ کاله پورې دوام درلود او کولم هڅه وکړه چې د دولت د مصارفو هغه تأثیرات تر څېړنې لاندې ونیسي، چې په اقتصاد باندې یې لري. په دې برخه کې د آنګلوساکسون منابع د نړۍ د اقتصادي بحران د تأثیراتو لاندې د۱۹۳۰ز کال په شاوخوا او همدارنګه د کېنز اقتصادي نظریات منځته راغلل، چې د هغه پر اساس د دولتي مصارفو تأثیرات د استخدام په سطحه باندې ووه. د وخت په تېرېدو سره د اقتصادي ودې د نویو تیوریګانو ترمنځ ورځ تر بلې د روابطو د زیاتوالي پر اساس او د دولتي پانګونو عایداتي او ظرفیتي تأثیرات د پام وړ وګرځېدل  او د دولتي مصارفو اهمیت په سرعت سره زیات شو.

**۲. د دولت د مخارجو ماهیت او مشخصات:**

دولت د خپلو مصرفي فعالیتونو په واسطه خپل عواید ټاکلو اهدافو ته سوق کوي. څرنګه چې دولت ددغو فعالیتونو په واسطه د اجتماعي محصول یوه برخه د ټاکلو او مشخصو اهدافو د تحقق لپاره په کار اچوي. نو باید دغه مخارج په ملي اقتصاد کې ګټورتوب هم منځ ته راوړي. د دولت مخارج هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت جواز لري چې په اقتصاد کې د مجدد مؤلديت د تأثيراتو لرونکی وي، په دې معنا چې په ملي اقتصاد کې د توليدي قدرت د لوړوالي پر اساس بايد د دولت د بعدي عوايدو د منځ ته راتلو لپاره موقع مساعده شي. څرنګه چې د دولت د مخارجو يوه د پام وړ برخه د غير مادي شيانو (د معنوي اړتياوو پوره کول) د توليد لپاره په کار اچول کېږي. نو د مجدد مؤلديت د مقدار او کميت په اړه قضاوت ستونزمن دی. نو له دې امله په عمومي ډول د دولت د مخارجو پر اساس مجدد مؤلديت د دولت د مخارجو د ترسره کولو لپاره د يو دليل په توګه په پام کې نه نيول کېږي مثلاً په عمل کي ډېره ستونزمنه ده ترڅو د دولت د مخارجو مجدد مؤلديت په عملي او تخقيقاتي چارو کې مخکې له مخکې په مقداري ډول پېشبيني او وټاکو لېکن ددغه عمل يا مخارجو په ګټورتوب کې هېڅ شک نشته. نو په عمومي ډول ويلی شو چې دغه ډول مخارج په اقتصاد کې د توليد په لوړولو کې مهمه ونډه لري او په دې ترتيب مجدد توليدونکي تأثيرات هم واردوي. په لومړۍ مرحله کې د دولت د مصارفو موخه داده ترڅو د هغه په واسطه د اړتيا وړ اجناس او خدمات توليد او تهيه شي، چې د دولتي يا عامه اجناسو په نوم يادېږي او د خصوصي اجناسو په مقابل کې قرار لري. دلته په خصوصي اجناسو کې هغه اجناس شامل دي چې د بازار اقتصاد په نظام کې د بازار له لارې د يو قېمت په مقابل کې لاس ته راځي. په داسې حال کې چې عامه اجناس په بازار کې د معاملې قابليت نه لري او له قېمت څخه پرته ټولو خلکو ته د استفادې په عرض وړاندې کېږي. ددې ډول تأسيساتو مثال چې د خلکو دغه ډول اړتياوې د قېمت له تاديې پرته پوره کوي، دولتي عام المنفعه مؤسسات دي. څرنګه چې د دولتي او خصوصي اجناسو په هکله مو خبرې وکړې نو دا بايد تشخيص کړو چې ددغو دوه کتګوريو اجناسو ترمنځ د توپير کوم اساسي علايم موجود دي. په دولتي او خصوصي شيانو باندې د اجناسو وېش د هغوی په ماهيت پورې اړه نه لري، بلکې د اجناسو د استعمال په ډول او طرز پورې اړه لري يا په دې معنا که چېرې يو شی په يوه دولتي تصدۍ کې توليد شي او يوې عام المنفعه مؤسسې ته ورکړل شي، نو په دې صورت کې تر هغه وخته پورې چې له يادو اجناسو څخه ټول خلک د يو ډول استفادې حق ولري، نو يو دولتي شی دی او که چېر ته ذکر شوی شی د باراز له لارې خرڅېږي او خصوصي اشخاص ترې استفاده وکړي نو په دې صورت کې ياد شی خصوصي دی.

هغه اجناس او خدمات چې دولت يې په مقابل کې پيسې اخلي مثلاً روغتيايي خدمات چې په افغانستان کې ځينې د فيس په مقابل کې ترسره کېږي، چې دولتي هم دي خو له خصوصي اجناسو او خدماتو سره يې توپير دادی چې ددغو خدماتو فيس ډېر ناچيز دی، چې د بازار له قېمت سره يو معادل قېمت نه دی او له هغه څخه د استفادې موخه داده چې ټول خلک له هغه څخه د استفادې حق ولري او همدارنګه يو شی په دايمي ډول دولتي يا خصوصي نه وي، بلکې له هغې څخه د استفادې موخه د هغه دولتي والی يا خصوصي والی ټاکي، چې له خصوصي څخه يې دولتي ته د انتقال امکان شته. نو له پورته مثال څخه څرګندېږي، چې يو شی ذاتاً او ماهيتاً يو دولتي يا خصوصي شی نه شي کېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د تل لپاره یو شی خصوصي یا دولتي پاته شي، بلکې د استعمال د ډول په اړه یې د نړۍ مختلفو هېوادونو ته یو نظر اچوو. لیدل کېږي چې یو ټاکلی احتیاج مثلاً د روغتیایي خدماتو ترسره کول او د ښوونې او روزنې خدمات په یوه مملکت کې په وړیا ډول وي چې د دولت له لوري نورو ممالکو ته او خصوصاً په پرمختللو صنعتي هېوادونو د ښوونې او روزنې او روغتیایي چارو یوه برخه په خصوصي اشخاصو یا مؤسساتو پورې اړه لري او د دولت له لوري د محصول د ترلاسه کولو په مقابل کې د خصوصي اشخاصو په واک کې ورکول کېږي.

اوس ددې موضوع په اړه چې کومه پوښتنه مطرح کېږي، هغه داده چې ولې یو لړ ټاکلي او مشخص عامه احتیاجات چې د اجناسو او خدماتو په واسطه رفع کېږي یوازې په دولت پورې محدود او منحصر دي او خصوصي اشخاصو ته سپارل کېدای نه شي لکه د نظامي خدماتو ترسره کول، د اقتصادي زېربناوو جوړول او داسې نور د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د دولت په انحصار کې قرار لري.

ددې پوښتنې د ځواب لپاره ډېر دلایل وجود لري چې مهم یې په دې ډول دي: (۵:۱۰۲)

a. اصلاً د حقوقي او سیاسي اصولو پر اساس دولت نه حاضرېږي ترڅو د خصوصي اشخاصو یا مؤسساتو تشبثاتو ته په دې ډول ساحه کې اجازه ورکړي چې په واسطه یې د هېواد أمنیتي وضع له خطر سره مخ شي، چې دغه مثال د أمنیتي او نظامي خدماتو لپاره صدق کوي.

b. خصوصي اشخاص او مؤسسات د هغو فعالیتونو یا اهدافو په تعقیب کې زیاته علاقه مندي ښیي چې شخصي گټې یې پکې تأمین شي.

c. څرنگه چې اکثره عام المنفعه مؤسسات دغه ډول مزیت نه لري نو له دې امله خصوصي اشخاص او مؤسسات اصلاً دېته نه حاضرېږي چې په دغو ساحو کې تشبث او پانگونه وکړي چې په اقتصادي زېربناوو کې په پانگونه باندې د دولت لخوا هېڅ ډول ممانعت وجود نه لري، خو خصوصي اشخاص او مؤسسات پخپله په دغو ساحو کي پانگونه نه کوي.

d. یو بل عمده او اساسي دلیل یې دادی چې عامه یا دولتي اجناس د وېش وړ نه دي، په دې معنا چې له دغو اجناسو او خدماتو څخه ټول خلک یو شان د استفادې حق لري په داسې حال کې که چېرته د پولیسو د دستگاه یوه برخه خصوصي افرادو ته ورکړل شي نو په دې صورت کې به خصوصي افراد د هغو کسانو لپاره أمنیتي خدمات ترسره کوي، چې په مقابل کې یې پیسې ورکوي او کوم اشخاص چې پیسې نه تادیه کوي نو له دغو خدماتو له استفادې څخه به محرومېږي له بلې خوا افراد هم دېته نه حاضرېږي چې ددې ډول أمنیتي خدماتو په مقابل پیسې ورکړي. ځکه چې دغه دنده د دولت لخوا ورته په وړیا ډول وړاندې کېږي. نو ددې ډول مخارجو د نه تمویل پر اساس خصوصي اشخاص او مؤسسات دغه ډول خدمات نه شي ترسره کولای. ځکه دولت کولای شي دغه ډول مخارج له خپل قدرت څخه په استفادې تمویل کړي او له خلکو څخه په اجباري ډول مالیات ترلاسه کړي. په داسې حال کې چې خصوصي اشخاص او مؤسسات دا ډول قدرت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. نو له دې امله خصوصي اشخاص او مؤسسات هېڅکله نه حاضرېږي ترڅو دغه ډول دندې او خدمات ترسره کړي. له همدې امله د هر ډول ټاکلو عامه احتیاجاتو پوره کول د یو دولت لومړنۍ او اساسي دنده ګڼل کېږي. حتی کلاسیک او لېبرال اقتصادپوهان چې په اقتصادي چارو کې یې د دولت مداخله مضره بلله، خو د أمنیتي او نظامي خدماتو ترسره کول یې د دولت دندې شمېرلې، چې وروسته مجبور شول د اقتصادي زېربناوو په چارو کې د دولت د فعالیت لپاره اجازه ورکړي، ځکه چې له اقتصادي زېربناوو څخه پرته په یوه هېواد کې اقتصادي پرمختګ ممکن نه دی او خصوصي اشخاص هم د پورته یادو شویو شرایطو پر اساس په دې ساحه کې پانګونه نه شي کولای. نو دولت مجبور دی ترڅو خپلې دندې ترسره کړي.

**۳. د عامه مخارجو جوړښت:**

د عامه اقتصاد په عمومي مصارفو کې په مختلفو سطحو کې د دولت ټول مصارف او فعالیتونه شامل دي. په عامه اقتصاد کې د عمومي مصارفو وېشنې په بېلابېلو طریقو ترسره شوی دي، چې ددغو روشونو له جملې څخه د یو روش پر اساس په درې ګروپونو وېشل کېږي: جاري مخارج، پانګه ییز مخارج او انتقالي مخارج. (۴:۱۰)

**الف- جاري مخارج:** د دولت د جاري او پانګه ییزو مخارجو مجموعه په اصطلاح کې د دولت د پېرودنې په نوم یادېږي. د دولت جاري مخارج په حقیقت کې هغه مخارج دي چې په کلي ډول په جاري وخت کې ګټورتوب ایجادوي. ددې ډول مخارجو ګټې په راتلونکې وخت کې ګټورتوب نه ایجادوي. ددې ډول مخارجو ګټې په راتلونکي وخت پورې اړه نه لري او کولای شو د دولت مصرفي مخارج ورته ووایو. ددې ډول مخارجو له جملې څخه د دولتي کار کوونکو مزد او معاش تادیه کېږي، چې کولای شي د دولت د دندو په خصوصیاتو او اقتصادي ثبات کې د پام وړ رول ولوبوي یا په بله وینا د جاري مخارجو هدف د عادي او ورځنیو کارونو ترسره کول، له موجوده امکاناتو او ظرفیتونو څخه ګټه اخیستنه او د هغوی ساتنه او څارنه او د سازمان اداره کول دي. ددغو مخارجو هدف پانګونه او د ثابتې شتمنۍ ایجاد نه دی. (٦ :۱۴۹)

جاري مخارج د وخت په لحاظ په دومداره توګه وجود لري، یعنې ترڅو چې سازمان وجود ولري او فعالیت ترسره کوي نو دغه مخارج به موجود وي. له همدې امله جاري مخارج په پرسونلي او غیر پرسونلي مخارجو وېشل شوي دي، چې پرسونلي مخارج د سازمان د عادي کارونو د ترسره کولو لپاره د کار کوونکو حقوق او مزایاوې دي او د اوبو، برېښنا، د سوځېدو مخارج د کار کوونکو د حقوقو او مزایاوو لپاره د دستګاه د جاري چارو د ترسره کولو لپاره د اداري ودانیو ساتنه او جوړول، غیر پرسونلي مخارج دي.

**ب- پانګه ییز مخارج یا د دولت پانګونې:** په حقیقت کې هغه مخارج دي چې په راتلونکي کې د عاید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایجاد سبب ګرځي یا په بله وینا د دولت لپاره لازمه ده، ترڅو د اقتصادي دندو او مسئولیتونو د ترسره کولو لپاره په پانګونه باندې ډول ډول مصارف وکړي، البته په هغه ډول چې په راتلونکي کې ترې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول عاید ترلاسه شي. په دغو پانګونو کې ماشین آلات، ودانۍ، تحقیقي پروژې او مختلفې عمراني طرحې او داسې نور شامل دي چې له ډېرو څخه په راتلونکي کې ګټه ترلاسه کېږي.

پانګه ییز تادیات د ثابتو شتمنیو د ایجاد لپاره ترسره کېږي. دغه ډول تادیات باید د جاري چارو لپاره ترسره نه شي. په زماني لحاظ دغه ډول تادیات دوامداره نه وي، بلکې د پانګونې په پیل سره پیل او ختمېدو سره یې ختمېږي.

**ج- انتقالي مخارج:** هغه مخارج دي چې د کالیو د تولید او یا د خدماتو له عرضه کولو سره ارتباط نه لري، بلکې په یو اړخیز ډول د دولت لخوا مختلفو افرادو او واحدونو ته تادیه کېږي. بلاعوضه مرستې او ډول ډول سبسایډي ګانې په دې ډله کې شاملې دي. دغه مصارف په ناخالص ملي تولید کې نه شمېرل کېږي خو د تصرف وړ عاید په محاسبه کې شمېرل کېږي. نو له همدې امله کله چې دغه مخارج زیات شي نو یو بېړنی تأثیر یې د ټولنې د مصارفو زیاتوالی دی. انتقالي مخارج او په هغې پورې مربوط مختلف سیاستونه کولای شي چې له دولت سره د عواید د وېش په دنده کې مرسته وکړي. (۱۰:۳۰)

د پورته یادو شویو خصوصیاتو په پام کې نیولو سره باید یادونه وکړو، چې د اقتصادي تأثیراتو له نظره د دولت مختلف مخارج یو شان نه وي، چې د دولت د جاري مخارجو زیاتوالی په بېړني ډول د ټولنې د مجموعي تقاضا د زیاتوالي سبب ګرځي. له دې پرته چې په عرضه باندې تأثیر وکړي. له بلې خوا د پانګه ییزو مخارجو زیاتېدل مجموعي تقاضا زیاتوي او په راتلونکي کې عاید ترې لاس ته راتلی شي او د مجموعي عرضې په تغییر کې به هم مؤثر واقع شي.

**۴. د عامه مخارجو د طبقه بندۍ ډولونه:**

**الف- د دولت د دندو پر اساس طبقه بندي:** آدم سمېت عمومي مخارج د دولت د وظایفو پر اساس داسې طبقه بندي کوي. نوموړی په دې عقیده و، چې دولت باید څلور مهمې دندې ترسره کړي چې په لاندې ډول دي:

۱. د قانون او نظم تطبیق

۲. عدالت

۳. د عمومي سهولتونو ایجاد

۴. حاکمیت

نو په دې ډول عمومي مصارف باید ددغو مختلفو دندو پر اساس طبقه بندي شي. ددې ډول طبقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندي يوه ښېګڼه داده چې کولای شو په مختلفو هېوادونو کې عمومي مصارف له يو بل سره مقايسه کړو. اوس د دولتونو لپاره يو زيات شمېر دندې اټکل شوي دي چې د آدم سمېت له نظره يې د مخارجو طبقه بندي ډېره مشکله ده.

په افغانستان کې وروسته له ۱۳۸۳ کال څخه وروسته د عمومي مخارجو ددغې طبقه بندي په پام کې نيولو او د افغانستان له ملي پرمختيايي ستراتيژۍ سره په مطابقت کې اته ۸ سکتورنه وټاکل شول چې په لاندې ډول دي:

۱. أمنيت

۲. حکومتولي، د قانون حاکميت او د بشر حقوق

۳. طبيعي منابع او زېربناء

۴. معارف

۵. روغتيا

٦. کرهنه او د کليو پراختيا

۷. ټولنيز مصئونيت

۸. اقتصادي مديريت او د خصوصي سکتور پراختيا

**ب- د مختلفو سازمانونو پر اساس طبقه بندي:** دولت د مختلفو سازمانونو د اداره کولو مسئوليت په غاړه لري. د کرهنې، دفاع، کورنيو چارو، ماليې او اقتصاد وزارت او داسې نور د سازمانونو له جملې څخه دي. د مخارجو ددغې طبقه بندۍ پر اساس په هر سازمان پورې مربوط مصارف په جلا توګه بررسي کېږي. په افغانستان کې د دولت د مخارجو دغه ډول طبقه بندي اوږده سابقه لري او هر وزارت د مستقلې بودجې لرونکی دی.

**ج- د اجباري او اختياري مخارجو پر اساس طبقه بندي:** دغه ډول طبقه بندي د مخارجو د طبيعت د (اجباري والي يا اختياري والي) پر بنسټ ولاړه ده. د مثال په توګه د دفاعي چارو، محاکمو، قانون ګذارۍ سيستم او د پوليسو مخارج اجباري دي، خو د اجتماعي سيستم په تأمين پورې مربوط مخارج لکه تقاعد، روغتيايي چارې او داسې نور اختياري دي او د طبقه بندۍ دغې تګلارې ته د عمومي مخارجو لومړنۍ او ثانوي طبقه بندي هم وايي. د پام وړ تکی دادی چې اوس د اختياري مخارجو يوه برخه د هغې د اهميت له امله د اجباري مخارجو له ډولونو څخه شمېرل کېږي لکه له ړندو، د پاخه عمر کسانو، معلولو او داسې نورو افرادو سره مالي مرسته چې په اجتماعي سيستم پورې اړه لري خو د اجباري مخارجو يوه برخه ده.

**د- د انتقال او نه انتقال پر اساس د مخارجو طبقه بندي:** پيګو عمومي مخارج پردې اساس طبقه بندي کړي، چې آيا له دغو مخارجو څخه د کاليو او خدماتو لپاره استفاده کېدای شي که نه؟ کوم وخت چې عمومي مخارج د کاليو او خدماتو په اخيستلو پورې تړاو ولري نو غير انتقالي مخارج ورته وايي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د کالیو او خدماتو په اخیستلو پورې تړاو ونه لري نو د انتقالي مخارجو په نوم یادېږي. د خامو موادو د اخیستلو لپاره تادیات، دفاعي مخارج، د کار کوونکو مزد او حقوق، ښوونه او روزنه او داسې نور د غیر انتقالي مخارجو له ډلې څخه دي. په داسې حال کې چې بیمه، د تقاعد حقوق، مختلفې روغتیایي سبسایډي ګانې او داسې نور مخارج د انتقالي مخارجو په نوم یادېږي. همدارنګه د دولت عمومي مخارج د راتلونکو ساختمانونو په بڼه څرګندېږي.

a. د دولت د مخارجو یوه برخه په هر هېواد کې د اجناسو او خدماتو د تولید لپاره کارول کېږي او دولت تولید شوي اجناس او خدمات د راتلونکي استفادې په موخه افرادو او مؤسساتو ته په واک کې ورکوي.

۱. دولت تولید شوي اجناس او خدمات د یو قېمت د ترلاسه کولو او د محصول په مقابل کې عرضه کوي. د هغو اجناسو او خدماتو د خرڅلاو له جملې څخه چې دولت یې د خپلو تصدیو په واسطه تولید او برابروي او ټاکلې اداري شعبې د ټاکلو چارو د ترسره کولو لپاره محصول ترلاسه کوي.

۲. هغه اجناس او خدمات چې دولت یې تولیدوي چې هغه د استفاده کوونکو لپاره په وړیا ډول وړاندې کېږي او دغه اجناس او خدمات په هر هېواد کې له یو بل سره توپیر لري.

۳. دولت د تولید شویو اجناسو یوه برخه د خپل شخصي مصرف لپاره ساتي.

B. دولت د مخارجو یوه بله برخه د خپلو مکلفیتونو لپاره بهر ته تادیه کوي. په دغو مخارجو کې له بهرنیو هېوادونو او نړۍ والو مؤسساتو څخه/ته پورونه شامل دي.

C. د دولت د مخارجو یو بله برخه له متقابلو اقتصادي خدماتو څخه پرته د ملي اقتصاد په داخل کې مصرفېږي. د تعاوني مخارجو په اړه چې اوسمهال کومه پوښتنه رامنځ ته کېږي هغه داده چې د پورتنیو مخارجو له جملې څخه کوم یو د ملي قتصاد لپاره د حقیقي مصارفو بڼه لري.

د پورتنیو مخارجو له جملې څخه دوه ډوله یې د (a-۳) او b مصارف په حقیقي مخارجو کې راځي. ځکه چې دولت ددې ډول مخارجو په واسطه د اجتماعي محصول یوه برخه په خپله مصرفوي او د ملي عاید یوه برخه بهرنیو هېوادونو ته انتقالوي لکه بهرنیو هېوادونو او مؤسساتو ته د سود ورکړه او بلا عوضه مرستې د پورتنیو مصارفو پاته اقلام یا تولیدي مصارف مثلاً هغه مصارف چې په (a-1) کې شامل دي او یا له یو شمېر اشخاصو څخه نورو اشخاصو ته د اجناسو او خدماتو انتقال ښیي او په دې ډول د ملي اقتصاد په داخل کې د اجناسو او عوایدو مجدد وېش ښکاره کوي. ددې ډول مخارجو مثالونه هغه مخارج دي کوم چې په (a-2) او c کې شامل دي. حقیقي مخارج د استهلاکي مخارجو په نوم هم یادېږي. په اقتصادي مفهوم سره تولیدی مخارج مصرف نه دی او د پانګونې او تصدیو له مخارجو سره نږدېوالی ښیي، ځکه په دې صورت کې د دولت پانګه ییز وسایل داسې بڼه بدلوي چې په راتلونکي کې په یو نه یو شکل دولت ته د پانګې په بڼه جریان پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵. د دولت د مخارجو انکشاف:**

د یو دولت د مالي اقتصاد ساحه په عمومي ډول د هغې د مختلفو مصارفو د حجم او اندازې له مخې مشخص کېږي. په یوه هېواد کې د دولت د نسبي فعالیتونو اندازه هغه وخت څرګندېدلی شي چې د دولت د مخارجو اندازه د ملي اقتصاد له مجموعي کمیتونو سره مقایسه شي مثلاً د دولت د مخارجو او د ملي عاید ترمنځ نسبت او یا د دولت د مخارجو او د نفوسو د شمېر ترمنځ د لومړي صورت په پرتله، یعنې کله چې د دولت مخارجو ته له ملي عاید سره نسبت ورکړل شي. نو له دې څخه څرګندېږي چې د دولت مصارف د ملي عاید څو فیصده تشکیلوي. له دوهمې مقایسې څخه څرګندېږي، چې د دولت د مخارجو مقدار في نفر ته څو روپۍ دی. هر کله چې د دولت د مصارفو د پراختیا لپاره دغه ډول طرز تطبیق شي نو د دولت د مخارجو د نسبي پراختیا خبرې کېږي. د دولت د مخارجو د نسبي پراختیا په مقابل کې د دولت د مخارجو مطلقه پراختیا وجود لري، چې د دولت د مخارجو زیاتېدل د وخت له نظره په اسمي ډول، یعنې واحدونو ته د هر هېواد پیسې ورښودل کېږي او د زیاتوالي علت یې لټوي.

په یو هېواد کې چې تقریباً د مجموعي اقتصاد د تولیداتو او خدماتو تهیه د دولت په اختیار کې وي نو تقریباً د دولت د مصارفو مقدار د اجتماعي محصول له مقدار سره مساوي وي. نو ځکه په دې اقتصادي سیستم کې ځانګړی ملکیت په تولیدي وسایلو کې موجود نه دی. نو په دې ډول د دولت ټول اقتصادي پلانونه د دولت د بودجې پر اساس تمویلېږي، چې په دې صورت کې طبعاً د دولت مصارف له ملي عاید سره مساوي وي. د دولت دغه ډول مالي اقتصاد د مرکزي پلان په اقتصاد کې موجود دی او کله چې په یوه هېواد کې د عامه سکتور ترڅنګ خصوصي سکتور هم موجود وي او د دولتي سکتور په پرتله د اجتماعي محصول په تولید کې مهم رول ولري، چې په دې ډول اقتصاد کې د دولت مالي اقتصاد یوازې د اجتماعي محصول یوه ټاکلې برخه تشکیلوي مثلاً د آزاد بازار په اقتصادي سیستم کې تراوسه پورې د اجتماعي محصول په تولید کې د دولت په پرتله د خصوصي اقتصاد ونډه زیاته ده.

څرنګه چې تجربوي څېړنې او احصائیوي ارقام څرګندوي چې د دولت د فعالیتونه او مصارفو په نتیجه کې یوه مطلقه او نسبي پراختیا خصوصاً په دې وروستیو پېړیو کې په مختلفو هېوادونو کې په مختلفه اندازه ښودل کېږي. کله چې د دولت د فعالیتونو په زیاتوالي خبرې کېږي نو له دې څخه باید داسې مفهوم وانخیستل شي چې ګواکې دولت هر وخت ډېرې پیسې لګوي، بلکې دا معنا لري چې د مجموعي اقتصاد په فعالیتونو کې د دولت ونډه زیاته شوې ده چې د نړۍ په لویو صنعتي هېوادونو لکه امریکا، انګلستان او آلمان کې د دولت مصارف د وروستۍ پېړۍ په نیمایي کې ددې څرګندونه کوي چې د دولت مصارف تل او په دوامداره ډول نه دي شوي او ځینې وخت په خپل حال پاته شوي او ځینې وخت حتی کم شوي هم دي او ځینې وخت په سرعت سره زیات شوي هم دي. د دولتونو د مصارفو د زیاتوالي او یا کموالي علت د یو هېواد په داخل کې د وخت او زمان د اقتصادي او اجتماعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرایطو تابع دی مثلاً د دولت مصارف د چټکې اقتصادي پرمختیا په دورو کې، یعنې له دوهم نړۍ والې جګړې څخه وروسته د دولت مصارف د اقتصادي بحران او رکود د دورو په پرتله ورو ورو زیات شوي دي. ځکه چې په عادي حالت او د اقتصادي رونق په حالاتو کې د خصوصي پانګونې چانس ډېر وي او په دې ډول د دولت دندې او مخارج کمېږي لکه د پانګونې او استخدام مخارج چې د اقتصادي رونق په حالت کم او د بحران په حالت کې زیاتېږي.

د دولت د مخارجو له جملې څخه د استخدام او دولتي پانګونې لپاره د دولت مخارج چې د اقتصادي بحران او رکود په حالت کې زیاتېږي او په نتیجه کې د دولت د مخارجو د زیاتوالي سبب ګرځي. د دولت د مخارجو د مطلقې او نسبي پراختیا موضوع د ادولف واګنر له وخته تر څېړنې لاندې ده. اوس د دولت د مصارفو د مطلق او نسبي انکشاف موضوع د وضاحت لپاره په غربي صنعتي هېوادونو د دولت مخارجو ته کتنه کوو او وریسې په افغانستان کې دغه انکشاف ته پام اړول کېږي.

(۱۳) جدول: له ۱۹۶۳-۱۹۱۳ په آلمان کې د دولت د مخارجو پراختیا ښکاره کوي.

| کلونه | د دولت خالص مصارف په میلیارد مارک | د في نفر دولتي مصارف په مارک | ملي عاید په میلیارد مارک | خالص دولتي مصارف د ملي عاید په فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| 1913 | 7.2 | 122 | 45.7 | 15.7 |
| 1925 | 14.5 | 232 | 60 | 24.1 |
| 1926 | 17.2 | 274 | 61.7 | 27.4 |
| 1927 | 18.8 | 297 | 70.8 | 26.6 |
| 1931 | 17 | 263 | 57.9 | 29.5 |
| 1932 | 14.5 | 224 | 45.2 | 32.2 |
| 1936 | 22.1 | 223 | 65.8 | 33.6 |
| 1939 | 61.2 | 704 | 98.3 | 62.3 |
| 1952 | 39 | 816 | 102.8 | 87.2 |
| 1955 | 49.3 | 1003 | 137.5 | 35.9 |
| 1958 | 69.2 | 1354 | 80.1 | 38.4 |
| 1961 | 98.5 | 1754 | 251.6 | 39.2 |
| 1963 | 122.10 | 2120 | 288 | 42.4 |

لکه څرنګه چې د پورته جدول ارقام یې ښکاره کوي چې د دولت د مخارجو پراختیا همېش د صعودي میلان نه لري، بلکې په ځینو کلونو کې د دولت خالصو مخارجو په مطلق ډول نزول کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثلاً په ۱۹۳۲-۱۹۳۱,۱ او ۱۹۵۲ز کلونو کې په مختصر ډول د پورته جدول له ارقامو څخه داسې نتیجه اخیستل کېږي، چې د دولت مجموعي مخارج له ۱۹۶۳-۱۹۱۳ ز پورې، یعنې د ۵۰ کلونو په دوران کې د في نفر نفوس لپاره له ۱۲۲ مارکو څخه ۲۱۲۰ ز مارکو ته لوړ شوی یا په بله وینا په اسمي ډول د دولت مخارج د في نفر لپاره ۱۹ چنده زیات شوي. په ۱۹۱۳ز کال کې د دولت ونډه په اجتماعي محصول کې ۱۵,۷٪ ته رسېده په داسې حال کې چې دغه ونډه په ۱۹۶۳ ز کال کې ۴۲,۲٪ ته لوړه شوې وه. نو پردې اساس پورته ارقام د دولت په مصارفو کې یو مطلق او نسبي زیاتوالی ښکاره کوي.
همدارنګه احصائیوي ارقام د دولت د مخارجو د پراختیا یو مشابه مثال د امریکا په متحده ایالاتو کې هم ښکاره کوي، یعنې په ۱۹۲۹ز کال کې د فدرالي حکومت مخارجو په متحده ایالاتو کې د ملي عاید ۳,۸٪ تشکیلوله په داسې حال کې چې په ۱۹۶۳ز کال کې ۲۰٪ ته رسېده او په دې وروستیو ۱۵ کلونو کې یې ۴۰٪ څخه زیاته پراختیا کړې ده.

د وروستیو کلونو احصائیې ښکاره کوي چې د امریکا د متحده ایالاتو د دولت مخارجو له ۲۰۰۰-۱۹۲۹ ز کاله پورې په ناخالص اجتماعي تولید باندې له۳۰-۹,۰۶٪ پورې مخارجو وده کړې ده.

فرانسه، بلجیم، کاناډا، ایټالیا او جرمني هغه هېوادونه دي چې په ناخالص اجتماعي تولید باندې له ۴۰٪ زیات دولتي دولتي مخارج ترسره کوي او په ډنمارک او سویډن کې په ناخالص اجتماعي تولید باندې له ۵۰٪ څخه زیات دولتي مخارج ترسره کېږي. (۷:۱۷) له همدې امله شلمه پېړۍ په نړۍ کې د دولتونو د ودې پېړۍ په نامه یادېږي.

(۱۴) جدول: له ۱۹۶۳-۱۹۲۹ ز کال پورې په امریکا کې د دولت د مخارجو پراختیا ښکاره کوي.

| کلونه | مصارف په میلیون ډالر | د في نفر مصارف په ډالر | دولتي مصارف د ملي عاید په فیصدي |
|---|---|---|---|
| 1929 | 3369.6 | 26.6 | 3.8 |
| 1933 | 5658.4 | 45.0 | 14.0 |
| 1939 | 8960.3 | 68.4 | 12.3 |
| 1944 | 96737 | 696 | 52.9 |
| 1945 | 79431 | 585.4 | 43.81 |
| 1961 | 85294 | 464 | 20 |
| 1963 | 96122 | 507 | 20 |

څرنګه چې پورته ارقام ښکاره کوي چې د دولت مخارج په متحدو ایالاتو کې هم صعودي او نزولي مسیر لري. په انګلستان کې هم د هکس Hichks د څرګندونو پر اساس له ۱۹۱۳ ز څخه مخکې د دولت د مخارجو ونډې د ملي عاید ۱۵٪ تشکیلوله. په داسې حال کې چې دغه رقم د دوه نړۍ والو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړو ترمنځ ٪۳۰ ته او له دوهمې نړۍ والې جګړې وروسته يې د ملي عايد ٪۴۰ تشکيلوله. اوس د افغانستان د دولت د مخارجو پراختيا بررسي کوو.

- په افغانستان کې د دولتي مخارجو پراختيا: څرنګه چې احصائيوي ارقام په ځانګړي ډول د دولت مخارج يې ښکاره کوي، چې دولتي مخارجو د وخت په تېرېدو سره خصوصاً د لومړني پنځه کلن پلان له پيل راهيسې په پراخه کچه پراختيا موندلې ده.

(۱۵) جدول: له ۱۲۹۸-۱۳۵۵ کاله پورې د افغانستان دولت د مخارجو پراختيا ښکاره کوي.

| کلونه | 1298 | 1305 | 1310 | 1314 | 1320 | 1325 | 1330 | 1336 | 1341 | 1345 | 1350 | 1355 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مصارف په میلیون افغاني | 32 | 51 | 118 | 121 | 161 | 339 | 388 | 1822 | 3917 | 5150 | 7418 | 24000 |

څرنګه چې پورته ارقام ښکاره کوي چې په افغانستان کې د دولت مخارج په ۱۲۹۸ کال کې۳۲ ميليونه افغانۍ وو، په داسې حال کې چې دغه رقم په ۱۳۵۵ کال کې۲۴ ميليارده افغانيو ته لوړ شوی دی چې د ۵۷ کلونو په دوارن کې په اسمي ډول د دولت په مخارجو کې د ۷۰۰ برابرو څخه زياته پراختيا ښکاره کوي. هغه مهم عوامل چې د دولت د مخارجو په پراختيا کې يې ونډه لرله، کولای شو په لاندې ډول خلاصه کړو.

۱. د اوږدمهال له پلوه د انفلاسيوني تمايلاتو په ترڅ کې د افغانيو د ارزښت کموالی، څرنګه چې احصائيوي ارقام ښکاره کوي، چې په ۱۳۰۰ کال د في من غنمو قېمت ۴۱ افغانيو ته رسېده. په داسې حال کې چې اوس په وسطي ډول د في من غنمو قېمت ٦۰ افغانۍ دی. نو د قېمتونو ددغه صعودي ميلان له امله د اوږدمهال له پلوه د وخت په تېرېدو سره افغانۍ خپل ارزښت له لاسه ورکړی. نو ددې لپاره چې دولت همدغه اړتياوې پوره کړی شي نو مجبور دی چې د قېمتونو د لوړوالي په تناسب مخارج هم لوړ کړي، چې په دې ترتيب د انفلاسيون له امله د دولت مخارج هم لوړېږي.

۲. د داخلي منابعو خصوصاً د مالياتو له لارې د دولت د عوايدو لوړول.

۳. له همکارو هېوادونو او نړۍ والو مؤسساتو څخه د بلاعوضه مرستو د ترلاسه کولو له لارې.

۴. د کورنيو او بهرنيو پورونو ترلاسه کول.

۵. د انکشافي پروژو د تمويل لپاره مخارج.

همدارنګه بايد يادونه وکړو چې وروستني دري ياد عوامل يو پر بل متقابل تأثيرات واردوي، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنا چې په هغه صورت کې چې د انکشافي پروژو تمويل له داخلي منابعو څخه ممکن نه وي. نو د حکومت لپاره ددې سبب ګرځي چې د تمويل بهرنۍ منابع ولټوي. نو کله چې بهرنۍ منابع د حکومت په لاس کي ولوېږي نو د دولت د مخارجو د زياتوالي سبب ګرځي، چې دا په خپل ذات کې د بهرنيو مرستو (استقراض او بلاعوضه مرستې) او د دولت د مخارجو د زياتوالي متقابل اثرأت ښکاره کوي.

**٦. د دولتونو د مخارجو د پراختيا علتونه:**

يو زيات شمېر علماوو د دولت د مخارجو د پراختيا په هکله څېړنې کړي دي، چې ډېرې مشهورې يې د دولتونو د مخ پر زياتېدونکو فعاليتونو قانون دی، چې د ادولف واګنر په واسطه پراختيا ورکړل شوې ده. نوموړي په خپل قانون کې د دولت د مخارجو يا فعاليتونو دوه کتګوري له يو بل څخه تفريق کوي.

**لومړۍ کتګوري**: د دولت فعاليتونه د حقوقي او سياسي موخو لپاره لکه ټولنيز عدالت، د أمنيت او دفاعي خدماتو ترسره کول او ډيپلوماسي. نو ددغو اهدافو د تحقق لپاره د دولت د فعاليتونو پراختيا او زياتېدو يوه اړينه چاره ګڼل کېږي.

**دوهمه کتګوري**: د دولت فعاليتونه د کلتوري او ټولنيزي رفاه د موخو لپاره لکه روغتيايي خدمات، ښوونه او روزنه، مناقلات او ټولنيز خدمات. د واګنر د عقايدو مطابق پورته علتونه د دولت د مخارجو د پراختيا سبب ګرځي. څرنګه چې تجربوي څېړنو په مختلفو هېوادونو کې ښودلې ده، چې هغه ټولنې د ټاکلو نفوسو لرونکي دي په مطلق او هم يې نسبي ډول د مخارجو پراختيا لوړه ښکاره کېږي.

**برشت**: دغه حقيقت د مترقي مخارجو د توازن قانون او د نفوسو تراکم په توګه تعريف کړی دی. ددغه قانون مطابق هر څومره چې نفوس او په عين وخت کې اقتصادي فعاليتونه په محلي لحاظ متمرکز وي په هماغه اندازه عامه مخارج ډېر وي او يا برعکس، يعنې هر څومره چې غير متمرکز وي نو په هماغه اندازه به د دولت مخارج کم وي. اساسي علت يې دادی چې په ښارونو کې د نفوس تراکم د دولت لپاره يو لړ مخارج منځ ته راوړي لکه روغتيايي مخارج، د ښوونې او روزنې مخارج، مناقلاتي مخارج او داسې نور.

د وايمسن (Wiesman) او پيکوک (Peachok) په خپلو نظرياتو کې ډېره سوسيولوژيکي بڼه رعايت کړې ده. ددغو نظرياتو مطابق د يو هېواد مخارج اساساً د مالياتي عوايدو تابع دي. نو پردې اساس حکومتونه بايد د مالياتي سياست د تدابيرو د وضع کولو پر وخت د خلکو عقايد د دولت په مخارجو کې په پام کې ونيسي. (۱:۲۸۱)

په عمومي ډول په نورمال او عادي اقتصادي حالت کې پرته له دې چې په مالياتو کې تغيير راشي نو په دې حالت کې هيله کېږي چې د دولت مخارج هم عادي مسير ولري او د دولت د مخارجو او مالياتو د لوړوالي لپاره کوم خاص دليل وجود نه لري. د جګړې او بحران په دورو کې خلک د ماليې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ بار مني، څکه دوی پوهېږي چې د جګړې او بحران په دورو کې د دولت مالي مکلفيتونه يا د دولت مخارج زياتېږي.

Teem په خپلو تيوريګانو کې د دولت د مخارجو زياتېدل په مطلق ډول او ملي عايد په نسبت سره واضح کوي. نو په دې ډول ټيم د واګنر قانون ددې په واسطه تکميلوي چې د دولت مخارج نه يوازې د صنعتي کېدو په نتيجه کې لوړېږي، بلکې د في نفر د صعودي عايد له امله هم لوړېږي لکه ښوونه او روزنه، روغتيايي خدمات او هغه خدمات چې ډېره اجتماعي تقاضا ولري. ټيم په دې صورت کې له عالي اجناسو او خدماتو څخه خبرې کوي. دغه خدمات له دې امله د عالي خدماتو په نوم يادوي چې د هغو رفع کول د ژوند د لومړنيو احتياجاتو د رفع کولو څخه وروسته ترسره کېږي. هغه عمده عوامل چې د دولت د مخارجو د زياتېدو سبب کېږي چې په لاندې ډول دي:

۱. د هغو عواملو له جملې څخه يو چې په مطلق ډول د دولتونو د مخارجو د لوړېدو سبب شوی دی په اوږمهال ډول د پيسو د ارزښت کمېدل دي. نو کله چې د پيسو ارزښت کم شي نو ددې لپاره چې دولت هغه اجناس او خدمات چې مخکې يې د پيسو د ارزښت له کمېدو څخه ترلاسه کول، که چېرته وغواړي چې اوس يې هم ترلاسه کړي نو مجبور دی چې خپل مخارج هم په مطلق ډول لوړ کړي يا په بله وينا که چېرته د پيسو ارزښت کم شي نو حتی که د دولت د واقعي مخارجو لوړېدل په خپل حال هم پاته شي نو بيا به هم دولت د پيسو د ارزښت له کمېدو سره سم خپل مخارج لوړوي.

۲. د اقتصادي او تخنيکي پرمختيا له امله له يوې خوا د دولت لپاره د اجتماعي خدماتو مشکلات وجود لري او له بلې خوا د مؤلديت په نتيجه کې د خلکو عايد لوړېږي، چې دغه کار په خپل وار د دولتي خدماتو لپاره د خلکو تقاضا لوړوي چې ددغو اړتياوو پوره کول د دولت دنده ده او په نتيجه کې يې د دولت مخارج لوړېږي.

۳. ديموکراسي او په دې پورې اړونده آزادي، حکومتونه دېته هڅوي ترڅو د عايدو د مجدد وېش لپاره تصاميم ونيسي او د هغو طبقاتو د بهتروالي لپاره چې ټيټ عايد لري خپلو مخارجو ته پراختيا ورکړي.

۴. ايډيالوژيکي بدلونونه، يعنې د کلاسيکانو د فردي اصولو له منځه تلل او په اقتصادي چارو کې د دولت قوي او مخ پر زياتېدونکې مداخلې د دولت د مخارجو د زياتېدو سبب شوی. مثلاً د کلاسيکانو په وخت کې دولت د مداخلې حق نه درلود. د دولت دندې هم د دولت د مخارجو له امله ناچيزه بڼه درلوده لېکن د مداخلوي مفکورو په منځ ته راتلو سره چې اوس په ټولو پانګوالو هېوادونه کې موجود دي د دولت دندې او په نتيجه کې د هغوی مخارج ډېر زيات شوي دي، چې خصوصاً په اقتصادي او توليدي حالاتو کې د مخارجو زياتوالی د دولتي تشبثاتو او شرکتونو په بڼه ليدل کېږي.

۵. په صنعتي ټولنو کې د نفوسو تمرکز او په اقتصادي زېربنائي ساحو کې د دولتونو مخارج په هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه لوړ کړي.

٦. د اقتصادي بحرانونو او ناقص استخدام منځ ته راتلل او خصوصاً په پرمختیایي هېوادونو کې د استخدام په سیاست کې د دولت مداخله چې د پراختیا سبب یې شوی دی او په نتیجه کې د دولتونو د مخارجو د زیاتوالي سبب گرځېدلی.

٧. د اداري تخنیک او مالیه گذارۍ په مخارجو کې د اصلاحاتو راوستلو هم د دولت مخارج لوړ کړي دي.

٨. څرنگه چې حربي او نظامي مخارج د دولت د مخارجو د پام وړ برخه تشکیلوي، چې که څه هم دغه مخارج په عمومي مخارجو کې د ونډې له نظره د هر هېواد د سیاسي شرایطو تابع وي، خو په عمومي ډول صعودي مسیر ښکاره کوي.

٩. بالآخره په جگړو کې مادي او ځاني خسارات او د جگړو له متضررو او معیوبینو سره د دولت مرستې د دولتونو د مخارجو د زیاتوالي سبب گرځي.

له پورته ذکر شویو عواملو څخه پرته چې ځینې یې د پرمختیایي هېوادونو په برخه کې هم صدق کوي او په پرمختیایي هېوادونو کې د دولت د مخارجو د زیاتېدو تر ټولو څخه عمده عوامل د انکشافي پروژو تمویل او همدارنگه د بهرنیو هېوادونو او نړۍ والو مؤسساتو د پورونو او مرستو زیاتېدل دي او په لنډ ډول کولای شو چې ووایو چې په پرمختللو او صنعتي هېوادونو کې د دولت د مخارجو د زیاتوالي او پراختیا علتونه اقتصادي او تخنیکي پرمختگ دی. په داسې حال کې چې په پرمختیایي هېوادونو کې د دولت د مخارجو د پراختیا عامل د اقتصادي پرمختگ لپاره د موقع مساعدول دي.

**٧- د دولتي مخارجو د مناسبې اندازې د ټاکلو په اړه نظرونه:**

تر اوسه پورې  د دولت د مخارجو په نسبي او مطلق زیاتېدو باندې بحث وشو، مگر په دې بحث ونه شو چې دغه د دولت زیاتېدونکي فعالیتونه د یوه اقتصاد لپاره گټور دي او کنه په دې معنا چې دغه د دولت زیاتېدونکي فعالیتونه د مجموعي اقتصادي مؤلدیت او په نتیجه کې د مجموعي اقتصادي رفاه کولای شي لوړ کړي او کنه؟

د مرکزي پلان په اقتصادي نظام کې اصلاً دغه پوښتنه نه مطرح کېږي، ځکه هلته د فعالیتونو د پرمختگ یوازینی حامل دولت دی. هلته چې په هره اندازه دولتي فعالیتونه زیات شي په هماغه کچه په اقتصاد باندې ښه اغېزه لرلی شي. په یوه پانگوال اقتصادي نظام کې چې د دولتي فعالیتونو تر څنگ خصوصي سکتور هم د اقتصاد د پرمختگ لپاره یو مهم عامل گڼل کېږي، باید دغې پوښتنې ته ځواب ورکړل شي چې په مجموعي اقتصاد کې د دولت مساعده ونډه چې اقتصاد یو ښه حالت ته بوځي باید موجوده وي کېدای شي: دلته مونږ کولای شو چې هر څومره په اقتصادي نظام (پانگوال) کې د دولت مختلفو فعالیتونو ته پراختیا او زیاتوالی ورکړو. په هماغه اندازه له امکاناتو نه استفاده او یا


(c) ketabton.com: The Digital Library



د تولید له عواملو څخه په خصوصي ساحه کې کم شي او برعکس هغه هم د دولت د فعالیتونو د کمېدو په ساحه کې يې فعالیت په خصوصي اقتصاد کې پراختیا پیداکوي، چې دغه موضوع د شکل له نظره په لاندې ډول ښودل شوې ده:

د ګراف افقي کرښه د هغو شیانو تولید راښيي چې خصوصي افراد يې تولیدوي. د ګراف عمودي کرښه د هغو شیانو تولید راښيي چې په دولتي سکتور کې تولیدېږي.

(۱۶) شکل: په مستقیمه کرښه باندې د مجموعي اقتصادي تولید امکانات





د تېرې صفحې په ګراف کې لیدل کېږي چې هر څومره د خدمت وړ شیان د دولت له لارې ډېر تولید شي هماغه اندازه د تولید د امکاناتو یا د تولید عوامل خصوصي افرادو ته کمېږي. د t مستقیم خط د ګراف په مخ باندې د مجموعي تولیدي اقتصاد امکانات راښيي دا د t خط یا د مجموعي تولیدي اقتصاد امکانات کولای شي چې محدب یا مقعر شکل اختیار کړي. په منحني یا محدب شکل کې لیدل کېږي چې په ابتداء کې دغه زیاتوالی د تولیداتو په واسطه د دولت له نظره د اقتصاد لپاره ګټور ګڼلی شو، ځکه د تولید شویو شیانو د ګټې زیاتېدل د دولت له نظره د هغو تولید شویو شیانو د ګټې کموالی کوم يې چې شخصي افراد تولیدوي لوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۷) شکل: په محدب منحني کې د مجموعي اقتصاد توليدي امکانات




د پورتنيو عواملو له درکه د دولت توليد شوي شيان د خصوصي افرادو د توليد په پرتله زيات توليدوي مثلاً خصوصي سکتور د توليد له مقدار څخه د x1 په اندازه صرف نظر کوي په داسې حال کې چې د دولت د توليد له مقدار څخه د y1 په اندازه چې د x1 له مقدار څخه زيات وي توليدوي. نو په دې خاطر ډېره ګټه لاس ته راوړي نو د دولت په واسطه ددغو توليد شويو شيانو د ګټې د زياتوالي تر op نقطې پورې، يعنې تر ټولو مساعده نقطه زياتېږي. له دې نقطې څخه په تجاوز چې په ګراف کې يې ګورئ، خصوصي سکتور د توليد له مقدارڅخه د x2 په اندازه صرف نظر کوي او د هغې پر ځای د y2 په اندازه چې له x2 څخه کم يې توليدوي نو ځکه دولت د هغو عواملو د کم توليد له مخې چې خصوصي اقتصاد يې توليدوي توليد کړی. نو په نتيجه کې به مجموعي توليد او مجموعي ګټه په اقتصاد کې کمېږي. نو له دې وجې د مجموعي اقتصاد توليد او د عامه ګټه معقوله او مناسبه کڼل کېږي چې په پورتني حالت کې به دولت خپل توليدي فعاليتونه د op په نقطه کې بند کړي او وړاندې له هغې به خپلو توليدي فعاليتونو ته پراختيا ورکړي ځکه چې په دې صورت کې د ملي اقتصاد په زيان تمامېږي او اجتماعي محصول کمېږي او د هغې دليل دادی چې د op له نقطې څخه پورته خصوصي افراد د توليد له زيات مقدار سره د ګټې له ايجاد څخه صرف نظر کوي په داسې حال کې چې دولت به د توليد په کم مقدار سره په کمه ګټه په اقتصاد کې نتيجه ورکوي.


په مقعر منحني کې موضوع د پورته حالت برعکس ده. هغه داچې د دولتي او خصوصي توليداتو ترمنځ د يوې معلومې نقطې ټاکل صرف يو ګرافيکي اهميت لري او د يوې مناسبې نقطې په منځ کې په منحني باندې د يوې نقطې ټاکل تقريباً ناممکن دي، ځکه چې د تثبيت لپاره اساسي علتونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت له ګټې ځخه د دولت لپاره او نه د خصوصي تولید لپاره موجود دی. دلیل یې دادی چې د ګراف په لومړیو مراحلو کې د دولت په واسطه د تولید شویو شیانو ګټه د خصوصي افرادو د تولیدي ګټې په پرتله کمه شوې ده.

(۱۸) شکل: په مقعر منحني شکل کې د مجموعي اقتصاد تولیدي امکانات





مثلاً خصوصي سکتور د تولید له مقدار x ځخه صرف نظر کوي او دولتي سکتور په هماغه اندازه د y له تولید ځخه چې له هماغه مقدار ځخه کم دی تولیدوي یې او د هغې په تعقیب خصوصي سکتور د x1 له تولید ځخه صرف نظر کوي او دولتي سکتور له y1 مقدار ځخه چې له هغې ځخه لږ دی تولیدوي.

د k په نقطه کې د تولید مقدار د دولت او خصوصي سکتور په عین عواملو سره تقریباً یو شان دی په دې معنا چې خصوصي سکتور د تولید د مقدار x3 ځخه صرف نظر کوي او د دولتي سکتور د تولید مقدار له y3 سره مساوي دی، تولیدوي. د k له لوړې نقطې ځخه په عین عواملو سره د دولت تولید د خصوصي اقتصاد په پرتله ډېر تولیدوي، یعنې خصوصي اقتصاد له x4 مقدار ځخه صرف نظر کوي او دولتي تولید په عین عواملو سره y4 مقدار تولیدوي چې له دې ځخه دې پردې اساس په منحني کې مقعر حالت وغوښتل شي، چې په دې وسیله تر ټولو موزونه نقطه تثبیت او معلومه شي او په مجموعي اقتصاد کې کموالی پیداکوي. د منحني په محدب حالت کې چې مخکې یې هم یادونه وشوه تر ټولو مساعده نقطه په هغه ځای کې موقعیت لري چې بلا رجحانه اجتماعي منحني چې د t خط کوم چې د ملي اقتصاد د تولیداتو امکانات راښیي، د S په نقطه کې واقع دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹) شکل: په محدب او مقعر شکل کې د مجموعي اقتصاد توليدي امکانات




په پورتني شکل کې ۱، ۲، ۳ او۴ منحني ګاني او نورې بلا رجحانه اجتماعي منحني ګاني رانښيي.

بلا رجحانه منحني ګانې: هغه هندسي محل دی چې د دوه شيانو د مقدار له ترکيب څخه چې د ټولنې اجتماعي ګټه رامنځ ته کوي. هر څومره چې بلارجحانه منحني ګانې له محور څخه لرې وي په هماغه اندازه ډېره زياته اجتماعي ګټه لري، ځکه چې کومې منحني ګانې چې له مرکز څخه لرې واقع کېږي په هماغه اندازه ډېر ترکيبات جوړوي. نو په دې خاطر ګټه يې هم ډېره وي مثلاً د پورتني شکل په منحني ګانو کې د ۳ بلار جحانه منحني ګټورتوب د ۱ او ۲ په پرتله ډېر دی لېکن د ۴ منحني په پرتله کم ګټورتوب لري. په پورتني شکل کې د TR منحني د مجموعي اقتصاد توليدي امکانات رانښيي. پورتنۍ منحني ګانې د دولت او خصوصي افرادو د توليد امکانات رانښيي (د توليد د عواملو په عين حالت کې) د فعاليت منحني د توليد هغه مساعده نقطه رانښيي چې د يوه مساعد ترکيب او د کمو مخارجو لرونکې وي. نو په دې خاطر له علمي پلوه ددې تثبيتول چې کوم ترکيب له ډېرو امکاناتو څخه د تمام شد مصرف له کومو څخه جوړېږي. نو دا ډېر مشکل او حتی ناممکن دی.

ايټالوي عالمانو (مازولا او پنتيليون) کوشش وکړ چې هغه ګټه چې دولت يې د خپلو فعاليتونو په نتيجه کې لاس ته راوړي د هغه ګټورتوب سره پرتله کړي چې خلک يې د مالياتو د ورکړې په مقابل کې له لاسه ورکوي. (۵ : ۴۱)

ليندال چې له دې ګروپ سره تړاو لري کوشش يې وکړ ترڅو د دولت په مخارجو باندې د پاريتو تر ټولو مساعد حالت تطبيق کړي. د نوموړي له نظره د دولت فعاليت په هغه وخت کې ګټور او معقول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼلی شو چې هغه ګټور توب چې دولت يې يو شخص ته رسوي بايد د بل شخص ګټورتوب متضرر نه کړي. د نوموړي په وينا د يوه شخص د رفاه کچه د يوه بل شخص د مصرف په وسيله لوړولی شو. ددغې ستونزې د حل لپاره کولای شو چې د افرادو د ګټورتوب ترمنځ مقايسه ترسره کړو. په داسې حال کې چې دغه کار ناممکن دی خو چې دا د يوه شخص خپله ګټه ده (موضوع ده) نو په دې خاطر ددې موضوع لپاره قوي معيارونه په پام کې نه دي نيول شوي او له بلې خوا (پاريتو) په خپله تيوري کې د توضيح شوي سياست اړخ بلکل له پامه غورځولی او بله داچې دولتي تدابير يوازې د دوه وګړو لپاره اړخ نه لري، بلکې ډېر وګړي ترې استفاده کوي او په دې ترتيب د ګټې توزيع د دولت لخوا ترسره کېږي او په هغه پورې ارتباط نيسي، په دې معنا چې د يوه شخص د ګټې له منځه تلل د نورو ډېرو افرادو د ګټې لپاره چې له دولتي خدماتو څخه استفاده کوي برخمن دي. نو په دې ترتيب د دولت لخوا توزيع شوې ګټه ترسره کېږي.

د ماسګريف د نظريې په تطبيق سره څنګه چې د عامو خلکو د اړتياوو د پوره کولو لپاره دولتي شيان لکه خصوصي شيان چې د بازار په مرسته نه رفع کېږي نو په دې خاطر بايد د عامو افرادو اړتياوې او د دولت د مصارفو ټاکل هم د يوه سياسي تصميم په نيولو سره ټاکلی شي.

له پورتنيو توضيحاتو څخه دا نتيجه اخيستلی شو چې دا په سترګو ليدلی شو چې تر ننه پورې هم په سم ډول نه دی حل شوی. نو په دې خاطر د عمل په ساحه کې بايد سياسي تصميم ونيول شي چې دولت بايد د مجموعي اقتصاد په فعاليتونو کې مؤثره ونډه ولري. البته په دغو موضوعاتو کې په ټولو اقتصادي او غير اقتصادي عواملو باندې تصميم نيول، مالي سياست تر تأثير لاندې راولي.

**٨- د دولت د مخارجو ډولونه:**

د دولت د مخارجو ډېر ډولونه موجود دي چې دلته يې هغه چې علمي اهميت لري، چې په لنډ ډول ترې يادونه کوو.

**١. د ترتيب له نظره وايي چې د منظمو او غير منظمو مخارجو ترمنځ بايد تفکيک وشي.**

**منظم مخارج:** هغه مخارج دي چې په هره مالي او بودجوي دوره کې په منظم ډول راګرځي او د هغه پر بناء حجم او اندازه يې له مخکې څخه د اټکل او محاسبې وړ وي. ددغو مخارجو مثالونه د دولت د مامورينو معاشونه او د دولت د استخدام شويو افرادو مخارج، د ربحې لپاره دولتي پور او د دولت د ترميم مخارج او نور.

**غير منظم مخارج:** د پورته عبارت معکوس له څو ډوله مخارجو څخه دي چې په غير مرتب او غير منظم ډول او په خاصو دلايلو او اکثراً په غير مترقبه ډول د اجراء وړ ګڼل کېږي لکه د جګړې مخارج او يا هغه مخارج کوم چې دولت يې له اقتصادي بحران سره د مقابلې په خاطر مصرفوي او يا هغه مخارج چې دولت يې د طبيعي پېښو د مخارجو لپاره مصرفوي او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلتون یوه بله نښه چې د مخارجو د نوعیت په تکمیلولو کې وجود لري، په دې معنا چې د دولت منظم مخارج هغه مخارج دي چې په عمومي حالت سره د دولت د مالیاتي وسایلو او د دولت د نورو منظمو عوایدو له لارې تمویل شوي دي. همدارنګه د منظمو او غیر منظمو مخارجو ترمنځ اساسي جلاوالی د هغې دوام او هغه ساحه چې استفاده ترې کېږي هم ده، یعنې مخارج د یوې شخصي موضوع لپاره کولای شو چې په یوه مملکت کې په منظمو مخارجو او په بل مملکت کې په غیر منظمو مخارجو سره استعمال شي. د مثال په توګه هغه مخارج چې د پلونو د جوړولو او د سیلابونو د لارې لپاره په یوه مملکت کې د ډېرو سیلابونو لپاره کولای شي په منظمو مخارجو کې شامل شي او په داسې حال کې چې په بل مملکت کې چې سیلابونه راځي کېدای شي چې په غیر منظمو مخارجو کې شامل وي. د منظمو او غیر منظمو مخارجو د نامعلوم علت په واسطه د بودجې د پلانونو د هغو حالات په ځینې مملکتونو کې د مخارجو دا ډول وېش نه قبلوي.

څرنګه چې غیر منظم مخارج چې یادونه یې وشوه په پورونو وسایلو باندې تمویلېږي. نو پردې اساس دولت ته ددې امکان برابرېږي، چې دا ډول مخارج په راتلونکي نسل باندې ووېشي، ځکه چې پور یې په راتلونکي کې ادا کېږي چې د هغو په تمویل کې راتلونکي نسلونه د هغوی د مالیاتو په ورکړې سره په هغوی کې شامل وي. د پورونو نهائي وېش په دې دلیل سره په راتلونکو نسلونو باندې دادی چې تمویل شوې پروژې د پور د ګټې له لارې نه یوازې د موجوده نسلونو، بلکې راتلونکو نسلونو لپاره هم موجود دی. نو پردې اساس په عادلانه ډول سره ښکاري چې راتلونکي نسلونه د اوسنیو پروژو له ګټې څخه برخمن کېږي نو د مخارجو په تمویل کې هم باید ونډه ورکړل شي.

**۲. د ګټورتوب له نظره باید د ګټورو او غیر ګټورو مخارجو ترمنځ توپیر وشي:** ګټور مخارج څو ډوله مخارج دي چې له هغوڅخه لاس ته راغلي عواید اقلاً د دولت مصرف شوې پانګونې ته په مستقیم ډول کافي وي لکه د دولت هغه مخارج کوم چې د دولت د تولیدي پروژو مثلاً دولتي تصدۍ او دولتي شرکتونه چې په دې صورت کې دولت خپل شیان او خدمات په مستقیم ډول د پیسو په مقابل کې خلکو ته وړاندې کوي او د ده لاس ته راغلي عواید د پروژو له مخارجو سره پرتله کېږي او د هغه له مخې د پروژې ګټه تثبیت کېږي.

غیر ګټور مخارج د پورته وینا برعکس له څو ډوله مخارجو څخه دي چې له هغو څخه لاس ته راغلې ګټه د دولت له پانګونه څخه په مستقیمه توګه بسنه نه شي کولای او یا داچې اصلاً د مستقیم عاید وړ نه وي لکه د دولت هغه مخارج کوم چې له زېربنائي پروژو څخه لاس ته راځي چې په دې حالت کې دولت کوم مستقیم عاید لاس ته نه شي راوړلی. ددې موضوع په ارتباط د نافعیت او مؤلدیت ترمنځ جلاوالی راځي، په دې معنا چې د دولت نافع مخارج ځینې وخت کېدای شي چې غیر مؤلد هم شي مثلاً د دولت هغه پانګونه چې په دولتي تصدیو کې د مرستې پر اساس له دولت سره وي او د تقاضا پر اساس له واقعي بازار سره او له مرستې پرته د دولت خپل موجودیت نه شي ساتلی او دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت په خاص ډول سره هغه وخت ليدل کېږي چې دولت د خپل ضرورت وړ شيان د بازار له قېمت څخه په لوړه پيمانه له دولتي تصديو څخه واخلي چې په دې حالت کې دولت خپل غير فعاله تصدۍ تقويه کوي او د هغې په مقابل کې ممکن د خصوصي اقتصاد فعاله تصدي له ماتې سره مخ شي، ځکه چې په ملي اقتصاد کې د هغې مؤلديت کموالی مومي نو ځکه هم د هغې مخارج د غير مؤلدو مخارجو په ډله کې حسابېږي. پورتنی معکوس حالت په ډېرو هغو حالاتو کې کولای شي چې د دولت غير نافع مخارج د ملي اقتصاد له پلوه وي لکه د زېربنائي پروژو مخارج چې د کم وخت له مخې دولت ته کوم عوايد او يا مستقيم منفعت نه لري خو د اوږد وخت له مخې د مؤلد اقتصاد په لوړوالي کې ډېر مهم رول لري مثلاً په روغتيايي حالاتو کې د دولت مخارج د کار قدرت او توانمندي پورته بيايي او د تعليمي مخارجو له لارې دولت ته تکړه فني او قابل پرسونل لاس ته ورځي، چې د هغوی له کار څخه په راتلونکي کې استفاده کېږي. همدارنګه ټولې هغه پروژې لکه زېربناېي، اوبو لګلولو، مواصلاتي (بندونو، ويالو، سړکونو) او داسې نورو جوړونه په مربوطه او خاصو حالاتو کې توليدي اقتصاد لوړوي او په نتيجه کې په توليدي اقتصاد باندې خپل تأثيرات اچوي.

**۳: د کتنې او تعقيب له مخې هغه اهداف او وظيفې چې په مختلفو ساحو کې** د مخارجو په منځ کې دي بايد جلاوالی پکې راشي لکه په دفاعي چارو کې د دولت مخارج، په تحقيقاتي چارو کې مخارج ، په کرهنه کې د دولت مخارج، په مناقلاتي چارو کې د دولت مخارج او په اجتماعي چارو کې د دولت مخارج او داسې نور.

د پورتنيو ټولو مخارجو لپاره معلوم او مشخص حدود چې د هرې وظيفې لپاره معلوم وي موجود نه دي، يعنې په دې خاطر اکثره وخت د وظيفې په ساحه کې مشکلات ليدل کېږي مثلاً ډېره مشکله ده چې د علمي او تحقيقاتي وظيفو ترمنځ معلوم او مشخص حدود وټاکل شي. په دې حالت کې دوه ذکر شوې ساحې له يو بل سره ګډې شوي دي يا د مثال په توګه که چېرې دولت وغواړي چې فرعي سړکونه د زارعتي پيداوار د آسانه او بهتر انتقال لپاره جوړ کړي. نو دغه وظايف کېدای شي چې د زراعت او مواصلاتو ترمنځ مشترک رول ولري، چې په دې حالت کې هم د ساحو مختل والی منځ ته راځي. نو په دې خاطر ددې ډول مخارج وېش ته معلوم حدود نه شو تعينولی او د هغې نتيجه داده چې ځينې وخت د مخارج په مناسب وخت کې نه ترسره کېږي. په هغو هېوادونو کې چې هلته بيوروکراسي موجوده ده په هغو هېوادونو کې د مخارجو ترسره کېدل په مکمل ډول سره منع دي.

۴. **د تأثيراتو له نظره دولتي مخارج کولای شو د مؤثرو شتمنيو او د غير مؤثرو شتمنيو په مخارجو سره بېل کړو:** د شتمنۍ مؤثر مخارج څو ډوله مخارج دي چې د دولت د شتمنۍ په تشکيل کې شامل وي لکه زېربنائي اقتصادي مخارج چې د دولت په شتمنۍ کې تأثير نه لري، بلکې په يوه حسابي دوره کې له منځه ځي لکه استهلاکي مخارج، د محروقاتو مخارج، هغه مخارج چې دولت يې د خپلو سامان آلاتو او وسايلو لپاره ورته ضرورت لري، د تنوير، پلان ګذارۍ او ګدام مخارج او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. **د استفادې له نقطه نظره د دولت مخارجو په منځ د تثبیت شویو او غیر تثبیت شویو مخارجو په شکل جلاوالی راځي.** د تثبیت وړ مخارج هغه مخارج دي چې د هغوی استفاده کوونکي معلوم وي لکه په دولتي شفاخانو کې مخارج چې په هغو کې مقدار د مریضانو تثبیت کېږي یا په ښوونځیو کې او یا په پوهنتونونو کې چې د شاګردانو او محصلینو شمېر تثبیت کېږي او نه تثبیت کېدونکي مخارج هغه مخارج دي چې د هغوی استفاده کوونکي تثبیت او معلومېدلی نه شي مثلاً په دې باندې نه پوهېږو چې له یوه سړک، پله، باغ او پارک څخه چې هریو یې دولت ته خاص مخارج لري هره ورځ څومره خلک له هغو څخه استفاده کوي.

٦. **د تأثیراتو له لارې مخارج په عاید او استخدام باندې د دولت د مخارجو په منځ کې د دولت د خدماتو د پېرودنې شیان** او د انتقالي تادیاتو له لارې باید جلا شي. د دولت مخارج د پېرودنې د شیانو او خدمتونو لپاره یا د دولت د جاري مخارجو په موخه او یا د پانګونې په خاطر ترسره کېږي. په هر حالت کې د دولت د شیانو تقاضا کوونکي او خدمت کوونکي ښکاره کېږي. څنګه چې دا ډول مخارج د تولیداتو د لوړوالي باعث ګرځي، نو په دې خاطر د عوایدو تولید هم لوړېږي.

همدارنګه دولت یو ډول مخارج د شیانو لپاره وجود لري، چې د عوایدو د لوړوالي باعث نه ګرځي مثلاً کله چې دولت یو ټوټه ځمکه یا تعمیر د خپلو ضرورتونو د رفع کولو لپاره له خلکو څخه اخلي چې په دې حالت کې صرف د شتمنۍ د ملکیت تغییر منځ ته راځي او په دې دوره کې د محصول کوم نوی تولید منځ ته نه راځي.

انتقالي تادیې هم د مرسته شوي شخص عاید لوړوي خو هغه عاید چې د اقتصادي فعالیتونو څخه سرچینه اخلي نه لوړوي، چې په دې حالت کې دولت د پیسو وسایل له مقابل خدمت پرته مرسته کوونکو ته انتقالوي. د انتقالي تادیاتو مثالونه له وزګارو افرادو، معیوبینو، ماشومانو او د پاخه عمر کسانو سره مرسته او داسې نور. په پورته ذکر شویو حالاتو کې اضافي عاید نه پیل کېږي لېکن دولت د پیسوساتل له مالیه ورکوونکو څخه په مالیه پیدا کوونکو باندې د انتقالي تادیاتوله لارې توزېع کېږي.

۷. **د اداري او وظیفوي صلاحیت له مخې په منځ د وزارتي او واقعي پرنسیپ مخارج باید جلا شي.** د وزارتي پرنسیپ له لارې پوهېږو چې انفرادي، اداري حوزې یا د کورنیو چارو وزارت څرنګه مخارج ترسره کوي له دې نقطې نظره دلته د مسئولیت د مطرح کېدو سوال پیدا کېږي، په دې معنا چې مخارج له کوم مقام څخه ترسره کېږي چې خپلو لوړو مقاماتو ته مسئولیت ولري. هرکله چې د دولت ترتیب شوي مخارج د وزارتي پرنسیپ له مخې ډېر اهمیت ولري، یعنې هغه مخارج چې د دارنګه اهدافو لپاره ترسره کېږي، نو په دې حالت کې له واقعي پرنسیپونو څخه بحث کېږي چې دغه واقعي پرنسیپونه د وظیفوي پرنسیپ په نوم هم یادېږي. په افغانستان کې د دولت بودجه د وزارتي پرنسیپ له لارې ترتیبېږي او پردې سربېره د وزارت په داخل کې د عادي مخارجو او د دولت د انکشافي مخارجو ترمنځ باید تفکیک وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادي مخارج هغه مخارج دي چې د دولت له ورځنيواو جاري مخارجو څخه بحث کوي. انکشافي مخارج په انکشافي پروژو پورې تړاو لري او په خپل وار سره د زیربنائي اقتصاد (هغه مخارج چې د سړکونو د جوړولو لپاره وي، د کانونو او صنايعو مخارج، د روغتيا مخارج او داسې نور) او په تحقيقاتي او پلان ګذاري مخارجو وېشل شوي دي، چې هريو يې په پای کې د بودجې په وېش کې شامل کېږي.

**۸. د ارتباط له نظره د دولت مخارج له اقتصادي بازار سره يوځای وي.** کلم Calm د راتلونکو مخارجو ترمنځ يو ډول جلاوالی وړاندې کړی دی.

a. هغه مخارج کوم چې د دولت د موجودی، ساتنې او مواظبت لپاره چې د دندو له تر ټولو مهمو ډولونو او په نتيجه کې د دولت مخارج جوړوي، دغه ډول مخارج له اقتصادي بازار سره مستقيم ارتباط نه لري. دا ډول مخارج د هر اقتصادي نظام لپاره ضروري وي او د يوه اقتصادي نظام لپاره ځانګړي نه وي.

b. هغه مخارج چې د توليدي عواملو په توګه د اقتصادي بازار د پراختيا لپاره ضروري وي يا په عمومي توګه د ټولو تصديو د ګټو لپاره او يا د عامو خدماتو په توګه د معلومو ګروپونو د ګټې په شکل تمام شي. لومړی ډول مخارج چې په عمومي ډول د ټولو تصديو د ګټې لپاره تامېږي د مثال په توګه د ملکيت د تأمين له حقوقو څخه، دوهم ډول مخارج لکه چې د معلومو ګروپونو د ګټې لپاره تامېږي، سهامي حقوق دي چې د معلومو تصديو کريډېټي قدرت، يعنې د سهامي شرکتونه لوړوي.

C. هغه مخارج کوم چې له اقتصادي بازار سره د رقابت په حال کې وي لکه په تعليمي برخه کې د دولت فعاليتونه، مناقلات او نور چې دغه دواړه ذکر شوي فعاليتونه کولای شي د رقيب په توګه او يا په مکمل ډول د اقتصادي بازار په فعاليتونو کې برخه واخلي.

D. د هغو مخارجو ډولونه د کوم په واسطه چې دولت د اقتصادي بازار عمليې ته تغيير ورکوي او په لازمه موقع کې د نامطلوب اقتصاد له پراختيا څخه مخنيوی وکړي لکه هغه مخارج کوم چې د تشويق او د پانګونې د تقويې لپاره په هغه وخت کې چې اقتصاد له بحران او وروسته والي سره مخ وي.

**۱۰- د افغانستان اسلامي جمهوريت د دولتي مخارجو د پرمختګ سير له ۱۳۸۲- ۱۳۸۸ کلونو پورې (ارقام په مليون ډالر)**

(۱۶) جدول

| | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د عادي بودجې مخارج | ۴۵۸ | ۶۰۸ | ۶۷۸ | ۸۳۱ .۸۸ | ۱۰۷۲ | ۱۳۰۷,۱۹ | ۱۹۰۶,۸۰ |


(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د انکشافي بودجې مخارج | ۱۸۹ | ۷۷۰ | ۱۲۰٦ | ۱۳۷۱,۷٦ | ۱۵۴۰,۱٦ | ۱۳۸۸,۱٦ | ۱۱۱۷,۲۳ |
| د اصلي بودجې مجموعي مخارج | ٦۴۷ | ۱۳۷۸ | ۱۸۸۴ | ۲۲۰۴,٦۴ | ۲٦۱۲,۱٦ | ۲٦۹۵,۳۵ | ۲۹۲۴,۰۳ |
| د بهرنۍ (انکشافي) بودجې مخارج | ۲۱۸۲ | ۳۴۵۴,۸ | ۳۱۸۰ | ۲۹۴۹,۴۲ | ۲۴۴۵,۳۵ | ۴۸۵۹,۱۵ | ۳۳٦۹,٦۲ |
| د ملي بودجې مجموعي مخارج | ۲۸۲۹ | .۴۸۳۲ ۸ | ۵۰٦۴ | ۵۱۵۴,۰٦ | ۵۰۵۷,۵۱ | ۷۵۵۴,۵۰ | ٦۲۹۳,٦۵ |

مأخذ : له ۱۳۸۲ - ۱۳۸۸ کاله پورې بودجه

(۲۰) شکل: د افغانستان دولتي مخارجو سیر له ۱۳۸۲ -۱۳۸۸ کاله پورې
د افغانستان د دولتي مطلقو مصارفو د انکشاف سیر له ۱۳۸۲ -۱۳۸۸ کاله پورې




راکړل شوي شکل او جدول ته په کتو د افغانستان د اسلامي جمهوریت مخارج په خاص ډول د عادي بودجې مخارج له ۱۳۸۲ کال څخه چې ۳۵۸ ملیونه ډالر رانښیي تر ۱۳۸۸ کاله پورې یې ۱۸۰٦۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



مليونه ډالره زيات شوي دي چې د دولت د عادي بودجې په مخارجو کې صعودي حالت رابښيي. انکشافي بودجه هم يو ډول انکشافي حالت نه لري چې په عام ډول د بهرنيو په مرستو چې د نړۍ والو مؤسسو او هېوادونو لخوا ترسره کېږي، تابع ده. لېکن په مکمل ډول د مملکت د اصلي بودجې مخارج له ۱۳۸۲ کال څخه له ٦۴۷ مليون ډالرو څخه ۲۹۲۴,۰۳ مليونه ډالرو او په ۱۳۸۸کال کې اضافه والی وشو او يو صعودي حالت دی.

د خارجي بودجې مخارج په دغو کلونو کې مختلف او په خارجي مرستو پورې تړلي وو. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت مخارج د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژي پر اساس په تېرو ۱۳۸۴ او ۱۳۸۸ کلونو کې په مليون ډالر).


۱. (۱۷) جدول په عادي بودجه کې د سکتورنو مخارج

| سکتورونه | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸٦ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ |
|---|---|---|---|---|---|
| أمنيت | ۳٦۳,٦۰ | ۴۲۰,۷۳ | ۸۱۰۸,۳ | ۳۲۱۸,۷ | ۷۷۰,۳۲ |
| حکومتولي، د قانون حاکميت او د بشر حقوق | ۸۲,۱۷ | ۱۰۷,۳۰ | ۳۴۱,۴ | ۳۷۴ | ۱۵۴,۴۸ |
| زېباء او طبيعي منابع | ۵۰۴,۸۸ | ۵۹۹,۰۴ | ۱۸۴۴ | ۱۷۸۰,٦ | ۴۵۸,۲۹ |
| معارف | ۲۳۰,۳۴ | ۲۸۱,۵۳ | ۵۲٦,۴ | ۷۴۱,۸ | ۴٦۱،۳۴ |
| روغتيا | ۵٦,۹۵ | ۹۸,۴۱ | ۳۳۰,٦ | ۳۲۵,۳ | ۱۳۷,۹۱ |
| کرهنه او د کليو پراختيا | ۳۰۹,۷۰ | ۴۱۸,۲۸ | ۱۱۸۲,۸ | ۸۲۸,٦ | ۲۹۲,٦۰ |
| ټولنيز ملاتړ | ۴,۰۴ | ۴۰,۲۵ | ۱٦۹,۲ | ۱۹۱,٦ | ۴۷,۴۰ |
| د اقتصاد اداره او د خصوصی سکتور انکشاف | ۷۸,۵۲ | ۱۰۱,۹۳ | ۱٦٦٦ | ۲۳۷,۴ | ۱۲۲,٦۳ |
| نور کوډونه | ۱۱۷,۸۳ | ۱۳۸,۰۷ | ۴۴۵,۲ | ۲۰۵ | ۴۹,۳۱ |
| مجموعه | ۱۷۴۸,۰۲ | ۲۲۰۴,۸۹ | ۱۳۱۱۴ | ۷۹۰,۳ | ۲۴۹۴,۰۲ |

(۲۱) شکل: له ۱۳۸۲ -۱۳۸۸ کاله پورې په عادي بودجه کې د سکتورونو مخارج

(c) ketabton.com: The Digital Library







۲ - (۱۸) جدول د انکشافي بودجې د سکتورونو مخارج

| سکتورونه | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ |
|---|---|---|---|---|---|
| أمنيت | ۲۷,۸ | ۵۴,۸۵ | ۴۷,٦ | ۱۱,٦ | ۵ |
| حکومتولي، د قانون حاکمیت او بشر حقوق | ۳۵,۸۵ | ۴۲,۲٦ | ۴۸,۸ | ۱۴,۱ | ۲۲,۸۱۲ |
| معارف | ۴۸۲,۸۰ | ۹۰,۵۱ | ۱۷۱,۵ | ۲٦۰,۵ | ۴۲۲,۸۳۴ |
| روغتيا | ۳۲,٦۲ | ۷۲ | ۱۰۳,۵ | ٦۱,٦ | ۱۴۰,۷۰۱ |
| کرهنه او د کليو پراختيا | ۲۹۴,۱۹ | ۳۹۹,۸۰ | ۴۹۵,٦ | ۳٦۲ | ۲٦۵,۴۹٦ |
| د اقتصاد اداره او د خصوصي سکتور پراختيا | ۵٦,۱۵ | ۸۱,۱۹ | ۵۸,۳ | ۱۲۵,۴ | ۱۵,۰٦ |
| ټولنيز ملاتړ | ۱ | ۲۰,۳۹ | ۲۲,۴ | ۵ | ۹۳,۰۷۰ |
| نور کوډونه | | | ٦۲,۳ | ۱۱۷ | ۴۹,۳۱ |
| مجموعه | ۱۰۵۵,۲۰ | ۱۳۲۰,۹ | ۱۷۹۷ | ۱۵٦۸ | ۱۱۱۷,۲۳ |

(۲۲) شکل: په انکشافي بودجه کې د سکتورونو مخارج

(c) ketabton.com: The Digital Library







٣ – (١٩) جدول په اصلي بودجه کې د سکتورونو مخارج

| سکتورونه | ١٣٨۴ | ١٣٨٥ | ١٣٨٦ | ١٣٨٧ | ١٣٨٨ |
|---|---|---|---|---|---|
| أمنيت | ٣٦٣,٦٠ | ۴٢٠,٧٣ | ٨١٠٨,٣ | ٣٢١٨,٧ | ٧٧٠,٣٢ |
| حکومتولي، د قانون حاکمیت او بشر حقوق | ٨٢,١٧ | ١٠٧,٣٠ | ٣۴١,۴ | ٣٧۴ | ١٥۴,۴٨ |
| معارف | ٢٣٠,٣۴ | ٥٩٩,٠۴ | ١٨۴۴ | ١٧٨٠,٦ | ۴٥٨,٠٢٩ |
| روغتیا | ٥٦,٩٥ | ٢٨١,٥٣ | ٥٢٦,۴ | ٧۴١,٨ | ۴٦١,٣۴ |
| کرهنه او د کلیو پراختیا | ٣٠٩,٧٠ | ٩٨,۴١ | ٣٣٠,٦ | ٣٢٥,٣ | ١٣٧,٩١ |
| ټولنیز ملاتړ | ۴,٠۴ | ۴١٨,٢٨ | ١١٨٢,٨ | ٨٢٨,٦ | ٢٩٢,٦٠ |
| د اقتصاد اداره او د خصوصي سکتور پراختیا | ٧٨,٥٢ | ۴٠,٢٥ | ١٦٦,٦ | ٢٣٧,۴ | ۴٧,۴٠ |
| نور کودونه | ١١٧,٨۴ | ١٣٨,٠٧ | ۴۴٥,٢ | ٢٠٥ | ١٢٢,٦٣ |
| مجموعه | ١٧۴٨,٠٢ | ١٣١١۴ | ١٧٩٧ | ٧٩٠٣ | ٢۴٩۴,٠٢ |

(٢٣) شکل: په اصلي بودجه کې د سکتورنو مخارج



(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډیز:**

پخوا به عامه اقتصاد د دولت مخار په ضمني ډول د څیړنې لاندې نیول ، د دولت د مالي وسايلو( د دولت عوايد) د تهيې مسايل د ځينو علمي او اساسي څيړنو لاندې وو چې په دې تر تيب د دولت مالي اقتصاد ماهيت په مالياتي نظرياتو کې تر کتنې لاندې ؤ او د دولت د مصارفو د تأثيراتو په اړه محدود نظرونه موجود وو چې د وخت په تيريدو سره دغو نظرياتو اهميت پيدا کړ، او په اوس وخت کې د دولت د مصارفو تأثيراتو رول په کوچني او عمومي اقتصاد باندې د عامه اقتصاد يو مهم بحث تشکيلوي.

د دولت مصارفو ته په هغه وخت کې اجازه ورکول کېږي چې په اقتصاد کې په موليديت باندې نوي تأثيرات ولري . په اقتصاد کې د دولت مصارف په مختلفو برخو باندې وېشل شوي دي او د دوي د طريقو څخه يوه طريقه د دولت مخارج جاري مصارف، پانګه ييز مصارف او انتقالي مصارفو باندې وېشل شوي.

د دولت د فعاليتونو نسبي اندازه په يوه هېواد کې هغه وخت واضح کېږي چې د دولت د مصارفو اندازه د ملي اقتصاد د مجموعي کميتونو پر اساس مقايسه شي. مثلاً د دولت د مخارجو او ملي عايد ترمنځ نسبت او يا د دولت د مخارجو او د نفوسو تعداد. د دولت مخارج د تاريخ په اوږدو کې پورته تللي، يعنې صعودي سير لري هم په نسبي ډول او هم په مطلق ډول تدريجې انکشاف لري. لکه څرنګه چې په افغانستان کې هم د دولت مخارجو صعودي لوري غوره کړی. د دولت د مخارجو د زياتوالي عمده علتونه په لاندې ډول دي:

١- د دولتونو د پيسو د ارزښتونو کموالی د افغانستان په ګډون.

٢- د دولت د اقتصادي او تخنيکي پرمختګ له امله د دولت د مخارجو زياتوالی.

٣- د ديموکراسۍ پرمختګ.

۴- ايډيالوژيکي بدلونونه.

۵- په نفوسو تمرکز.

٦- د اقتصادي بحرانونو رامنځ ته کېدل.

٧- په اداري تخنيک کې د اصلاحاتو راوستل.

٨- د نظامي مخارجو زياتوالی.

٩- د لومړۍ او دوهمې نړۍ والې جګړې له امله د زيانونو رامنځ ته کېدل.

د دولت د مخارجو ډولونه کولای شو په لاندې ډول هم له يو بل څخه بېل کړو:

١- منظم او غير منظم مخارج.

٢- نافع او غير نافع مخارج.

٣- د فعاليت د ساحو له مخې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- د شتمنیو مؤثر او غیر مؤثر مخارج.
۵- د تثبیت وړ او هغه مخارج چې د تثبیت وړتیا نه لري.
٦- د انتقالي تادیاتو او د خدماتو او کالیو د پېرودنې مخارج.
۷- د دولت د مخارجو وزارتي او واقعي پرنسیپ.
۸- د دولت د ساتلو او قوي کولو مصارف.

**پوښتنې:**

۱- د دولت تصامیمو د تأثیراتو ساحې سره بېلې او توضېح کړئ؟
۲- د دولت د مخارجو په اړه د ریکارډو نظریات څرګند کړئ؟
۳- کولم د دولت مخارج څه ډول ارزیابي کړي دي؟
۴- ولې ځینې عامه اړتیاوې دولت په خپله پوره کوي او خصوصي اشخاصو ته ددغو مشخصو کړنو اجازه نه ورکوي؟
۵- د دولت جاري، پانګه ییز او انتقالي مخارج یو له بل څخه بېل کړئ؟
٦- د دولت د مخارجو وېش د دولت د دندو پر اساس څه مفهوم وړاندې کوي؟
۷- د افغانستان د ملي پرمختګ د ستراتیژۍ مطابق د دولت مخارج په کومو سکتورونو وېشل شوي؟
۸- د دولت د مخارجو وېش په انتقالي او غیر انتقالي مخارجو باندې توضېح کړئ؟
۹- د دولت د مطلقو او نسبي مخارجو پرمختګ څه مفهوم لري؟
۱۰- د اقتصادي رونق او بحران په حالت کې د دولت مخارج سره پرتله کړئ؟
۱۱- د دولت د مخارجو د زیاتوالي عمده لاملونه په افغانستان کې کوم دي؟
۱۲- په نړۍ کې د دولت د مخارجو د زیاتوالي لاملونه کوم دي؟
۱۳- د دولت د مخارجو د اندازه کولو لپاره تر ټولو ښه حد څه ډول ټاکل کېږي؟
۱۴- د د ولت د مخارجو لپاره د مساعد حد د ټاکلو په اړه د لیندال نظر څرګند کړئ؟
۱۵- د دولت منظم او غیر منظم مخارج سره بېل کړئ؟
١٦- نافع او غیر نافع مخارج څه ډول توضېح کېدای شي؟
۱۷- د شتمنۍ مؤثر او غیر مؤثر مخارج سره بېل او توضېح کړئ؟

**مأخذونه:**


۱. پژویان، جمشید. ( ۱۳۸۳) اقتصاد بخش های عمومی. چاپ سوم نشر جنگل، تهران.
۲. توکلی، احمد. ( ۱۳۸۰) بازار، دولت. شرکت چاپ و نشر لیلی، تهران.
۳. حقایقی، عبد الله. ( ۱۳۸۰) سیاست بودجه . مطبعه بهیر، کابل.
۴. صمیمی، جعفری. (۱۳۸۵) . اقتصاد بخش عمومی (۱) چاپ مهر (قم)، تهران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. عارف، عبدالقیوم. (۱۳۸۷) . مبادی علم مالی. مطبعه خصوصی تمیم، کابل.
٦. فرهنگ مهر، حسین. ( ۱۳۸۱) زمینه بودجه ایران. دفتر پژوهش های فرهنگی، تهران.
۷. فولکرسی، کی. (۱۳۸۵) اقتصاد عامه. (ترجمه محمد نعیم اسد و عبدالسمیع نور). مؤسسه همکاری های اکادمیک آلمان، کابل.
۸. وزارت مالیه. ( ۱۳۸۵) ریاست بودجه. بودجه سال ۱۳۸۵، کابل.
۹. وزارت مالیه. ( ۱۳۸۸) ریاست بودجه. بودجه سال ۱۳۸۸، کابل.
۱۰. وزارت عدلیه. ( ۱۳۸۴) د مالي چارو او عامه لگښتونو د اداره کولو قانون. رسمي جریده (۸٦۵) گڼه، ۱۳۸۴ کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مفاهميو او اصطلاحاتو تشريح

**اقتصاد** (Economy): اقتصاد هغه علم دی چې په هغه کې د انسان د نامحدوده اړتیاوو د رفع کولو لارې چارې مطالعه او لټول شوې وي، چې د معدودو امکاناتو او له هغې څخه د استفادې د لارې تحقیق له کمو منابعو څخه د انسانانو د نامحدوده خواهشاتو له جواب څخه بحث کوي.

**عامه اقتصاد** (Public Economy): عامه اقتصاد هغه علم دی چې له تهیې، ادارې او د دولت د مالي او پولي وسایلو په کار اچولو څخه بحث کوي. عامه اقتصاد داقتصاد د علم هغه څانگه ده چې په هغه کې د دولت له فعالیتونو او د دولت له تمویل کوونکو منابعو، مخارجو او په ټوله کې په اقتصاد کې د دولت له رول څخه بحث کوي.

**د بازار اقتصاد** (Market Economy ): هغه اقتصاد دی چې په هغه کې ټول کالي او د خلکو د ضرورت وړ خدمات په داوطلبانه ډول د پیسو په مقابل کې او د بازار په رایج قېمت سره ترسره کېږي، چې په هغه کې نظامي گټې د موجودې ټولنې له ذخایرو پرته د دولت له مداخلې څخه ترسره کېږي.

**مختلط اقتصاد** (Mixed Economy ): یو اقتصادي نظام دی چې په هغه کې د پانگوال او ځینې د اشتراکي نظام خواص وجود ولري، چې په هغې کې یوه اندازه د مرکزي دولت مقررات او د کنټرول تدابیر ولیدل شي او یا مختلط اقتصاد د اقتصاد هغه ډول دی چې په هغه کې د دولت مرئي اجناس او خدمات وړاندې کوي او خصوصي اقتصاد نظارت او کنترولوي.

**رفاهي اقتصاد** (Welfare Economics): یوه نظري اقتصادي سیستم دی چې اساسي هدف یې د عامه رفاه د اعظمي حد تأمینول دي، چې ددغو مسایلو پر اساس اقتصادي فعالیتونه د هغه سهم پر اساس، یعنې ددغو اهدافو د ترلاسه کولو په موخه د ټولنې د افرادو لپاره د رفاه اعظمي حد تحلیلوي. رفاهي اقتصاد د لومړي ځل لپاره د یوه انگلیسي اقتصادپوه پیگو په وسیله مطرح شو.

**د بازار اقتصاد له اجتماعي اصولو سره** (Market Economy on Social Basis): د اقتصادي بازار پرنسیپونه له اجتماعي اصولو تر هرڅه دمخه آزادي، ډیموکراسي، رقابت، د پیسو د ثابتوالي ارزښت، سبسایډي، خصوصي ملکیتونه او یووالی رامنځ ته کوي. د بازار اقتصاد له اجتماعي اصولو سره د هغه له خاص مفهوم اقتصادي سیاسي طرحې سره ارتباط لري چې له ۱۹۴۸ څخه یې د شرقي آلمان د اقتصادي سیاست اساس کېښود او په عام ډول یې د آلمان د فدرالي نظام اقتصاد په مادي او رسمي ډول بیان کړ، چې په ۱۹۹۰ز کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د یووالي باعث شو. د پیسو یووالي په ۱۹۹۰ز کال کې په دې توگه د اقتصادي نظام د دواړو خواوو ترمنځ قرار داد لاسلیک شو. د بازار اقتصادي نظام له معاشرتي اصولوسره په مادي توگه له ځانگړو خصوصیاتو سره له خصوصي ملکیت سره د رقابت توانایي، د قېمتونو آزاد جوړښت او په اصولي ډول د کار مکمله آزادي، پانگه او خدمات مشخص شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولنې نظم د اقتصاد په دغو طريقو پورې هم د معاشرې د تأميناتو يوسيستم چې د عدالت د اصولو توانمندي او ټولنيز توازن ولري، تشکيلوي. د بازار اقتصاد له اجتماعي اصولو سره له يوې خوا د يوه آزاد الټرناټيف د طرح شوي اقتصاد په مقابل کې او له بلې خوا د ټولنيز بديل په توگه د خالص اقتصادي بازار لپاره مطرح شوی دی، چې دې ډول اقتصاد خپل سهم د پراخوالي په تأمينولو کې د معاشرې په رفاه او سياسي ثبات کې رول ادا کړی دی.

د عامه سکتور اقتصاد (Public sector Economics): د اقتصاد د عمومي څانگې موضوع د دولت د ستاينې، تحليلونو او فعاليتونه دي. د عمومي اقتصاد څانگه د دولت مخارجو او عوايدو د د اهدافو په پام کې نيولو سره د منابعو د تخصيص د عوايدو وېش او د اقتصادي ثبات بررسي کوي.

**نوی اقتصاد** (New Economy): د نوي اقتصاد اصطلاح کوم واضح تعريف نه لري. دغه اصطلاح ځينې وخت په دې مفاهيمو سره لکه انټرنټ اکونومي، نيټورک اکونومي، ډيجيټل اکونومي، سوداگريز اقتصاد يا د اطلاعاتو اقتصاد پوري ربط ورکړل شوي دي.ددې ټولوتعريفونومشترکه وجه نوې ټکنالوجي اوپه خاص ډول سره اطلاعاتو اومواصلاتو اوهمدارنگه نوې پوهه اوانساني پانگه (پانگه) جوړوي.هغه څه چې په نوي اقتصاد کې دي، په لاندې ډول دي:

١. (I.T) (اي- ټي)په توگه د نوې ټيکنا لوژي.

٢. اطلاعات د يوه مهم زياتوونکې محصول په توگه.

٣. د توليداتو زياتوالی او ترقي د١ او٢ موادو پر اساس، يعنې دغه پورته يو دوه.

**دستوري اقتصاد** ( Normative Economies): د اقتصاد د علم هغه څانگې چې فعاليتونه او اقتصادي سياسيتونه له هغو طريقو چې بايد څنگه وي مطالعه کوي.

**ازاد اقتصاد** (Free Economies): هغه اقتصاد دی چې د خلکو په عرضه او تقاضا ولاړ وي او د هغوی د کنترول ميکانېزم قېمت دی.

کنټرول شوی اقتصاد (Controlled Economy): هغه اقتصاد دی چې په نظم باندې ولاړ وي او دولت پرې نظارت کوي.

**مثبت اقتصاد** (Positive Economies): د اقتصادي مسلوڅېړنه او مطالعه بدون له مداخلې دی شخصي ارزښتونو او پرته د محقق د سليقوي پرېکړو څخه وي.

**لوی اقتصاد** (Macro Economies): په کلي ډول سره په لويه کچه د اقتصادي پېښو، ملي توليداتو، ملي مصارفو، ملي لاس ته راوړنو، د ملي سپما، ملي پانگونې او داسې نورو څېړل. لوی اقتصاد ټول تغيير خوړوونکي روابط په ملي اقتصاد کې مطالعه کوي.

**کوچنی اقتصاد** (Micro Economies): د وړو اقتصادي واحدونو څېړنه ده لکه د کورنيو او تصديو د اقتصادي رويې څېړل.

**دولتي اقتصاد**(Statism): هغه اقتصاد چې په اقتصادي فعاليتونو کې د دولت د ونډې زياتوالی ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤثر وي.

**پرانستی اقتصاد** (Open Economies): هغه اقتصاد چې د تجارت له محدودیتونو څخه فارغ وي.

**طبيعي اقتصاد** (Natural Economy): هغه اقتصا د چې پیسې پکې نه استعمالیږي او په هغه کې په عام ډول کالي پر کالیو تبدیلیږي.

**پلان شوی اقتصاد** (Planned Economy): هغه اقتصاد چې په هغه کې له منابعو څخه استفاده د یوې لایحې له لارې او د دولت په جواز سره ترسره کیږي. په دې ډول اقتصاد کې دولت په اقتصادي سیستم باندې په مستقیم ډول مداخله او نظارت کوي.

**صنعتي انقلاب** (Industrial Revolation): د۱۷٦۰ او۱۸٦۰ ز کلونو په منځ کې په برتانیه کې د تولیداتو د طریقې د تغییر په ترڅ کې د اقتصادي نظام پرځای کوم چې په کوچنیو صنایعو ولاړ و ځای یې د فابریکو نظام ونیوه. په مجموع کې ټول اقتصادي شرایط او تحولات، معاشرتي او تخنیکي تحولات چې په هغه وخت کې ددغو تغییراتو په نتیجه کې منځ ته راغلل د صنعتي انقلاب په نامه یادیږي.

**اقتصادي پرمختیا او اقتصادي وده** (Growth Economic Development and Economic): ددغو دواړو اصطلاح ګانو عمده او لوی فرق په دې کې دی چې هره اقتصادي پرمختیا په اقتصادي ودې پورې اړه لري، خو هره اقتصادي وده په اقتصادي پرمختیا پورې حتما اړه نه لري. ځکه چې اقتصادي وده یو جهت لري او هغه په ناخالص ملي تولید (GNP) او ناخالص داخلي تولید (GDP) کې د کلنۍ فیصدي زیاتوالی دی. په داسې حال کې چې اقتصادي پرمختیا پر تغییراتو سربېره د اقتصادي مؤسساتو اهداف، اصول او معاشرتي او سیاسي جوړښت هم پکې شامل دی. نو ځکه اقتصادي پرمختیا له اقتصادي ودې پرته منځ ته نه راځي.

**اتوماسیون** (Automation): د ماشین په واسطه د کالیو داسې تولید چې لاسونه پکې بلکل ونډه وانخلي. په خپله د ماشین په واسطه تولید دایمي کنټرول او یا تقریباً دایمي کنټرول د کار له پیل څخه د تولید د کار تر ختمېدو پورې اړه لري او د مخکینیو اصولو له مخې له ما شین څخه استفاده فرق لري.

**زیاتېدونکی ارزښت** (Value added): د تولید شویو کالیو او خدماتو او د تولید په جریان کې د مصرف شویو کالیو او خدماتو د ارزښت تفاوت دی. زیاتېدونکی ارزښت په هر اقتصادي فعالیت کې د تولید د عواملو د عوایدو په ګډون په دې فعالیت کې لاس ته راځي.

**اربیتراژ** (Arbitrage): هرکله چې څوک اسعار او یانور قېمتي اوراق له یو بازار څخه واخلي او سمدستي یې په بل بازار کې په نرخ د تفاوت په هدف وپلوري.

**انحصار** (Monopoly): که چېرته د یو شي یا محصول عرضه د یوه عرضه کوونکي په کنټرول کې وي. په داسې ډول چې د عرضه کوونکي لپاره لوړ قېمت لاس ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خصوصي شيان او عام شيان** (Private and Public Goods): خصوصي شيان هغه شيان دي، چې د بازار په اقتصاد کې د بازار له لارې د يوه اختياري قېمت د ورکړې په مقابل کې لاس ته راشي او عام شيان هغه شيان دي چې د بازار قابليت ونه لري، بلکې له قېمت څخه پرته د ټولو خلکو د استفادې وړ گرځېدای شي.

**طبيعي انحصار** (Natural Monopoly): هغه انحصار چې د طبيعي شرايطو له مخې منځ ته راځي لکه هغه خاصې ناحيې چې په هغوی کې خاص محصول توليدېږي.

**د خرڅلاو انحصار** (Monopoly): هغه وضعيت چې په هغې کې بازار د يوه واحد سازما ن لخوا کنټرولېږي.

**قانوني انحصار** (Legal Monopoly): هغه انحصار ته ويل کېږي، چې قانون يوه شخص ته د هغه د توليد او عرضې اجازه ورکړې وي لکه د الکوزی شرکت نوشابې.

**د مديريت اصول** (Principles of management): هغه څوارلس لارښوونې دي چې د هنري فايول لخوا د مديرانو لپاره ليکل شوي، چې په لاندې ډول دي.

۱- د کار تقسيمول ۲- صلاحيت ۳- کنترول ۴- واحده قومانده ۵- يووالی٦- خپلو سازماني گټو ته لومړيتوب ورکول ۷- تاديات ۸- مرکزي کول ۹- په وار سره ترسره کول۱۰- اصول۱۱- عدالت ۱۲- د وظيفې ثابتوالی ۱۳- مبتکر اوسېدل۱۴- ډله ييزه روحيه.

**د مدير اووه دندې:**

Planning, Organizing, Staffing, Directing, coordinating, Reporting, and Budgeting.

**بازار** (Market): هغه ځای چې خلک پکې په منظم ډول امتعه عرضه کوي او افراد يې تقاضا کوي يا په بله وينا، عرضه کوونکی او تقاضا کوونکی خپله امتعه او حقوق له يو بل سره گوري او د معاملې په شکل يې وړاندې کوي. د کاليو او خدماتو قېمت په بازار کې ټاکل کېږي. دا ممکنه ده چې خرڅوونکی او اخيستوونکی په مستقيم ډول له يو بل سره ملاقات ونه کړي او د امتعې اخيستل او خرڅول د ټېلفون او يا نورو لارو څخه وشي، چې په دې حالت کې هم بازار منځ ته راځي لکه د مصرفي کاليو بازار، د توليد شويو شيانو بازار او داسې نور.

**د پانگې بازار** (Capital Market): د اوږد مهاله اعتبار بازار، د پانگې بازار د مختلفو بازارونو لرونکی دی. د پانگې په بازار کې بانکونه او اعتباري ادارې دي.

**مالي بازار** (Financial Market): په يو اقتصاد کې د پيسو بازار او مالي بازار.

**آزاد بازار** (Free Market): هغه بازار چې په هغه کې اخيستونکی او خرڅوونکي په آزاد ډول له کوم قيد و شرط پرته د شيانو په قېمت او اندازه کې پېر و پلور وکړي او په هغه کې اجباري خرڅول او اخيستل نه وي.

**دولتي سکتور** (Government Sector): ټول هغه فعاليتونه او د دولت قانوني وظايف چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي، معاشرتي او اداري برخو کې ترسره کېږي او همدارنګه هغه سکتور چې په دې پورې مربوط وي یا په بله وینا دغه سکتور د قانون په چوکاټ کې د دولت ټول اقدامات پکې شاملوي او په اقتصادي برخه کې د دنیا په ټولو پرمختللو هېوادونو کې دولتي سکتور په اقتصادي برخه کې مهم رول لري.

**عمومي سکتور** (Public Sector): هغه سازمانونه، شرکتونه او صنایع، د دولت په ملکیت کې مرکزي حکومت چې ټول ملي شوي وي، صنایع، محلي مقامات او دولتي شرکتونه.

**خصوصي سکتور** (Private Sector): د دولتي سکتور برعکس دی او ټول هغه فعالیتونه او اقدامات دي چې د یوه او یا ډېرو وګړو او یا د یوه بنیاد او ډلې په ډول چې اقتصادي، معاشرتي او جزائي برخه کې د هماغه بنسټ په ګټه باندې ترسره کېږي.

**بودجه** (Budget): په رسمي بڼه د یوه معلوم وخت او راتلونکي لپاره د مصارفو او عوایدو تخمینول دي.

**متوازنه بودجه** (Balanced Budget): هغه بودجه چې د یوې دورې عواید د هماغې دورې له مصارفوسره مساوي وي.

**غیر متوازنه بودجه** (Unbalanced Budget): هغه بودجه چې په هغه کې د یوه کال سنجش شوي مصارف د عوایدو په پرتله ډېر شي.

**د پروګرام پر اساس بودجه جوړونه** (Program Budgeting): د بودجې جوړونې یو ډول دی چې په هغه کې د سازمان اوږد مهاله اهدافو او فعالیتونو ته پام کېږي او هغوی په ځانګړې پروګرام جوړونه کې په قالب کې اچوي او تنظیموي.

**عملیاتي بودجه** (Operating Budget): د بودجې جوړونې یو ډول دی چې په هغه کې مصارف د تولید د نوعیت او یا عملیاتو پر اساس ترتیبېږي او په بودجه کې ښودل شوي اقلام هغه فعالیتونه دي چې باید ترسره شي.

**د هېواد ټوله بودجه** (Main Budget of Country): د یوه دولت مالي کړنلاره ده چې د یوه مالي کال لپاره برابرېږي او عواید او نور منابع یې د پېشبیني وړ دي ترڅو اعتبار یې تأمین او د عملیاتو د اجراء لپاره یې د مصارفو برآورد ترسره شي چې د دولتي اهدافو د ترلاسه کولو سبب ګرځي.

**د تجارت بیلانس** (Balance of trade): د یوه مملکت د ټولو صادراتو او وارداتو د ارزښت مقایسه ده.

**د تادیاتو بیلانس** (Balance of payments): په یوه معلوم وخت کې بهرنیو هېوادونو ته د یوه هېواد ټول تادیات او دغه هېواد ته د بهرانیو هېوادونو ټول تادیات یا په بله وینا د پیر او پلور پراخ جریان دی چې له بهرنیو هېوادونو سره د پیسو په واسطه ترسره کېږي.

**د تجارت مثبت بیلانس** (Favorable balance of trade): هرکله چې په یو معلوم وخت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاراتو ټول ارزښت د وارداتو له ټول ارزښت څخه زيات وي.

**د تجارت منفي بيلانس** (Unfavorable balance of trade): په يو معلوم وخت کې د يوه هېواد هغه بهرنۍ سوداګري چې د وارداتو ټول ارزښت يې د صادراتو له ټول ارزښت څخه ډېر وي.

**بانک** (Bank): يوه عمومي اصطلاح ده چې د مؤسسو له مختلفو ډولونو سره د امانتدارۍ، تنزيل، پانګونې، د پور د ورکړې، د بانکنوټونو د خپرولو او د نورو مالي خدمتونو دنده په غاړه لري.

**مرکزي بانک** ( Central Bank): هغه بانک چې په اساسي ډول د عامو مالي مقاصدو لپاره جوړ شوی وي او اساسي وظيفه يې د پيسو د سياست تنظيم وي. دا ډول بانک  او يا ځينې څانګې يې د حکومت په واسطه کنټرولېږي. د مرکزي بانکونو دندې په ټولو هېوادونو کې يو ډول نه وي يا په بله وينا هغه بانک چې د پيسو د سياست د تنظيم او د بانکي تنظيم دنده په غاړه ولري او په نورو بانکونو باندې نظارت ولري.

**بانکنوټونه** (Bank note): يو ډول کاغذي روپۍ دي چې بانک د معلومو پيسو غوښتونکي ته د ورکړې وعده ورکوي.

**بورس** (Bourse): هغه ځای چې په هغه کې ارزښت لرونکې پاڼې او اسهام اخيستل او پېرودل کېږي.

**بيمه** (Insurance): د خطراتو په مقابل کې يو ډول خونديتوب او حمايت دی، چې د حق البيمې يا يو ټاکلي مقدار پيسو په مقابل کې ترسره کېږي. د بيمه ورکوونکي او بيمه اخيستونکي، دواړو ترمنځ د واسطې قرارداد په ډول دی چې له بيمه اخيستونکي نه د پيسو يا حق البيمې دا وعده کوي چې د کومې واقعې په رامنځ ته کېدوسره به د هغوی د نواقصو عوض ورکوي.

**بنلوکس** (Benelux): د يوې اقتصادي اتحاديې عنوان دی چې د بلژيک، هالنډ او لوکزامبورګ له هېوادونو څخه تشکيل شوی او هدف يې د اقتصادي اتحاديې جوړول دي.

**پيسې** (Money): هر هغه شی چې په يوه معلومه ساحه کې د نورو شيانو په مقابل کې په عمومي ډول منل شوی وي يا په بله وينا د تبادلې  يوه وسيله ده چې ټولو ته د منلو وړ وي او يا پيسې د تادياتو يوه وسيله ده چې ټولو ته د منلو وړ وي  او همدارنګه په عين وخت کې په اقتصاد کې د شمېرلو واحد هم دی. په اقتصادي سيستم کې د پيسو دندې کولای شو په لاندې ډول وشمېرو.

۱. پيسې ارزښتونو د مقايسې د يو معيار په توګه چې ارزښتونه پرې اندازه شي.

۲. پيسې د کار د وېش د تحقق يوه وسيله ده.

۳. پيسې د پانګونې د اعتبار د تأمين امکان برابروي.

۴. پيسې د ورکړو قابليت ډېروي.

۵. پيسې د دولتونو ترمنځ په نړۍ واله سطح د ورکړې د وسيلې په توګه په کاروړل کېږي.

**مالياتي پټنځای** (Tax Haven): هغه هېواد چې د هغه د مالياتو قوانين ساده وي او د مالياتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاملین په خپل هېواد کې د مالیاتو د نه ورکولو په خاطر دغه هېواد ته چې مالیاتي قوانین یې آسان دي مهاجرت کوي.

**مالیاتي پناه غوښتنه** (Tax Exile): هغه سړی چې د مالیاتو د نه ورکړې لپاره هېواد پرېږدي.

**ملي تولید** (National Product): د یو کال په اوږدو کې د مختلفو تولیدي عواملو په واسطه د یوه هېواد د ټولو نهائي کالیو او خدماتو تولیدېدل دي.

**ناخالص داخلي تولید** (Gross Domestic Product G.D.P): په یو هېواد کې د موجودو ساکنو افرادو لخوا د ټولو نهائي تولید شویو کالیو او خدمات تولیدي ارزښت دی. ځکه ناخالص ارزښت دي چې په دې کې د ماشینونو فرسایشات او هغه پانګه چې د تولید په پروسه کې مصرف شوې د هغوی سود ترې نه دی تفریق شوی. کله چې هغه ترې وایستل شي نو خالص داخلي تولید لاس ته راځي.

**ناخالص ملي تولید** ( Gross National Product G.N.P): په یوه کال کې د یو هېواد په اقتصاد کې د ټولو نهائي کالیو او خدماتو ارزښت دی.

**انفلاسیون** (Inflation): د اقتصاد په اصطلاح پېژندنه کې د قېمتونو په عمومي سطح کې د لوړوالي په معنا دی. په هغه صورت کې چې په دوران کې د پیسو حجم په پازار کې د کالیو او خدماتو په پرتله زیات وي د انفلاسیون باعث ګرځي.

**وېش** (Distribution): د تولیدي عواملو په منځ کې د ټولنې د ټولو عوایدو وېش (وظیفوي وېش) او د یوې ټولنې د افرادو په منځ کې د ټولو عوایدو وېش (شخصي وېش) دی.

**تنزیل** (Discount): هغه مبلغ چې له یوه قراضدار او یا یوه برات کوونکي څخه د ورکړې په پرتله په عاجله توګه وضع کېږي او یا هغه مبلغ چې د یوه تجارت سند له یوه اندازه پیسو لکه حجت او د هغه په څېر نور چې له مخکنۍ وعدې څخه انتقالېږي، په تنزیل اخیستل کېږي.

**ثروت** (Wealth): ټول اجناس او خدمات چې د انسان له وجود څخه د باندې وي او په خپل ذات کې ګټور، د تصرف وړ او نسبتاً کمیابه وي. ځینو اقتصادپوهانو پیسې له دې نظره چې د تصرف وړ دي. کمیابه او په غیر مستقیم ډول (د تبادلې یوه ذریعه ده) ګټوره ده، د ثروت په مفهوم کې ګدې کړي. څرنګه چې ثروت د خپل ورځني کسب او کار په چاپېریال کې استعمالېږي، پیسې د ملکیتونو له درکه او په عام ډول هر هغه شی چې د پیسو ارزښت ولري په دې کې شامل دي. د ثروت مفهوم ډېر پراخ دی ځکه د انسان پر صفتونو او مهارتونو سربېره د یوه مملکت ښایسته منظرې او اقلیم هم پکې شامل دی.

**ملي ثروت** (National Wealth): د ټولو مالونو اقتصادي او مادي ارزښت د پیسو له مجموعي ارزښت سره چې په یوه ټاکلي وخت کې د یوه مملکت د افرادو په تصرف کې وي.

د پیسو نقد جریان (Cash Flow): هغه نقدې پیسې چې په یوه معلوم وخت کې د یوه شرکت په داخل کې دوران کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نړۍ وال کېدل** (Globalism): نړۍ والتوب یوه پدیده ده چې د کار له نړۍ وال وېش څخه بحث کوي. د کار وېش له ۱۹۷۰ز وروسته ایجاد شوی او د کار دغه وېش د لاندې نظریاتو په وسیله ټاکل کېږي.

۱. د اجناسو او خدماتو لپاره په لوړه درجه د بازارونو آزاد پاته کېدل.

۲. د تولیداتو نړۍ وال کېدل.

۳. په نړۍ واله سطح د مالي بازارنو نږدې کېدل.

۴. په نړۍ واله کچه د مهاجرتونو ډېرېدل.

د نړۍ وال کېدو مهم دلایل په دې ډول دي:

۱. د اجناسو او خدماتو د سوداگرۍ آزادول او له دوهمې نړۍ والې جگړې وروسته د عمومي گمرکي تعرفې او سوداگرۍ په وسیله د پانگې انتقال (WTO, GATT).

۲. ټکنالوژۍ پرمختگ: چې د ټکنالوژي په وسیله د معلوماتو د لېږد رالېږد لگښت په دې څو وروستیو لسیزو کې په نسبي ډول کم شوی دی.

د نړۍ والتوب پایلې د یادولو وړ دي، اقتصادي ساحه یې پراخېږي، د هغه مثبت تأثیرات په مصرف کوونکو، په ځانگړي ډول باکیفیته اجناسو او خدماتو ته د لاسرسي په اړه او همدارنگه ارزانه هم دی او مؤلدین کولای شي چې ژر بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي او په دې برخه کې د فقیرو او غني هېوادونو ترمنځ د تفاوتونو د زیاتوالي د ایجاد په اړه هم اندېښنې موجودې دي او یا له مالي بازارونو څخه په دې برخه کې وېره موجوده ده.

**چک** (Cheque): یوه تحریري حواله ده چې معمولاً د بانک له یوه امانت ایښودونکي څخه صادرېږي او بانک ته ددې اجازه ورکوي چې د پیسو یوه معلومه اندازه دغه شخص ته چې په حواله کې یې نوم لیکل شوی دی، ورکړي.

**مالي حسابونه** (financial account): د هغو ټولو حسابونو مجموعه ده چې د ټولنې د اساسي اقتصادي کړنو لکه تولید، مصرف اجناسو او خدماتو څخه د شتمنیو ایجاد او تشکیل او د یوه کال په موده کې د یوه ملت د پانگې ډېروالی ښکاره کوي او په واقعیت کې د یوې ټولنې د راکړو ورکړو او شیانو د تحرک ښکارندوینه کوي. په څو اقتصادي کمیتونو باندې د یوه مملکت د اقتصادي فعالیتو نو تبدیلېدل.

**خصوصي کول** (Privatization): خصوصي سکتور ته په مکمل یا جزئي ډول د دولتي برخې د فعالیتونو تسلیمول او یا خصوصي سکتور ته د دولتي سازمانونو د ملکیتونو تسلیمول.

د خصوصي کېدو ځینې اهداف د دولت د مالي بار کمېدل، د انساني قوې د پړسوب کمېدل، د رقابت تشویقول، د عمومي فعالیتونو په برخه کې د خصوصي پانگونې د پراختیا لپاره د پانگونې راجلبول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رفاه دولت** (Welfare state): هغه اقتصاد چې په هغه کې د دولت کړنلارې او کړنې په ټولنيزو مرستو باندې تأکيد کوي. د دا ډول دولت عمده اهداف حداقل د ژوند يو معيار ساتل، د اموالو توليد او ټولنيز خدمات او د اقتصاد رهبري د ټولنيزې رفاه په خاطر وي. د صحي بيمو رامنځ ته کول، د وزګارتيا بيمه، ملي روغتيايي خدمات او د نورو ټولنيزو اړتياو رفع کول چې د دولت مهم فعاليتونه ګڼل کېږي.

**دولت** (State):د انساني ټولنې تکامل دی او د سياسي توافقاتو حاصل ګڼل کېږي. هغه توافقات چې د ټولنې د اړتياوو د رفع کولو لپاره ترسره کېږي، چې ددغو ټولنو په سر کې يو ډول نظم او أمنيت موجود وي.

**ډمپېنګ** (Dumping): په دوه يا څو بازارونو کې د تبعيضي قېمتونو ټاکل دي چې د صادراتي کاليو په اړوند ترسره کېږي. پردې اساس د کاليو توليدوونکي خپل کالي په خارجي بازارونو کې د داخلي بازارونو په پرتله ارزانه خرڅوي. په عام ډول ډمپېنګ په درې برخو وېشل شوی دی:

١. ډمپېنګ ددې لپاره چې خپل رقيبان له بازاره خارج کړي. په دې ډول ډمپېنګ کې توليدوونکی په لومړيو کې په بهر کې د خپلو کاليو د پلورنې قېمت ټيټوي، خو کله چې يې رقيبان له بازاره خارج کړل، بيا نو د خپلو کاليو قېمت لوړوي.

٢. اتفاقي يا تصادفي ډمپېنګ: کله چې توليدوونکی په مختلفو دلايلو له ډېرې عرضې سره مخامخ وي. کله چې دا ډول ډمپېنګ موجود وي، توليدونکی تر هغه وخته پورې چې موجوده کالي يې خرڅ شي ډمپېنګ ته دوام ورکوي.

٣: تلپاتې ډمپېنګ: هغه وخت تحقق مومي چې توليدوونکي خپل کالي د تل لپاره په خارجي بازارونو کې ارزانه وپلوري دا ډول ډمپېنګ لږ لږ پيدا کېږي.

**اقتصادي وده** (Economic Growth): د اقتصادي ودې مطلب په اوږد مهال کې د ملي عوايدو، غير خالص ملي محصول او د ملي توليداتو زياتېدل دي. اقتصادي وده ځينې وخت له اقتصادي پرمختيا سره يو ډول وي خو دواړه مفاهيم له يو بل څخه جلا دي، يعنې اقتصادي وده د اندازې وړ ده په داسې حال کې چې د اقتصادي پرمختيا مفهوم د مادي شيانو په زياتوالي سربېره د معنوي شيانو د تغيير، د فکرونو تغيير او د اجتماعي مؤسساتو تغيير چې د اقتصادي ودې لپاره لاره هواروي يا په بله وينا په اقتصادي روبناوو کې تغيير ته اقتصادي پرمختګ وايي. په دې توګه د پرمختيا مفهوم کمي او کيفي تغيير ته ويل کېږي او اقتصادي وده صرف په کميت کې زياتوالی دی يا اقتصادي وده په يوه کال کې او يايوه بله معلومه دوره کې د اقتصادي توليداتو زياتېدل دي چې معمولاً په فيصدۍ ښودل کېږي.

**اقتصادي رکود** (Recession): هغه دوره چې په هغه کې اقتصادي فعاليتونه لکه توليد او سوداګري لږه او يا بند شي. د رکود په وخت کې پانګونې ته ميلان ډېر لږ وي او شرکتونه خپل فعاليتونو راکموي. همدارنګه کېدای شي د استخدام سطح د توليد د عقلاني کېدنې له امله کمه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رونق** (Boom): هغې دورې ته ویل کېږي چې په اقتصادي مسیر کې سریع وده ښکاره شي د استخدام اندازه لوړېږي او د ژوند سطح ارتقاء کوي.

**رقابت** (Competition): رقابت دا معنا ورکوي چې خلک د یو شي په اړوند د مبارزې په حال کې وي. اقتصادي رقابت په معاملاتي حسابونو کې له یو بل سره سیالي کولو ته وایي. عرضه کوونکي او تقاضا کوونکی مجبور دي چې د خپلو معاملو په خوا د معاملاتو مناسبه شرایط وړاندې کړي، چې په بازار کې کامیاب واوسي، چې دلته په مساوي ډول د یو شي مناسب قیمت، د کیفیت لوړوالی او همدارنگه د خرڅولو د گټې او وېش له لارې او همدارنگه مناسب اشتهارات هم پکې مهم رول لري.

**کامل رقابت** (Perfect Competition): کامل رقابت په هغه بازار حاکم دی چې په هغه کې لاندې شرایط موجود وي.

١. د مشابه کالیو شتون.

٢. د تولیدوونکو شمېر ډېر وي.

٣. د مصرف کوونکو شمېر زیات وي.

۴. د تولید عوامل باید سیال وي.

۵. د بازار شفافیت.

٦. حداکثر گټه او حداکثر مطلوبیت.

٧. د جوړ جاړي نه موجودیت.

**زېربنآء** (Infrastructure): هغه اساسي او اړین ساختمانونه او آسانتیاوې دي چې د اقتصادي پرمختگ لپاره ضروري دي. لکه سړکونه، بندونه، بانکونه او بېلابېل گټه رسوونکي تأسیسات او داسې نور.

**مالي سیاست** (Fiscal Policy): مالي سیاست د دولت د اقتصادي سیاست مهمه څانگه ده، چې ټولو هغو تدابیرو ته چې له دولت څخه مالي وسایلو ته د استفادې او لاس ته راوړنې په خاطر د مسئولیت د اجراء کولو او د دندې د ترسره کولو لپاره سرته رسول کېږي او یا د دولتي بودجې له لارې د دولتي اقتصادي جریان د مالي سیاست گومارنې او لارښوونې دي یا په بله وینا مشخصو اهدافو ته د رسېدنې په خاطر د مناسبو مالي اقتصادي وسایلو په کار اچول.

**پولي سیاست** (Monetary Policy): مناسب او لازم تدابیر چې په دوران کې د داخلو پیسو د حجم د کنټرول او اداره کولو لپاره ترسره کېږي. پولي سیاست د مرکزي بانک له دندوڅخه دی.

**پولي سرعت** (Velocity of money): د پولي واحد هغه دفعات دي چې په متوسط ډول په یوه ټاکلي وخت کې (یوه کال ) کې مصرفېږي.

**سیالیت** (Liquidity): تادیاتي آمادگي یا د یوې تصدی د تادیاتو توان دی چې تصدي د هغې په وسیله اجباري تادیاتي تعهدات په نامحدود ډول ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بېل** (Bill): یو سوداګریز سند دی چې په هغه باندې امضاء کوونکی دا وعده ورکوي چې په معلومه وعده یا د غوښتنې په وخت کې یو معلوم شخص او یا د هغه شخص په حواله کولو سره یو مقدار پیسې ورکوي. بل نوم یې د طلب فته ده (سفته یا لنډمهاله برات)

**سهم** (Share): د یوه شرکت د پانګې برخې ته وایي.

**د بانکدارۍ سیستم** (Banking System): د اقتصاد په اصطلاح کې د بانکدارۍ سیستم د یو هېواد د بانکونو د عمومي تشکیلاتو او عملیاتو خصوصیات دي.

**اقتصادي سیاست** (Economic Policy): هغه تګلاره ده چې هر حکومت او مؤسسه یې د خپلو اقتصادي چارو د تنظیم او له ځینو وسایلو او تدابیرو څخه په استفادې اقتصادي هدف ته د رسېد و لپاره طرح او تطبیقوي.

**د ژوند معیارونه** (Standards of Living): د ژوند سطح په معمول ډول په هغو معیارونو لکه کلني عاید او یا د کالیو هغه مقدار چې د هر کاري ساعت پر وړاندې یې ارزونه کېږي، خو د ژوند د سطحې د ارزونې لپاره نه شو کولای چې په سرې سر کلنیو عوایدو اکتفا وکړو، بلکې له هغه سره په څنګ کې داچې د افرادو عواید باید د دوی ترمنځ څه ډول ووېشل شي هم په پام کې نیول کېږي او یا له اجتماعي، اقتصادي او کلتوري څرنګوالي څخه چې سړی کولای شي د خپل ژوند ضرورتونه د ټولنې د حاکم نظام په ارزښتونو سره لاس ته راوړي.

**شرکت** (Firm): هغه واحد مدیریت چې په یو سوداګریز نوم باندې کار کوي او د اقتصادي فعالیتونو لپاره رامنځ ته شوی وي، چې کېدای شي خصوصي، دولتي او یا له دې دواړو څخه ترکیب شوی وي چې په مختلفو شکلونو منځ ته راځي.

**شاخص** (Index): د احصائیې هغه مقیاس دی چې په یوه یا څو متحولینو کې نظر وخت، جغرافیایي موقعیت او یا نورو خصوصیاتو لکه عاید، مصرف او داسې نورو ته تغییرات څرګندوي. له مشهورو شاخصونو څخه کولای شو د ژوند د سطحې شاخص، د قېمتونو شاخص، د عوایدو شاخص او داسې نورو نومونه واخلو.

**عامه شرکت** (Public corporation): هغه شرکت چې د دولت لخوا د عامه چارو ادارې ته د سهولت لپاره تشکیل شوی وي.

**سهامي شرکت** (Joint Stack Company): یو ډول سوداګریز شرکت دی چې خاص حقوقي شخصیت لري. په دې شرکت کې سهم لرونکي صرف د شرکت د پانګې په اندازه خپلو دائنینو ته مسئولیت لري.

**څو ملیتي شرکتونه** (Multinational Company): هغه لوی شرکتونه دي چې معمولاً د هغوی سهم لرونکي او شریکان له بېلابېلو هېوادونو څخه وي او په نورو هېوادونو کې د خپلې نماینده ګۍ له لوري خپلو اقتصادي فعالیتونو ته لاسرسی لري. په مختلفو هېوادونو کې د فعالیت سرته رسولو له وجې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرکتونه په دې برلاسي کېږي، چې د هماغو هېوادونو له مناسبو سياسي او اقتصادي حالاتو څخه ګټه پورته کړي. دغه شرکتونه ډېر مجهز وي. له هغو ډېرو امکاناتو چې د دوی په واک کې دي د مربوطه هېوادونو په سياسي او اقتصادي ځانګو کې مداخله کوي. د څو ملتي شرکتونو د نماينده ګيو او ځانګو جوړونه په نورو هېوادونو کې په لاندې ډول ده:

۱. په خپل هېواد کې له مالياتو له ورکړې څخه تېښته.

۲. له انساني ځواک څخه آسانه ګټه اخيستنه.

۳. له ارزانه انرژي څخه ګټه اخيستنه.

۴. د کوربه هېواد د ګمرکي محصول له ورکړې څخه تېښته.

۵. د خارجي بازار لاس ته راوړنه او د پيسو ګټه.

**ګمرکي عوارض** ( Custom Duty): هغه ماليات چې له بهرنيو هېوادو څخه د کاليو په راوړلو او يا بهر ته د کاليو په وړلو او يا د کاليو په ترانزيټ باندې د مربوطه  هېواد له لوري وضع کېږي. ګمرکي عوارض په معمولاً د مالي او يا حمايوي اهدافو لپاره اخيستل کېږي.

**غير اقتصادي** (Uneconomic): هر هغه عمل او يا کړنه چې په ټولو مالونو او خدماتو باندې د ګټې يو شی نه اضافه کوي يا که چېرته مالونه او خدمات توليدوي نو دغه  توليد په ټيټ کيفيت او ډېر مصرف سره له هغه څه نه چې د موجوده فني معلوماتو په واسطه ممکن وي توليدوي.

**قاچاق** (Smuggling): د هغو اموالو اخيستل او خرڅول او يا صادرول او واردول چې دولت ته پکې حقوق (ماليات) نه تاديه کېږي، چې دا يوه غير قانوني عمل او د مجازاتو وړ دی.

**کريډيټ** (Credit): په اوس وخت کې د لږو شيانو او خدماتو ورکړه او په راتلونکي کې د ډېرې ګټې ترلاسه کول.

**کالي** (Goods): کالي د بشري ټولنې د غوښتنو د پوره کولو يوه وسيله ده. دا مفهوم کولای شو په مکمل ډول په عمومي خدماتو کې هم حساب کړو.

**کارټل** (Cartel): د آزادو اقتصادي مؤسسو د اتحاد يو قرارداد ته وايي، چې په يوه او يا ډېرو هېوادونو کې موقعيت ولري او هدف يې د اتحاد د غړو په واسطه د پېرودنې، توليد او د کاليو د خرڅلاو منظمول دي. ددې ډول  اتحاديې غړي خپل حقوقي موقف له لاسه نه ورکوي، خو د خپلو مشترکو اهدافو د حصول لپاره په متحد ډول حرکت کوي او يا د مشابه فعاليتونو د ترسره کولو لپاره د اقتصادي واحدونو اتحاد دی ترڅو رقابت له منځه يوسي.

**مؤثريت** (Efficiency): د استعمال شويو او ترلاسه شويو شياتو ترمنځ رابطې ته وايي.

**عامه اجناس** (Public goods): عام اجناس هغه کالي دي چې په عين وخت کې  د دوه يا څو تنو د استفادې وړ وګرځي. داچې هر شخص له عامه اجناسو څخه څومره ګټه پورته کوي تفکيک کېدای نه شي او په لاس ته راوړنه کې هم د رقابت وړ نه دي. د عامه اجناسو توليد د دولت دنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مصرفي کالي** (Consumption goods): هغه کالي او خدمات چې په مستقیم ډول د بشري غوښتنو لپاره ترې کار اخیستل کېږي.

**طبیعي منابع** (Natural Resources): هغه شتمنۍ چې په قدرتي ډول د بشر لپاره په ځمکه کې موجودې وي لکه معدني مواد د ځمکې حاصلات، لرگي، کبان او د ځنگل ژوي او ځناور او نور.

**افاده یا مطلوبیت** (Utility): د بشري غوښتنو او مجبوریتونو د تأمین لپاره د یو شي قدرت ته وایي. کوم مقیاس او واحد نه لري او ارزونه یې د هر چا په خوښې پورې اړه لري او په هر شخص پورې اړوند شی په موضوع پورې مربوط دی. مطلوبیت کېدای شي ځای، وخت، مجموعې او هغه ته ورته وي.

**عام اجناس** (Public goods): هغو اجناسو او خدماتو ته ویل کېږي، چې د حکومت لخوا په وړیا ډول د خلکو په خدمت کې وي لکه عمومي باغونه، دولتي ښوونځي او پوهنتونونه، روغتیایي خدمات او داسې نور.

**عام ملکیتونه** (Public ownership): کله چې یوه مؤسسه د دولت په لاس کې وي او د خلکو په گټه اجناس خدمات عرضه کوي او اداره یې هم د دولت لخوا ترسره کېږي.

د لورنس منحني (Lorenz Curve): یو گرافیکي تدبیر دی چې د دوه متغیراتو ترمن د متراکمې فیصدۍ ارتباط ښیي. معمولاً له دې گراف څخه په هغو ځایونو کې استفاده کېږي، چې د اندازې برابري او یا نه برابري په یوه اقتصاد کې د پولي عاید په وېش کې د بحث وړ وي.

**ملي کېدل** (Nationalization): په یوه شخصي شرکت باندې هغه وخت ملي شرکت اطلاق کېږي، چې د دولت لخوا پېرودل شوی وي مثلا د افغانستان بانکونه د داوود خان په وخت کې ملي شوي وو.

**د ارزښت لرونکو پاڼو مجموعه** (Portfolio): د هغو شتمنیو مخلوط چې په یوه کس پورې اړه ولري د مالي وسایلو مجموعه ده لکه د اسهامو تأمینات، باندونه، سره زر او نقدې پیسې.

**د مالیاتو اصطلاحات:**

**مالیه** (Tax): هغه اجباري تادیات دي چې دولت یې له کوم خاص خدمت پرته د معلومو نورمونو او مقرراتو له مخې له خلکو اخلي.

**مستقیمه مالیه** (Direct Tax): هغه مالیه ده چې اکثره وخت په قېمتونو او نورو اقتصادي عاملینو د انتقال وړتیا نه لري لکه د افرادو پر گټې، عوایدو او ځمکې مالیه او داسې نور.

**غیر مستقیمه مالیه** (Indirect Tax): هغه مالیه ده چې اکثره وخت په قېمتونو او نورو اقتصادي عاملینو د انتقال وړتیا ولري لکه گمرکي محصول، پر خرڅلاو او استهلاکي موادو مالیه او داسې نور.

**مالیه ورکوونکی** (Tax Payer): هغه شخص دی چې عملاً مالیه ورکوي.

**د مالیې موضوع**: هغه څه چې د قانون په حکم د مالیې تابع گرځي مثلاً که چېرته د مالیې موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



عايد وي نو ماليه يې پر عوايدو ماليه ده او که چېرته د ماليې موضوع شتمني وي نو د هغې ماليه په شتمنۍ ماليات دي او داسې نور.

**مالياتي پايه** (Tax Bases): د ماليې د ټاکلو لپاره يو تثبيت شوی معيار دی مثلاً د تعميراتو د مالياتو په هکله د ماليې پايه، د تعمير ارزښت يا د تعمير کرايې او د ځمکې د مالياتو پايه کولای شي چې په جريب او په هکتار او يا په کرنيزو محصولاتو وضع شي.

**ماليه ورکوونکی** (Tax Burden): هغه څوک دی چې بالآخره د ماليې مکلفيت يا د ماليې د پيسو بار په غاړه اخلي يا په بله وينا د ماليې ورکړه دده عايد او شتمنۍ کموي.

**د مالياتو موخه:** هغه شخص دی چې بايد د قانون جوړوونکي په عمل سره ماليه ورکړي.

د ماليې جبران يا تلافي: د ماليې له عوض او ډول څخه هغه وخت خبره کېږي، چې ماليه ورکوونکی په دې بريالی شي چې هغه پيسې يې چې د ماليې په توګه ورکړي د خپل عايد په لوړولو او يا د خپلو مصارفو په راټيټولو سره خپل توليد جبران کړي.

**د مالياتو ضريب** (Financial Ratio): په اقتصاد باندې د مالياتو د پورته والي او ښکته والی تأثير ته وايي.

**مالياتي تعرفه** (Tariff): د ماليې د سنجش د اساس او د ماليې مبلغ ترمنځ يوه نسبي رابطه ده، چې په فيصدۍ ښودل کېږي او درې ډوله ده: متناسبه مالياتي تعرفه، مترقي مالياتي تعرفه او نزولي مالياتي تعرفه.

**شخصي او واقعي ماليه** (Private and Real Tax): شخصي ماليه هغه ماليه ده چې په هغه کې د ماليه ورکوونکي شخصي شرايط لکه مدني حالت، د کورنۍ د غړو شمېر، د عوايدو لوړوالی، د عوايدو نوعيت او داسې نور په پام کې نيول کېږي. واقعي ماليه هغه ده چې په هغې کې يوازې د ماليې د مکلف موضوع په پام کې نيول کېږي. نو ويلی شو چې شخصي ماليات نسبتاً عادلانه دي.

**مترقي ماليه** (Progressive Taxation): د مالياتو يو سيستم دی چې نرخ يې د عايد او يا د ماليې د سنجش د اساس په زياتوالي سره زياتېږي مثلاً که چېرته له لس زره افغانيوڅخه دوه فيصده ماليه واخيستل شي نو له شل زره پولي واحدو څخه څلور فيصده او داسې نور.

**مالياتي تېښته** (Tax Evasion): د مالياتو د نه ورکولو په خاطر غير قانوني کوششونو ته ويل کېږي لکه د عوايدو په هکله د معلوماتو نه ورکول او هغه ملکيتونه چې په مالياتو کې شامل دي، اړوند چارواکو ته په دې اړه د معلومات نه ورکولو دي.

**د مالياتو د بار انتقالول** (Shafting of Taxation): په واقعي ډول له يو شخص نه بل شخص ته د مالياتو د انتقال د تعلق ليږدول دي. دغه انتقال د ماليې له تابع شخص نه بل شخص ته د عادي معاملاتو پر اساس ترسره کېږي.

**مالياتي عدالت** (Tax Equity): په منصفانه ډول د ماليې د بار وېشلو ته وايي. که هغه په عمودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول وي، يعنې د عوايدو مختلفې سوېې په يوه څانګه کې راولي او يا په افقي ډول، يعنې د يو شان عوايدو لرونکي په مختلفو حالاتو کې راونغاړي.

**د اسهامو پر انتقال ماليه** (Stock Transfer Tax): هغه ماليه چې له يوه مالک څخه بل مالک ته د اسهامو پر انتقال اخيستل کېږي. کېداى شي چې دغه اسهام اخيستل شوي وي او که په تحفه کې وي ماليات ترې اخيستل کېږي، په دې معنا چې په هر ډول چې وي د ماليې يو اساس دى چې ماليات پرې وضع کېږي.

**په منفي عوايدو ماليه** (Negative Income tax): د دولت له بودجې څخه هغه امداد دى چې په مختلفو ډولونو د افرادو عمر، وظيفې او د ژوند مصارفو ته په کتو ورکول کېږي.

ځورووونکې او خواشينوونکې ماليه (Naissance Tax): هغه ماليه چې په ډېرو لږو او ناچيزه عوايدو وضع کېږي، چې په دې توګه د ماليه ورکوونکو د ځورولو باعث شي.

**سړي سر ماليه** (Poll tax): هغه ماليه ده چې له ټولو بالغو نارينه او ځينې وخت له ښځينه وو نه هم د يوه فرد له مخې اخيستل کېږي، چې له دې وجې د سړي سر ماليې په نامه ياديږي. ځينې وخت د (Head tax) په نوم هم يادېږي. عسکر، معيوبين او بېوزله افراد له دې ډول ماليې څخه معاف دي.

**واحده ماليه** (Single Tax): هغه ماليه چې د حکومت د مالياتي عوايدو يوازينۍ منبع تشکيلوي. د حکومت د واحدې مالياتي منبع د طرفدارۍ په اړوند مختلفې غوښتنې منځ ته راځي لکه د مصرف ماليه، پر عوايدو او پانګې ماليه. دغه اصطلاح تر ډېره د هانري چارج نظر ته په دې اړه چې د ځمکې ارزښتناکه ماليه د عوايدو د ماليې يوازينۍ منبع وي، نسبت ورکړل شوى.

**پر عوايدو ماليه** (Income Taxes): هغه ماليه ده چې د مؤسساتو له عوايدو او همدارنګه د افرادو له معلومو پيسو څخه له وضع کېدو وروسته په قانوني ډول اخيستل کېږي.

پر اضافه شوي ارزښت ماليه (Added Value tax): هغه ماليه ده چې د صنعت په هره برخه کې وضع کېږي او له مخې يې هغه ارزښت دى چې په هره مرحله کې په قېمت اضافه کېږي، چې د (Value added tax) په نوم هم يادېږي.

**محصول او سهميه** (Quota duty): د حکومت د خصوصي خدماتو په مقابل کې اجباري ورکړه ده. محصول هغه جبران دى چې د دولت د مستقيمو خدماتو د تقاضا لپاره اخيستل کېږي لکه د برېښنا، ټيلفون، پاسپورت، جواز سير، لايسنس، جواز خط او داسې نورو محصول.

سهميه هغه جبران دى چې د غير مستقيمو خدماتونو لپاره رامنځ ته کېږي، چې د يوه کس لپاره د عامه تشکيلاتو د سهميې لپاره جوړېږي لکه پياده رو لارې، د ځنبلو د اوبو سيستم جوړول او داسې نور.

**ناخالص ملي محصول** (Gross National Product GNP): د يوه مملکت د ملي عوايدو تر ټولو جامع مفهوم د ناخالص ملي محصول په شکل بيانېږي. ناخالص ملي محصول د يو هېواد د داخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدونکو لخوا په یوه ټاکلي وخت کې د کالیو مجموعي ارزښت او نهائي تولید دی.

**اجتماعي نظام** (Social System): د اجتماعي نظام مفهوم په پراخې معنا د ټولنې د نظام لپاره یوه مترادفه کلمه ده او د ټولنې د جوړښت لپاره ټول اعتباري قوانین او د ټولنې د افرادو، اجتماعي ډلې او همدارنگه په دې پورې اړوند مؤسسو ترمنځ روابط رانغاړي. په خاصه معنا اجتماعي نظام په مجموع کې هغه ټول مؤسسات او نورمونه رانغاړي چې د ټولنې د افرادو او مختلفو گروپونو ټولنیز موقف د هغوی د رول له مخې چې په ټولنه کې یې ترسره کوي مثلاً د عاید، شتمنۍ او کسب له لارې او همدارنگه د ټولنې د خلکو ترمنځ ټولنیز روابط لکه د کاریگرو او کار فرمایانو روابط تنظیموي. نو په دې مفهوم ټولنیز نظام د ټولنې د جوړښت ترکیبي جز تشکیلوي. اقتصادي او ټولنیز نظام له یو بل سره تړلي دي.

**اقتصادي نوسانات** (Economic Fluctuations): اقتصادي نوسانات د اقتصاد موجي حرکت دی چې ټول ملي اقتصاد رانغاړي. اقتصادي نوسانات په څلورو برخو وېشل شوي دي.

۱. د اقتصاد پرکالي.

۲. د اقتصاد ترقي.

۳. د اقتصادي نوساناتو لوړې نقطه.

۴. اقتصادي رکود.

اقتصادي نوسانات د ودې د ړغونو، د ملي ناخالص حقیقي عاید او یا د ناخالص داخلي محصول ښکته پورته تلل دي.

**افلاس** (Bankruptcy): د پورونو په تادیه کولو او د وعدو په ترسره کولو کې د حقیقي او حقوقي اشخاصو مالي ناتواني ته وایي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**